بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ځانګړني:
د کتاب نوم: عدم تشدد د انسانيت په لمنه کي
ليکوال : مبارز ځاپی
چاپ کال : ۱۳۹۱ل
چاپشمېر : ۱۰۰۰
د خپرونو لړ : (۱۴۱)

# فهرست


| سرليک | مخګڼه |
|---|---|
| تشدد او عدم تشدد (ځځواله او سوله ييزه) | ۱ |
| دويمه برخه: حضرت نوح عليه السلام | ۱۳ |
| دريمه برخه: حضرت ابراهيم عليه السلام | ۳۹ |
| څلورمه برخه: حضرت يوسف عليه السلام | ۶۱ |
| پينځمه برخه: حضرت زردشت سپين تومان | ۷۱ |
| شپږمه برخه: موسی عليه السلام | ۱۱۲ |
| اوومه برخه: حضرت بودا | ۱۲۷ |
| اتمه برخه: لائوتسه | ۱۴۱ |
| نهمه برخه: کنفوسيوس | ۱۴۵ |
| لسمه برخه: حضرت عيسی عليه السلام | ۱۵۰ |
| يوولسمه برخه: حضرت محمد صلی الله عليه وسلم | ۱۶۳ |
| دولسمه برخه: بابا نانک | ۱۹۶ |
| ديارلسمه برخه: بايزيد روښان رحمة الله عليه | ۲۰۷ |
| څوارلسمه برخه: باچا خان | ۲۱۸ |

پېنځلسمه برخه: مهاتما گاندهي ........................... ............................... ۲۳۰
شاړسمه برخه: مارتین لوتر کینگ ........................ ............................... ۲۳۴

د چاپ حقوق خوندي دي.

# ژوند

ښکلی دی ژوند ښکلی دی
غوره او سپېڅلی دی
مه لړې ناولو کې
مینې پاک ساتلی دی

مبارز "څاپی"

# تشدد او عدم تشدد
# ځځواله او سوله ییزه

تشدد او عدم تشدد د عربي ژبې دوه دود شوي غونډلي دي، چې د انسان په شخصي ژوندانه کې د کړو وړو د دوه متضادو خويونو او خصلتونو پېژندګلوي کوي.
په پښتو ژبه کې کولی شو، تشدد ته دا څو ټکي ولرو: ځاځنه،ځځواله،ځځښت او ځاځنيزه، او عدم تشدد ته هم کولی شو. سوله ییزه،وروګلويزه او مينه وره چال چلند ووايو.
دغه دواړه د تشدد او عدم تشدد غونډلی په نننی سيمه ايزه او نړۍ واله ژوندانه کې د رسنيو له خوا ، دا چې د هر چا په خولو او ذهنونو کې ډېر زيات لاندې باندې کېږي، او هر څوک د هغه په هکله هر څه چې وائي هغه په ورځنيو روانو حالاتو پورې د تړلي دريځ د ښکارندويه په توګه په ټولنه کې، يا په نړيواله توګه دودېدلی او په ليکنيزه اړخ کې د منښت وړ ګرځېدلی دی، دغې دودېدلي غونډلو د نن ورځې، لا د پرونيو ورځو څخه نه دي دود شوي، بلکې د تشدد که د "ځځوالي" کړنه د سوله ييز او مينه ناکه ژوند د رنګوونکي په توګه د هغې ورځې نه د انسان په کړو وړو کې ځای نيولی چې انسان خپله پښه پر ځمکې باندې ايښې او ځمکه يې د ژوند د غورځو پرځو او د خپل ځوځات د خپرېدو ډګر ګرځولې ده. يعنې د انسان په فطرت کې دوه خصوصيتونو ځای لرلی دی: يو يې سوله ييزې بسياينې او بل يې ځځواله غبرګون دی، چې ځځوالي ته د عربي ژبې تشدد او سوله ييزه کړنې ته د عدم تشدد نومونه ايښودلی شو. خو موږ تر هر څه دمخه دغه دريځونه د تشدد او عدم تشدد په نومونو پېژنو.

داسې د انسان د ژوندانه په شمول په نړۍ کې هره پدیده د دوو متضادو حالتونو لرونکې او هر څه د خپل سیال د چاپېریال لرونکې شته والي سره شتون لرلی دی. لکه: د ښېګڼو سره سیال بدګڼې، د رڼا سره سیال تیاره، د شپې سره سیال ورځ، د مینې سره سیال کرکه، د ژوند سره سیال مړینه، دودانۍ سره سیال ورانې او داسې د پنځښت په هر اړخ کې د سیالو پدیدو شته والی شتون لرلی او هرې پدیدې لا د خپل ژوند او مړینې په غورځو پرځو کې د ژوندانه د اغېزمنو بدلونونو نوښت په خپل لاس کې اخیستی دی.
د دغو پدیدو په منځ کې یواځې مینه او کرکه ده چې په سما سمه توګه د انسان په ژوندانه کې په تشدد او عدم تشدد پورې تړلی حالتونه ګڼل کېږي، یعنې مینه د عدم تشدد په سوله ییزه بسیاینې حالت او کرکه د ځځښت او ځځوالي د تاوتریخوالي په حالت پورې تړاو لرلی او دغه تړاو کولای شو په ټولنه کې د وګړو په کړو وړو کې په څرګنده توګهووینو، او دا موهم لیدلی چې مینې سوله او کرکې تشدد، یعنې ځځواله زېږولې ده، مینې کې ژوند دی، خوښی ده، خندا ده او غوړېدنه، خو په کرکې کې ځاځنه ده، ویر دي، ژړا ده و او تباهي په مینه کې ژوند پیل کېږي او په ژوند کې مینه، که مینه نه وای ژوند به هم نه وو.
سوله، روغه لاوړئینه او بسیاینه د مینې خواږه توکي دي دغه توکي دي چې ژوندانه ته پایښت ښښي او دا ژوند دی چې دغو توکیو ته د لومړۍ ورځې څخه تر هر څه د مخه اړتیا ښودلی.
مینه کې کورنۍ نېکمرغه وي، کلي، ښارونه، هېوادونه او نړۍ په سوله کې د خوښۍ او بسیاینې د غوړېدا او پرمختیا ګامونه اوچتولی شي، په مینه کې دنیا ومنۍ خواږه پراته دي.
چې د کورنیو کلیو ښارونو، هېوادونو، او په ټوله کې د نړۍ د سولې د پایښت ساتنه کوي، مینه کولای شو د ژوند روح وګڼو او روح هغه

مهال غمجن او مړوړېدلی شي چې کرکه پرې و بلوسي.
داسې خو مینه او کرکه د انسان د ژوند ملګري دي.
مګر په دې توپیر چې مینه د ژوند پیل ګڼل کېږي او کرکه د ژوند پای، د پیل او د پای د واټن ترمنځ چې څومره خواږه او تراخه حالتونه رامینځته کېږي، هغه ته بدلون وایه شي. بدلونونه هر کله د چاپېریال د سیمه ییزه او مهالیزه څپو د اغیز لاندې وي، خو دا په خپله انسان دی چې د چاپېریال د بدلیدونکو حالتونو د اغیز له امله په خپل ځان کې بدلون راولي یعنې خندا په ژړا او ژړا په خندا بدله کړي.
مینه په انساني ټولنه کې د ښېګڼو، نېکمرغیو، او ښکلاو، د ادبي اړخ ته لاپسې نېکمرغۍ، ښکلا او سپېڅلتیا ښني. د ښکلا، نېکمرغۍ او سپېڅلتیا توکي په ژوند کې میندلی شو او داسې هم د ژوند د نېکمرغۍ، شکلا او سپېڅلتیا توکي په مینه کې، د مینې لیاره د سولې، سپېڅلتیا، نېکمرغۍ او ښکلا په لورې غزېدلې.
خو د کرکې لیاره د تاوتریخوالي، شخړو، ستونزو، لانجو، ژوبلوونو او وژلو او داسې ډېرو نورو بدمرغیو په لوري درومي، په ژوندانه کې څوک څه کوي؟ او په کومه لاره ځي؟ د مینې لاره غوره کوي که د کرکې؟ یعنې خپله لاره د ښېګڼو او نېکمرغیو په لوري چې مینه ده سموي، که د بدمرغیو او شخړو په لوري چې کرکه ده
ورغځوي؟ د بدلون غوره کولو واک په خپله د انسان په واک کې دی. په دې هکله لوی خدای د قرآن کریم د الرعد سورة په "۱۱" آیت او د الانفال سورة "۵۳" آیت کې په روښانه توګه لارښوونه کړې ده چې؛ بې شکه لوی خدای نه بدلوي حالت د هیڅ یو قوم چې عافیت او نعمت دی تر هغه پورې چې بدل کړی دوی هغه ښه حالت چې په نفسونو د دوی کې دی.
داوه ددې دواړو آیتونو لنډه او کره ژباړه.
ددې دواړو آیتونو روحیه په "قدریه" چارو پورې تړاو لري.

"قدریه" هغو چارو ته وائي چې د "کونیه" چارو یعنې د پنځېدلو "خلقت" د چارو نه وروروسته انسان ته په ژوندانه کې د ښوو او بدو چارو د کولو او نه کولو تر منځه واک او اختیار په مخه کې پروت وي.

که ئې ښې چارې غوره کړلې د ښوو مکافاتو او که یې بدې چارې غوره کړلې د بدو مجازاتو وړ وګرځي.

دا رنګه انسان په فطرت کې سپېڅلی او سوله ییز پنځېدلی، که په هماغه توګه د ژوندانه په ورځنیو چارو کې په فطري توګه سپېڅلتیا غوره کړي، د هغه په حالت کې بدلون نه رامینځته کېږي، او که چېرې یې د اصلي سپېڅلي حالت نه ځان کوږ کړ او په بدو چارو بوخت شو چې بدلون ګڼل کېږي د بدو مجازاتو په توګه د هغه په حالت کې ارو مرو بدلون راتلونکی دی.

دا بدلون د مجازاتو په توګه یو فطري غبرګون دی چې انسان یې د خپلو کړو وړو په نتیجه کې ویني، چې باید هم وویني، دا ځکه: انسان خو په فطري حالت کې د مینې څخه ډک یو سوله ییز شخصیت دی.

کله چې هغه له خپل دغه حالت نه واوړي او د ځځوالي په کړو سر سم شي، دلته ده چې د کرکې ښکار شي.

او بیا دا کرکه ده چې انسان په ستونزو، لانجو او ربړونو کې لتاړ کړي، څو په دې توګه د انسان د ژوندانه په بهیر کې بدلون رامینځته شي.

لکه چې په همدې توګه د لوی خدای په سپېڅلي کلام کې ورته اشاره شوې او د هغه لامل یې هم د انسان په خپلو کړنو کې په څرګنده توګه ښودلی دي.

ددې خبرې په ملاتړ د البقرې سورة په "۲۸۶" آیت کې چې د البقرې سورة وروستنۍ آیت دی، د دعایې په توګه داسې غوښتنه شوې ده.

نه کوي الله تکلیف په هیڅ نفس باندې، مګر په کچه دطاقت او وسې دده، "دی" دې نفس لره "ثواب" دهغه عمل چې کړی یې دی. او

شته پرده باندې "وبال" د هغه عمل چې کړی یې دی.

د وسې د اندازې "کچې" نه زیات هیڅا ته تکلیف نه ورکول کېږي.

دا وه د آیت ژباړه: د ژباړن دغه ژباړه ښایې بشپړه ژباړه نه وي، دا ځکه چې په "آیت" کې هغه څه ته اشاره شوې چې د ژوندانه ټولو اړخونو پورې تړاو نیسي، یعنې یوازې ثواب او وبال نه دی چې انسان یې د خپلو کړنو له امله خپلوي، بلکې هر هغه څه چې انسان یې د کړنو، لوستلو، لیدلو، اوریدنو او سوچ کولو له لارې تر لاسه کوي.

که په هغه کې د انسان ګټه وي که تاوان. غم وي که خوښي، دوستي وي که دښمني، ورانې وي که ودانې او په لنډه توګه ویلی شو چې د ښېګڼو د نامه نه مینه وي که د بدګڼو د نامه نه کرکه، دا ټول د "لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ" د آیت په روحیه کې نغښتې ښکاري.

دا د الهي قانون دی چې په پورته توګه د البقرې، الرعد او الانفال په سورتونو کې ورته اشارې شوې او ما هم د مثال په توګه ورڅخه یادونه وکړه.

د سولې،روغې، جوړې، ښېګڼو او ښکلا وو مور مینه، د تاوتریخوالي،کړکیچونو او لانجو مور کرکه، د انسان د ژوند ملګري دي، لکه څنګه چې په پورته پړاوونو کې ورته ګوته ونیوله شوه، مینه د ژوند سره اخښل شوی توکی دی.

چې ژوند ته وده، ښکلا او غوړاوی وربښي، خو کرکه هغه توکی دی چې؛ ژوند د بغاوت، تباهي، او هلاکت په لوري بیایي، د مثال په توګه دلته غواړم د ادم علیه السلام د ځامنو هر یو: قابیل او هابیل قیصه چې د قرآن کریم د المائدې سورة په "۲۸" آیت کې راغلي د کرکې او ځځوالي لومړنیو نښو په توګه وړاند کړم.

د المائدې سورة د "۲۷" آیت د متن ژباړه؛ ولوله ای محمد ص پر دغو بني اسرایلو یا پر قوم خپل خبر د دواړو ځامنو د ادم چې؛ هابیل او قابیل وو، په حقه سره کله چې نیږدې کړه دواړو پسه د قرباني او غنمو

ستری الله ته، نو قبول کړ شو پسه له یوه ددې دواړو نه چې هابیل و، او قبوله نه شوه د غنمو ستری له بله چې قابیل و، وویل قابیل چې خامخا وبه وژنم تا هرومرو خامخا ای هابیله! وویل هابیل قابیل ته چې بې شکه هم دا خبره ده چې قبلوي الله قرباني له پرهیزګارانو.

۲- د المائدې سورة "۲۸" آیت متن ژباړه؛ قسم دی خامخا که دې راوغځاوه تا ای قابیله ماته لاس خپل د پاره ددې چې ته ووژني ما نو نه یم زه غځوونکی د لاس خپل تاته چې ووژنم تا بې شکه زه ویریږم له الله چې رب پالوونکی د ګردو عالمیانو دی.

۳- د المائدې سورة "۳۰" آیت د متن ژباړه؛ نو ښایسته کړ دغه قابیل ته اماره نفس دده وژل د ورور دده چې هابیل وو بیا وواژه قابیل دغه هابیل نو وګرځید قابیل په دنیا او عقبی کې په سبب د قتل د هابیل له زیان کارانو "

د پورتنیو آیتونو د ژباړې نه وروسته مفسر داسې تفسیر لیکلی دی؛ پیغمبر بني اسرایلو ته د ادم علیه السلام ددوه و وصلبي ځامنو، قابیل او هابیل قیصه او واقعي حال واوراوه.

ځکه چې په دې قیصې کې د هغه یوه ورور ذکر دی چې د خپل بل ورور پر مقبولیت او تقوی حسد رخه او کینه کړې وه او په هم دې غلیظ قهر سره یې هغه په ناحقه سره وواژه او د ناحقې وینې د عواقبو بیان په کې کړی شوی دی.

په وړومبني رکوع کې راښودل شوی وو؛ کله چې بني اسرایلو ته دا حکم ورکړ شو چې له ظالمانو او جابرانو سره قتال وکړئ، نو دوی ووېرېدل او ترې وتښتېدل. اوس د هابیل او د "قابیل" قیصه اورول ددې خبرې لپاره تمهید دی چې د متقیانو او مقبولو بندګانو قتل له ډېرو شدیدو جرائمو څخه دی او له هغه ځنې خلق په ډېر بې انتها تهدید سره منع شوی دي.

نو د هغه لپاره دا ملعونان څرنګه تل مستعد او تیار په نظر راځي؟

پخوا له دېنه هم دوی ډېر انبیا وژلي وو او اوس هم د الله تعالی د ډېر لوی رسول ص په خلاف د بغض او حسد له لارې راز راز پلمې او حیلې جوړوي.

ګواکې د ظالمانو او شریرانو د مقابلې څخه ځانونه رایستل او د معصومو او بې ګناهو بنده ګانو وژل او د هغوی پر خلاف د قتل او بندي کولو سازشونه او پلمې "منصوبې" جوړول ددې قوم دود "رواج" او دستور دی.

د پورتني تقریر سره سم مفسر د هابیل او قابیل په هکله داسې وايي: ادم علیه السلام د خپل دستور سره سم د خپل زوی "هابیل" سره د خپلې لور "اقلیما" نکاح وتړله "قابیل" چې د هغه غوښتونکی و، دغه نکاح ونه منله. اخر د ادم علیه السلام په اشاره "هابیل" او "قابیل" د لوی خدای په وړاندې خپلې نذرانې وړاندې کړلې، څو دغه جینۍ د هغه چا شي چې نذر یې د لوی خدای له لوري ومنل شي.

ادم علیه السلام ته داسې یقین پیدا شوی و، چې هم دا د "هابیل" نذر به ومنل شي، لکه چې همداسې هم وشول او اسماني اور ښکاره شو او د "هابیل" نذر یې یووړ او همدا په هغه وخت کې د قبول عند الله قرینه او علامه وه. یعنې قابیل ددې مقبولیت له لیدلو ځنې د حسد او رخې په اور کې وسوځېد او ددې پر ځای چې د مقبولیت وسایل ځانته غوره کړي، له ډېر غیظه او غضبه یې پخپل حقیقي ورور باندې د وژلو تور بریښن وکړ. یعنې "هابیل" وویل چې په دې کې زما څه قصور دی؟

د الله تعالی په دربار کې د هیچا زور او قوت نه چلېږي او یوازې هلته تقوی پکارېږي، ګواکې زما هغه نذرانه چې مقبوله شوه، د هغې سبب تقوی ده، که ته هم ځانته تقوی غوره کړې نو الله تعالی له تا سره څه مخالفت نه لري".

دا وه د اوه ویشتم آیت تفسیر. اوس به د اته ویشتم آیت په هکله د مفسر تفسیر ولولو:

قابیل ته هابیل وایي: بېشکه زه وېرېږم له الله چې پروردګار د جهان دی. یعنې زه له تا څخه نه وېرېږم، بلکې له الله تعالی څخه وېرېږم او غواړم تر هغه پورې چې شرعاً امکان وي، د خپل ورور په وینو خپل لاس ونه وننه لړم ".

د مفسر له خوا د (۲۹) آیت په هکله داسې تفسیر وړاندې شوی: یه قابیله ! زما د قتل ګناه هم له خپلو نورو ګناهونو سره یو ځای کړه. ستا د ګرد عمر ګناهونه ستا پر غاړه ثابت دي او زما د وینې ګناه به هم لا پرې زیاته شي او د مظلومیت له امله به زما ټول ګناهونه را معاف شي.

یعنې: د هابیل د وینا حاصل دادی چې: که تا هم داسې نیت کړی وي، چې زما د وژلو وبال پر خپله غاړه واخلې، نو ما داسې اراده کړې ده چې د خپل ځان هېڅ مدافعه له خپله لوري ونه کړم، تر څو چې د عزیمت د ترک خبره هم پر ما باندې رانه شي ".

مفسر د دېرشم آیت په تفسیر کې داسې لیکلي دي: دنیوي خسران خو دادی چې داسې یو ښه ورور یې له لاسه وایست چې دده مټ او ملاتړ و او پخپله لېونی او مړ شو.

په حدیث شریف کې راغلي دي: ظلم او "قطع الرحم" دا دواړه داسې ګناهونه دي چې له اخرته پخوا په همدې دنیا کې د هغو سزا ورکوله کېږي او اخروي خسران یې دادی چې: په دنیا کې د ظلم، قطع الرحم، قتل عمد او د بد امنۍ د ورونو له خلاصولو څخه "قابیل" د هغو ګردو "ټولو " ګناهونو د سزا مستوجب هم کېږي چې وروسته له دېنه له دې نوعې ګناهونو څنې په دنیا کې وکړی شي او دی به په هغو ګردو کې د باني کېدلو له وجې شریک ګڼه شي ".

مفسر د (۳۱) آیت په تفسیر کې هم داسې لیکلي: کله چې پخوا له دېنه بل کوم انسان نه و مړ؛ نو ځکه "قابیل" پس له وژلو د "هابیل" څخه نه پوهېده چې دی د خپل ورور له مړي سره څه وکړي؟ تر څو چې یې یو کارغه ولید چې په ځمکه کې کنده کني او د بل کوم کارغه مړی

پکې پټوي. نو د هغه له ليدلو ځنې د "قابيل" سر ته څه عقل ورغی او له خپله ځانه سره يې وويل، چې : ښايي زه هم د خپل ورور مړی په ځمکه کې هم داسې خښ کړم". او ده ته ارمان او افسوس هم ورغی چې: زه په پوهه، عقل او فهم او له ورور سره په خواخوږۍ او همدردۍ کې له دې کارغه څخه هم ښکته يم". ښايي چې حق تعالی ددې له امله د يوه ادنی "ساکښ" "ذي روح" په وسيله "قابيل" ته داسې تنبيه ورکړه چې هغه له خپله وحشته او حماقته لږ څه وشرمېږي او متاثر شي په ساکښانو "ذي روحو" کې د کارغه دا حقيقت دی چې دی د خپل ورور د مړي په ښکاره پاتې کېدو باندې ډېر زيات شور ماشور کوي". نو وګرځېد "قابيل" په دې قتل د "هابيل" سره له پښېماني کوونکو څخه، هغه افسوس او ارمان ښه نافع دی چې ګناه ځنې معذرت او انکسار او فکر او تدارک هم وي. په دې موقع کې د "قابيل" افسوس او ارمان کول د الله تعالی په عصيان او نافرماني نه و، بلکې پخپلې هغې بدحالۍ باندې و چې د خپل هغه ورور "هابيل" له وژلو څخه وروسته ور رسېدلې وه".

د المائدې سورت په (۳۲) آيت کې ددې پېښې په هکله داسې راغلي دي: ژباړه: په سبب ددې قتل ليکلي وو "حکم کړی وي" موږ پر بني اسرائيلو "اولاده د يعقوب" چې بېشکه شان دادی: هر څوک چې ووژني يو نفس بې له "عوض، بدل" د "بل نفس نه" يا بې له فساده په ځمکه کې چې په ملک کې يې فساد کړی وي" نو ګواکې وژلي يې دي خلق ټول او هر چا چې ژوندی کړو دغه "يو نفس چې سبب شي د ژوندون يې" نو ګواکې ژوندي کړي يې دي خلق ټول".

دا وه د قرآني آيتونو په رڼا کې د ځاځمنو او سوله منو انسانانو د حالتونو په هکله چې د "قابيل" او "هابيل" نه پيل شوي او لا تر اوسه په پرله پسې توګه په انساني ټولنه کې د ژوند مينه د کرکې نه ځورېدلې، چې دغه لړۍ به لا هم څو چې د ځمکې پر مخ ژوند شته والی

ولري خپل شته والی وساتي.

د ادم علیه السلام د زوی "قابیل" په هکله د پښتو اریانا دائرة المعارف د اووم ټوک په (۲۹۲) مخ کې داسې راغلي دي:

قابیل؛ د ادم علیه السلام او د حوا زوی او د "هابیل" ورور، په دیني روایاتو کې راغلي دي چې هر وار چې "حوا" حامله کېدله، خدای تعالی به یو زوی او یوه لور ورکوله او ادم به د خدای(ج) په فرمان د یوه نس نجلۍ د بل نس هلک ته په مړوښې ورکوله، چې "قابیل" د "اقلیما" سره له یوه نسه وزېږېدل او تر دې وروسته "هابیل" د "لیودا" سره جهان ته راغی او ټول د بلوغ حد ته ورسېدل. نو ادم علیه السلام "اقلیما" "هابیل" ته په مړوښې ورکړه او "لیودا" یې "قابیل" ته ور ماندېینه کړه. "قابیل" د "لیودا" مړوښې ته غاړه نه کېښودله او ویې ویل چې زه به خپلې همزولې خور "اقلیما" څخه چې په ښکلا او حسن کې ساری نه لري، هېڅکله بېل نه شم او په دې لاره کې به زیار باسم".

په پای کې ادم علیه السلام قابیل او هابیل ته وویل چې: تاسې قرباني وکړئ، د هر یوه قرباني چې ومنله شوه، "اقلیما" به د هغه وي". د "قابیل قرباني ونه منله شوه او دې خبرې دده خشم لا وتوراوه او "هابیل" یې په وژلو تهدید کړ. "هابیل" وویل: خدای(ج) د پرهېزګارانو قرباني مني او که ته زما په وژلو لاس پورې کړې، زه به خپل لاس وساتم؛ ځکه له لویه خدایه وېرېږم" او "قابیل" هماغه شان په "هابیل" پسې و، څو چې هغه یې پر یوه غره بیده ومونده او هغه یې د ډبرې په ضربه وواژه. بیا یې د هغه مړی واخیست هاخوا دېخوا ته یې لالهانده او سرګردانه ګرځاوه او نه پوهېده چې څه پرې وکړي؟ ناڅاپه دوه کارګان دده په وړاندې په جګړه بوخت شول، یو یې ووژل شو او هغه بل په منښوکه کنده وکینده او د وژل شوي کارغه مړی یې په خاورو کې پټ کړ، "قابیل" چې هغه حالت ولید، نو ځنې زده یې کړ او خپل ورور یې ښخ کړ".

دا و د پښتو اريانا دائرة المعارف کتې متې متن چې د "قابيل" او "هابيل" په هکله ليکل شوی و.

په رښتيا چې د ځاځمن قابيل او د سوله من هابيل کړه وړه د انسان په راتلونکو نسلونو کې په پرله پسې توګه پيښې شوې او دا لړۍ لا هم په ټول شور او زور سره روانه ده. ځاځنيزه او سوله ييزه خاصيتونه لکه څنګه چې په فطرت کې د انسان د ختې سره اخښل شوې د انسان د ژوند په بهير کې هم په توپيريزه توګه بدلونونه رامنځته کړي دي. ددغو خاصيتونو چې په مينه او کرکه هم کولی شو ونوموو، د ځمکې پر مخ لومړني ممثلين هم يواځې او يواځې همدا دوه تنه د ادم عليه السلام زامن دي، چې د قابيل او هابيل په نومونو ياد شوي دي. د دوی په پله باندې چې چا تر ننه پورې تګ کړی، د هغوی د ښېګڼو ګټې او د بدګڼو تاوان هم په سيده توګه د همدغو دوه تنو په برخه کې ور زياتېږي. چا چې ښه وکړل ښه ويني او چا چې بد وکړل بد ويني، لکه چې د پښتو د متل په څېر چې وايي: "خپل عمل د لارې مل".

دا چې زموږ موخه د تشدد او عدم تشدد يا په پښتو ژبه ځاځنيزه او سوله ييزه کړو وړو په هکله څرخي، نو ښه به وي چې بېرته خپلو خبرو ته وګرځو:

د قابيل ځاځمنه او د هابيل سوله منه غبرګون د هغوی نه وروسته د هر انسان ژوند او ژواک اغېزمن کړ، دغه لړۍ تر دې پورې پرمختګ وکړ چې د ځاځمنه کړو وړو پلويانو پر سوله منو وګړو ځمکه تنګه کړه او په دې توګه د سوله ييزه او مينه ناکه ژوند پلويانو خپل سنګرونه وبايلل. ځاځمنه ډله واکمنه شوله، ځځواله ځبېښاک د ځمکې پر مخ د اوسېدونکو انسانانو څخه د لوی خدای لمانځنه هم هېره کړله. چا د خدای نوم نه پېژانده، مزدکو نه له منځه لاړل، د کرکې زور، پر مينې او د ظلم زور، پر نياو او انصاف بری وموند. په انساني ټولنه کې هر څه د زورورو په لاس کې وو. بېوزله او بېوسه انسانان لکه د څارويو په څېر

ګڼل کېدل، په داسې زور او ظلم نه ډک تورتم کې د لوی خدای له لوري حضرت نوح علیه السلام وګومارل شو.

# دویمه برخه

## حضرت نوح علیه السلام

نوح علیه السلام خلکو ته د سولې، روغې، مینې او انصاف لیاره ښودله او د لوی خدای د لمانځنې په لوري یې بلل. نوح علیه السلام تر نهه نیم سوه کلونو پورې خپل رسالت ادا کړ، خو چا یې خبره وانه وریدله. د ظلم، تېرې، کرکې او ځاځنې څواک له خپلې غښتلتیا څخه غره شو، غرورو، تکبر او بې لارېتوب دغې څواک لرونکې ډلې ته دا وس ورکړ چې نوح علیه السلام په هر رنګه نومونو وځوروي او په هر رنګه رنګونو یې سپک کړي. مګر نوح علیه السلام په ټول عمر کې هېڅکله هم د ځاځمن څواک په غبرګون کې ځاځنیزه ځواب ونه وایه. تل به یې د سولې، روغې، مینې او نیاو لمنه ټینګه پخپل لاس کې ساتله، چې په دې توګه نوح علیه السلام د "هابیل" په څېر د عدم تشدد دویم سمبول ګڼل شوی دی. ددې سمبول په هکله به ښه وي، چې د قرآن کریم د هود سورت د (۲۶) آیت نه تر (۳۳) آیته او د همدې سورت د (۳۶) آیت نه تر (۳۷) او (۴۲) آیتونو متن ته مراجعه وکړو او ولولو چې څه وايي:

د هود سورت په (۲) او (۲۶) آیتونو کې داسې راغلي دي: وَلَقَدۡ اَرسَلنا نُوحاً... تر اخره. ژباړه: او هرومرو په تحقیق لیږلی و موږ نوح قوم دده ته حال دا چې ویونکی و، ببشکه زه تاسې ته یم وېروونکی له جحیمه ښکاره چې مه کوئ تاسې عبادت د بلچا، بې له الله. ببشکه زه وېرېږم پر تاسې له عذابه د ورځې دردناکې د قیامته څخه".

تفسیر: یعني په نهایت وضاحت سره زه هغه شیان درښییم چې د هغو په ارتکاب سره د مهلک عذاب د نازلېدلو اندېښنه ده، یا د هغه عذاب د محفوظیت ذرایع دي. "اَنۡ لَّا تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّا اللّٰہَ" مه کوئ عبادت د بلچا بې

له الله. يعنې د "ود او سواع او يغوث او يعوق او نسر چې ذکر يې د نوح عليه السلام په سورت کې راځي عبادت پرېږدئ او د واحد احد الله تعالی په عبادت کې مشغول شئ، که نه د غير الله له عبادت څخه د بېرته نه ګرځېدلو په صورت کې د سخت عذاب د راتللو خوف دی. له دردناکې ورځې څخه هغه ورځ مراد ده چې په کې المناکو او درد پيدا کوونکو حوادثو وقوع وي. مثلاً د قيامت ورځ يا هغه ورځ چې په کې د نوح عليه السلام قوم ډوب او مغروق شو.

د هود سورت په (۲۷) آيت کې داسې لولو: فَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا نَرٰىكَ اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرٰىكَ اتَّبَعَكَ اِلَّا الَّذِيْنَ هُمْ اَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّاْيِ ۚ وَمَا نَرٰى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كٰذِبِيْنَ 27

ژباړه: نو وويل هغو مشرانو چې کافران شوي وو له قومه د دغه نوح چې نه وينو موږ تا يه نوحه! په هېڅ صفت، مګر د يو بشر په شان زموږ، بل څه مزيت نه لرې او نه وينو موږ تا چې متابعت کړی ستا هېڅا، مګر هغو کسانو چې دوی د لاندې "ښکته" زموږ دي. په ظاهره اول فکر بلا تامل او نه وينو موږ تاسې لره پر موږ باندې هېڅ بهتري، بلکې ګومان کوو موږ پر تاسې د دروغجنانو".

تفسير: يعنې ښايي چې رسول د ګرد قوم په مقابل کې د کومې ښکاره ښېبې او امتياز لرونکی وي. لېکن موږ ګورو چې ته هم زموږ په شان د بشر له جنسه يې او د اسمان پرښته نه يې، چې د هغې په مقابل کې خامخا انسان خپل سر ښکته کړي. بيا په بشريت کې هم ته داسې يو سړی يې چې په تا کې کوم خاص تفوق او لويي پر موږ باندې وي. مثلاً لوی دولتمن يا د شان او شوکت خاوند، يا د حکومت او قوت مالک اوسې. هغه کسان چې ستا پيروان او تابعان شوي دي، هغوی هم ګرد سره داسې خواران او غريبان او مفلسان او رذيلان دي چې له هغوی سره موږ شرفاء او غټان خپل ملاقات او خبرې کول شرم او ننګ بولو. نو آيا په ګردو "ټولو" انسانانو کې هم دا ته پيدا شوی يې چې د الله تعالی د رسالت د منصب وړ "مستحق" او لايق وې. حال دا چې موږ د تا

په نسبت په حسب او نسب، مال او دولت، خلق پيدا ايښت، خُلق "د ښه خوی او عادت" او په نورو شيانو کې له هيڅ پلوه له تا څخه کم نه يو. نو ولې زموږ له منځه بل څوک پر دغه منصب د رسالت باندې منتخب او غوره نه شو؟ يا لږ تر لږه ستاسې تابعين او پيروان ښايي چې کوم معزز او لوی سړي خو وي؟ او څرنګه د صداقت دليل جوړېدی شي؟ د داسې سطحي او سپکو او ټيټو خلکو چې د هغو سپکوالی او رذالت ډېر ښکاره او عيان دی. بې له فکره او انديښنې او بې له غور او تامل په ظاهر او سرسري ډول سره ايمان راوړل ستاسې له کمالاتو څخه نه حسابېږي، بلکې زموږ خيال خو داسې دی چې ته سره د ملګرو دې دروغجنان يئ، تاسې يوه خبره جوړه کړې ده او څو بې وقوفانو ستاسې له "هو" سره "هو" کړې او يو له بل سره مو خبره يوه کړې ده، څو په دې وسيلې سره يو نوی تحريک جوړ کړئ چې په دغه صورت سره يو امتياز او لويي او مشرتيا حاصله کړئ.

دا د هغو ملعونانو د تقرير ماحصل و. نوح عليه السلام کوم ځواب چې دوی ته ورکړی دی دادی:

د هود سورت (۲۸) آيت: قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰي بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰنِيْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ ۭ اَنُلْزِمُكُمُوْهَا وَاَنْتُمْ لَهَا كٰرِهُوْنَ 28؁

ژباړه: "وويل نوح عليه السلام: يه قومه زما ! آيا وينئ خبر راکړئ تاسې ماته که يم زه پر سمه لاره "واضح برهان ښکاره حجت" له ربه خپله او راکړې يې ماته رحمت له نزده خپله، نو پټ کړی شوی دی د حقيقت ددې دليل پر سترګو د تاسې، آيا مجبور کولی شو موږ تاسې په قبول د هغو سره، بلکې نه شو. حال دا چې تاسې دغه "برهان" لره بد ګڼونکي انکار کوونکي يئ".

تفسير: يعنې غوښتونکي يئ نه يئ او پرې خپه کېږئ. هو ! دا خبره صحيحه ده چې نبي له عامو انسانانو څنې ښايي ډېرخي ممتاز وي. لېکن هغه امتياز په مال، دولت، حکومت او نورو دنيوي شان او

شو کت کې نه وي، بلکې په اعلی اخلاقو، ډېرو ښو ملکاتو، تقوی، د الله تعالی وېره، حق خوښول، له خلایقو سره دردمني او خواخوږي او د صریحو او ښکاره وو آیتونو او نښو له وړاندې کولو څخه ورته امتیاز حاصل وي، چې حق تعالی د برهان او د حجت د اتمام او د نعمت د اکمال په ډول په هغو کې قایموي، یا د هغو په وسیله یې ښکاروي. نبي علیه السلام د الله تعالی د وحې او د رباني دلایلو او براهینو په رڼا کې پر صافه سمه لاره درومې او شپه او ورځ د الله تعالی خصوصي رحمتونه پرې لکه باران "وریا" اوري. نوح علیه السلام یقیناً موجود هم دی، لېکن همغسې چې ړوند د لمر رڼا نه شي لیدلی، نو که ستاسې سترګې هم د الله تعالی ددې نور له لیدلو څخه قاصر وي نو آیا زه په زور سره تاسې ته هغه نور او رحمت درښودلی شم؟ یا یې بالجبر پر تاسې اقرار کولی شم؟ حال دا چې تاسې له هغه څخه دومره نفور او بې زاره یئ چې خپلې سترګې ورته نه غړوئ او نه یې غواړئ چې ویې ګورئ".

خلاصه یې داسې شوه چې زما لویي او برتري چې ستاسې په نظر کې نه راځي ددغه سبب دادی چې ستاسې د زړونو سترګې ړندې یا تړلی شوې دي".

د هود سورت (۲۹) آیت: وَيٰقَوْمِ لَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ۭ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَي اللّٰهِ وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۭ اِنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ 29؁

ژباړه: او یه قومه زما! نه غواړم زه له تاسې په دغه تبلیغ "څه مال" "مزدوري" نه دی اجر "مزدوري" زما مګر په الله باندې او نه یم زه شړونکی د هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی "په دنیا دتاسو، ځکه چې "بېشکه دوی ملاقات کوونکي دي له رب خپل سره. "پس جګړه به وکړي له ما سره که دوی وشړم" و لیکن زه ګورم تاسې داسې قوم چې جاهلان یئ "له عاقبته خپله او له شرف ددغو مؤمنانو".

تفسیر: یعنې زه د تبلیغ په مقابل کې له تاسې څخه څه تنخواه او

طلب نه غواړم، چې د مالي خود غرضو اندېښنه تاسې ته پیدا شي، زه نه ستاسې د مال طالب یم ا نه ورته ضرورت لرم" نو بیا به زه څرنګه فقراء او مساکین پرېږدم او تاسې ته به خپل تمایل "میلان" در ښکاروم؟ که تاسې زما اتباع تش د هغوی د افلاس یا عادي کارونو له سببه حقیر او ذلیل ګڼئ، نو ښه وپوهېږئ! زه به له هغو کسانو څخه نه یم چې د ایمان د دولت پنګې "سرمایه" لرونکو ته د دوی د ظاهري پرېشانۍ او بېوزلۍ "کمزورۍ" له امله په سپکه وګورم یا هغوی لکه د حیواناتو په شان تېل وهم او له خپله ځانه یې لرې وشړم. دوی به یوه ورځ د خپل پاک الله په حضور کې مشرفېږي او زما شکایت به دده په دربار کې کوي، چې ستاسې رسول د متکبرانو، دنیادارانو په خاطر موږ وفاداران غریبان یې له خپله حضوره لرې کړي وو. زه د ظاهري وضعیت په خلاف به څرنګه پوهېدی شم چې د هغوی ایمان یوائې ظاهري او سطحي دی. د زړونو څیرول او د هغو لیدل زما کار نه دی او ددغو امورو اطلاع او پته یوائې پاک الله سره ده او هغه ښه پوهېږي چې د دوی د زړونو احوال څه دی؟ "وَلٰکنني اراکم قوماً تجهلون" او لېکن زه ګورم تاسې داسې قوم چې جاهلان یئ له عاقبته خپله او له شرف ددغو مؤمنانو یعنې د جهل او حماقت له امله د دوی پای او انجام ته نه ګورئ او یوائې د دوی ظاهري پرېشاني، مسکنت ته ګورئ او حقیر او خوار یې ګڼئ او داسې مهمله او چټي بېکاره غوښتنه کوئ چې دوی له خپله ځانه لرې کړه چې موږ تاته راشو. آیا غربت او حلال کسب څه عیب او نقصان لري؟ همداسې شیان خو له سره د حق له قبولولو په لاره کې نه مزاحم کېږي. عموماً د دولت او د جاه نشې او مستي انسان د حق له قبوله بې برخې کوي. ځکه د "هرقل" په حدیث کې راغلي دي چې د انبیاوو متبعین ضعفاء وي. په هر حال تاسې نه پوهېږئ چې ګرد سره د الله تعالی په حضور کې ټولېږئ او د هغه په لوی دربار کې به دا ښکارېږي چې دغه ستاسې تکبر، لویي، غرور د

هغوی په مقابل کې خوشې چټي، بېکاره یو د جاهلیت فخر او غرور و ".

په (۳۰) آیت کې داسې لولو: وَيٰقَوْمِ مَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ طَرَدْتُّهُمْ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ 30ـ

ژباړه: او یه قومه زما ! څوک به مرسته وکړي له ما سره چې ما وساتي له عذاب د الله که وشړم زه دوی، بلکې هېڅوک یې نه شي کولی. آیا فکر نه کوئ؟ نو پند نه اخلئ تاسې ".

تفسیر: یعنې زه ستاسې له کبره او غروره او جهالته متاثر شوی څرنګه خپل نقصان وکړم؟ که ستاسې په رعایت زه د الله تعالی مخلصو بنده ګانو ته څه ووایم یا یې وشړم؟ نو د هغه د سزا او له پوښتنې څخه به مې څوک وژغورلی شي؟

په (۳۱) ایت کې داسې لولو: وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَاۤىِٕنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ اِنِّيْ مَلَكٌ وَّلَآ اَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ تَزْدَرِيْٓ اَعْيُنُكُمْ لَنْ يُّؤْتِيَهُمُ اللّٰهُ خَيْرًا ؕ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ بس اِنِّيْٓ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ 31ـ

ژباړه: او نه وایم زه تاسو ته چې ما څخه خزانې د الله دي. دا چې پوهېږم په غیب باندې په علم الیقین سره او نه وایم چې بېشکه زه پرښته یم او نه وایم زه په حق د هغو فقیرانو مؤمنانو چې سپک ورته ګوري سترګې ستاسې چې له سره به ور نه کړي دوی ته الله هېڅ خیر، الله ښه عالم دی په هغه اخلاص چې په نفسونو د دوی کې دی. که زه دغه ووایم، نو زه په دغه وخت کې خامخا له ظالمانو څخه به یم ".

تفسیر: کفارو نوح علیه السلام ته ویلي وو: چې ته خو زموږ په شان یو بشر یې، د قوت، قدرت، دولت او اموال او رجال په اعتبار هم پر موږ څه امتیاز نه لرې، نو نوح علیه السلام ددې خبرې جواب په ډېر متانت او انصاف سره ورکړ، چې بېشکه هغه امتیاز چې تاسو یې لیدل غواړئ، زه یې مدعي نه یم بلا شبهه زه خو یو بشر یم، پرښته نه یم. نه الله تعالی خپلې ګردې خزانې زما په تصرف او اختیار کې ایښې دي او نه یې د غیب پر ګردو "ټولو " خبرو مطلع کړی یم. لېکن سره ددغو خبرو

د اعتراف سره زه ستاسې په شان له سره داسې نه شم ویلی چې هغه خلق چې ستاسې په نظر کې معیوب او حقیر دي، یعنې زه او زما ملګري، هغوی ته به له سره پاک الله هېڅکله څه خیر او ښېګڼه، فایده نه شي ورکولی. مثلاً له هغو څخه یې ځینو ته نبوت او حکمت عطا فرمایلی دی او نور یې د ایمان او عرفان په دولت سره ګټور کړي دي. ښه وپوهېږئ چې الله تعالی د دوی د زړونو پر استعدادونو او کیفیاتو ښه پوهېږي او هر یوه ته دده له استعداده سره مناسب فیض ور رسوي او د دوی له باطني احوالو او کیفیاتو سره موافق معامله ورسره کوي. پاک الله هغه خاصه مهرباني چې له ما سره یا زما له ملګرو سره یې فرمایلې ده، هغه ستاسې له سترګو څنې پټه ده. که زه داسې ووایم چې هغه کسان چې ظاهراً تاسو ته حقیر، فقیر، ذلیل او ګوډ او مات ښکاري. الله تعالی هم چې د بواطنو او پټو احوال څنې ښه عالم او پوه او ښه خبردار دی هغوی ته هېڅ یو عزت او شرف نه دی ورښنلی، نو دغه به نهایت د بې اصولۍ او نا انصافۍ خبره وي".

په (۳۲) آیت کې داسې لولو: قَالُوْا يٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ 32ۓ

ژباړه: "وویل کفارو: یه نوحه! په تحقیق جګړه دې وکړه له موږ سره پس ډېره دې کړه جګړه زموږ، نو راوړه موږ ته هغه عذاب چې وعده یې کوې ته له موږ سره، که یې ته له صادقانو، ربښتیا ویونکو په دې وعید خپل کې".

تفسیر: حضرت نوح علیه السلام پخوا له طوفانه نهه سوه او پنځوس کاله په دوی کې شپه او ورځ په پټه او ښکاره هغو ته پند او نصیحت کاوه او د هرې شبهې ځواب یې ورکاوه، د تبلیغ، تفهم، بحث، مناظرې، خبرو اترو سلسله جاري وه. په دغو جګړو کې په سلهاوو کلونه تېر شول. کفار د نوح علیه السلام ددغو حقاني مباحثو او د شپې او د ورځې ممانعت او مزاحمت څخه عاجز او پکو "تنګ"

شول او ګردو سره وويل چې اوس دغه سلسله را بنده کړه، که په رښتيا سره ته رښتيا وايې، نو هغه عذاب ژر را نازل کړه ! چې موږ د عذاب له نزول څخه تل وېرېږو، څو دغه د هرې ورځې جګړې ببخي پای ته ورسېږي او دا مناقشه بالکل ختمه شي ".

په (۳۳) آيت کې داسې لولو: قَالَ اِنَّمَا يَاْتِيْكُمْ بِهِ اللّٰهُ اِنْ شَآءَ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿33﴾

ژباړه: "نو وويل نوح بېشکه همدا خبره ده چې را به ولي تاسې ته دا عذاب خاص الله، نه بل څوک. که اراده وفرمايي د راوستلو يې اوس يا وروسته. حال دا چې نه يئ تاسې عاجز کوونکي د الله په دفع د عذاب په زور يا تېښتې سره ".

تفسير: "يعنې ددغه عذاب نزول زما په قبضه کې نه دی څه مهال چې پاک الله سم له خپله حکمته سره اراده وفرمايي نو عذاب نازلوي. زما فرض يوائې خبرول دي، پاتې شو عذاب، هغه خو داسې هولناک او عظيم الشان شی دی چې د هغه راوړل، يا يې مخه ببرته اړول، دواړه له بشري قوې څخه خارج دي. کله چې الله تعالی مشيت وفرمايي نو څوک ترې نه شي تښتېدلی، او نه ترې چېرې پټېدی شي. داسې څوک دی چې معاذالله پاک الله ستړی او ستومان کړي او ځان ترې وژغوري؟ ".

په (۳۴) آيت کې داسې لولو: وَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِيْٓ اِنْ اَرَدْتُّ اَنْ اَنْصَحَ لَكُمْ اِنْ كَانَ اللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يُّغْوِيَكُمْ ۭ هُوَ رَبُّكُمْ ۣ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿34﴾

ژباړه: "او نه نفع در رسوي تاسې ته نصيحت زما که اراده وکړم زه چې نصيحت وکړم تاسې ته که وي الله چې اراده ولري ددې چې ګمراه وفرمايي تاسې. هم دی دی رب ستاسې، هر څه چې غواړي هغه ستاسې سره کولای شي او خاص هم ده ته ببرته بيولی کېږئ پس له مرګه په قيامت کې ".

تفسير: يعنې پر کفارو باندې دومره اصرار، ضد، سپين سترګی، انتهايي شوخۍ او د عذاب د نزول په استدعا کولو څخه دغه خبره

راځرګندېږي چې د الله اراده پر همدغه تللې ده چې تاسې په همدغې ګمراهۍ کې پراته اوسئ او بالاخره به هلاک کړی شئ. پس که ستاسې ددې بد کردار له لامله د الله تعالی اراده پر همدې تللې وي، نو که زه هومره نصیحت او خیر غوښتنه مو وکړم او تاسې ته ګټه، فایده در رسونه وغواړم، له سره به هغه نافع او مؤثره نه لوېږي. ستاسې رب هماغه ذات دی چې د هغه په ملکیت او تصرف کې هر شی دی. له هر چا سره چې هره معامله وفرمايي هېڅوک يې مخه نه شي نيولی. د ګردو رجوع او ورتګ د هم ده په لوري دی. هماغه د ګردو اعمالو جزا او سزا ورکوونکی دی".

د (۳۶) آیت متن: وَاُوْحِيَ اِلٰي نُوْحٍ اَنَّهٗ لَنْ يُّؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ اِلَّا مَنْ قَدْ اٰمَنَ فَلَا تَبْتَىِٕسْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ
36ؐـــبش

ژباړه: "او وحې کړی شوې وه نوح ته چې بېشکه شان دادی چې له سره به ایمان رانه وړي له قومه دتا مګر هغه چې په تحقیق ایمان يې راوړی دی پخوا له دې نه. نو مه غمجن کېږه په هغه ایذا او تکذیب چې وو، دوی چې کول به يې او رسولي يې درته".

تفسیر: "کله چې د قوم ایذاوې او ربړونه، تکلیفونه له حده تېر شول، نوح علیه السلام د سلهاوو کلونو ربړ او تکلیف تېرولو او جور او جفا لیدلو څخه وروسته د پاک الله په دربار کې شکوه وفرمایله چې: "اِنِيْ مَغْلُوب فانتَصِرُوْا " زه مغلوب او ضعیف یم ته له دوی نه بدل واخله. ارشاد وشو چې د هغو څو شمېرليو غورو خلقو په قسمت کې چې ایمان لیکلی شوی و، هغوی خو ګردو ایمان راووړ، وروسته له دې نه د دوی له منځه بل هېڅوک نه مسلمانېږي، نو ځکه اوس تاسې د دوی له عداوت او تکذیب او ایذا رسولو څخه زیات مه غمجن کېږئ. عنقریب د الله تعالی د انتقام توره راوځي او د دوی دغو ګردو شرارتونو ته سره له دغو شریرانو خاتمه ورکوي".

د (۳۷) آیت متن: وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِيْ فِي الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۚ اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ 37 ـــ

ژباړه: "او جوړه کړه ته بېړۍ په اعين يعنې په حضور او حفاظت زمونږ او په حکم زمونږ او مه کوه خبرې ما سره په دفع د عذاب، په حق د هغو کسانو چې ظالمان، کافران شوي دي. بېشکه په دوی باندې حکم کړی شوی د غرقېدلو "نجات يې نشته".

تفسير: "حق تعالی نوح عليه السلام ته وفرمايل چې: زما په اعين يعنې زمونږ په حضور، زمونږ په حفاظت او نګراني کې او زمونږ د حکم، تعليم، الهام او پيغام سره سم يوه بېړۍ تياره کړه؛ ځکه چې عنقريب د اوبو يو ډېر سخت توپان، څپان راتلونکې دی چې په هغه کې دغه ګرد ظالمان او مکذبين باليقين ډوبېږي او د دوی په حق کې دغه حکم او فيصله حتماً او جزماً منطبقه کېدونکې ده، ته د هېڅ يوه ظالم او نورو سپارش مه کوه او د دوی د شفاعت دپاره ماته مخ مه ګرځوه، ځکه چې راتلونکی عذاب له سره منع کېدونکی نه دی، بلکې بېخي قطعي او حتمي دی".

د (۳۸) آيت متن: وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ ۣ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَاٌ مِّنْ قَوْمِهٖ سَخِرُوْا مِنْهُ ۭ قَالَ اِنْ تَسْخَرُوْا مِنَّا فَاِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُوْنَ 38ۭ

ژباړه: "او جوړوله نوح بېړۍ، حال دا هر کله چې تېرېدله به پر دغه نوح ډله د مشرکانو يا مشرانو له قومه د نوح نو مسخرې به يې کولې په دغه نوح پورې، نو وويل نوح که مسخرې کوئ تاسې پر مونږ، نو بېشکه مونږ به هم مسخرې وکړو پر تاسې پورې. لکه چې اوس مسخرې کوئ تاسې پر مونږ پورې".

تفسير: "وايي چې دغه بېړۍ د څو کلونو په موده کې تياره شوه او بېړۍ نه وه، بلکې يو لوی جهاز و، چې په کې څو طبقې او بېلې بېلې درجې وې، مفسرين ددې په تفاصيلو کې ډېر اغراق او مبالغې او عجيب او غريب روايات بيان کړي دي چې له هغو ځنې علی الاکثر اسرائيليات هم دي چې وګورئ له نبوته دده کار ترکاڼي ته ورسېد. کله به يې چې دغه عجيب شی "بېړۍ" ليدله، نو له نوح عليه السلام څخه

به يې پوښتنه کوله چې ته دغه څه جوړوې؟ دوی به ويل چې: يو داسې کور جوړوم چې د اوبو پر سر درومي او له ډوبېدلو څخه به مو بچ کوي. کفارو ددې خبرې له اورېدلو ځنې له خندا شنه او په مسخرو کې به سره لګيا کېدل او په خپلو منځونو کې به يې ويلې چې دغه سپين ږيري ته وګورئ چې له اوبو څخه لرې په وچه لوړه، اوچته ځمکه کې له اوبو څخه د نجات په فکر کې ډوب تللی دی. نوح عليه السلام به په ځواب کې ويلې: نن تاسې پر ما باندې د ناپوه او احمق خيال کوئ او را پورې خاندئ، لېکن هغه زمانه نژدې ده چې د هغه په ځواب کې ستاسې دغه حماقت او سفاهت پورې به موږ ته هم موقع په لاس راشي چې موږ به هم پر تاسې باندې وخاندو، کله چې تاسې د خپلو جرايمو په بدل کې په سزا ورسېږئ ".

**د (۴۰) آيت متن:** حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ ۙ قُلْنَا احْمِلْ فِيْهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ اٰمَنَ ۭ وَمَآ اٰمَنَ مَعَهٗٓ اِلَّا قَلِيْلٌ 40

ژباړه: "تر هغه پورې کله چې راغی امر، حکم د عذاب زموږ او راوخوټېده تنور، يعنې اوبه له تناره بيا چې عذاب سر راوړو، نو وويل موږ نوح ته: سواره کړه په دې بېړۍ کې له هرې نوعې نافعې د حيواناتو څخه جوړه دوه، دوه نر او ښځه او اهل خپل د بيت دې هم سواره کړه. مګر مه سوروه هغه چې ړومبی شوې ده پر ده وينا او حکم د ډوبېدلو او هغه هم سواره کړه، چې ايمان يې راوړی دی او نه وو ايمان راوړی سره له دغه نوح مګر خو لږو خلکو ".

تفسير: "يعنې نوح عليه السلام تر هغه وخته پورې د بېړۍ په جوړولو کې مشغول و، چې د الله تعالی له وعدې سره موافق ګردو ورېځو ته حکم ورسېد چې ټولې سره ور اوورېږئ او ځمکې ته وويل شول چې خپلې ګردې اوبه وخوټوه او پرښتو ته وويل شول چې تاسې د خپل تعذيب او نورو منصبي فرايضو پر ځای راوړلو کې متوجه شئ. بالاخره له پاسه سخت بې درېغه باران وورېده، له ښکته د ځمکې له

سطحې د زورورو او سختو خوټېدونکو چینو او تندوبي په شانې په جوش وهلو او خوټېدلو باندې شروع وکړه، تر دې چې د ډودۍ پخولو له تنورونو څخه هم چې له اور ځنې ډک پک وو هم اوبه راووتې. بیا چې عذاب سر راووړ، نو وویل موږ نوح ته چې سپاره کړه په دې بېړۍ کې له هرې نوعې نافعې د حیواناتو څخه جوړه دوه دوه، نر او ښځه. یعنې له هغو سا کښانو زنده سرو چې ضرورت ورته پېښېږي او د هغوی نسل پاتې کېدل مقدر دي، یوه یوه جوړه نر او ښځه دواړه واخله او په بېړۍ کې یې سواره کړه او اهل بیت خپل هم سواره کړه، په دې بېړۍ کې، مګر مه سوروه هغه چې ړومبی شوې ده په ده وینا او حکم د ډوبېدلو. یعنې دغه مقدره او مقرره شوې ده چې هغه د ظالمانو په زمره کې د داخلېدلو له سببه غرق شي. د نوح علیه السلام له کورنۍ ځنې یو زوی چې "یام" نومېده او لقب یې کنعان او د هغه مور چې "واعله" نومېده د ډوبېدونکیو په ډله کې راغلل چې په توپان کې ډوب شول. د بېړۍ د اراکینو په هکله ډېر اقوال دي، مګر دا اخري خبره ده چې وایي: په بېړۍ کې یو په خپله نوح علیه السلام و او یوه یې مسلمانه ښځه او درې یې زامن هر یو: سام، حام او یافت او درې د دوی مېرمنې وې چې اته شو. نور له قومه یې (۳۲) نارینه او (۳۲) ښځې چې دا ټول سره (۸۰) تنه کېږي، سپاره شوي وو ".

د (۴۱) آیت متن: وَقَالَ ارْكَبُوْا فِيْهَا بِسْمِ اللّٰهِ مَجْـرٖ۩ىٰهَا وَمُرْسٰىهَا ۭ اِنَّ رَبِّيْ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ 41ـ

ژباړه: "او ویل نوح چې سپاره شئ پر دغې بېړۍ او ووایئ په نامه د الله دي روانېدل ددې بېړۍ او درېدل ددې بېړۍ. بېشکه چې رب زما خامخا ښه ښونکی او مغفرت کوونکی د خطیاتو، ډېر رحم والا دی په اکرام د اجر او ثواب سره ".

د مفسر تفسیر: "نوح علیه السلام خپلو ملګرو ته وویل چې د پاک الله په نامه پر بېړۍ سواره شئ او هېڅ فکر او اندېښنه مه کوئ. ددغې بېړۍ روانېدل او درېدل، دواړه د الله په نامه او اذن او حکم او دده د

پاک نامه په برکت سره دي او ددې د ډوبېدلو هېڅ اندېښنه نه شته. زموږ رب د مؤمنو قصور معافوي او پر دوی بې حده مهربان دی. دی به په خپل فضل او کرم او مهرباني سره موږ روغ رمټ او صحيح او سلامت راکوزوي. له دې آيت څخه دغه خبره استخراجېږي چې په بېړۍ او نورو نقليه وسايلو باندې د سورېدلو په وخت کې ښايي چې "بسم الله" وويلی شي".

د (۴۲) آيت متن: وَهِيَ تَجْرِيْ بِهِمْ فِيْ مَوْجٍ كَالْجِبَالِ ۣ وَنَادٰي نُوْحُۨ ابْنَهٗ وَكَانَ فِيْ مَعْزِلٍ يّٰبُنَيَّ ارْكَبْ مَّعَنَا وَلَا تَكُنْ مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ 42ـــ

ژباړه: "او دې بېړۍ به ورل په موجونو "څپو د اوبو" کې په شان د غرونو او نارې کړې نوح له ډېره شفقته، زوی خپل ته حال دا چې و هغه په کنارو له پلاره، يا له ايمانه، يا له بېړۍ نه، يه بچوړيه زما! راځه سور شه! په بېړۍ کې له موږ سره او مه کېږه له کافرانو سره چې غرق شي".

د مفسر تفسير: "يعنې بېړۍ به د غرونو غوندې موجونه او څپې څيرولې او په خپل ټکر سره به يې وهلې او بې له خوفه او خطرې به پرې روانه وه. وروسته له سورېدلو نوح عليه السلام خپل زوی "يام" کنعان ته ورغږ کړ چې له خپله پلاره او ورونو او نورې کورنۍ څخه بېل او د کفارو سره اېل او غېل و، چې ددغو بدبختانو کفارو ملګرتوب پرېږده، له موږ سره راشه! څو له دغه لوی مصيبت څخه نجات ومومندلی شې".

د (۴۳) آيت متن: قَالَ سَاٰوِيْٓ اِلٰي جَبَلٍ يَّعْصِمُنِيْ مِنَ الْمَاۗءِ ۭ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ۚ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ 43ـــ

ژباړه: "وويل کنعان زوی د نوح، چې ژر به لاړ شم ځای به ونيسم پر سر د کوم غره باندې چې وساتي مې له اوبو نه، وويل نوح چې نه شته ساتونکی نن ورځ له امره، حکمه او له عذابه! او پرده شوه د دوی دواړو په منځ کې موج، څپه د اوبو، نو وګرځېد کنعان له جمله د غرق

کړیو شویو ".

د مفسر تفسیر، کنعان له خپل جهل اوعداوته اوس هم داسې خیال کاوه، لکه چې سرې د عادي اومعمولي سیلاب "ځپان "په اوقاتو کې پر کومه لوړه اوچته خیږي او خپل ځان ژغوري، نوزه به هم پر کومې لوړې،اوچتې څوکې دغره وخېژم او خپل ژوندون به وساتم، نو وویل نوح علیه السلام له سره نه شته ساتونکی نن ورځ له امره او حکم او له عذابه د الله څخه، ولېکن هغه څوک چې رحم وکړي الله پرې او وئي ساتي له عذابه،نونجات مومي،یعنې ته په کوم خبط او خطا کې لویدلی یې؟ دغه عظیم توپان خو کوم معمولي سیلاب نه، بلکې د الله تعالی دعذاب توپان دی. "

د لوړو اوچتو غرونو حقیقت او ماهیت څه دی؟ نن هیڅ یو شی د پاک الله له عذابه نجات نه شي موندلی، هو !د همهغه چاپه برخه کې نجات کېدای شي چې دپاک الله فضل او کرم پرې وي، مګر په دغه لویه او مهیبه هنګامه اوانتقام په مقام کې به پر غتو مجرمانو څه رحم او شفقت کېدای شي؟ د پلار او ځوی په منځ کې لا دخبرو او اترو دغه سلسله پای ته نه وه رسېدلې چې د اوبو یوه څپه او موج د دوی ترمنځ حایله شوه او دوی دواړه یې د تل لپاره سره بیل کړل، بیاهر کله چې د توپان واقعه نهایت ته ورسېده او کفار غرق شول، نو د پاک الله داسې امر صادر شو. "

د "۴۴ "آیت متن: وَقِيْلَ يٰۤاَرْضُ ابْلَعِيْ مَاۗءَكِ وَيٰسَمَاۗءُ اَقْلِعِيْ وَغِيْضَ الْمَاۗءُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَي الْجُوْدِيِّ وَقِيْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ 44ـــ

ژباړه: او وویل شو چې یه ځمکې جذب کړه، بېرته ښکته و نغړه اوبه خپلې ! او یه اسمانه ! بندي کړه اوبه خپلې او کمې کړی شوې اوبه له مخې د ځمکې او پوره کړشو هغه حکم د هلاک داشرارو او انجام د ابرارو ،او ودرېده ببړۍ پر غره د جودي،او وویل شو هلاک لریوالی دی وي له رحمه قوم د ظالمانو کافرانو ته. "

د مفسر تفسير: تر يوې مودې پورې دومره زياتې اوبه له اسمانه راتويې شوې چې ګواکې د اسمان ګردورخونه او بندونه سره پرانيستل شوي دي، او د ځمکې ګردې پولې او پردې سره شليدلې،او بېرته شوي وي، ترونو، او لوړو وچتو غرونو پورې هم اوبه وختلې او هغه ګرد په کې ډوب او پټ شول. "

بې د بېړۍ له سورو څخه نورو ګرد وکفارو ته چې ددوی په حق کې نوح عليه السلام ښيرا کړې وه، غرق شول، په دغه مهال الله قدوس جلت عظمته ځمکې ته امر وکړ چې اوس دې خپلې اوبه بېرته درجذبې کړه. "

او درکش يې کړ، او يه اسمانه نور بس کړه او مه وربېږه، او يه وريځو !لرې شي، نو بيا څه مجال و چې د غوګردود هغه حکم امتثال نه وي کړی؟ او په تعميل کې يې د يوې لمحې ډيل او معطلی کړی وي، لکه چې د اوبو وچيده شروع شول، او بېړۍ د جودي پر غره باندې ودريده، چې د ځينو په نزد په "موصل "کې دی، او د هغه امر اواراده چې پاک الله د مجرمينو د سزا ورکولو په نسبت فرمايلې وه پوره شو. "

د ظالمانو په حق کې د غسې وويل شو چې د پاک الله له رحمته د تل لپاره لرې شی، او د هميشه دپاره د مصيبت او هلاکت په غارونو او کندو کې پراته اوسي. "

د **"۴۵ "آيت متن:** وَنَادٰي نُوْحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِيْ مِنْ اَهْلِيْ وَاِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَاَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِيْنَ 45ـــ"

ژباړه او غږ وکړ نوح رب خپل ته. نو وې ويل; يه ربه زما !بېشکه چې ځوی زما له اهله زما څخه دی، او بېشکه چې وعده ستا حقه ده او ته يې ښه عالم،عادل، لوی حاکم له ټولو حکم کوونکو څخه; وفرمائيل الله يه نوحه !بېشکه چې هغه ځوی نه دی له اهله ستا چې مومنين دي بېشکه دی خاوند د عمل ناکاره دی. "

نو سوال مه کوه له مانه د هغه څيز چې نه وي تاته په هغه څيز کې څه

علم پوهه، بېشکه زه پند درکوم تا ته چې نه شي ته له جاهلانو په دې نا جائيزه سوال کې. "

د مفسر تفسير; نوح عليه السلام دغه عرض په کوم مهال کې کړی دی؟ له ډوبېدلو څخه پخوا که وروسته دغه دواړه احتمالات شته، دوهم د کنعان د منافقې اوضاعو او اطوارو د ليدلو په غلط فهمي سره بنايي هغه به مومن ګڼلی يا به يې کافر پېژندلې وي، او د رب العزت جل جلاله په دربار کې داسې سوال به يې کړي وي. "

نو مقصود به يې دده د اضطرابي کيفيت اظهارو او د پاک الله له حضوره د هغه نجات سرشته او انتظام وي، او که له ډوبېدلو څخه وروسته دغه وينا شوي وي، نو محض ددغې معاملې د حقيقت د معلوملو په غرض خپل خلجان يا اشکال به يې وروړاندې کړي وي، يعنې; اله العلمينه !تا خو زما د کورنۍ د نجات وعده راسره کړې ده. "

او کنعان د مومن توب له لامله په استثنا کې ظاهرانه و، داخل نو بيا د هغو د ډوبيدلو راز به څه وي؟ بلا شبه ستا وعده حقه ده، هيچا ته له سره داسې کوم خيال نه شي پيدا کېدی چې معاذ الله وعده خلافي کړې ده، ته احکم الحاکمين او مطلق شهنشايي که څوک ستا د احکامو په راز و پوهيږي او ونه پوهيږي په دواړو صورتونو کې هغه حق دی، او هيڅوک هيڅ حق نه لري ستا د فيصلې په مقابل کې دم ووهلی شي يا تا په وعده خلافي مجبور کړي. "

نه د چا دا منصب دی چې ستا د ناطق حکم په متعلق څه تنقيد وکړی شي، يواځې د قلبي اطمينان دپاره د استعلام او استغفار په توګه ددغې واقعي راز معلومول غواړم، ځواب يې داسې واوريد; چې دی ستا له هغې کورنۍ څخه نه و، چې د دوی د نجات وعده درسره شوې وه، بلکې په"اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ "کې شامل دی. "

ځکه چې دهغه عمل خراب دی، ته دده له کفر او شرک څخه خبر نه يې د تعجب ځای دی چېې ته سره د نبوت د فراسته او رڼا، د کفر د

صریحو اثارو د موجودیت سره د یوه کافر د احوالو په نسبت پوره معلومات نه لري، او تر اوسه پورې د هغه حال تاته مشتبه دی د هغه سړي واقعي احوال چې تاته نه وي معلوم، نو د هغه په باره کې موږ نه داسې نامناسب رعایت یا دا ډول طریقه او کیفیت مه غواړه. !

مقربینو ته وړ او لایق نه دي چې بې له فکره او اندېښنې او وړاندې او وروسته کتلو ، د ادب ناپېژندونکو جاهلانو په شان خبرې وکړي. "

په "۴۷ "آیت کې داسې لولو: قَالَ رَبِّ اِنِّیْٓ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَسْـَٔلَكَ مَا لَیْسَ لِیْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَاِلَّا تَغْفِرْ لِیْ وَتَرْحَمْنِیْٓ اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِیْنَ ﴿47﴾

ژباړه: وویل نوح یه ربه زما بیشکه زه پناه نیسم په تا پورې له دې چې سوال وکړم له تانه د هغه څیز په نسبت چې نشته ماته د هغه په هکله علم او پوهه، او که مغفرت ونه کړی ته ماته او رحم ونه کړي، پر ما ، نو شم به زه له زیانکارانو. "

د "۴۸ "آیت متن: قِیْلَ یٰنُوْحُ اهْبِطْ بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكٰتٍ عَلَیْكَ وَعَلٰٓی اُمَمٍ مِّمَّنْ مَّعَكَ ؕ وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ یَمَسُّهُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿48﴾

ژباړه: وویل شو یه نوحه ! کوز شه له ببړۍ نه په سلامتي له جانبه زما او سره له برکتونو زموږ له جانبه پر تا او پر څو فرقو له هغه چا نه چې له تا سره دي. "

او څه نورې فرقې کافرې له اولادی د هغه چا چې له تا سره دې ژر به نفع ورکړو هغوی ته په دې دنیا کې بیا ه ورسېږي دوی ته زموږ له جانبه عذاب دردناک په اخیرت کې په سبب د کفر. " د مفسر تفسیر یعنې له ببړۍ څخه په "جودي "باندی بیا له "جودې "څخه پر ځمکه ښکته شول، برکات او سلامتي وروسته له دې نه پر تاسې او پر هغو اقوامو به وي چې ستاسې له ملګرو څخه پیدا کېږي. "

اوس چې ځمکه د توفان له سببه بیخي خرابه او ویجاړه شوې ده، الله تعالی به یې بیا ودانوي او د هغه رونق او سینګار ته به بیا عودت ورکوي، د "بسلام "په لفظ ګواکې حق تعالی تسلي فرمائیلې ده چې بیا

به پرګردو انساني نو عو پخوا له قیامته داسې عمومي هلاکت نه وي راتلونکی مګر ځینې فرقې به هلاکیږي. "

دا وه د قرآني آیتونو څرګندونې اوس به وګورو چې په نورو منابعو کې د نوح علیه السلام په هکله څه راغلي دي. "

پښتو اریانا دایرت المعارف داوم ټوک په "۱۰۹۷" مخ کې داسې وایي; په روایاتو کې داسې راغلي دي، چې; نوح علیه السلام د آدم علیه السلام له مړینې نه "۱۷۴۲" کاله وروسته زیږیدلی او په پنځوس کلنۍ کې پیغمبر شوی دی. "

څو کاله یې پرله پسې خپل بې لارې شوي او کافر شوي قوم ته د ایمان بلنه ورکړه خو څه فایده او ګټه یې ونه کړه، نو ځکه د خدای له لورې د کښتۍ "بېړۍ" په جوړولو مامور شو. "

کله چې بېړۍ جوړه شوه نو نوح علیه السالم د خپلې مایني، درې ځامنو;سام،حام او یافث "او د دوی د ښځو سره په کې کېناستل او هر ډول ساکښانو نر او ښځې یوه یوه جوړه یې هم له ځانه سره واخیستل، پوره څلویښت ورځې او شپه توپاني باران ووربد. "

ټوله ځمکه له اوبو ډکه شوه او یو سلو پنځوس ورځې د اوبو لاندې وه، ټول ساکښ او ژوي مړه او تباه شول، بیا وروسته اوبه کښته شوې او د غرو څوکې راښکاره شوې، د نوح علیه السلام بېړۍ د جودي د غره پر څوکه او د تورات په روایت دارارات د غره دپاسه وچې ته ووتله او د نوح له درې ځامنو انسانان په دوهم ځل پیدا شول. "

د پورتنیو څرګندونو او همدارنګه د ځینو نورو اطلاعاتو له مخې د نوح علیه السلام په هکله غواړمه،خپلې څه غوندې نورې کتنې هم ورزیاتې کړم او هغه دادي; نوح علیه السلام په ټوله هغه موده کې چې د دین او شریعت په خپرولو کې تېره کړې ده. "

تر ډېره کچه پورې په خپلو کړو وړو کې عدم تشدد ، سوله،روغه او انصاف یې ځلولی دی، دغه لامل دی چې د ادم علیه السلام د ځوی

"هابيل " نه وروسته په دوهمه مرتبه کې د ښېګڼو، روغې، جوړې او د نه تاوتريخوالي سمبول ګڼل کېږي، دا ځکه چې د لومړۍ مرتبې خاوند "هابيل " دی، هابيل له دې لامله د لومړۍ مرتبې خاوند ګڼل کېږي چې هغه خپل ورور "قابيل "ته ويلي و. "

دا چې ته زما ورور يې، د ورورۍ له مخې که مې ته ووژنې هم زه او زما لاسونه به ستا او د ستا د لاسونو د کړو په مخه کې خنډ نه شي، لکه چې همداسې هم وشول، کله چې قابيل وغوښتل هابيل ووژني، هابيل د خپل ورور د دې دښمنانو کړنې مخه ډب نه کړه او په دې توګه يې د خپل ژوند نه د دفاع په خاطر د خپل ورور مخه هم ونه نيوله. "

هابيل خپل ورور "قابيل "ته د مشر ورور په سترګه وکتل او هغه ته يې د ورورۍ د پاس د ساتلو له لامله دا خبره راتلونکو نسلونو ته په ميراث پرېښودله چې ورورۍ ته بايد په کومه سترګه وکتل شي. "

او څرنګه د ورورولۍ لوړ او درانه دريځ ته درناوی وشي؟ د ورورولۍ پاس ساتل او هغه ته درناوی کول د ژوندانه د ښېګڼو او خوږو دوه توکي دي چې الهي نعمت ګڼل کېږي. "

خو هغوی چې لکه د "قابيل "په څېر د خپلو ورونو په وينو تويولو سره خپلې ينې خړوبوي، او په دې توګه د ژوندانه ښېګڼې او خواږه په تاوتريخوالي، تشدد او تراخه ځځوالي بدلوي، څرګنده خبره ده چې د انساني ژوند د دښمن په لاره درومي، د هغه دښمن په لاره چې نوم يې شيطان دی. "

هر چا چې د شيطان لاره غوره کړې، هغه د خپل ورور سره لکه د "قابيل "غوندې دښمني کړې او خپل ورور يې وژلی دی، مګر د وژلو نه وروسته پېښمان شوی، خو څه ګټه يې نه ده ترلاسه کړې. "

د "هابيل "شهادت لومړنی شهادت دی چې د ورورولۍ د پاس د ساتلو پر بنسټ يې هغه په ژوندانه کې د روغې، جوړې، سولې او صميميت لوړ دريځ ته د سمبول په توګه ورخيږولي دي، چا چې د

"هابیل"لاره نیولې، هغوی ټول د ریښتیني انسانانو په نامه په هر مهال کې د خپلې ټولنې له خوا ستایل شوې او د درنو او کرامت لرونکو انسانانو په ډله کې هرکله او په هر ځای کې د ولسونو لارښوونکي،مشران او سوله غوښتونکي شمېرل شوي دي. "

لکه چې; د "هابیل"نه وروسته په انساني ټولنه کې نوح علیه السلام راځي او په دې توګه نوح علیه السلام د سولې، روغې او انصاف د لوړ دریځ خاوند د دوهم سمبول د مرتبې لرونکي په توګه ګڼلی شو. "

په دې توپیر چې "هابیل " یوائې د خپل ورور سره وروري وکوله، کوم چې نوح علیه السلام د خپل قوم د جوړونې او روزنې او پالنې لپاره هلې ځلې کولې، د "هابیل "غبرګون سره د دې چې د لومړني انسان په توګه د لارښود په مرتبه کې ګڼل کېږي. "

په وروروله کې د سولې،روغې او انصاف د پلې کېدو مخکښ هم پېژندل شوی دی، خو نوح علیه السلام د یوې اوږدې مودې لپاره د خپل قام د لارښوونې، جوړونې،روزنې او پالنې په لاره کې ډېر ېمنډې ترړې ووهلې، مګر بریالی نه شو، نوح علیه السلام د خپلې مبارزې په اوږدې مودې کې د دې وسه تر لاسه نه کړای شوه، څو د خپل قوم نه په سیمه او نړۍ کې یو غښتلی ولس یا په سیاسي او دیني لحاظ "ملت" جوړ کړي. "

نوح علیه السلام سوله، روغه، جوړه او مینه خوښولو، خو قوم یې تاوتریخوالی، تشدد او کرکه، نوح علیه السلام به خپل قوم د ښېګڼو، لورینو او انسان دوستي ته هڅولو، خو قوم به ناوړو، بدګڼو اودښمنۍ ته مخه کوله، په پښتو ژبه کې یو متل دی چې وایي; بدګرځې بد به پرځې. "

د نوح علیه السلام قوم هم د خپلو بدو او ناوړو کارونو له لامله د یو لوی توپان په وسیله تباه او د همیش لپاره د ځمکې له مخې ورک شو،

څه شې چې په دې پېښه کې د خواشینۍ وړ برېښي هغه د هغو ټولو ساوالو مړینه ده چې د نوح علیه السلام د قوم په ګناه کې کومه برخه نه لرله، ددغې پېښې نه وروسته نوح علیه السلام د ځمکې پر مخ د دوهم "ادم "په نامه یادېږي، دا په دا چې; لکه چې په کتابونو کې راغلي دي، دغه اوسنی انسانان کوم چې د ځمکې پر مخ اوسېږي. "
ټول د نوح علیه السلام له پښته دي، دا ځکه چې د توپان له لامله دځمکې پر مخ د نوح علیه السلام او د هغه سره په بېړۍ کې د سپرو ملګرو نه پرته نور ټول انسانان تباه شول، د انسانانو سره یو ځای لا ټول ژوي هم تباه شوي و، خو په خپله نوح علیه السلام هیڅکله هم د خپلې مبارزې په موده کې پر خپل قوم باندې د ځځوالي،تاوتریخوالي او تشدد نه کار وانه خیست لا چې د تل لپاره یې په خوږه ژبه او ماته غاړه خپلې لارښوونې اورولې، او چاچې به ورته کنځل، هغه ته به یې له لویه خدای د خیر او ښېګڼو غوښتنه کوله. "
د داسې لاوریینو او خیر ښېګڼو نه ډک انسان نه یوازې دا چې د انساني ټولنې د دوهم بابا په څېر ګڼلی شو، چې د انساني اصیل خوی او خصلت لرونکي په توګه د "هابیل "نه وروسته د وروروليې د پاس ساتونکي د دوهمې مرتبې لرونکي د سمبول په نامه هم یادولی شو، نوح علیه السلام د انساني لوړ خوی او خصلت سره سمبال هوډ کړی و، څو خپل قوم لکه د ځان په څېر له ټولو هغو بدو او ناوړو خویونو او کړنو نه وژغوري، کوم چې د انسانیت ددښمن غوښتنه ده. "
مګر په دې کار کې پاتې راغی اوماته یې وخوړله، یعنې ;هغه غوښتل د خپل ولس څخه په سیمه کې یو ستر ملت جوړ کړي، څو د تاریخ په سترګو کې د سمبول په توګه وبریښي، مګر یوازې دی په خپله خپل تاریخ ته سمبول وګرځېد او قوم یې نه. "
د ولس د جوړونې،روزنې او پالنې په هکله غوره ګڼم په قرآن کریم کې د الاعراف سورة "۲۰۰ "ایت ولولم; خذالعفو تر اخره "ژباړه; ونیسه یه

محمد ص! عادت د عفوې کولو او امر حکم وکړه په معروف نيکو کارونو سره او مخ وګرځوه په څنګ شه له جاهلانو، ناپوهانو، ليونيانو څخه، او که باعث او تيز کړي، تا په معصيت له طرفه د شيطان کومه وسوسه، نو پناه وغواړه په الله پورې، بېشکه دغه الله ښه اورېدونکی، ښه عالم دی. "

د ټولو اقوالو په ګردو احوالو " د مفسر تفسير; د "خذالعفو "څو معنا ګانې شوي دي. "

د زياترو حاصل دادی چې له سخت ګېرۍ او تندخويي ځينې پرهيز وکړه، د مومنانو په مقابل کې څو د قهر او غضب له لامله دوی درڅخه تار په تار نه شي، الله جل جلاله په دغه آيت کې چې د مکارم الاخلاق جامع دی، خپل پاک رسول ته هدايت وفرمايه، چې; يه محمد صلی الله عليه وسلم !د عفوې او له خطاؤ ځينې د تېرېدلو عادت ونيسه او له پند وروکو څخه خوله مه نيسه; او تل خپلې معقولې خبرې کوه ! اوله جاهلانو څخه په څنګ شه يعنې; د دوی جاهلانه حرکاتو له کبله هره ورځ دوی سره لاس او ګرېوان کېدلو ته ضرورت نه شته، کله چې وخت يې راشي، نو په لږ وخت کې به د دوی ګرد حساب او کتاب پای ته ورسېږي، که کوم وخت د بشريت په مقتضا د دوی پر کوم نالايق حرکت په قهر شي. "

او يقين شيطان وغواړي چې له لرې څخه تاسې داسې يوې معاملې او کار ته اماده او تيار کړي چې له مصلحت نه مخالف وی، يا ستاسې له عظيم خلق او حلم او متانت سره لايق او وړ نه وي، نو ته فوراً الله تعالی څخه پناه وغواړه له دې وسوسې څخه ستاسې د عصمت او وجاهت په مقابل کې هيڅ يو کېد ، مکر او چل نه شي چلېدلی، ځکه; قدير خدای ج چې د هر مستعيذ د خبرو اورېدونکی او په هر حالت پوهېدونکی دی، هم ده ستاسې د صيانت تکفل کړی دی. "

د پورتني آيت د لارښوونې پر مخ کولی شو ووايو چې ځځواله او

ځځښت لکه څنګه چې انبیاو او مرسلینو ترینه ځانونه ژغورلي دي، د ژوندانه په اوږدو کې، هر انسان ته هم ښايي چې ځان ترېنه وژغوري، او کنه ځځواله د شیطان کاردی او شیطان په دې لاره کې د هرې کوچنۍ خبرې، کوچنۍ خوځښت او کوچنۍ اشارې څخه ګټه اخلي او خپله موخه تر لاسه کوي، د شیطان موخه تل همدا وي چې انسان پر ناوړولارو سم، پر ناوړو کارونو بوخت، پرناوړو سوچونو اخته او ناوړو ستونزو او لانجو لتاړ کړي، دې موخې ته د رسیدلو په لاره کې شیطان ته ډېره ښه وسله ځځواله او د ځځوالې بهانې دي. "
انسان ته نه ښايي چې د شیطان د بهانو پنځوونکی ووسي، شیطان د ناوړو کارونو لمسوونکی لامل دی، او تل په دې هڅه کې دی چې چېرته چاته؟ او څرنګه؟ ناوړه او تباه کوونکی لاملونه ولټوي، څو چې د بدمرغیو کندې ته یې وغورځوي، خو انبیا او مرسلینو بیا د شیطان سره د مبرخۍ په لاره کې د تل لپاره هڅه کړې، څو خپل لارویان د نیک مرغۍ اوهوسایني سوله ییزې په سیده لارې باندې رهي او روان وساتي نو په دې دلیل د لوی خدای له لوري د نوح علیه السلام نه وروسته نور انبیا او مرسلین هم استول شوي دي. "
ښه به وي په دې هکله لومړی تر هرڅه په قرآن کریم کې د یونس د سورة په "۷۴ "آیت کې ولولو ، د آیت متن: ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ رُسُلًا اِلٰى قَوْمِهِمْ فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا بِمَا كَذَّبُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ۭ كَذٰلِكَ نَطْبَعُ عَلٰي قُلُوْبِ الْمُعْتَدِيْنَ 74ـ
ژباړه: بیا لیږلی وو موږ پس له نوح نور رسولان قوم د هود ته لکه; هود ، صالح،ابراهیم،شعیب، نور اوړی وو دغو رسولانو هغوی ته دلایل ښکاره پس مستعد نه وو دوی، دې ته چې ایمان راوړی وي په هغو دینیه وو ، اصولو چې تکذیب یې کړی وو. "
د هغو اصولو پخوا له بعثت د رسولانو ! همداسې لکه چې مهرمو لګولی و په زړونو د دوی مهر لګوو ، موږ پر زړونو د تېرېدونکو له شرعي حدودو. "

د مفسر تفسیر: یعنې د نوح علیه السلام څخه وروسته هود ، صالح، ابراهیم، لوط،شعیب او نور انبیاء علیه السلام یې د خپلو اقوامو په لورې سره له ښکاره ونښو او د لایلو لېږلي و ، لیکن د هغه جهالت او کفر په حالت کې چې دغه خلق د خپلو انبیاؤ د بعثت څخه پخوا وو ، او د هغو شیانو په سبب چې پخوا له دې نه یې پرله پسې د انبیاء تکذیب کړی وو ، بیا یې دا توفیق ونه موند چې د نورو انبیاو ؛چې د تشریف راوړلو او د دوی د پوهولو څخه وروسته پر حقایقو وپوهېږي او اسلام ومنی، بلکې د هغو صحیحه و اصولو تکذیب چې پخوا له دې نه قوم د نوح کړی وو ، دوی ګردو هم د هغو د منلو څخه انکار وکړ. "
او همغه یوه "نه "چې یو ځلې د ړومبنیو دخولې څخه وتلې وه، ممکن نه و چې بیا د نورو وروستنیو له خولو په "هو "سره بدله شي، دوی هم په همغې بې ایمانۍ او تکذیب الحق تر اخیره پورې کلک ولاړ وو ، هغه کسان چې د حق په تکذیب او عداوت کې یې تېرې کړې دي. "
د هغو په زړونو باندې د مهر لګولو هم دغه صورت کېدای شي چې اول تکذیب کوي، بیا پر هغه داسې ضد او اقرار کوي، چې محض د دښمنۍ او عناد رویه ځان ته غوره کړې، تر دې ځایه پورې چې د دوی د زړونو ګردې قواوې ورانیږي، او د حق د قبول استعداد په کې بیخي نه پاتې کېږي. "
داوه د قرآني آیت ژباړه او د هغه په هکله د مفسر تفسیر، لکه څنګه چې مو په پورتنیو کرښو کې ولوستل "حق "یعنې: جوړه، سوله، نیاو او رښتیاتل د "باطل "سره چې "بلوسه "ځځواله او تاوتریخوالی دی، په مخه کې ودرېدلې او د انصاف او عدالت پلوی او غوښتنه یې کړې ده،
او په دې توګه د حق د پلویانو لومړنی سمبول د ادم علیه السلام ځوی "هابیل "او دوهم سمبول مو "نوح علیه السلام وګڼلو ، دادی په دې لړ کې د حق دلارې د دریم سمبول پېژند پانهه هم ولولو. "

## دربیمه برخه

# حضرت ابراهیم علیه السلام

په دې برخه کې د هغه چانه یادونه کېږي چې اوس اوس د ځمکې پر مخ تر نیمايي پورې اوسېدونکي د هغه او د هغه د ځوځاتو دادیانو لارویان دي او دا ځانونو ته ویاړ ګڼي چې ووايي د "ابراهیم علیه السلام د "ملت" غړي دي، د "ابراهیم "علیه السلام په هکله د پښتو اریانا دایرت المعارف لومړی ټوک په "۲۲۳ "مخ کې داسې لیکل شوي دي. "

ابراهیم بن آذر، بن ناحور، بن ساروغ، ساروخ، بن ارغون، بن قانع، بن عامر، بن فیتان، بن رامخشد ، بن سام، بن نوح چې په تورات کې ابراهام د تاخ زوی ذکر شوی او د کلدانیانو مشهوره پیغمبر دی، او زمونږ د پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم جد دی، دا نومونه عجمي دي له توراته رانقل او لغتاً عبراني دي، او ځکه چې ددې حروفو مخارج د عبراني د حروفو له مخارجو نه غالباً توپیر لري. "

نو ځکه د عبراني له اصل نه تغیر مومي، د حضرت ابراهیم په مولد کې اختلاف دی، ځوک بیا وايي چې په "اور "کې دحران په شمال او یا په "سوس " کې چې داهواز علاقه ده، زېږېدلی دی، ځوک بیا وايي چې "په بابل کې زېږېدلی دی، ځوک یې په "کوش "او ځوک یې په "ورکا "کې چې د زوابي ناحیه او د کسکر حدود د حضرت مولد بولي او وايي چې پلار یې، "کوش " ته چې د نمرود ځای و، یووړ او ځوک بیا وايي چې په "حران " کې وزېږېد ، او بیا پلار بابل ته راوست حضرت ابراهیم علیه السلام "۱۲۲۳ " یو زر او دوه سوه او درې شپیته کاله وروسته تر توپان زېږېدلی دی، پخوانو علماو عموماً ویلي دي چې حضرت ابراهیم د "نمرود "بن کنعان بن "کوش "ابن "اشیر " او

طبري. "
نمرود بن کوش ویلي دي، خو ابن خلدون هغه بن کنعان، بن کوش ویلي دي. "
په زمانه کې زېږېدلی دی، اهل اخبار وایي چې، نمرود د ضحاک له خوا "ځینو ګمان کړی دی چې حضرت نوح و بابل ته دده درابلنې دپاره مامور شوی و. "
حاکم و، خو د علماو بلې دلې بیا ویلي دي چې؛ په خپله دی مستقل پاچا و، او نوم یې "زرهي بن طهما سغان" و، مګر ابن خلدون، نمرود د جرامقه له ملوکو څخه بولي، او نوم یې هاصد بن کوش" ښیي، ځینې وایي چې نمرود په خپله ضحاک دی، او د ابراهیم علیه السلام پلار بت تراش و. "
نو ځکه نمرود آزرځانته مقرب کړی و، او پر بتخا نه یې مقرر کړی و، هغه وخت چې د ابراهیم علیه السلام د زېږېدلو، وخت رانیژدې شو، نو ځینې منجمین نمرود ته ورغلل او ورته وې ویل چې موږ له خپله علمه داسې استنباط کړی ده چې په فلانکي سنه او میاشت کې به په دې کلي کې یو هلک "وزېږي چې نوم به یې ابراهیم وي، او ستا دین به پرېږدي او ستا سي بتان به مات کړي. "
هر کله چې هغه د منجمینو کنبل شوی کال راغی،نو نمرود امر وکړ چې ټولې حاملې ښځې دې حبسې شي، او هرځونه او لاد چې دوی په هغه کال او میاشت کې وزېږوي، نو هغه دې واړه ووژل شي، په غیر د حضرت ابراهیم له مور نه چې د آزر ماینه وه او ځکه چې ځوانه مینځه وه. "
او ددې حمل چاته نه څرګندېده، هغه وخت چې د ابراهیم مور د خپل حمل وضع کېدل حس کړل، نو ژرله کوره ویوه غار ته لاړه او هلته یې حضرت ابراهیم وزېږاوه، او بیایې د غار خوله وتړله، او په خپله کور ته

راغله، کله کله به غار ته ورتلله او د خپل زوی احوال به یې اخیست، او کتل به یې چې ابراهیم ژوندی او تل خپله بټه ګوته څېښي. "
خدای تعالی به حضرت ابراهیم ته له همغې ګوتې نه رزق روزي ورکاوه،حضرت ابراهیم به په یوه ورځ دونه وده کوله، لکه نور یې چې په دریو میاشتو کوي، او چې د دریو میاشتو شو، نو د یوه کال په اندازه به لوئیدی. "
هغه وخت چې د پنځلسو میاشتو شو، نو یې له مور نه وغوښتل چې له غار نه یې وباسي، مور یې له وېرې نه دی ماخستن له غار نه راوویست. ابراهیم علیه السلام د ځمکې اسمان خلکو ته فکر کاوه، او وې ویل چې; چاچې زه پیدا کړی یم او رزق او روزي یې راکړې، هغه زما خدای دی، او بېله هغه بل خدای وجود نه لري، بیایې اسمان ته وکتل او ستوري یې ولیدل، نو یې سمدستي وویل چې زما خدای دغه دی.؟
نظر یې له ستوري نه ایسته کړ او هغه ته یې مسلسل کتل، تر څو چې ستوري ولوېدل، او بیایې وفرمائیل: کوم شی چې غروب کوي هغه په خدایۍ سره نه خوښوم بیا سپوږمۍ راوختله او حضرت ابراهیم چې هغه روڼه او ځلېدونکې ولیدله، نو یې وویل چې دغه زما خدای دی، او نظر یې تربنه تر هغه پورې لرې نه کړ، تر څو چې سپوږمۍ هم ولوېده، او حضرت سمدستي وویل چې که ماته خپل خدای هدایت ونه کړ، نو زه به له ګمراهانو نه شمار شم هغه وخت چې ورځ شوه او لمر راوخوت او حضرت ابراهیمؑ د هغه عظمت ولید او دده رڼا او ځلېدا یې تر هرڅه نه ډېره ولیده، نو یې وویل چې دغه زما خدای دی، ځکه چې دا تر هرشي نه لوی دی، خو چې لمر ولوېد، نو یې وویل: یاقوم اني بري مما تشرکون. "اني وجهت وجهي الذي فطر السموات والارض حنیفا وما انا من المشرکین. "

بیا ابراهیم خپل پلار ته راغی، او مور یې دده پلارآزرته خبر ورکړ او ورته معرفي یې کړ چې ابراهیم علیه السلام دده زوی دی او د ده زېږېدل او لوئیدل یې په غار کې ورته وویل:خو ازرډېر متردد شو. "
ازر به بتان جوړول او ابراهیم علیه السلام او دده نورو روڼو ته به یې ورکول چې په بازار کې یې وپلوري حضرت ابراهیم بتان به ورځځه وو، په بازار کې به یې چېغې وهلې چې آیا څوک دا شی رانیسي چې هغه هیڅ ګټه ورته نه لري، او ضرر هم ورته لري؟ نورو وروڼو به یې په بازار کې بتان خرڅ کړل او کورته به راغلل او حضرت ابراهیم به سره له بتانو چې خرڅلاو ته وړي و، بېرته کورته راغی بیا حضرت ابراهیم خپل پلار ته دعوت ورکړ اوورته ویې ویل چې یه پلاره ! ولې داسې شی ګروهې چې هغه نه اوري، نه ویني او نه کومه ګټه درته لري؟ پلار ورته ځواب ورکړ چې؛ اَ رَاغِبٌ اَنْتَ عَنْ اٰلِـهَتِيْ يٰۤاِبْرٰهِيْمُ ۚ لَىِٕنْ لَّمْ تَنْتَهِ لَاَرْجُمَـنَّكَ وَاهْجُرْنِيْ مَلِيًّا 46ــ."
ابراهیم وویل; چې زه تل ستاسې له آلهه څخه مخه اړوم،آزرپلار یې وویل; مور یوه د اختر ورځ لرو که ته له ماسره هلته لاړشې، زموږ دین به تاحیران کاندي، هغه وخت چې د اختر ورځ راغله، نو ابراهیم هم ورسره عیدګاه ته لاړ، خو په لاره کې یې ځان ناروغه واچاوه او بېرته کورته راغی او بت ته ورغی او خپل ټول بتان یې مات کړل او تبر یې د یوه لوی بت په لاس کې کېښود، او دی تربنه لاړ، هغه وخت چې دده نور قوم راغی او ټول بتان یې مات او ځیلې ولېدل. "
نو خورا خواشینی شول او وې ویل; اورېدل به مو چې ابراهیم زموږ بتانو ته کنځلې کوي او ملنډې پرې وهي، ګمان کاوه شي چې دغه کار به هم ده کړی وي، دا خبره نمرود او د قوم نورو مشرانو ته ورسېده، او وې ویل چې; قَالُوْا فَاْتُوْا بِهٖ عَلٰۤي اَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُوْنَ 61ــ." د تا ویل اهل چې په هغه جمله کې قتاده او سیدي هم دي وایي چې د حضرت ابراهیم راغوښتل د یوه جمعیت مخ ته شاید ددې لپاره وه چې پرده باندې شهادت ورکاندي، چې بتان همده مات کړي دي. "

ځکه چې دوی نه غوښتل چې دی بې له کوم شاهد نه ونیسي هغه وخت چې حضرت ابراهیم نه یې پوښتنه وکړه; یه ابراهیمه! تا دا کار زموږ د خدایانو په حق کې کړی دی؟ دوی نه غوښتل چې دې بی له شاهد نه ونیسي هغه وخت چې حضرت ابراهیم د جمعیت و مخ ته راوستل شو ، نو ټول خلک پر خیل پاچا ((نمرود )) سره راټول شول او له ابراهیم علیه السلام نه یې پوښتنه وکړه: (ءَاَنْتَ فَعَلْتَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا يٰٓاِبْرٰهِيْمُ 62ؕ قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ ۖ كَبِيْرُهُمْ هٰذَا فَسْـَٔلُوْهُمْ اِنْ كَانُوْا يَنْطِقُوْنَ 63) آیه.

یه ابراهیمه ! تا دا کار زموږ د خدایانو په حق کې کړی دی، ابراهیم ځواب ورکړ، چې دا لوی بت به دا کار کړی وي، که خبرې کولای شي، نو له هغه څخه پوښتنه وکړئ، ځکه چې لوی بت په دې نسبت چې تاسو نور واړه بتان لمانځئ په قهر شوی او دوی یې مات کړي دي.)) دوی چې دا دلیل واورېد نو له خپلې دې دعوې نه چې ده به زموت بتان مات کړي وي. "

واوښتل او خپلو نفسونو ته یې رجوع وکړه او وې ویل چې; موږ پرده ظلم وکړ او بې دده له وینا نه ګمان نه کوو چې بل چا به دا کار کړی وي، خو بیا هم وپوهېدل، چې بتان فایده یا ضرر نه شي رسولی او ورته وې ویل چې; ته خو پوهېږې چې دوی خبرې نه شي کولی، نو ځکه ته وایې چې دا عمل به دوی کړی وي، خدای تعالی وایي; ثُمَّ نُكِسُوْا عَلٰي رُءُوْسِهِمْ ۚ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هٰٓؤُلَاۗءِ يَنْطِقُوْنَ 65" یعنې; هغه وخت چې حضرت ابراهیم له دوی سره مجادله وکړه نو دوی سرونه ځوړند واچول، ځکه چې د ابراهیم دا حجت پر دوی غالب شو ، نو دوی ومنله چې بتان خبرې نه شي کولای، هغه وخت نو آن حضرت دوی ته وویل چې; اَفَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَـيْـــًٔا وَّلَا يَضُرُّكُمْ 66ۭ اُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ 67 "

بیا دده قوم احتجاج وکړ چې د دوی خدایان دده تر معبود ښه دي، نو نمرود او دده قوم د ابراهیم په سوځولو اتفاق سره وکړ او نمرود امر وکړ چې خس،لرګي راغونډ کړي، کله چې خس یې سره راټول کړل، نو

یې اور ورته کړ او ابراهیم یې په کې واچاوه، او د خدای تعالی له خوا پر اور غږ وشو چې؛ یا نارو کوني بردا وسلاما علی ابراهیم. " ابن عباس وایي چې که د سلاما کلیمه د بردا په لفظ پسې نه وای نو ابراهیم به له ډېرې یخنۍ نه مړ شوی وای. "
هغه مهال چې د اور لمبې مړې شوې، نمرود ولیدل چې حضرت ابراهیم په اور کې روغ رمټ ناست دی، نو یې آن حضرت ته امر ورکړ چې له اوره راووځي، او هغه هم راووت، نمرود ورته وویل؛ ما چې ستا د خدای قدرت او قوت ولید نو زه دده په خوښی څلور زره غوایي قربانوم. "
ابراهیم علیه السلام ورته وویل تر هغه پورې چې ته په خپل دین یې الله تعالی ستا دغه قرباني نه قبلوي، هو ! مګر زما دین ته راواوړی، نو ګوندې قبول شي، نمرود ورته وویل چې؛ زه خو خپل ملک او پاچاهي نه شم پرېښودلای، خو بیا هم ده ته قرباني کوم، او هغه و، چې قرباني یې ورته وکړه او له ابراهیم علیه السلام نه یې لاس واخیست، بیا خدای تعالی حضرت ابراهیم ته امر وکړ چې د کلدانیانو له ځمکې یعنې بابل نه دې ووځي. "
نو ځکه د خپل پلار او ناحور دده له ورور او د ناحور له ښځې "ملکا " بنت هارون "او لوط بن هاران او له خپلې ښځې سره سارا چې د اکا لور یې وه، له بابل نه ووت او "حران "ته لاړل، یو څو موده هلته و، او پلار د "۲۵۰ "کالو په عمر وفات شو، بیا یې له هغه ځای نه هم هجرت وکړ او په بیت المقدس کې د کنعانیانو په وطن کې یې واړول، په دې مهال کې دی، د "۷۵ " کالو و، بیا د کنعانیانو ښار په لوږه اخته شو، نو ځکه ابراهیم علیه السلام سره د خپلې کډې له هغه ځای نه هم راووتل او مصر ته لاړ، هغه وخت چې د قبط باچا فرعون دده د ښځې "ساري له ښکلیتوب نه خبر شو، دا یې خپل حضور ته راوغوښت او کله چې دی ته ورنیژدې کېدی، نو د فرعون لاس وچ کلک شو، او له "ساری "نه یې

خواهش وکړ چې خدای تعالی ته دعا وکړي چې دده لاس بېرته جوړ شي، کله چې "سارې" خدای ته دعا وکړه، نو د فرعون لاسونه دستي روغ جوړ شول، او فرعون درې ځلې دا عمل تکرار کړ، چې درې واري هم لاسونه یې وچ شول. "
خو "ساري "به دعا کوله او فرعون به د "ساري "په دعا بېرته جوړ شو،
له دې کبله "ساره" یې بېرته حضرت ابراهیم ته ورکړه، او هاجره چې د قبط د یوه ملک مینځه وه، ددې وخدمت ته یې وګمارله او ورويې ښنله
وروسته له هغه ابراهیم علیه السلام د کنعان ملک ته راستون شو او د "حیرون" پر ځای یې واړول، او دا ځای دده مدفن دی، او اوس په خلیل سره مشهور دی او داهم ویل کېږي چې د بیت المقدس موضع ته چې پخوایې "ایلیا" بلله کېده هم تللی و. "
بیا لوط چې ډېر مواشي یې درلودل او د څر ورشو ورته نه وه، نو له ابراهیم علیه السلام نه جلا شو او "مؤتفکه" ته چې په فلسطین کې دی له بلاد غورنه چې په "غور زاغر" معروف دی لاړ، او هلته یې اوسېدل غوره کړل، او له کنعاني او فلسطیني عسکرو سره یې د شرقي ملوکو په مقابل کې چې پر شام یې حمله کړې وه. "
په جګړه لاس پورې کړ، خو کنعاني ملوکو ماتې وکړه او لوط هم اسیر شو، او دا هواز پاچا په نورو قیدیانو او غنیمتونو کې د لوط کهول او دده مال او مواشي هم ونیول، دا خبر چې ابراهیم علیه السلام ته راورسېده، ده سمدلاسه د دریو سوو اتلسو کسو خپل اتباعو په مرسته د اهواز باچا تعقیب کړ او په د مشق کې سره مخامخ شول او هغه ته یې ماتې ورکړه او لوط یې سره له ما له ځینې خلا ص کړ. "
او بېرته یې راوست، او د "سدوم "باچا د ابراهیم علیه السلام دا عمل ته خورا په ښه سترګه وکتل او خدای تعالی هم وحي ورته راولېږله، او د کنعان ځمکې یې وده ته او دده اولاد ته وعده ورکړه، چې د دوی د استوګنې له پاره به یې ورکړي، لس کاله وروسته له هغه چې ابراهیم

عليه السلام له مصر نه شام ته راغی، "ساري" خپله مینځه "هاجره" قبطي يې ابراهیم ته وبښله چې ګوندې به له هغې نه ده ته اولاد ورکړي، ځکه چې "ساره" زړه شوې او عقیمه وه، نو له "هاجرې" ځخه چې په خپله ابراهیم علیه السلام "۸۶" کالو و، خدای تعالی "اسمعیل" علیه السلام ورکړ، او خدای تعالی ابراهیم علیه السلام ته وحي راولېږله او وعده يې ورکړه چې اسمعیل علیه السلام ته به برکت ورکړي، او دده اولاده به ډېره کړي، نو "۱۲" ځامن يې ورکړل او د یوه لوی ښاخ رئیس شو "ساري" د "هاجرې" په نسبت غیرت او حسد پیدا کړ او ابراهیم علیه السلام ته يې وویل چې "هاجره" وباسي خدای تعالی ابراهیم ته امر وکړ چې د "ساری" غوښتنه ومني نو ځکه يې "هاجره" سره ددې له ځوی "اسمعیل" راوایستل او مکې ته يې بوتلل او دوی يې هلته تر یوې لویې ونې لاندې په یوه ځای کې چې زمزم نومېږي پرېښودل، او په خپله بېرته وګرځېده، بیا حضرت اسحق علیه السلام "سارې" نه پیدا شو، وروسته د اسمعیل علیه السلام او اسحق علیه السلام تر زېږېدلو خدای تعالی ابراهیم علیه السلام ته امر وکړ چې "کعبه" له دې کبله جوړه کړي چې هلته د خدایج عبادت وشي، او جبرئیل يې ورته راواستاوه چې ابراهیم علیه السلام ته د هغه ځای وروښیي، او اسمعیل علیه السلام ته يې دده د مرستې امر وکړ."

نو ابراهیم علیه السلام او اسمعیل علیه السلام دیوه د بل په مرسته کعبه له اساس نه پورته کړه او د هغې بنایي تمامه کړه، او اجازه يې وکړه چې هلته دې حج کېږي، بیا خدای تعالی ابراهیم علیه السلام ته د خپل زوی ذبح کول د یوې رویا په ډول چې هغه وحې وه، وښودل، خو په تنیجه کې د زوی د ذبح کول يې په فدیه ورکولو بدل شو، او زوی يې له ذبح کولو نه نجات وموند، خو په دې کې چې د ابراهیم علیه السلام کوم زوی اسمعیل که اسحق ذبح کېدونکی و."

اختلاف دی ځينې وايي اسمعيل عليه السلام، او ځينې بيا وايي چې اسحق عليه السلام و او دواړه قولونه صحابه کرامو او تابعينو ويلي دي، مثلاً ابن عباس او ابن عمر شعبې، مجاهد حسن او محمد بن کعب القرطي ويلي دي. "
اسمعيل ذبح و، خو عباس، عمر، علي ابن مسعود، کعب الاخبار، زيد، بن اسلم مشروق، عکرمه، سعيد بن جبير، عطا، الزهري، مکحول السيدي او قتاده وايي، چې ذبيح حضرت اسحق و. "
او دا دواړه ډلې په بېلو بېلو اسنادو خپله وينا مستنده کوي، بيا "ساره" د "۱۲۷ "کالو په عمر د "حرون" په کلي کې چې د بني حبيب کنعاني علاقه وه مړه شوه. "
وروسته د "ساري" ترمرګ حضرت ابراهيم عليه السلام له قطو رابنت يقطان کنعاني سره واده وکړ، او له دې ښځې نه يې "۶" زامن وزېږېدل چې نومونه يې دادي: زمران. يقشان، مدان، مدين، اشيق او شوخ. "
سهيلي وايي:
چې ابراهيم عليه السلام له بلې ښځې "حجين "بنت "رهيب "نور زامن هم درلودل او هغه دادي:
کيتان، فزوح، مهيم، لوکان او نافس. " په دې ډول نوله ابراهيم عليه السلام نه "۱۳" زامن زېږېدلي دي، اسمعيل له هاجرې نه او اسحق له "ساري نه "۶ "زامن له قطورانه او پنځه زامن له حجين نه، ابراهيم عليه السلام ته "۱۰ " لس صحيفې نازلې شوې دي. "
ابراهيم عليه السلام دوه ورونه درلودل يوې "هاران "د لوط پلار څرنګه چې ويل کېږي د "حران "ښار هغه بنا کړي دي، او دده په نامه منسوب شوي دي او بل "ماحورا" نومېده او هغه حضرت د "۱۷۵ "يا "۲۰۰ "کالو په عمر رحلت وکړ، او د "ساري" په مقبره کې ښخ شو. "
د سفر تکوين په روايت "پنځم اصحاح۵۱۲-ايت" حضرت ابراهيم "۱۲۲۳ "کاله له توپانه وروسته پيدا شوې و، خوله سفر تکوين

اصحاح ۵ ،آیت۲-۱۰- " او اصحاح " ۱۱ " آیت ۱۰-۲۵ " څرګند یږي چې ابراهیم علیه السلام "۲۱۱ " کاله د نوح علیه السلام نه وروسته زیږیدلی دی. "

داوه د ابراهیم علیه السلام پیژند پانه، په قرآن کریم کې هم ډیر ځلې یادونې شوې دي، چې د هغو ټولو یادونو څخه یواځې د الانبیا سورة د "۵۱ "آیت څخه تر "۷۱ " آیته پورې داسې لولو:

۱-د "۵۱ "آیت متن: وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ 51ۚ

ژباړه: په تحقیق ورکړې و موږ ابراهیم ته نیکه، حقه لاره دده، په عقائیدو او اعمالو کې پخوا له نبوت یا پخوا له موسی یا پخوا له محمد صلی الله علیه وسلم څخه او، وموږ په ده باندې پوه چې ابراهیم د رشد له خاوندانو څخه دی. "

د مفسر تفسیر: یعنې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او حضرت موسی او هارون علیه السلام څخه مو پخوا ابرهایم علیه السلام ته دده د اعلی قابلیت او شان سره مناسب رشد او هدایت ورکړی و، بلکې له ځلمیتوب څخه پخوا لا په کوچنیتوب، ماشوم والي کې مو هغه په داسې سمه لار برابر کړی و چې دداسې اولوالعزمو انبیاو له شان سره وړاو مناسب و، یعنې دده په استعداد او اهلیت، علمي او عملي کمالاتو موږ پوه او خبروو، نو ځکه موږ هغه ته رشد او هدایت ورکړ چې دده له شان سره وړ او مناسب و. "

۲-د "۵۲ "آیت متن: اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ الَّتِيْٓ اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ 52

ژباړه: کله چې وویل ابراهیم علیه السلام پلار خپل "ازر "ته او قوم خپل "بابلیانو " ته چې څه دي دغه بتان: هغه چې تاسې دوی ته ولاړ یې په عبادت سره لکه مجاوران، د مفسر تفسیر، یعنې لږ څه خو د دوی اصلیت او حقیقت بیان کړی، اخیر په خپلو لاسونو د تیږو "ګټو " توږلي بتانو ته څنګه معبودان وایې؟ او هغوی څرنګه ستاسې معبودان کیدای شي. "

**۲-د "۵۳ "آیت متن:** قَالُوْا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا لَهَا عٰبِدِیْنَ 53ـ

ژباړه: نو وویل دوی چې موندلی دي موږ پلرونه خپل دغوبتانو ته عبادت کوونکي نو موږ هم د هغوی متابعت کوو. "

د مفسرتفسیر: یعنې د عقل او د فطرت او د نقل کوم باوري شهادت زموږ په تائید کې نه شته او نه دې وي، لیکن ډېر لوی دلیل د بت پرستۍ په صواب او حقانیت هم دا دی ؛چې له پخوا راهیسې زموږ پلرونه او نیکونه د دوی په عبادت کې بوخت او مشغول و ، بیا نو موږ د هغو خپلو لویان د ود او دستو او طریقه ولې پرېږدو. "

**۴-د "۵۴ "آیت متن:** قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ 54ـ

ژباړه: وویل ابراهیم خامخا په تحقیق یې تاسې او پلرونه ستاسې په سبب د بتانو په ګمراهۍ شکاره کې، هر عاقل ته. "

د مفسر تفسیر: یعنې په دغه دلیل سره ستاسې حقانیت او پوهه ه نه ثابتیږي، هو ! دغه خبره ثابتیږي چې تاسې هم د خپلو پلرونو په شان ګمراهان او ناپوهان او ناخبره یې، او د هغوی په دغه ړوند تقلید او بې ځایه متابعت تباه او برباد دېږي. "

**۵- د "۵۵ "آیت متن:** قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ مِنَ اللّٰعِبِيْنَ 55ـ

ژباړه: نو وویل; بابلیانو ابراهیم ته: آیا راغلی یې ته موږ ته په حق سره، رښتیا خبرو سره او که یې ته له لوبو کوونکو څخه؟ د مفسر تفسیر: د ټول قوم له عقیدې سره مخالف د حضرت ابراهیم علیه السلام د داسې سختې خبرې په اورېدلو سره د دوی په زړونو کې سخت خفګان او اضطراب پیدا شو او ورته یې وویل چې آیا په رښتیا سره ستا عقیده داسې ده؟ یا ټوکې او مسخرې کوې. "

**۶-د "۵۶ "آیت متن:** قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الَّذِيْ فَطَرَهُنَّ ڮ وَاَنَا عَلٰي ذٰلِكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ 56ـ

ژباړه: وویل ابراهیم داسې نه ده چې زه ټوکې کوم یا دا بتان رب ستاسي دي، بلکې رب ستاسې رب د اسمانونو او رب د ځمکې دی، هغه الله

چې پیدا کړي یې دي، دا اسمانونه او ځمکې او مافیه او زه په دغو چې ومې ویل له توحید نه، له شاهدانو څخه یم. "
د مفسر تفسیر: یعنې زما عقیده هم داده، او په پوره یقین او بصیرت سره پرې شاهدي ورکوم چې زما او ستاسې رب هم هغه یو خدای ج چې اسمانونه او ځمکې یې پیدا کړې دي، اود هغوی او نورو ټولو خپل مخلوقاتو حفاظت او ساتنه کوي او بل هیڅ شی دده په الوهیت کې له سره نه شي شریکېدای. "
۷-د "۵۷" ایت متن: وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ 57ـ
ژباړه: او قسم دی په الله خامخا څه تدبیر او علاج به وکړم، هرو مرو چې مات په کړم بتان ستاسې پس له هغه چې وګرځئ تاسې شاکوونکې، بتانو ته مخ په میله. "
د مفسر تفسیر: دغه خبره یې لږ ورو وویله، چې ځینو یې واورېده او ډېروله سره وانه ورېده، هغو چې دغه خبره واورېده ورته یې دومره اهمیت ورنه کړ او داسې یې وګڼله چې دیوه ځلمي له لاسه به څه وشي؟ او دی به د ټول قوم معبودانو ته څه ضرر ورسولی شي. "
۸-د "۵۸" آیت متن: فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا اِلَّا كَبِيْرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ 58ـ
ژباړه: پس ویې ګرځول دا بتان ټوټې، ټوټې، مګر لوی ددې بتانو چې مات یې نه کړ او تبر یې په اوږو ورته کېښود، دپاره ددې چې دوی هغه ته بېرته راشي او ترې پوښتنه وکړي. "
د مفسر تفسیر: څه مهال چې دا خلق ټول له ښاره دباندې میلې ته لاړل، نو حضرت ابراهیم علیه السلام بت خانې ته ورننوت، ټول بتان یې سره مات کړل، خو یوازې هغه غټ بت یې روغ جوړ پرېښود، چې د نورو په نسبت د جثې یا د تعظیم او تکریم په اعتبار د کفارو په ګومان لوی و. "
او په هغه تبر یې چې دغه بتان یې پرې مات کړي وو، هغه د هم هغه لوی بت په اوږو باندې کېښود، څو چې خلق بېرته راشي او دغه وضعیت وګوري، نو په قدرتي ډول به د دوی په زړونو کې د غسې یو خیال پیدا

شي چې دغه کار هم دغه لوی بت کړی دی، یا الزاماً حضرت ابراهیم علیه السلام ته رجوع وکړي، کفارو له میلې نه بېرته راګرځېدلو او د خپل بتانو د کنډو کپر کېدلو څخه وروسته. "

۱- د "۵۹ "آیت متن: قَالُوْا مَنْ فَعَلَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَآ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ 59ۙ

ژباړه: وویل دوی چا کړی دی، دا کار پر معبودانو زموږ؟ بیشکه چې دی خامخا له ظالمانو دی په دې کار کې. "

د مفسر تفسیر: ځینو مفسرینو ددې آیت ژباړه داسې کړې ده: چا کړی دی دا کار پر خدایانو زموږ؟ یعنې دا د سپین سترګی او د بې ادبۍ حرکت زموږ له معبودانو سره چا کړی دی. "

یقیناً هر چا چې دا کار کړی دی هغه استغفرالله، لوی ظالم او غټ شریر دی، دا خبرې به هغو کسانو کړې وي، چې د هغوی غوږوونو ته د "وتا الله الا کیدن اضامکم. "غږ نه وي رسېدلی. "

۱۱- "۶۰ " ایت متن: قَالُوْا سَمِعْنَا فَتًى يَّذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهٗٓ اِبْرٰهِيْمُ 60ۭ

ژباړه: وویل ځینو کفارو چې اورېدلې وموږ له یوه زلمي څخه چې یادول به یې دا بتان په بدۍ سره چې ویلی شي ده ته ابراهیم. " د مفسر تفسیر: دا ویونکي به هغه کسان وي چې د ابراهیم علیه السلام "وتالله لا کیدن اصنامکم. " جمله یې اورېدلې وه، یعنې: هم هغه یو زلمی دی چې زموږ د معبودانو ذکر په بدۍ سره کوي، یقیناً دا کار به هم هغه کړی وي. "

۱۲-د "۶۱ " آیت متن: قَالُوْا فَاْتُوْا بِهٖ عَلٰٓي اَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُوْنَ 61

ژباړه: وویل نمرود او مشران یې چې: راولی هغه ابراهیم په مخکښې د سترګو د خلکو چې ویې نیسي، ښایي چې دوی ووینې هغه په کولو د دې کار پرې شاهدي ورکړي. "

د مفسر تفسیر: یعنې هغه راولئ او ددغه مجمع په مخ کې ترې اقرار واخلئ، څو په دغه خبره ټول خلک خبر او دغه معامله ټولو ته څرګنده او ښکاره شي او دده وینا هر څوک واوري او پرې شاهدان شي، چې د

هغې په مقابله کې د قوم له طرفه داسې یوه سزا ورته مقرره شي، چې دی یې ور او مستحق وي. دا خو د هغوی غرض و او د حضرت ابراهیم علیه السلام مقصد به هم ښایي همدا شی و، چې همداسې په یوه لویه مجمع کې ماته موقع راکړل شي، څو زه په هغه کې مشرکان پړ او ملامت کړم او د خلکو په وړاندې د حق او حقانیت د غلبې اظهار وکړی شي، نو کله چې ابراهیم علیه السلام یې راووست، دغه لاندېنۍ پوښتنې یې ترې وکړې:

**۱۳– د ۶۲ او ۶۳ آیتونو متن:** قَالُوْٓا ءَاَنْتَ فَعَلْتَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا يٰٓاِبْرٰهِيْمُ 62ۭ قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ ڰ كَبِيْرُهُمْ هٰذَا فَسْـَٔـلُوْهُمْ اِنْ كَانُوْا يَنْطِقُوْنَ 63

ژباړه: "ووېل بابلیانو آیا تا کړی دی دا کار پر معبودانو زموږ یه ابراهیمه؟ ووېل ابراهیم: بلکې کړی دی دا کار مشر د دوی چې دا دی نو پوښتنه وکړئ تاسې له دوی که وي دوی چې خبرې کوي، چې چا ټوټې ټوټې کړي یئ؟".

د مفسر تفسیر: "یعنې هېڅ ضرورت نشته چې له ما څخه ددې خبرې پوښتنې وکړئ، بلکې داسې فرض کړئ، چې دا لوی او غټ بت چې روغ، رمټ او جوړ ولاړ دی او د ماتولو آله هم ورسره شته دا کار به هم ده کړی وي او دادی د بحث او تحقیق په وخت کې د الزام او پړ والي په ډول. زه دغسې دعوی کوم چې دغه لوی بت دا ټول کوچني او واړه بتان سره ګوډ او مات کړي دي. وواېئ اوس د تاسې څه دلیل شته چې داسې به نه وي شوي؟ آیا په دنیا کې داسې وقایع نه پېښېږي چې لوی مار نور واړه ماران او لوی کب نور واړه کباب ښویه تېروي او لوی باچا نور واړه سلطنتونه له منځه وړي، نو ځکه زما او ستاسې په منځ کې د فیصلې ښه لاره هم داده چې تاسې پخپله له خپلو معبودانو څخه پوښتنه وکړئ چې دغه ماجرا څرنګه ورپېښه شوې ده؟ که چېرې دوی خبرې کولی شي، نو په داسې مهمه معامله کې به پخپلو خبرو زما د دروغو او رښتیا وو فیصله وکړئ".

**۱۴ – د ۲۴ آیت متن:** فَرَجَعُوْٓا اِلٰٓى اَنْفُسِهِمْ فَقَالُوْٓا اِنَّكُمْ اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ 64ـ

ژباړه: "پس رجوع وکړه دغو کفارو په فکر کولو سره نفسونو خپلو ته. نو وویل ځینو ځینو نورو ته. بېشکه تاسو یئ ظالمان".

د مفسر تفسیر: "یعنې وپوهېدل چې د بېکاره تیرو ګټو د عبادت کولو څخه څه فایده حاصلېږي یا به دا مطلب وي چې تاسې پخپله پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی چې د ابراهیم علیه السلام د انذار اورېدلو سره سره بت خانه مو هم هغسې خوشې پرانستلې پرېښوده او ترې لاړئ او د خپلو معبودانو د حفاظت او ساتنې هېڅ فکر او تدبر مو ونکړو".

**۱۵- د ۲۵ آیت متن:** ثُمَّ نُكِسُوْا عَلٰى رُءُوْسِهِمْ ۚ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هٰٓؤُلَاۤءِ يَنْطِقُوْنَ 65ـ

ژباړه: "بیا نسکور کړل شول دوی پر سرونو خپلو، یعنې شرمنده شول، خو سره له هغه هم د ابراهیم علیه السلام د مجادلې دپاره یې ملاوې وتړلې، چې خامخا په تحقیق پوه یې ته چې نه دي دا بتان قابل ددې چې وغږېږي، نو څرنګه موږ ته له دوی څخه د سوال کولو امر کوې".

د مفسر تفسیر: "یعنې له ډېره شرمه یې خپلې سترګې نشوای پورته کولی او یو بل ته به یې له سره نشوای کتلی، خو سره له هغه یې ابراهیم علیه السلام ته داسې وویل: سره د پوهې عمداً داسې یوې ناممکنې خبرې مطالبه ولې کوي؟آیا تیرې ګټې هم خبرې کولی شي؟".

**۱۶- د ۲۶ او ۲۷ آیتونو متن:** قَالَ اَفَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَّلَا يَضُرُّكُمْ 66ـ اُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ 67ـ

ژباړه: "نو وویل ابراهیم علیه السلام نو آیا پس تاسې عبادت کوئ بې له الله څخه د هغه شي چې نه نفع رسوي تاسې ته د هېڅ شي او نه ضرر رسولی شي تاسې ته د هېڅ شي. نو افسوس او هلاکت دی تاسې ته چې عبادت یې کوئ بې له الله نو ایا نه لرئ تاسې دومره عقل هم چې د خپلو افعالو په قباحت او بدۍ وپوهېږئ".

د مفسر تفسیر: "یعنې تاسې ته ښایي چې له ډېره شرمه ومرئ. هغه بت چې یو لفظ هم نشي ویلی او نه د کوم احتیاج په وخت کې مو په کار

راځي او نه مو مدد کولی شي او د یوې ذرې په اندازه نه څه نفع او نه څه ضرر در رسولی شي او نه یې څه په واک کې شته. هغو ته مو د خدای درجه ورکړې ده. آیا په دومره غټه خبره هم نشئ پوهېدلی کله چې نمرودیان له مجالې څخه عاجز شول د ابراهیم علیه السلام په سوځولو پسې شول".

**۱۷- د ۶۸ آیت متن:** قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَانْصُرُوْٓا اٰلِهَتَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ 68ـــ

ژباړه: "وویل نمرودیانو: وسوځوئ تاسې دغه ابراهیم او مرسته وکړئ تاسې د معبودانو خپلو که چېرې یئ تاسې کوونکي ددې مرستې مدد د خپلو بتانو سره".

د مفسر تفسیر: "یعنې په بحث او مناظره یې نه شو پر کولی، اوس یوائې همدغه یو صورت پاتې دی او هغه دادی چې موږ له خپلو معبودانو سره چې نه یوائې زموږ سره بلکې له خپلو ځانونو سره هم مرسته مدد نه شي کولی، مرسته مدد وکړو او د دوی دښمن ته ډېره سخته سزا ورکړو، که موږ داسې ونشو کړی، نو ګواکې هېڅ کار مو نه دی کړی. لکه چې ددغې مشورې سره سم داسې غوټه شوه چې ښایي حضرت ابراهیم علیه السلام په اور کې وسوځاوه شي. ګواکې څرنګه چې ابراهیم علیه السلام د بتانو په ماتولو د دوی زړونه سوځولي وو، دوی هم د هغه په بدل کې د سوځولو تجویز غوره کړ. بالاخره دغه ګرد ظالمان سره ټول شول او په ډېر اهتمام او بې رحمۍ سره یې حضرت ابراهیم علیه السلام په ډېرې لوئي لمبې وهونکي او سوځوونکي اور کې وغورځاوه. کله چې دوی ابراهیم په اور کې وغورځاوه د الله له لوري داسې حکم وشو:

**۱۸- د ۶۹ آیت متن:** قُلْنَا يٰنَارُ كُوْنِيْ بَرْدًا وَّسَلٰمًا عَلٰٓي اِبْرٰهِيْمَ 69ـــۙ

ژباړه: "وویل یه اوره! شه یخ او خاوند د سلامتیا پر ابراهیم".

د مفسر تفسیر: "یعنې اور ته تکویني حکم وشو چې پر ابراهیم علیه السلام یخ شه! مګر دومره یخ هم مه شه، چې له ډېرې یخنۍ څخه

تکلیف ورته ورسېږي، بلکې داسې برابر او معتدله شه چې د هغه ځان ښه په راحت شي ".
د مفسر تفسیر: "دوی د ابراهیم علیه السلام بد غوښتل، لېکن دوی پخپله په ناکامۍ، ذلت او زیان کې پرېوتل. حق په ښکاره صورت څرګند شو او د الله تعالی کلمه لوړه، اوچته او علیا وګرځېده ".
دا وې د قرآني آیتونو په رڼا کې د ابراهیم علیه السلام له خوا د ځځوالي سره د سوله ییزې مبارزې کیسه. دا چې ابراهیم علیه السلام په بابل کې پیدا شوی او بیا په همدې سیمه کې د مهال د یو ستر طاغوتي واک په مخه کې درېدلی او په دې توګه د انساني تاریخ په لمنه کې د سولې، روغې، مینې او نیاومنۍ د درېیم سېمبول په نامه پېژندل کېدلی شي، نو ښه به وي په لنډه توګه د بابل په هکله یو څه ولولو ، د پښتو اریانا دائرة المعارف د څلورم ټوک په ۳۰۴ مخ کې داسې لیکل شوي دي:
بابل: Babylon: د بابل د هېواد پایتخت د همورابي د عصر او زمانې څخه ۳۹۰۰ تر ۸۹۱۳ ق. م د کلده د سلطنت تر اخره پورې ۵۳۹ تر میلاده پخوا د هغه اصلي نوم په سومري ژبه، کادنګیر را (Kadingirra) او وروسته تر هغه د اکادي بابلو په ژبه دخدای دروازه ترجمه شو. مګر د بابل پخوانی ښار د اوسني عراق د هېواد د فرات د رود خانې په دواړو خواوو کې په مربع شکل جوړ شوی و ، چې د هغه محیط د یوناني مؤرخ هرودوتس (Herodotes) په قول چې پخپله یې لیدلی و ، شپېته میله اوږدوالی درلود. د ښار په څلورو خواوو کې لویې لویې کلاوې جوړې شوې وې، چې له سلو څخه تر دوه سوه او پنځوسو دروازو پورې یې درلودې. د ښار واټونه په هندسي شکل یو بل په قایمه زاویه سره پرېکول او د ښار د دوه وو برخو تر منځ د فرات په رود باندې یو د تیږو پل جوړ شوی و ، چې تیږې یې د اوسپنې د ګیراګانو په واسطه یو تر بله سره تړل شوې وې. د ښار په لویدیځه برخه

کې چې پخوانۍ برخه یې وه د لمر د رب النوع معبد د "بعل" په نامه د پخوانیو سلاطینو د شاهي کلا تر څنګ واقع و. د ښار په ختیځه برخه کې د بابل د سلطنت د نوې دورې ودانۍ د سیمیرا میس (Semiraamis) ځوړندو باغونو په ګډون پرتې وې.

ددې باغ کنډوالې په داسې یو ځای کې چې اوس یې "اتعصر" بولي لیدل کېږي. د میلاد نه پخوا په شپږمه پېړۍ کې کله چې ایرانیانوو پر دې ښار یرغل وکړ او ویې نیوه د ودانیو یوه زیاته برخه یې ورانه کړه. اسکندر چې دغه ښار د خپل پایتخت په حیث وټاکه سره له دې چې لس زره تنه یې ددې ښار د بېرته ودانولو په کار مؤظف کړل، بیا یې هم ونشوای کولای چې حتی د هغه د کنډوالو یوه برخه هم له خاورو څخه پاکه کړي. د یونانیانو او سامانیانو په عصر او زمانه کې د بابل ښار تر پخوا ډېر وران شو او د اسلام په دوره کې د بغداد ښار د تاسیس څخه وروسته چې د خلافت مرکز وګرځېد، د بابل ښار د یوه کلي شان ته تنزل وکړ. یعنې د کلي درجې ته ورسېد. نن د بابل کلمه یوائې د پخواني ښار د کنډوالو په شمالي برخو باندې اطلاق کېږي او د ښار په جنوبي برخه کې داسې یو ځای واقع دی چې د شلو زرو خلکو په شاوخوا کې پکې مېشت دي. په لومړي ځل د بابل د پخواني ښار موقعیت یوه ایټالوي عالم پیترو دلاوالي (Pieter Dellavalle) په کال ۱۲۱۲ مسیحي کې کشف کړ. اما اساسي کندنې او حفریات د (۱۸۵۰) کال څخه شروع شوي دي. د نولسمې پېړۍ په اخر کې الماني پوه کوللدیوي (Koldewey) د پخواني ښار د ډېوالونه او قصرونه او مهم معابد ښکاره کړل او ضمناً یوه اندازه منقوشه کتیبې هم لاسته راغلې چې د هغو په واسطه کولای شو چې د پخواني ښار قصرونه، معابد او ودانۍ تشخیص کړو ".

دا وو د بابل د ښار تاریخي انځور، په دې ښار کې د تشدد او ځځوالي ډېر ستر واکمن واکمني کوله، په دې ښار کې د سولې، روغې، مینې

او نیاومنۍ ستر سمبول هم زېږېدلی دی، وګورئ د پښتو په ژبه کې متل: ((چې پړ شي، مړ شي او چې وړ شي لوړ شي.)) د تشدد او ځځوالي ستر مخکښ په خپل دریخ کې پړ شو او مړ شو، خو د مینې او سوله ایزې لیارې ستر لیارښود حضرت ابراهیم علیه السلام په خپل دریځ کې د تشدد او ځځوالي د ستر ځواکمن په وړاندې وړ شو او لوړ شو.
په دې توګه چې: نمرود مړ شو او د هغه طاغوتي واکمنۍ هم تاریخ ته وسپارله شوه، خو حضرت ابراهیم علیه السلام سره ددې چې له بابله په کډواله توګه وواته او د تل لپاره د بلې سیمې هستوګن وګرځېد د انساني ټولنې د ژوندانه په لمنه کې د یو ستر سوله ایزه سمبول په نامه تل پاتې نوم وګاټه، هغه یوازې په خپله نه چې د هغه په ټبر کې هم په پرله پسې توګه د سولې، روغې، مینې او نیاومنۍ (استازي) راغلي او انساني ټولنې ته یې نېکمرغي، هوسا ینه، رښتینوالي او د ښېګڼو وسه ښنلې ده.
څوک چې د هغه په ټبر کې په لومړي ځل هغه هم د ځمکې پرمخه د یوه ډېر عادله ټولنیزه سیاسي واکمنۍ بنسټ ایښی دی، حضرت یوسف علیه السلام نومېږي، چې د هغه په هکله به ځانله غوره او ځلانده برخه ولرو، خو دلته غواړم د حضرت ابراهیم علیه السلام په هکله خپلې لیکنې نورې هم اوږدې کړم: ښایي ځینې کسان به داسې نیوکه ولري، چې که حضرت ابراهیم علیه السلام د بابلیانو بتان نه وي مات کړي، چې دغه عمل په خپل ذات کې د ځځوالی او د تشدد لامل ګڼل کېږي، بابلیانو به هم (ابراهیم) ته څه نه وو ویلي او هغه به یې د اور لمبو ته نه وو غورځلوی او په دې توګه به له خپله ښاره او هېواده به هم نه و کډوال شوی. دغه د نیوکې نه ډکه پوښتنه به ارو مرو د هر چا په ذهن کې وګرځي، له دې کبله ځان اړ ګڼم ددې نیوکې په ځواب کې یو څو کرښې وړاندې کړم: په پارسۍ ژبه کې یو شاعر ویلي دي، چې:

اگر دیدی که نابینا و چاه است
و گر خاموش بنشینی گناه است

ابراهیم علیه السلام ولیدل چې خپل پلار، مور او نور ټول خپلوان، دوستان او اشنایان لا چې ټوله قبیله او قوم یې د بت په لمانځلو بوخت دي، هر څه چې د دین او آخرت دي، هغه د بت په تن کې ویني، خیر او ښېګڼه، خوښي او خندا، نېکمرغي او هوسایي، روغتیا او بسیاینه د بت نه غواړي، له هغه بت نه غواړي، چې دوی په خپله په خپلو لاسونو تراشلي او جوړ کړي دي، هغه بت چې که دوی یې وغواړي تور کړي، تورولی یې شي، سپین کړي، سپینولی یې شي شي،مات کړي، ماتولی یې شي او که لرې یې وغورځوي، لرې غورځولی یې هم شي.

هغه بت چې نه یوازې دا چې خپل ځانته نه ګټه او نه تاوان رسولی شي، خپلو لمانځونکو ته هم هیڅکله او په هیڅ توګه څه ګټه او تاوان نه شي رسولی، نو داسې یو څیز ته به داسې یو څوک لکه ابراهیم علیه السلام چې له زېږېدونه لا ډېر د مخه ستورو پېژندونکو وړاندې وینې کړې وي او هغه یې د خپلو ادیانو او خدایانو دښمن ګڼلی و، سترګې پټې او خوله تړلې وساتي او ووایي چې ما نه څه لیدلي دي او نه مې څه اورېدلي دي، هرڅوک چې هرڅه کوي، که تیره لمانځي که لرګی، که لمر لمانځي او که ستوري په ښتینه لیاره درومي او که د نېکمرغۍ ورونه ورته پرانیستي دي، داسې نه ده.

ښتینه خبره خوا داده، چې ابراهیم علیه السلام خپل قوم او قبیلې ته د لوی خدای له لوری د استازي په توګه دنده لرله، چې ړانده بینا کړي، کاڼه شنوا کړي، ناپوهان وپوهوي او بې لیارې په لاره کړي، څو په دې توګه د خپلې ټولنې له مینځه د ظلم او زور، تشدد او ځځوالي تغر ټول کړي او ونغاړي، دغه او داسې نور لاملونه و چې ابراهیم علیه السلام د وړو بتانو په ماتولو وغوښتل د خپل ولس تړلې شوی سترګې پرانیزي، څو حقیقت ووینې او کاڼه غوږونه وروښي، څو د ښتیاوو

په اوربدلو کې هڅانده شي.
چې دا کار یې وکړ، د حق په پلوۍ یې وکړ، خپلې ټولنې ته یې دا وښودله چې هر څوک کولی شي د ظالم او جابر واکمن په وړاندې ودرېږي او د حق خبره ووایي، حق وغواړي، حق وپلټي او حق پلی کړي؛ لکه چې همدا سې هم وشول.
ابراهیم علیه السلام د حق په لیاره کې د جابر او ظالم واکمن د باطلو خدایانو په ماتولو او هغوی ته د حقې خبرې د رسولو خپله دنده پرځای کړه، چې دې ته د تشدد کړنه څوک نه شي ویلی، دا ځکه چې هر ګټور عمل وړاند بتوب لري، پر تاوان رسوونکي کار، که څوک د ړانده لاس ونیسي او هغه د کندې ته د ولوبدلو څخه وژغوري، د بته څوک تشدد نه شي ویلی، بلکې داسې کړنه د څېلمې څخه د خواخوږۍ، مینې او وروروولۍ غبرګون دی، چې د انسانیت په لمنه کې د ربتینو انسانانو له خوا ښودل کېږي.
ابراهیم علیه السلام د یوه خواخوږي انسان په توګه خپله کورنۍ او قبیله ولیدله، چې د ړندو په څېر پر هغه لیاره روان دي، چې به ارو مرو کندې ته غورځېږي، نو د هغوی د تباهۍ په کړنو وخوږېده، وهڅېده او د ړندو سترګو د علاج په موخه د هغوی د ژغورنې په هوډ د وړو بتانو پرماتولو خپله غوره انساني دنده سرته ورسوله، چې دې کار ته یوازې او یوازې د انساني مینې، خواخوږۍ، لاوربینې او وروروولۍ پرته بل څه نه شو ویلی، څوک چې هغه ته د تشدد نوم ورکوي او د تشدد او ځځوالي په نامه یې غندي، هغوی به هم د ړندو په څېر د تل لپاره د کندو په لوري درومي، چې تللي هم دي، له دې کبله ابراهیم علیه السلام د سولې، روغې، مینې او وروروولۍ د دربیم اتل په څېر د تل لپاره د ستاینې وړ شخصیت دی، چې د انسانیت لمنه پرې ویاړي.

# څلورمه برخه

## حضرت یوسف علیه السلام

د ابراهیم علیه السلام په کورنۍ کې چې څوک د موسی علیه السلام نه مخکې د انسانیت په لمنه کې د مینې، ورورولۍ،سولې، روغې، خواخوږۍ او نیاومنۍ سمبول ګڼلی شو، هغه یوسف علیه السلام دی. "

یوسف علیه السلام د ابراهیم علیه السلام کړوسی دی، دده په هکله لوی خدای جل جلاله په قرآن کریم کې یو ډېر اوږد سورة مختص کړی "اوددې سورة نوم یې هم "احسن القصص" ایښی دی، یعنې د ټولو قیصو نه غوره او د ستایلو وړ قیصه ده، هغه څوک چې قیصه یې د لوی خدای له لوري په قران کریم کې د نورو انبیاو دقیصو په منځ کې تر هرې قیصې غوره اواحسن قیصه معرفي کېږي د پښتواریانا دائرت المعارف د شپږم ټوک په "۱۱۴۸" مخ کې داسې راپېژني. "

یوسف علیه السلام د یعقوب علیه السلام زوی، د اسحق علیه السلام لمسی او د ابراهیم علیه السلام کړوسی دی، د بني اسرائیلو پیغمبر و، په "۱۷۴۵" ق م کال په بین النهرین کې زېږېدلی دی، د یعقوب او راحیل زوی و، په کال "۱۲۲۵" ق م په مصر کې وفات شوی دی، د یعقوب علیه السلام دزیاتې مینې په وجه چې د یوسف سره یې لرله، دخپلو ورونو کینه ورسره زیاته شوه. "

یوه ورځ یې له ځانه سره بیدیا ته بوت او هلته یې په کوهي کې وغورځاوه، دده کمیس یې د وزې په وینو ککړ یعقوب ته راوړ، او ورته یې وویل چې یوسف لیوه خوړلی دی، بیا یو کاروان په لار تېرېده یوسف یې له کوهي نه راوایست او په مصر کې یې پر یو بډای پاندې وپلوره، ددغه بډایې ښځه "زلیخا" ورباندې مینه شوه او خپله مینه یې

ورته ښکاره کړه. "
یوسف ددې مینې ته غاړه کې نه ښودله، نو دهغې له خوا بندي کړی شو ، ده په بندي خانه کې ځینې پېښېدونکي خبرې وویل; دغه خبرې د فرعون غوږونو ته ورسېدې، فرعون خپل خوب د معنی کولو دپاره له بندیخانې راوویست او د وزارت عهده یې ورکړه، څو کاله سخته وچکالي راغله د یوسف ورونه دغلې دانې دراوړلو دپاره مصر ته ولاړل، هلته ورسره کومکونه وکړل، او بیا یې ټول مصر ته راوستل. "
دا وه د اریانا دائرت المعارف له مخې د یوسف علیه السلام لنډه پېژندنه، اوس به وګورو چې په قران کریم کې د لوی خدای له لوري د یوسف علیه السلام په هکله څه لطف او عنایت شوی دی؟ په دولسمه پاره کې داسې راغلې دي:
د یوسف سورة مکې دی پرته له "۱، ۲، ۳، ۷ " آیتونو چې مدني دي، "۱۱۱ " آیتونه او "۱۲ "رکوع لري، په تلاوت کې "۱۲ "او په نزول ک "**۲۵** " سورة دی، وروسته د یونس د سورة څخه نازل شوی دی او داسې پیل کېږي. "
شروع په نامه د الله چې خورا ډېر مهربان، ډېر رحم والا دی، د لومړي او دوهم آیت متن: الٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝
ژباړه: دا مخکې آیتونه چې لوستی کېږي، ایتونه دې ددې کتاب واضح، چې دهغه "من عند الله توب با الکل روښان دی " او پر هغو احکامو او شرایعو یا مواعظو چې هغه مشتمل دی، نهایت روښان اوصاف دی، بیشکه چې موږ نازل کړی دا کتاب په دې حال کې چې قرآن عربي دی دپاره ددې چې تاسې پوه شی، پرې د مفسر تفسیر; یعنې عربي ژپه چې له ګردوژبو څخه زیاته فصیحه او وسیعه او منضبطه او ډکه د شوکته او باشانه ژبه ده،د قرآن دنزول دپاره منتخبه شوې ده، کله چې رسول الله مبارک ذاتا عرب دی، نو ښکاره ده چې په دنیا کې به ړومبی مخاطب عرب وي. "

بیا د عربو په ذریعه د دنیا په څلورو خواو کې دغه رڼا خپره شوه، د هم دی په لورې په "لعلمکم تعقیلون" کې یې اشاره فرمایلې ده، چې ستاسې په ژبه د قرآن د نزول یوه وجه داده; تاسې چې د رسول الله مبارک قوم یې اول دده د علومو او معارفو خوند وڅکی او بیا یې نورو ته وروڅکوی، لکه چې هم داسې وشول، ابن کثیر رحمت الله علیه لیکي; نازل کړی شوی دی غوره دکتابونو چې قرآن دی په غوره د لغتونو چې عربي ژبه ده. "

پر غوره د رسولانو چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی، په سفارت د غوره د ملایکو چې حضرت جبریل دی او وو، دا انزال په غوره سیمه د ځمکې، او لومړی انزال یې په غوره د میاشتو د کال کې و چې میاشته د رمضان ده، نو کامل شو قرآن له هرې لورې. "

د "۳ "آیت متن: نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ اَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ هٰذَا الْقُرْاٰنَ گ وَاِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ Æ

ژباړه: موږ بیانوو، لولو پر تا باندې ډېره ښه قیصه له ټولو قیصو، ځکه چې خاوند یې ښه دی، په سبب د وحي زموږ تاته دغه قران او بیشکه شان دا دی چې وې ته پخوا له نزوله ددې قران خامخا له ناخبرانو په دې قیصې. " د مفسر تفسیر، یعنې د همغې وجي په ذریعه چې د قران کریم په صورت پر تا نازلیږي، موږ یو نهایت ښه بیان پر حسین طرز سره تاته اوروو، چې له هغې ځینې تر اوسه پورې ته هم لکه دخپل قوم پرې بې خبره وې، اګر که دغه واقعه د تاریخ په کتابونو کې او په بیبیل، انجیل کې پخوا له دې نه مذکوره وه. "

مګر محض د یوې افسانې په صورت وه، قران کریم دهغې ضروري او مفیدي اجزا په داسې یو عجیب او غریب او بلیغ او موثر ترتیب او اصول سره بیان فرمایلی دی چې په هغه سره نه یوائې د پخوانیو تذکره لیکونکو پر قصور یې اطلاع فرمایلې دي. "

بلکې موقع په موقع د اعلی نتایجو په لوري یې هم لارښودنه کړې ده

او د قیصې په ضمن کې یې د علومواو هدایاتو ابواب، پرانیستلی دي، دغه خبره چې د الله قدوس تقدیر هیڅ یو شی نه شي ګرځولی، او کله چې الله تعالی پر چا باندې د فضل او کرم اراده وکړي که ګرد جهان هم سره لاس یو کړي، نو په خپلو ګردو امکاني تدابیرو هم هغه نه شي محرومولی، صبر او استقامت د دنیوي او اخروي کامیابي او بري کلي او مفتاح ده. "

دحسد او عداوت خاتمه غیرله خزلان او نقصان څخه بلشي نه دی،انساني عقل داسې لوی شریف جوهر دی چې د هغه په وسیله انسان پر ډېرو مشکلاتو غالبیږي،او خپل ژوند پرې ښایسته او ښه کوې، اخلاقي شرافت اوعفت او طهارت با لاخره انسان د دښمنانو او حاسیدانو په نظر کې هم معزز او مؤقر ګرځوي، پر دغه او ددغه قسم نورو ډېرو حقایقو باندې دې احسن القصص په ضمن کې تنبهیه فرمایلی دی. "

په پورته وپوهېدو چې دغه د قیصو غوره قیصه داسلام پیغمبر ته د وحي په توګه راغلی او په هغه کې لکه څنګه چې د یوسف علیه السلام په پېژند پانه کې مو ولوستل دهغوی دکوچنیتوبه څخه کومې پېښې شوي په دې سورة کې هم ورته اشاره شوې ده. "

دغه سورة ډېر اوږد سورة دی، او په دې سورة کې هغو پیښو ته په څرګنده توګه اشاره شوې چې د یوسف علیه السلام په کوچنیتوب کې د خوب لیدل و، او ورپسې د ورونو حسادت او د حسادت غبرګون و،چې یوسف علیه السلام د مصر په لوري وړل کېږي، اوهلته دمریې په توګه د مصر عزیز یا د مصر فرعون د دربار له خوا پیرودل کېږي، په دې سورة کې دا هم څرګنده شوې چې د مصر د عزیز میرمن پر یوسف علیه السلام مینه کېږي. "

خو یوسف علیه السلام دهغې مینې ته منفي ځواب وایي; خبره رسوا کېږي او د مصر عزیز د خلکو د خبرو له امله یوسف علیه السلام جیل

ته استوي، جېل ته دوه نور بندیان هم وړل کېږي چې د دربار نوکران و، دغو نوکرانو نه یو یې خوب ویني او د خپل د خوب تعبیر له یوسف علیه السلام څخه غواړي، هغوی ورته دخوب تعبیر، په دې توګه وایي چې یو به مو پردار شي، او بل به مو بېرته خپله پخوانۍ دنده ترلاسه کړي. "

چې همداسې هم وشول، بیا د مصر واکمن خوب ویني چې د نیل له سینده اوه څاربه غوایي راوځي او د نیل په شا وخوا کې څېرې ورپسې بیا اوه ډنګره غوایي له نیله راوځي او هغه پخواني څار به غوایي خوري. "

ددغې خوب تعبیر یې د خپلو بتانو د مزدکونو له مشرانو نه وغوښت، خو هغوی پاتې راغلل په دې مهال د دربار همغه کس چې له جېله وتلې او بیا په دربار کې پر کار بوخت شوی و، خپل مشرانو ته وویل; که چرې هغه ته ددې واک ورکړل شي چې بیا تر جېله لاړ شي، نو دی به وکولای شي د ستر واکمن د خوب تعبیر دپاره یومناسب کس ومومي، اوهغه باور لري چې دغه مناسب کس اورومرو د خوب تعبیر ویلی شي، دا ځکه چې هغه دده خوب تعبیر هم څنګه چې ویلی کټ مت هماغسې هم وشو. " ده سره د دربار مشرانو ومنله او دی د جېل په لوري رهي شو، کله چې جېل ته ورسېده او د یوسف علیه السلام په وړاندې ودریده، یوسف علیه السلام ورته ښه راغلاست ووایه. "

او د راتګ څخه یې وپوښتنه، نوموړي ورنه د ستر واکمن دخوب د تعبیر په هکله وپوښتل، یوسف علیه السلام ډېر ژر ورته دخوب داسې تعبیر ووایه; اوه څار به غوایي ښیي چې اوه وښیرازه کلونه راتلونکي دي، او د هغه نه وروسته بیا اوه وډنګرو غوایانو د راتګ ددې څرګندونه کوي چې راتلونکي اوه کاله په وچکالي وي، په اوه و وچکالیو کلونو کې د تېرو اوه وو ښیرازه کلونوغلې دانې نه بسیا کېږي. "

له دې لامله د سیمې ولسونو ته به تباه کوونکې کلونه وي، د دغو تباه کوونکو کلونو د پاره یوا ځنۍ چاره دا ده چې ستر واکمن په لومړیو اوه وو، ښېرازه کلونو کې کرنه پراخه کړي، هرڅه وکري او ځومره ییبره چې تر لاسه کوي،د هغه څخه د کلنۍ خوړلو کچه جلا او پاتې د وږیو سره په زېرمه تونونو کې زېرمه شي، څو په اوه وو راتلونکو وچکالیو کې په کار راشي. "

کله چې د دربار استازي دخوب تعبیر واورېده، ډېر په جلتۍ سره واپس دربار ته لاړ او څه چې یې اورېدلي وو، کټ مټ، یې د ستر واکمن په وړاندې وویل؛ ستر واکمن هم ومنله دخوب تعبیر په رښتیا سره هم همدا سې و، نو ددې تعبیر د پلي کېدلو لپاره ستر واکمن غوره وګڼله، چې چا چې دغه تعبیر کړی دی ، همغه دی دغه دنده هم پر غاړه واخلي، څو په ښه توګه د راتلونکي وچکالیو څخه مصر وژغوري، هماغه و چې یوسف علیه السلام له جیله وویستل شو دربار ته راوستل شو ، په دربار کې ورته دهغه د لوړ درنښت سره سم درناوی وشو ، او ورته دغه دنده هم وسپارله شوه، څو د مصر، عزیز په څېر د ټولو واکمنیو څخه برخه من وي په دې توګه یوسف علیه السلام د پرون ورځې مریي او بندي، د نن ورځې دمصر د عزیز غوندې په خپله دنده پیل وکړ، ټولو اړوندو څانګو او ټولنو او ټولو سیمه ییزو واکمنیو ته یې لارښود نه وکړه. "

څو په خپلو سیمو کې چېرته چې ځمکه تر کرلو لاندې راتللی شي وکري، او همدارنګه هغو ټولو تړاو لرونکو څانګو ته یې وغوښتل چې د د کروندو د ییبرو د زېرمه کولو لپاره دی، زېرمې ځایونه یا زېرمه تونونه جوړ کړي؛ لکه څنګه چې یوسف علیه السلام له خوا لارښوونه شوې وه، په لومړیو اوه وو، ښېرازه کلونو کې ډېرې زیاتې ځمکې وکرلې شوې، او د کرکیلې، د ییبرې څخه ځومره چې کلنۍ اړتیاوې وې، هغومره د ولس په اختیار کې پرېښودلی شوې. "

او څه چې د کلنۍ اړتيا و څخه زياتې وې، هغه ټول د وړيو سره په زېرمه تونونو کې زېرمه شول، کله چې د اوه وو ښېرازه کلونو نه وروسته د وچکالۍ کلونه پيل شول، په لومړي کال کې چاچې ځمکې کرلی ياد بتانو د مزد کونو د مشرانو په شمول چا چې د خپلو کرکيلو څخه څه غلې دانې په زېرمه تونونو کې ساتلی وې، دا چې په فني او مسلکي توګه لکه څنګه چې د يوسف عليه السلام له خوا لارښوونه شوې وه، د وړيو سره نه وې زېرمه شوې، نو دهغوی غلې دانې ټولې خرابې او دګتې اخيستنې څخه وتلې وې، ددې له امله هغو له خپلو زېرمه کړيو غلو دانو څخه ګټه وانه خيسته، اومجبور شول، څو خپلې زېرمه کړی غلې دانې لري وغورځوي، خو چاچې د مصر د عزيز يوسف عليه السلام د لارښوونې سره سم خپله غله دانه دوړيو سره زېرمه کړی و، هغوی ته څه ضررو نه رسيده. "

دا چې داسې زېرمه تونو نه يوائې د مصرپه واکمنۍ پورې تړاو درلود ، نو دا يوسف عليه السلام و چې د هغه څخه يې په عادلانه توګه ګټه واخيستله، دلته او دامهال و چې د ځمکې پر مخ په لومړي ځل هغه هم په مصر کې يو عادلانه ولسي اوسوسياليستي سيستم رامينځته کېږي " او کارول کېږي، يعنې; يوسف عليه السلام يوه اوږده او سپېڅلې لارښوونه جوړه او د ټولو حکومتي څانګو په واک کې ورکړله، په دې لارښوونه کې ويل شوي و. "

هرڅوک چې ددولت مرستو ته اړتيا لري، هغوی د خپل نومونه دحکومت په تاکل شويو څانګو کې وليکي، څو حکومت هغوی ته د اوږد مهالې مرستې د ورکولو په هوډ کومه دنده هم د کار کولو لپاره ورکړي، او همدارنګه په دې لارښوونه کې ويل شوي وو ، هغه کسان چې ځمکه يا نور شتمني لري، هغوی کولی شي خپلې شتمني دغلودانو د لاسته راوړلو دپاره دولت ته وسپاري، خلکو هم همداسې وکړل. "

ځکه چې بله چاره نه وه،او په دې توګه د اوچکالۍ په اووه وو کلونو کې د مصر د ټول ولس ځمکې اونورې شتمنۍ د دولت لاسته ورغللې او ولس د دولت د کارکوونکو او معاش اخیستونکو په ډله کې تنظیم او بوخت شو، دغه بوختیاوه چې ولس د یوه حتمي تباهۍ څخه وژغورل شو،او په خواکې یې د مصر د ګاونډیو هیوادونوولسونو ته هم مرسته ورسوله، ګټور اندو نه ګټور کارونه رامینځته کوي او د ګټورو کارو نه ګټورې پیښرې تر لاسه کیږي، چې ګټورې پیښرې ګټورو لاسونو ته ورځي. "

یوسف علیه السلام په خپل ګټور پلان سره ګټور کارونه رامنځته کړل او دغه ګټور کارونو ګټه ورې پیښري ورکړې، او دغه ګټوورو پیښرو وکولی شول د مصر د ولس د یوه نه مخنیونکې تباهۍ مخه ونیوله، نه یوازې چې د تباهۍ مخه یې ونیوله چې د مصر د عیاش او مصرف کوونکي ولس نه یې هم یو تکړه، فعاله، خلاقه، مولد او کارکوونکی ولس جوړ کړ. "

داسې ولس چې د ځمکې پر مخ په لومړي ځلې او ټول په ټول د دولت په چوپړ کې بوخت او دولت هم د ولس دخیټې، روغتیا ،ډاډئینې او بسیائینې متکفل وګرځېد ، چې ساری یې لا تر اوسه پورې د ځمکې پر مخ نه دی لیدل شوې، زه فکر کوم چې ښایي اولاچې ډېر امکان لري، ښاغلو مارکس او انګلیس هم خپلې کمونیستۍ تیوری، د یوسف علیه السلام له خوا د رامینځته شوي ولسي او سوسیالستي، عادلانه نظام له مخې کاپي کړي، او نړۍ والو ته وړاندې کړی وي. "

دا ځکه چې د یوسف علیه السلام په هکله لکه څنګه چې په قرآن کریم کې یو اوږد سورة شته والی لري، او د هغه د ژوند د پیښنو قیصه یې د قیصو یوه غوره قیصه ګڼلی، په همدې توګه د اسرائیلي روایاتو په پاڼو کې به هم دغه قیصه لا هم په جزیاتو سره پوره راغلې وي. "

دا چې مارکس او انګلس د نسب له مخې دواړه بني اسرائیل ګڼل

کېږي، نو په دې دلیل د یوسف علیه السلام په هکله به هم هغوی پوره پوره معلومات لرلي وي، او دغه معلومات به دهغوی په کمونیستي تیوری کې دېره ډېره کارول شوې وي. په هرحال د انسانیت په لمنه کې یوسف علیه السلام د سولې، روغې او دوروروولۍ د مینې او خواخوږۍ، د ځلورم سمبول په توګه په نړۍ کې د یو عادل سیاسي، ټولنیزه، اقتصادي نظام لومړنی جوړونکی شخصیت ګڼل کېږي. "
ده نه یوازې دا چې په مصر کې نوي سیاسي، ټولنیزه اقتصادي سیسټم په پښو ودراوه، او د مریانو او مالکانو ترمنځ یې مساوات او برابرۍ رامنځته کړه لا چې دولس دیني انګېرنې یې هم د بت لمانځلو څخه واړولې او هغوی ټول یې د یو واحد خدای په لمانځلو بوخت کړل، هم یې د دین چارې سنبالې کړلې او هم یې د دنیایي چارې؛
خو دی تر خپلې وروستیه سلګیه پورې په مصر کې د سیاسي واکمنۍ له اړخه دوم کس و. "
یعنې؛ دده د پاسه یو بل کس د لوی واکمن په توګه د مصر چارې تر ځارنې لاندې لرلې، مګر هغه کس هم د دیني او دنیایي چارو له مخې بیا د یوسف علیه السلام دلاربښودنو لاروی وو، هر څه چې یوسف علیه السلام ویلې. "
هغه به منلې، او هرڅه چې یوسف علیه السلام کولی، هغه به منندویه و، لکه څنګه چې په مصر کې یوسف علیه السلام د دوم کس په توګه د مصر دولتي دیني اودنیاي چارې سنبالې کړې وې، دهغه نه وروسته بیا په بلخ یعنې داریایانو د ټاټوبي په پلازمېنه کې یو بل څوک هم چې اوس یې موږ د زردشت یا زردشترا په نامه پېژنو د اریایانو دیني او دنیایي چارې د دوم کس په توګه سنبالې کړې دي. "
کوم توپیر چې د یوسف علیه السلام او د زردشت علیه السلام ترمنځ لیدل کېږي، هغه دادي چې یوسف علیه السلام د خپل د پلار ،نیکه او داور نیکه دین د پلې کولو ماموریت لرلی دی چې لا تر اوسه پورې د

ابراهیمي دین په نامه یادېږي، خو زردشت علیه السلام سره ددې چې د "ویدي " انګیرنې د لاربښوونو په تسلسل کې اوستایي انګیر نه یې رامینځئته کړې، د یوه جلا دین خاوند دی او دخپل د جلا دین د پلي کولو په لاره کې هلې ځلې کړې دي، څه شي چې د دوی ترمنځه د ورته والی، ښه لري، هغه هم هغه بریالیتوبونه دي چې د غو دواړو په خپلو هلو ځلو کې د یوه عادلانه سیاسي اقتصادي نظام په پلي کولو کې تر لاسه کړي و ، ښه به وي په دې پړاو کې د زردشت علیه السلام پېژند پاڼه هم ولولو. "

# پینځمه برخه

## حضرت زردشت سپین تومان

د پښتو اریان دائرت المعارف د شپږم ټوک په "۱۸۲"مخ کې داسې لیکل شوي دي. "

زردشت: د اسپه د کورنۍ لومړنی سړی "اوروت اسپه" دی چې کیسې ویونکي یې "لهراسپ" بولي، الماني "دونکر" دا کورنۍ په پخوانیو کورنیو پورې متعلقه ګڼي، د وروستیو کیسو له مخې "اوروت اسپه" په بلخ کې ډېرې ودانۍ کړې دي. خو په اوستا کې دده د کارنامو په باب څه نه دي لیکل شوي. "

"اوروت اسپه" دوه ځامن درلودل چې یو "ویست اسپه" او بل " زري واري "وو، د "اوروت اسپه" نه وروسته دهغه زوی "ویست اسپه" چې کیسې ویوونکي یې "ګشتاسپ بولي" د پلار پرتخت کیناست، او هغه یو غښتلی او زړور سړی و، دده د زمانې ډېر لوی افتخار، د زردشترا یا زردشت "بلخي" لوی پوه او مقنن سړی چې د زردشتي "مذهب" خاوند دی ظهور وو، د ایران د ادبیاتو دتاریخ د لومړي ټوک "۲۹۵" مخ چې مولف یې مرزا جلال الدین "همايي "اصفهاني دی، دا خبره تصدیقوي چې زردشت "بلخي" و، دا حکیم او پوه سړي په بیلو بیلو نومونو لکه زردشت یا زرتشت زرتشترا، او یا زرتشتر یاد شوي دي، پلار یې پورو شو سبا او نیکه یې پیترا سپه او لوی نیکه یې هیچا تا سپا،نومېدل; د زردشت لقب "سپین تیمان"وو، چې په پښتو ژبه کې د "سپین لمنې "او په دري کې د "پاکدامن" معنی ورکوي، زردشت یو حکیم او پوه سړی وو، او اخلاقي او علمي تعلیمونه یې لکه طب، نجوم او طبیعیات د ټولو طبقاتو په تېره بیا دده د پیروانو دپاره ډېر ګټور وو، زردشت دوه زامن او درې لوڼې درلودې، ډېر

کوچنۍ لور یې "پورچسپ"نومېدله، "پورچسپ" د باختر دنامتو وزیر او د "گشتاسب" د دربار د ډېر لوی سړي "جام اسپه" ښځه وه، زردشت دنواشترا له لور سره چې د "جام اسپه" ورور و.واده کړی و. "

دزردشت دزمانې او د اوستا د ژبې او دهغه د نورو خصوصیاتو په باره کې مختلفې عقیدې، شته دي، کومه عقیده چې اوس ډېر طرفداران لري دا دي چې; نوموړی د میلاد څخه پخوا په اومه پېړۍ کې زېږېدلی او د "شپږمې ق م" پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې مړ شوی دی، زردشت علیه السلام په او یا کلنۍ کې د "بلخ" باختر باکتریا " د معبد په یوه پوړ کې وژل شوی دی، زردشت په شل کلنۍ کې گوښې ژوند غوره کړی او د ځوانۍ د دورې زیاته موده یې په ریاضت تېره کړې ده، او په دېرش کلنۍ کې یې خپل دین او عقیده ښکاره کړې او خلک یې د خپلې طریقې خواته رابللي دي، او د بلخ باچا "ویشتاسپ" پرې ایمان راوړ او "جاماسپ" د "گشتاسب" وزیر هم د هغه ملاتړ وکړ او له دې امله د زردشت دین په لږه موده کې په ایران، توران، هنداو کوچنۍ آسیاکې خپور شو او طرفداران یې پیدا کړل. "

دزردشت کتاب; د زردشت نامتو مذهبي کتاب هماغه "اوستا "دی، "اوستا په پهلوی" ژبه "پستاک، یا "اوستاک " او په عربي " اوستاق " وایي دا کتاب "۲۱ " کتابونه یا "سک " لري چې د شریعت احکام، اخلاق، نجوم، هیئت، تاریخ، فلسفه او نور په کې لیکل شوي، او د طبري او مسعودي په روایت دا کتابونه یې د غوایانوپر "۱۲ "زره پوستکو باندې لیکلي وو، او ټول یې د یوه تن تالیف او د یوې زمانې او یوې ژبې په باب نه وو ،او هغه څه چې اوس اوس په لاس کې دي، داصلي اوستا په نسبت ډېر لند او د اوستا د مهمو برخو څخه یوه برخه "گاتونه " دي، د ایران دادبیاتو د تاریخ "۲۹۸ " مخ لومړی جلد "گاتونه " یا د اوستا پخوانۍ سرودونه چې د سانسکریت په ژبه یې "گیتا "بولي، د یسنا له برخې څخه د "۷۲ " یسنا "وو، په جمله کې

چې په سانسکریت کې ورته "یجنا " وایي له "۱۷ " سرودونو څخه عبارت دی، "یسنا د ستاینې او لمانځنې په معنی او د اوستا دیوې برخې نوم دی چې "۷۲ " فقرې داسې سرودونه، مناجات او د عوتونه په کې دي چې دعبادت په وخت کې په خاصو آدابو سره ویل کېږي، د ګاتونو سرود عموماً په شعر او ځینې په مسجع نثر هم لیکل شوي دي. "

وندیدا: داهم د اوستا له اجزاو څخه دی چې "۲۲ "فصلونه لري. "

الف: د یوې برخې اریایي هیواد په باب لکه; ۱- آریانا وانګو. ۲-سغده. ۳- مور ود مرغاب سیمې ۴- بخدي، بلخ ۵- نیسایا و میمنه "۶- هر یو د هرات د هریرود سیمې. ۷- وایکرتاکوفن "کابل " ۸- اوروا "د غزني جنوبي ختیځ غرونه " ۹- خنتاګرکان "۱۰-هراویتي "۱۱-هیتومنت "د هیرمند سیمه " ۱۲- راغا د بدخشان د راغ سیمه "۱۳-کخر "غزني "۱۴- وارنا "وزیرستان "۱۵-هپتا هندو "هفت دریا "سند او پنجاب "۱۶-رانګه او نور، ماخذ د افغانستان سیاسي تاریخ۲۲او ۲۳مخونه.

ب: دیماکیسه: "دویوان هان روی چې له جمشید څخه مراد دی. " د ۳ نه تر ۷پورې د جنازې د وړلو او دهغه د ادابو د لاربښوونې او هم له هغو مطالبو څخه عبارت دی چې خلک د عپادت کرهني او د ځارویو دروزلو خواته رابولي. د "۷ " نه تر "۱۲ " پورې د نجاست احکام دی له "۱۲ " نه تر "۱۵ "پورې د سپیو د روزنې او دهغو د جشنونو په باره کې دي. "۱۶ " د حیض د احکامو په باب او "۱۷ " د بند د نظافت لکه د نوکانو د پرې کولو او د سر د ویښتانو د خرئلو او نورو په باب دي، "۱۸ " د چرګ دتعریف او د ځینو جرمونو د تشخیص او "۱۹ " په دې باره کې دي چې شیطان وغوښتل چې زردشت وغولوي خو بریالی نه شو، ۲۰- د فریدون کیسه۲۱- دغوایانو باران، د اوپو او سپوږمۍ تعریف۲۲- هغه دعا ده چې د شیطان د ناروغیو دفع دپاره لوستل کېږي. "

یشت: ځلورویشت سرودونه لري چې د خلقت دعالي موجود اتو په باره کې دي، او یوه برخه ملي حماسي په کې شته دي. "
دادب په دنیا کې د یشت رتبه ترګاتونو وروسته د اوستا پر نورو اجزاو مقدمه ده، او لکه څرنګه چې د اوستا ګاتونه د هندوانو د مقدس کتاب "ریګویدا " حکم لري، یشت هم د مهابهارا ته "Mahababhra " او رامایانا "Ramayana " د کتاب حکم لري. "
ویسپرد، ځلورویشت فصلونه لري،چې هر ډول عبادتونه او دهغو آداب په کې دي، د میلادي اتلسمې پېړۍ له سر نه پوه مستشرقان داوستا د کتاب دمطالبو د څېړلو په لټه کې شول، او په دې لاره کې یې ډېر کوښښونه وکړل، ددې پوهانو له جملې څخه یو فرانسوي " انکتیل دوپرون "Anqutel Daperron "دی چې د قدر وړ خدمتونه یې کړي او زحمتونه یې ایستلي او د زردشت د فلسفي طبیعي علومو، عبادتونو قوانینتو او مقرراتو په باره کې یې خپور کړی دی. "
او بل پوهاند فرانسوي بور نوف "Bornoff " دی چې د "یاسنا تفسیر " تر عنوان لاندې یې یو کتاب په "۸۰۰ "مخونو کې تالیف کړی او په "۱۸۲۲-۱۸۲۵-م کې خپور شوی دی، داسې نور پوهان اوختیځ پېژندونکي هم شته چې په دې لاره کې یې ښه خدمتونه کړیدي. "
ددري ادبیاتو د تاریخ لومړی جلد. "
د زردشت مذهب او تعلیمونه: لکه چې وویل شول زردشت یو حکیم او پوه سړی و، اودده اخلاقي او مذهبي تعلیمونه ډېر فیلسوفانه او د پېروانو د پاره یې ګټور وو. "
دی د موجوداتو دپاره په یوه واحد او مجرده مبدا، قایل دی چې هغه ته "اهورامزدا " وایي نور اوظلمت یایزدان او اهریمن دواړه حادث بولي، "نور باالذاته او ظلمت دهغه د تبعي ظلي وجود له مخې " اوعقیده لري چې د هستی نظام او قوام د نور او ظلمت او دیزدان او اهریمن د لښکرو او په وروستۍ عپارت د قوي او مادي د امتزاج "یو

ځای کېدلو " په واسطه ټینګېږي، او د ټولو ښو چارو مرجع یزدان او د ټولو ناوړوچارو مرجع "اهریمن"دی، او د "ییزدان" او "اهریمنانو" لښکر تل سره په جګړه کې دي او عالم به هغه وخت نېکمرغه او بني آدم به هغه مهال هوسا شي چې د اهریمن نژاد له منځه لاړ شي. "
زردشت په دوو عالمونو عقیده لري، روحاني یا "مینو "او بل جسماني یا "ګیتي "او هرڅه چې په عالم کې دي، په دوو برخو یې ویشي، تقدیر یا "بخشش" او فعل یا "کنش" او د انسان حرکتونه او افعال په دریو برخو ویشي، اعتقاد یا "منش" ویل یا "ګوئیش" او رفتار یا "کنش" دده په عقیده انسان هغه مهال د نېکمرغۍ لوړې مرتبې ته رسېږي، او "یزدان" ته نېژدې کېږي، او د بهشت وړ ګرځي چې درې واړه شیان اصلاح او هغه د ښې ارادې، ښې خبرې او ښه کردار ښښتن شوی وي. "
زردشت وایي: د عالم د پیدایښت بنسټ پر اضدادو ولاړ دی، اودا خاورینه کره د نیکي او بدي، یاد یزدان او اهریمن د لښکرو د مبارزې ډګر دی. "
او کائینات ددې قواوو د کښنولو راکښلو په منځ کې واقع دی او د بشر نېکمرغۍ او بدمرغۍ ددغو دوو متضادو شیانو د مبارزې په نتیجې پورې اړه لري، ابدي بهشت دیزدان د پیروانو او د هغو کسانو په برخه دی چې ښه نیت، ښه ویل او ښه کول ولري، او دوزخ د پلیدو او اهریمني ارواحو ځای دی. "
او دغه راز وایي;اهورامزدا چې "نور" محض دی، د ګیتي د هیو لاسره دنوراني قواو یادا مشا سپندال "Amcha spand" په واسطه اړیکه پیدا کوي او د هغو په واسطه خپل "نور "له مجردی مبدا څخه نورو مخلوقاتو ته رسوي. "
امشا سپندال عبارت له; وهومانا "Vohumandha" یا "برهمن" آشاواشیتا نسنا واهیستا "Asvahistat" خسنا تراوریا "Khasathra vanya" سپانتا آرمایتي "Sponta Armaiti" هرواتات "Hourvatat"

آمرتات "Amratat " څخه چې هرامشاسپند د نرۍ د یوې چارې واګي په لاس کې لري، او د دوی د هر یوه په مقابل او پر ضد "آنرامائینو " Anramainyu " اهریمن" یو بدمرغه روح ښکاره کوي، اکامانا "Akamanah"دوهو مانا په مقابل کې اندرا "Andra " د اردبهشت په مقابل کې، سرو "couru"د شېر یور په مقابل کې؛ناانهایتیا "د سپندارند په مقابل کې، ترو "Touru"دخرداد په مقابل کې او زریکا "Zarika "د مرداد په مقابل کې زردشت په خپله ادعا کوي چې د امشا سپندان سره یې ارتباط موندلی او د هغوی څخه یې علم زده کړی، او هم یې د اور مزدسره یې بې له کومې واسطې څخه ارتباط موندلی او د هغه څخه یې د پوهې رڼا یې تر لاسه کړېده. "

د زردشت په دین کې تجرد او ځان ګوشي کول او بدویت منع شوی او د ابادولو، ټولنې او مدنیت جوړولو، نظافت، او د کوچنیانو روزلو، د ګټورو ځارویو لکه؛ د غوایانو پسونو او کرهنې او نیالګیو ایښودل او داسې نورو ښوو چارو سپارښتنه شوې ده. "

د نجاست طهارت، د مړیو د ښخولو او نورو په باب ګټوره قوانین لري، زردشت د علومو او ادابو زده کولو ته ډېر اهمیت ورکاوه او په خپله یې د هغو په باب خلکو ته تبلیغ کاوه. "

د حضرت زردشت په هکله د پښتو اریانا دائرة المعارف د څلورم ټوک په "۲۷۲ " مخ کې په پراخه توګه نورې څرګندونې هم وړاندې شوې دي، چې دغه څرګندونې لا په ډېرو مخونو کې د هغه کتاب په پرله پسې توګه لوستلی شو:

دادي هغه څرګندونې:

اویستا: په پهلوي ژبه ورته "پستاک " یا "اوستاک " وایي او په عربي ژبه کې یې وستاق "بولي، د اسلامي تاریخ پوهانو د روایاتو په مطابق، دا کتاب اصلاً یوویشت کتابه یا نسک دي چې د شریعت پر احکامو، اخلاقو ،نجوم، هیئت، تاریخ او فلسفې باندې مشتمل دی،

د طبري او مسعودي، د روایاتو په مطابق دغه پورتني موضوعګانې د غوایانو پر دولس زرو پوټکو لیکل شوي دي، او ټول د یوه سرې له خوا او په یوې معینې زمانې پورې اړه نه لري، او هغه څه چې اوس په لاس کې لرو د اصل اوستا په نسبت ډېر مختصر دي، د اوستا کتاب پر لاندینو مهمو برخو ویشل شوي دي. "

۱- "ګاتها " چې په سانسکریټ کې ورته "ګیتا " وایي، عبارت له اولس سرودونو څخه دي چې جمله پر دوه اویا "۷۲ "یسنا " چې نیائیش او ستائینې معنی لري، مشتمل دي. "

۲- واما "وندیداد " د اوستا له اجزا و څخه یو ټوک دی چې پردوویشت فصلونو ویشل شوی او هر ټوک یې له بیلو بیلو موضوعاتو څخه بحث کوي. "

۳- وما "یشت " پر څلورویشت سرودونو مشتمل دی، دغه سرودونه عالي خلقت او یوه برخه یې د ملي حماسو لرونکې ده. "

۴- واما "ویسپرو " څلورویشت فصله لري چې عبارت له انواعو او آدابو څخه بحث کوي. "

د اویستا د ژبې نمونه: د اوستا د ژبې نمونې په حیث د "ګاتا " د یوې ټوټې متن او ژباړه د "یسنا آغاز ۲۹ شماره وړاندې کوو. "

دلته د غوایي سا "روح" او "اشاسپندان" یعنې; خواجګان" او "جاویدان" ته د وګړو له ستمګاری څخه ګله کوي چې د هغه "غوئي" په پالنه کې هڅه نه کوي، او له هغه سره له کلک زړه څخه کار اخلي، او له پاتې سندرو څرګندېږي چې څرنګه چې غواتړ نه لري، د وګړو تېری به پر هغه پاتې شي. "

زردشت په خپله له "امشا سپندان " څخه شفیع کېږي "څو "غویي "زور آور ملاتړ وکړي. "

خشمیبیالویش او رواکرژدا - کهمای ماثور وژدم; که ماتشت

آما یئشمو.هنرس.چا- "رمو "اهینیا " درشي چې، تویش چا

نویت، مویو واسنا ، خثمت،رینو-اثا.نوي،سننا ،وهو. واستریا
لفظي ژباړه:
ستاسو په وړاندې د "غویي "ساګله وکړه- د چا لپاره دې پیدا کړی یم؟
چا جوړ کړی یم؟ چې قهر او ډډې او کلک زړه- ستمګاري ډېر سخت پر
امار اخیستی.
پرته له تاسې څرنګه چې نه لرم شپون- ماته راکړې څر ورشو ډېرښه.
د لاپسې معلوماتو په توګه د پښتو اریانا دائرت المعارف شپږم ټوک
په "۹۸ "مخ کې داسې لولو. "
رګ ویدا: آریایي معلوم سرودونه "ویدي" یا یوازې د "ویدا " په
نومونو یادېږي. "
"ودا " په اصل کې د پوهې او علم په معنی دی، دغه سرودونه د
لرغونتوب او مذهبي موضوعګانو له مخه په څلورو مجموعو یا
کتابونو ویشل شویدي، چې تر ټولو لرغوني او مهم کتاب
یې "ریګویدا " یعنې پاک او مبارک علم نومېږي، دغه کتاب د ادبي
درجو، جغرافیایي او نیم تاریخي مثالونو له مخې د هندوکش په
سویلي سیمو یعنې ختیځ افغانستان پورې اړه لري "رګ ویدا "۱۰۲۸ "
سرودونه لري چې په عام ډول په لسو ټوکونو او برخو او یا په "ویدي "
اصطلاح کې په لسو ماندولو; یعنې دائیرو ویشل شوي دي. "
چې دغې هرې برخې ته د "کورنۍ کتاب " هم ویل کېږي، که څه هم په
عام ډول د "رګ ویدا " لس ټوکیزه سرودونه بیل بیل دي او شریک
خاصیتونه، نه لري خو بیا هم له دوهم ټوک تر اوم توک پورې شپږ واړه
ټوکونه یو تربله ځینې مشابهتونه لري، چې د ټولو مرکزي بنیادورځنی
څرګندېږي. "
د سرودونو شعرونه جلا جلا وزنونه لري، دنظمونو مسرې یې۸-۱۱-۱۲-
سیلابي دي. "
د "رګ وید " وینا تر یوې اندازې سخته او ګرانه ده او خاص اصطلاح

ګاڼې لري خو سره د دې هم خوږو تشبیهاتو ، په زړه پوې بیانونو ، ښکلو مثالونو او نویو تخلیلاتو په کې پوره ښکلا او خوند پیدا کړی دی، "رګ وید " درې نورو کتابونو او د "ویدي "عصر نه وروسته ادبیاتو هم ورځینې الهام اخیستی دی، او ډېر مطالب یې ورنه اقتباس کړي دي، د "رګ وید " د سرودونو مجموعه یوازې هم د څو پېړیو یوه پانګه ده چې نوې او زړې برخې لري، او په دغه وجه یې \ په ژبه او عبارت کې هم توپیر او بدلون موجود دی، په نویو سرودونو کې دکومکي تورو استعمال زیات شوی دی، په زیاتو ځایونو کې د "ر" پر ځای د "ل" توري راغلي دي. "

ځنډني په کې کمې شوې دي، او ځینې زاړه لغات له استعمال نه لویدلي دي، د "رګ وید " د سرودونو لرغوني دوره چې زیاته د ختیځ افغانستان په خاورې پورې تړاو لر ي د "شاندا " د زمانې په نامه بلل کېږي، او نوی دوره یې چې د ((سند )) نه پورې غاړې سیمې سره ارتباط لري، د ((مانترا )) په نامه یادېږي د ((رګ وید )) د زمانې د تاریخ ټاکلو کې جلا جلا نظریې موجود دي، خو تر ټولو پخوانۍ دوره یې چې: د "شاندا " عصر ورته وایې د "۱۵۰۰ "ق م شاوخوا ګڼل شوی ده، چې له موجوده وخت نه درې زره کاله پخوا زمانې ته رسېږي. د ویدونو درې کتابونه; سام وید ، یجوروید ، اتروید ، نومېږي، لومړی کتاب د ساز او تال په باب کې دی. دوهم د قرباني د دعاګانو په بار کې دي. "

او دریم د جادو او طلسم کتاب دی چې د آریایانو د هجرت نه وروسته د پنجاب په خاوره کې مینځته راغلي دي. "

د "رګ وید " د دغو درې واړو کتابونو په منځ کې د ژبې، ادبي اړخونو او مضمون له حیثه ډېر توپیر موجود دی، د زمانې له پلوه هم په کې نېژدې زر کاله فاصله اټکل کېږي. "

د "ویدي " وروسته ادبیات د برهمانه، او پنشاد ، او سوترا په نومونو یادېږي، چې دسانسکریټ د ادب حماسي عصر بلل کېږي، دغه

ادبیات زموږ د هیواد نه دباندې مینځته راغلي دي، د "ویدي "سرودونو د ځای په باب د اریانا دایرت المعارف د دریم ټوک په "۲۴۰" مخ کې داسې لولو: "

"رګ وید " آریایي ښکاره سندري د "ویدي سندرو " یا محض د "ویدي "ودا " په نامه یادوې. "

"ودا "په اصل کې د "پوهې "او "معرفت "معنا لري او دقدامت او دیني موضوعاتو له مخې په څلورو مجموعو یا کتابونو ویشل شوي دي، چې یې تر ټولو څخه لرغونې او مهم د "رګ ودا " یعنې "سپېڅلي پوهې "په نامه یادېږي او د ادبي مراتبو اوجغرافیایي او نیم تاریخي امثالو له مخې د هندوکش جنوبي، ورشوګانو او مشرقي افغانستان سره ډېر زیات اړیکي لري. "

"رګ ویدا " ۱۰۲۸ " سندرې لري چې یې په عمومي ډول سره په لسو برخو او یا د "ویدي " اصطلاح سره سم په لس "ماندالا " یعنې؛ دائیره، ویشلي دي، او هر یوه ته د "کورنۍ کتاب " هم وایي که څه هم چې په عمومي ډول د "رګ وید " لس برخیزې سندرې ګډ خواص نه لري، بیا یې هم هغه شپږ کتابونه چې عبارت دی له دوهم څخه تر اومه پورې څه نه څه ورته والی سره لري او د نورو برخو مرکزي بسته ورکوي. "

د سندرو د اشعارو وزنونه مختلف او د منظومو مسر یې ۸-۱۱-۱۲ سیلابه وي، د "رګ وید " خبرې تر یوې اندازې پورې مرموزي او پیچلې او خاص اصطلاحات لري، نو یې ځکه د بیان لطف او دبدیع التشبیهات او ښکلي مثالونه او د خدایانو، نومونه او خبرو بدیع تخیلات ډېر ښکلي او له کیفه ډک کړي دي. "

"رګ وید "او پاتې ادبیات وروسته د "ویدي " عصر څخه له هغه ځینې الهام اخیستی دی، او ډېر مطالب یې اقتباس کړي دي. "

د "رګ وید " د سندرو مجموعه په تنهایي سره د څو څو پېړیو محصول دی، او نوې او زړې برخې لري، چې یې ژبه هم په همغه تناسب سره بدله

شوې ده، د نوموړو سندرو په نویو برخو کې دعلت د تورو استعمال زیات شوی دی، د "ل" تورې په زیاتو ځایونو کې د "ر" ځای نیولی دی، وقف لږ شوی دی او ځینې لرغونې "قدیم" لغات له استعمال څخه لویدلي دي، د "رګ وید "د سندرو لرغونې برخه زیاتره د افغانستان په ختیځ پورې اړه لري، د "شاند " د عصر په نامه اونوي دورې یې چې د "سندهو " د شرقي ځمکو په شاوخوا پورې اړه لري، "ماتر"بلل کېږي، د "رګ وید " د عصر د تاریخ تعین د اراوو په اتفاق ډېر زیات متبائن اشکال او نظریات لري، په متوسطه ډول سره یې دېره قدیمه دوره چې د "شاندا " عصر ده پخوا له "۵۰۰"ق م څخه بولي چې درې نیم زره کاله پخوا له نن څخه ده د "ویدي " درې نور کتابونه عبارت دی، د "سام وید " یجروید " او "تروید " څخه چې لومړی یې د آهنګ او نوا کتاب دوهم یې د قرباني او دعاګانو کتاب او دریم یې د طلسم او کوډو کتاب دی، چې وروسته د آریایانو دهجرت او استوګنې څخه د پنجاب په خاوره کې مینځته راغلي دي، د ژبې مضمون او ادبي ملحوظاتو له مخې د "رګ وید " او دغو دریو کتابونو ترمینځ ډېر زیات توپیر موجود دی، د وخت له مخې یې هم په متوسط ډول سره زر کاله فاصله په منځ کې موجوده ده، وروسته له "ویدي " څخه ادبیات، برهمانیان، یوپانیشاویان، سوترایان او نور دي، چې د سانسکریټ عصر حماسي ادب بلل کېږي، او دباندې زموږ د هیواد د ادبي حوزې څخه مینځته راغلي دي. "

د "ویدي " سندرو ځای، "ویدي " سندرې د ژبې له مخې او د شعر د فن له مخې د افغانستان د ادبیاتو د تاریخ مقدمه ده او ددې ادبي تاریخ تمهید په هغې سندرو باندې شروع کېږي، چې د هندو اروپایي له ډېرو لرغونو او اصیلو ژبو څخه انشا شوې ده "واکو "سندرو د معلومو سندرو پیش آهنګ د هندوکښ په شمالي سیمو کې د شاعرانو د قریحې په روزنه کې دېره زیاته اغیزه لرله او سبب شولې چې د دغو

غرونو سلسلې په جنوب کې یو نوې ادبي دوره شروع شي. "
په دې ترتیب د "ویدي " ادبیاتو سیمه هغه خاورې دي چې لږ تر لږه له کاپیسا څخه تر پنجاب پورې پرتې دي، ددې مجموعې ډېره لرغونې برخه یعنې; د "ریګ وید "سندرې او په تېره یې بیا قدیمي برخې د هندوکښ او سپین غر په درواو د افغانستان د مشرقي او جنوبي برخې د سیندونو په ورشو ګانو; "ګندهارا "او "پختیا "کې ویل شوي دي، او په دې اساس باندې ویلای شو چې د ادبي روح تجدید او د "ویدي " اریایي سندرو انشا د "کابل "کوبها "ګومل "ګوماتي "کرم "کرومو "سوات " سواستو ، په درو کې مینځته راغلي دي. "
او ددې سمسور او شنو درو او سیدونکو "ریشي " ګانو د خپلو متقدمینو ادبي او عنعنوي خاطرات داسې نوي کړي دي، چې د فکر روش، د تخیل طرز د بیان اسلوب او د ویلو شیوه یې د "ویدي " عصر د اریایي ادب سرچینه شوې ده، او د زمان او مکان په چوکاټ کې ترڅو څو پېړیو پورې او د پنجاب د شرقي برخو ترپایه پورې تعقیب شوي دي. "
نو له دې کبله د "رګ وید " لرغوني برخې چې په هغو کې په اغلب احتمال سره د هندوکښ د شمال ځینې منظومې هم شاملې دي، زیاتره د آریانا افغانستان د ویاندانو د سر شارې قریحي او لطیفي طبعي محصول دی، چې د درې نیم زره کاله پخوا په شاوخوا کې د هندو اروپایي ژبو په قدیمترنیه، ژبه یې خبرې کولی، ددې ژبې سندرې زموږ ډېر لرغونې ادبي مظهر او ریشی ګان یې زموږ د هیواد ډېر لرغوني شاعران دي. "
دغه ژبه او ادبیات زموږ د ژبې او ادبیاتو منشا په وروسته دورو کې ګڼل شوې ده، او لا هم هغې لومړۍ زمانې څخه د افغانستان د اوبو ، خاورو او د قبایلو او کلیوالي، پهلوانانو او غرونو او وروشوګانو او سیندونو په نومونو باندې ښکلي دي، د "کرومو " او "ګوماتي "د

ورشوګانو د غرنیو نجونو عشقي قیصې لکه د پروتي قیصه د پکت ها "پښتنو "الیناګانو "نورستاني "ګنداریانو د "ګندهارا خلک لکه د لسو ټبرونو جنګ د باچاهانو کارنامې لکه; پکتنه، توروایانان، اوریګودیو داسا ، د غرنیو پهلوانانو اشارت، د سوماد بوټو ټولو نه د منجوان د غرونو په خوړونو کې او په سلهاوو نورې سترې او کوچنۍ خاطرې هر یو یې د رزم او بزم د ټولنو په ډول د "ویدي " سندرې او د هغه عصر ذهنیت دی چې د څو زره کلونو په تېرېدو یې انعکاس زموږ په قومي ژوند کې تل ترتله یو راز جلوه کوي او شاعرانو، لیکوالو او قیصه ویوونکو موهمیشه ورڅخه الهام اخیستی دی او اخلي یې، "

دریمه برخه اوستایي ادب او ژبه:

زندیا اوستایي: څنګه چې د ویدي سندرو ژبه له "ګډې هندي " ژبې څخه نمایندګي کوي، زندیااوستایي ژبه هم د "ګډې ایراني " ژبې لرغونې مظهر دی او په عین زمان کې د ایراني کورنۍ د شرقي څانګې مبدا بلله کېږي او د پیدا کېدو او ودې سیمه یې د افغانستان شمالي او یا لږ څه په څېر سره ووایو شمال شرقي برخې دي، ګډې اوستایي او ګډې هندي ژبې د سانسکریټ، ویدي او اوستایي دواړو ژبو سره ګډه مبدا لرله، چې ژبپوهانو هغه د هندو ایراني په صفت یاده کړې ده، او د اکسوس د "اموسیند " په برخه یاد آریانا په شرقي برخوکې رواج لاره کوم شی چې د ژبپوهنې او ادبي تحقیقاتو له مخې د دقت وړ دی، هغه دادی چې د دواړو ژبو لومړی ادبي مراحل څه سانسکریټ او څه زند په افغانستان کې مینځته راغلي او د هندوکش په دواړو خواوو کې تېر شوي دي، د "ویدي " سندرو په مقابل کې چې پخوا وویل شول، د "زند " په ژپه کې د "ګاتونو " په نامه منظومې لرو، چې ورته والی "شباهت " و "ویدي " ژبې ته د ګډې مبدا او ویونکو دلیل دی، په شمالي افغانستان یاد "امو " سیند ورشوکې کوم شی چې دا مطلب زیاتره تائید وي، هم هغه زیاته ورته والی دی چې; د "زند " او "پښتو "

او "زند" او د "پامیر" د غلجه" غرځې" ژبوله ډلې سره يې لري."
او واړه يې نن په افغانستان کې معمولي او مروجي دي او د هندوکش درې په لرلو د "غلجه" ژبې د ډلې په شمال کې او نورستاني ډله په جنوب کې چې متقابل د آريايي ژبې ځانګې دي حتی نن هم د افغانستان مرکزيت د آيانا ژبې د کورنۍ په مقابل کې ښيي، "زند" يا اوستايي ژبه چې پرته د اوستا څخه بل اثر نه شته په کې، په هغو پېړيو کې چې "ويدي" ژپه کرپتي "غيرمانوس" کېدله او د هجرت دوام يې عموميت لړاوه، پر مخ تلله، او په اغلب ګومان يې په۱۰۰۰-۵۰۰ق م کې ترقي لرله او د مسيح د مهال د شروع په شاوخوا کې له مينځه ولاړه،او په هيڅ ځای کې رواج نه وه."
آوستا: د اوستا مطالعه د ادب له مخې داسې ايجابوي چې مخکې له هرمطلب څخه د "ګاتونو" نه خبرې وشي، اما څنګه چې "ګاتونه" پرته د حاضره اوستايي کتابونو څخه د يوه کتاب د يوه فصل نه پرته څه نه دي، نو په لنډ دول سره اوستا کليمه د يوه لغت په توګه شرح کوو، او بيا وروسته د کتاب د برخونه نومونه اخلو او وروسته بيا په اصل مطلب باندې پيل کوو."
د اوستا کليمه په مختلفو متنونو کې د "آپتاک،آوستاک،اوپستا، ابستا، افستا "په بڼو راغلي دي، او په بيلو بيلو شکلونو يې ترجمه کړې ده،ډېره مهمه نظريه يې د پروفيسور "اندراس "ده."
چې د پهلوي "آوستا "يا "آوستاک "کليمه يې له "اويستا څخه مشتقه بللی او اساس او بنسټ او اصلي متن يې ژباړلې ده، معمولاً ((زند)) کلمه په اويستا "پورې نښلوي، د "زند" د کليمې اصل له "آزاتي" څخه اشتقاق شوی او معنا يې شرح، بيان او ترجمه ده، او هغه پهلوي کتابونه ورپورې اړه لري، چې لومړی پلا "آوستا" ورباندې ترجمه شوې ده، "پازند" هغه شرحه ده چې د "آوستايي "پهلوي کتابونو د پاره په "دري" ژپه کښل شوي ده."

او "پازند " را اړولو بیا را اړولو او دوهمې ترجمې ته وایي "آوستا " عبارت له دې لاندینیو پنځو کتابونو او یا برخو څخه ده، ۱- آوستا.۲- دیپرد.۳- وندیداد.۴- یشتونه.۵- کوچنۍ اوستا چې وروسته به له هغې څخه خبرې وکړو.

ګاتونه: څرنګه چې مو اشاره وکړه،د اوستا ډېره مهمه برخه د ژبې او ادب له مخې "ګاتونه " دي چې د "یسنا " ۱۷- فصلونه داوستا لومړۍ برخه جوړوي، کوم ډېر ستر او آساسي توپیر چې یې ((ګاتونه)) د اوستا د نورو برخو سره لري، دادي چې: ((ګاتونه)) منظوم او نور یې ((آوستا)) خپل شعري رنګ د لاسه ورکړې دي، او د نثر بڼهٔ یې د ځان دپاره غوره کړې ده. "

د "آوستا " تجزیه د نظم او نثر له مخې ډېر زیات دقت غواړي ځکه ځینې نظر یې شته چې اصلاً لومړنۍ او لرغونی "اوستا " لکه "ویدي " سندرې " ټوله منظومه وه، او د سندرو په څېر ویل کېدله، لکه چې همدغه نظر یه تر اوسه هم لږ تر لږه، د "آوستا " د یوه کتاب په برخه کې صدق کوي، ځکه برسیره، پر "ګاتونو " د "آوستا " څلورم ټوک یعنې؛ "یسنونه "هم په اصل کې منظوم وو، اما شعري ترکیب یې د وروستي تفسیر او تصرفاتو په واسطه چې د "اوستا " متن ګرځېدلی، له مینځه تللی دی، نو له دې کبله یې اوس هم زیاتره جملې د مسرۍ په بڼه دي او زیاتره یې اته سیلابي او ځینې هم "۱۰ "او "۱۲ " سیلابي دي، چې که په آواز سره وویل شي، باید چې د ټولو حرکاتو په منځ کې وشي، برسیره پر دې یې شاعرانه، تخیلات او بدیع افکار د اصلي شعري پیرایي دلیل دي، په هر حال "ګاتونه " د "آوستا " یوائینی پوره منظومه برخه ده. "

د ملک الشعرا "بهار " د نظریې له مخې د "ګاتونو لغوې معنی هم سندره ده، او د سندرې په صفت شهرت لري، د "ګاتونو "اصلي تلفظ "ګاث " دی چې په پهلوي کې "ګاس " شوی او په دري ژبه "ګاه "

ګرځېدلی دی، چې هم ظرف زمان او هم ظرف مکان دی او هم د موسیقي د آهنګ په معنی راغلی دی، "ګاټونه "د ټولو مدقیقینو د نظر یې سره سم د "آوستا " له ټولو برخو څخه برخه ده. "
چې قدامت یې ژبه او د کلیمو بڼه او د خبرو ترکیب ثابتوي، او د "ډار منستیټر " په عقیده یې زیاتره لغات په عامیانه زندګي کې له مینځه تللي دي، او یواځې ورته والی "شباهت "یې د هند په ډېره لرغونې یعنې "ویدي " ژبه کې پیدا کولی شو. "
"ګاټونه " د افغانستان د ادبیاتو په لرغوني تاریخ کې د ژبې، کلیمو او بیان له مخې ډېر زیات اهمیت لري، او یوه حلقه ده چې "ویدي " ژبه او ادب یې د عمومي ((اوستائي ) ) ژبې او ادب سره نښلوي او ښیي چې د ((وید ) ) ریشي. نیکونه او د "ګاټونو "ویوونکي په یوه ټاکلي ځمکې کې چې عبارت وه د هندوکش د شمال او جنوب د شاوخوا ځمکو څخه یو ځای او سېدل او د زمانې تېرېدلو او د وخت ایجاباتو یې د اولاد په ژبه کې تحول راوست، اما سره د "ویدي " او "اوستا " دنومونو دتوپیره، هم لری والی نه سره لري، او په لږ صرفي او نحوي اصولي مراعاتو او تلفظ سره کولای شو چې د یوې منظومې پارچې د بلې په څېر کړو. "
"ګاټونه "مرکب له پنځو منظومو څخه دي، هره منظومه یې ځانله فصلونه لري، چې هغوی ته "ها " وایي هر "ها " په قطعو او مسریو وېشل شوي دي، چې لومړي ته یې "وجس تشتي " یعني; د شعر ټوټه، قطعه "پاړکۍ " او دوهم ته یې "افسمن "وایي ددې کلیمې معنی مقیاس دی او ادبي مفهوم یې یو څه کلیمې دي چې له هغو څخه یوه مسرۍ جوړېږي، د "ګاټونو " پنځه ګونې منظومې په دالاندې ډول دي. "
۱- "آهون ویتي " یاد مولاسندره، چې مرکبه ده له اوه "ها " څخه او هره "ها "د عدد له مخې مختلفې پاړکۍ لري او هره مسرۍ "۱۲ " سېلابونه لري ".

۲- "ګاتهونه" اشتاويتي "يا د سلامتي سندره چې مرکبه له څلورو "ها" څخه ده او د هرې "ها" مختلفې پاړکۍ پنځه مسرۍ او هره مسرۍ پنځه سيلابونه لري."
۳- "ګاتهونه" سپنتا مينو، يادسپيني پوهې سندرې "داګاتهونه" څلور "ها" لري او مسرۍ يې يوولس سيلابي دی."
۴- "ګاتهونه" وهوخشتريا" ياد ښکلي مينې او قدرت سندرې چې يوه "ها" لري او مسرۍ يې "۱۴" سيلابي دی."
۵- "ګاتهونه" وهيشتوات، ياد غوښتنې او شتر سندره چې۹ پاړکۍ دي او هره پاړکۍ دوه مسرې لري، دا مسرۍ لنډې او اوږدې دي، لومړۍ يې "۱۲" سيلابونه او دوهمه يې "۱۹" سيلابونه لري، همدا دول "ګاتهونه" ۲۲۸" پاړکۍ او "۸۹۲ "مسرۍ لري برسيره پر دې "۴۰" پاړکۍ يا "۱۲۰ "مسرۍ نورې هم په اوستا کې شته چې واړه يې "آوستايي" منظوم ادب جوړوي، د "ګاتهونو" د سندرو موضوع مذهبي هدايات او لارښوونې دي، چې يې فهم د اوستا "تر نورو برخو ګران دی،زياتره لغات يې د لرغوني کتاب په پاتې برخو کې نه ليدل کېږي، او شاعرانه تخيلات يې جړ مرموز کړي دي."
نوی او زړه اوستا، د بيلو بيلو مدارکو له مخې داسې ښکاري چې اصلي او لومړنۍ اوستا تر هغه اوستا چې نن مو په لاس کې ده مفصله او ستره وه، هر ميپوس "ميلادي" لومړۍ پېړۍ" يې دوه ميليونه شعرونه بولي."
مسعودي "متوفي۳۴۶هجري "يې په مروج الذهب کې "۱۰۱۲" ټوکه کتابونه شميري چې د طلا په اوبو ليکل شوي وو، طبري د اوستا له متن څخه "۱۲" زره غوايي د پوستکو پر مخ خبرې کوي، لرغوني اوستا د باختري اوستا سره د مختلفو حوادثو له مخې لکه; د سکندر اخوډب، او سوبې "فتوحات" خپرې او تيتې شوې، د اوستا ټوټو ټولول څه له خاطرو او څه له پاڼو څخه او تدوين يې له "ولخش اول"

پارتې " د مسیحي لومړۍ پېړۍ ثلث "ځخه شروع اود ، ارد شیر او لومړی شاپور تروخته پورې یې دوام لاره، او هغه څه چې لاسته راغله د لرغونې اوستا په اصول پر برخو وویشل شو، د ساساني د وخت او ستا "وست West انګلیس " ۲۴۵۷۰۰ " کلیمې اټکل کړي دي. "

او وروسته د عربو د یرغل ځخه یې زیاتې تر "۸۳۰۰۰ کلیمو باقي نه دي پاتې، د پنځو کتابونو یا اوستا د برخو نوم مومخکې واخیست اوس یې فصلونو ویشنه او د هر یوه د متن ګټې بیانوو. "

۱- یسنا "د اوستاډېره مهمه برخه ده او "۷۲ "فصلونه یا "هایتي

" لری " ګاتونه "یې په مجموعي ډول سره "۱۷ " فصلونه جوړوي. "

"یسنا " چې اصلي تلفظ یې "یسن دی، د پرستش او لمانځنی "ستایش " په معنی راغلي دي او د مذهبي مراسمو په وخت کې لوستل کېدو. "

۲- ویسپرد "د "یسنا " د ملحقاتو یوه مجموعه ده او د دیني مراسمو دپاره ترتیب شوې ده.

واړه فصلونه یا "کرده " ګان یې په صحیح ډول سره نه دی معلوم او "۲۳ " او "۲۱ " یې شمیرې ۳- "وندیداد " چې عمده مطالب یې مذهبي دي، او "۲۲ " فصلونه لري، چې هر یوه ته فرګردیې د "یما " یا جمشید له داستان ځخه غربیږي او دادوه فصلونه کولای شو چې د اوستا یا اریانا د عصر د آریا نشین هیواد جغرافیایي او تاریخي فصلونه ولولو. "

۴- یشت " د "یشت " لغوي مفهوم هم لمانځنه ده، او د "یشتونو " شمېر "۲۱ " ته رسیږي. "

"یشتونه " څنګه چې پخوا هم وویل شول د خپل اولي شکل په اصل کې لکه؛ "ګاتونه " منظوم وو، څنګه چې یې موضوع عموماً داستانونه او د پهلوانانو او پاچاهانو د کارنامو شرح ده، نو له دې کبله د ادب له مخې هغه "حماسي قصیدې " بللی شو، "یشتونه " اوس هم لکه "ګاتونو " غوندې په پاړکیو ویشل شوي دي، او شعري ترکیب یې که

څه هم چې ګډ وډ شوي دي، اما جملې يې عموماً "۸ " او "۱۲ "سيلابي دي، او د نظم پيرايه يې هيڅ د لاسه نه دي ورکړي. "
**۵**- وړکی اوستا: يا کوچنۍ اوستا "يوه باالکل نوې مجموعه ده، چې د دوهم ساساني شاپور "۳۱۰ "۳۷۹ "ميلادي په مهال کې د "اذرمهر اسپند " له خوا داوستا د نورو برخو له مخې انتخاب، تلخيص او تدوي شوې او دورځيني عبادت او مذهبي اخترونو مخصوص دعا وې دي. "
اوستا او حماسي ادب: له هغې ورځې چې د ادبئ او تاريخي تتبعاتو او پلټنو په شق کې د متلونو، کيسو، د استانونو او لغاتو د پرتله کولو "مقايس " اصول مينځته راغلي دي، دا عقيده څرګنده شوې ده چې د هندو اروپايي اولسونو روايات او داستانونه څه رزمي او څه غير رزمي غونډ يوه ګډه مبدا لري، چې لومړی مراتب يې بايد نوموړی قوم په ما قبل التاريخ ژوندانه کې و، پلټهو، البته د داستانونو پرتله کول د هندو اروپايي مهاجرينو د ځانګو په منځ کې ځانته نسبت لري، چې د قومونو د مهاجرت د عصر د داستانونو او تاريخ له اصلي ظهور سره توپير لري، په هندوارو پايي قومونو کې څنګه چې د هندو ايراني ډلې د ژبې او ادبياتو اثر زيات پاتې دی، روايات، زاړه داستانونه، عنعنوي اساطيري کيسې هم د همدې کورنۍ په ژپه او مذهبي کتابونو کې منسشايي د لويې "پښتونخوا "خاوره ده پوره ساتل شوې او پاتې دي. "
سانسکريټ يو لړ داستانونه لري چې له ميتولوجي "ارباب الانواع کيسې " څخه نيولي، رزمي کيسو او افسانو ته رسيږي، د "ويدي " کيسو سره سره له دې هم چې يې د يو شمېر منشايوه ده ډېر زيات توپير لري. "
لومړی: د اوستا داستانونه زياتره ميتولوژي بڼه لري، او په اوستا کې بشري پهلوانان ډګر ته راوتلي دي. "

دوهم: اوستايي د استانونه عموماً تسلسل لري او "ويدي " کيسې لنډې او تيتي دي. "

دريم: اوستايي داستانونه حماسي او رزمي بڼه غوره کړې ده، چې ددې روح سرچينه هم هغه ديني معتقدات دي چې داوستا پيروان يې د هر ډول مادي، معنوي، محيطي او آفاقي مشکلاتو دپاره تيار کړي و. "

د "اوستا " د استان ويلو مميزه کرښې همدا ډول رزمي اوحماسي دی، چې تاثير يې زموږ د هيواد په ادبي دورو کې تل ليدل کېږي، د اوستا د پنځو برخو د جملې څخه پرته، د "وړکی " اوستا يا "کوچنی " اوستا څخه چې يو نوی شی او د دعا و ، او لمانځه مصحف دی او د "ينسپرد " چې زياتره مذهبي ښودنو جنبه لري، باقي نوردرې مهم ټوکونه يعنې " ونديداد " او "يشتونه " او "يسنا "سره له نقله د داستاني رواياتو او پاچاهانو او پهلوانانو د نومونو او جنگي صحنو رنگيني رزمي کيسې دي، "يشتونه " نسبت ونورو دوو کتابونو ته د عنعنوي رواياتو په شرح کې شتمن دی، او کولی شو چې دهغه د رزمي داستانونو يو لړحکايات ياپه بڼه دول سره ووايو، يو لړ حماسي قصيدې وبولو، او څنگه چې مو وويل; په اصل کې د شعر په قالب کې هم ويل شوي وي، له دغې جملې څخه "۲۱ " لاندې "يشتونه " دداستاني رواياتو له مخې زياتره د ملاحظې وړ دي; "

۱- ابان يشت "۵يشت " تيريشت " گوش يشت "۹يشت " فرور دين يشت "۱۲يشت "رشن يشت۱۲ يشت " رام يشت " زمياد يشت "۱۹يشت " ارد يشت "۱۷ " يشت ".

پورته مو وويل چې د اوستا داستانونه مسلسل او ملي او محلي رنگ لري، نو يې له دې کبله روايتونو د نيمگړي تاريخ بڼه د ځان دپاره غوره کړې ده. "

او د اکسوس "آموسيند " اندوس "اباسيند " او هامون سيستان "ترمنځ داريا اوسيدونکو د هيواد يعنې د لرغونې اريانا د استاني تاريخ

باندې ورسره شروع کېږي، اوستا " د خپل نیم تاریخي او حماسي ادب له مخې د افغانستان په تاریخ کې ډېر زیات اهمیت لري او روایتونه او د پادشاهانو او پهلوانانو، نومونه او د دوی جنګي کارنامې چې زیاتره ددې جنګونو دامو سیند د دوارو خواوو د آریایانو او توریایانو ترمنځه دي، د هیواد په ټولو ادبي دورو کې او د هم هغه عصر په مقابله ژبو کې څه ساساني پهلوي څه پارتي پهلوي. "
څه سغدي او څه "دري " ډېره زیاته اغیزه لري، او د حماسي روح شدت یې تر څو چې په دریمه او څلورمه هجري پېړۍ کې خراساني شهنامه لیکوونکو خپل حماسي شهکارونه په بلخ،طوس او غزني کې ډګر ته راوښکل. "
د ځایونو د نومونو منشا او یادونه; د افغانستان د محلي نومونو د مطالعې څخه مطلب څه په "ویدي " سندرو کې او څه د "اوستا " په برخو کې چې دلته څو مخونه ورته وقف شوي دي. "
د هغو د ادبي نومونو د منشا لنډه مطالعه ده چې په دا دري نیم زره کاله یې دوام کړی دی، "اوستا د ارضي مطالعاتو له مخې د اریائینانو د ښکلي ځمکي او د خپلو پیروانود ټاټوبي چې حدود یې د پخواني آریانا او ننني افغانستان سره باالکل منطبق کېږي. "
چې ښودنې "معرفي " ته ډېر زیات اهمیت ورکړی دی او په دې خاوره کې د غرونو د څوکو او سلسلو، سیندونو، نهرونو، د پهلوانانو د قربانۍ د ټاټوبو، د دوی د کړو وړو، د صحنو او طبیعي او معینو ممیزاتو سره پېژندګلوي لري او مطالعه یې برسیره پر تاریخي، جغرافیایي او سیاسي ګټو د زیاتره کلیماتو ریښې ښکاره او ددې زړې خاورې قدامت معرفي کوي، "وندیداد " او "یشتونه "یعنې د "اوستا "۳ او "۴ "برخې څنګه چې د داستاني روایاتو له مخې مهم دی د محلي خاصو نومونو په یادونه کې هم دېر زیات اهمیت لري،د "وندیداد " لومړی فرګرد په لاندې ډول "اوستایي " ۱۲ "قطعي ښکلي د

اريائيانو د هيواد يا اريانا ځمکه تصويروي، چې افغانستان تماما په کې داخل دی، "زمياد ليشت" او "هوم ليشت" با العموم ددې شکلې ځمکې له سيندونو او غرونو څخه خبرې کوي، د "اوستا" د متونو د ترتيب د مراعات او ځای ځای کلو څخه ځينې مشهور او مهم نومونه د مثال په توګه يادوو. "

"بخدي" په "ويدي سندرو کې د "بهليکه "په بڼه راغلي دي، او په پهلوي ادبياتو کې "بخل "شوی دی، او په دري ژبه کې "بلخ" دی، د "مرو "او مرغاب په جغرافيايي مفهوم کې د مرغاب حوزه شامله ده، مرغاب په اصل کې "مرواب" يعنې؛ د "مرو اوبه "ياد "موررواوبه" و، او د "مرو" تلفظ د "مور" په صورت او "موری "صفت "اوستايي بڼې ته نيژدې دی. "

هرې او هرې؛ د "هـ" په فتحه او د "ر" په کسره يا "هري" د "هـ" په کسره او د "ر" په فتحه، اوس هم معمول او متد اول دی، اما څرنګه چې اصل کې له هغه څخه منظور د "سيند" حوزه ده، نو يې "اوستايي ريښه تر اوسه هم په "هري رود "کې پاتې دی، هرات "هم له همدې کليمي څخه جوړ شوی دی، او "هري" ښار يې هم بولي او د "هروي "صفت لکه "دورې" ددې کليمي اصل "اوستايي، بڼې ته نږدې دي. "

هراويتي؛ سواسويتي "ويدي" چې يې "س "د زند او "ويدي" ژبې د رږغ پوهنې سره سم په "هـ "بدل شوې او عبارت د ارغنداب او د هغه د حوزې څخه دی، په اوسني نامه کې يې پرته د "آب "څخه د "ارغند "کليمه ليدله کېږي چې "تيز "خشمګين "او "تندرو "معنی لري. "

"هيتومنتا" په "بنداهش" کې په پهلوي ژبه د "هتومند "په بڼه راغلی دی، او هيرمند او هلمند يې اوسني شکلونه دي. "

يو پائي رې سنا؛ ياد عقاب د الوتنې څخه لوړ غر، يعنې د هندوکش سلسله ده. "

دا کلیمه مرکب ده، له دري برخو څخه، یو پا "یعنې پورته "یې ري " طرف "سنا " د "میرغوسنا "مخفف یعنې؛ سیمرغ چې یې معمولاً شاهین " او یا عقاب ترجمه کوي ددې برخو ګډه معنی؛ د "شاهین "له الوتنې نه "پورته " کېږي. "
او د جغرافیایي خاص نامه په حیث د آریانا د یو لړ لوړو غرونو یا "هندوکش "په برخه کې استعمالیدو، د "اوستا " تسمیې په "بنداهش "کې په پهلوي ژبه د "اپاراسین "بڼه غوره کړې ده. "
"اپار " هم هغه "اوستایي " یو پار " دی چې په "دري "ژبه کې "پار "شوی دی، او "ماورا " هغه خوا معنی ورکوي، او "سین " هم هغه د "سنا کلیمه ده. "آپاراسین "د ادبي ترکیب له مخې، په پهلوي ژبه کې زیاتره متمرکز شوی دی، اما ادبي مفهوم یې توپیر نه دی کړی. "
سپیته ګوناګري؛ د سپین غر "اوستایي "شکل دی، د افغانستان په ختیځ برخو کې د "ګنداهارا " او "بختیا "د ولایتونو ترمنځ واقع شوی دی، دا نوم هم دري برخې لري، سپته یعنې؛ سپین" ګونا " ګیري "یعنې؛ غر چې پښتو کې اوس هم د "کوه "په معنا دی، سپیته ګوناګیري "سپین ګونه غر " معنی لري، او پښتو کې د "سپین غر " په تسمیه کې "اوستایي ته نیژدې تلفظ ساتلی شي. "
سیا مکه؛ په بنداهش کې "سیاک رومند " شوی دی او عبارت د "تورغر " څخه دی چې د "هریرود "د حوزې شمال شرقي خواته پروت دی. "
وفریانت؛ په بنداهش او پهلوي ژپه کې "وفار اومند "راغلی دی او معنایې د "واورې غر " دی، په پښتو کې "واوره " د "برف " معنا لري، او څرنګه چې "دواورې "غر د "تورغره "په مقابل کې راغلي دي، او د بنداهش د متن له مخې دواړه د "اپارسین "یعنې "هندوکش " له سلسلې څخه جلا شوی دی، مقصد له "دواورې غر "څخه سپین غر دی چې تر اوسه په همدې نامه یادېږي پورانا؛ پروان چې د "اوستا "په متن

کې د کوتل په مفهوم او معبر او درې استعمال شوی دی. "
په داسې حال کې چې یې ځینې حروف منقلب شوي دي، تر اوسه په همدې معنا موجود دی،او زموږ په حکومتي تشکیلاتو کې په همدې تاریخي نوم باندې مسمی شوي دي. "
ستیراوتیرا؛ ځینې مدققین په دې نظریه دې چې "ستیرا "عبارت دی د "تیرا " څخه او ددې علاقې په خورا لوړ غره باندې د لالت کوي، ځکه په لسمه سینا کې د "ستیرا "د ستار او سارا " راغلي دي، او داسې معنی ورکوي؛ "ستیراغر "چې سر یې په غره لګیږي "په "زمیادیشت کې "د غرونو په قطار کې یو غر د "تیرا "په نامه هم یاد شوي دي. "
اریانا ویجه؛ د آمو سیند او د سردریابره حوزه او د "اوستایي "ښکلي خاورې لومړۍ قطعه ده، دانوم مرکب دی له"ایریا "یعنې؛ اریایي "ن "نښتی توري "حروف " دی"ویجه " چې مسکن او تخمګاه معنی لري، وروستۍ کلیمې "ویجه "د قندهار په پښتو کې تر اوسه هم خپل مفهوم نه دی ورک کړی، د ائیتا ، د آمو رودخانه ده، دارودخانه د "ایرناویجه "سره یو ځای په "آوستایي آئین " قوانینو ته اشاره کوي، چې یې ترڅنګه په باختر کې منځ ته راغلی دی، په پهلوي "دائتیک " یا "دائیتي " شوې په ځینو وختونو کې د "ونګویي "ضعت هم ورپورې تړل شوي دي، چې د "وه "به "او "نیک "په معنی دی، او پردی اساس څنګه چې پور داود په لومړي ټوک د "سینا "کې شرح ورکړې ده، د آمو سیند په منځنیو پېړیو کې په پهلوي کتابونو کې د "وروت" او "بهروت "په نامه یاد شوي دي. "
همدارنګه دافغانستان د ولس دادیانو په هکله د اریانا دائرة المعارف دریم ټوک په "۴۱۲ "مخ کې داسې راغلي دي. "
د افغانستان ادیان؛ تر هغه ځایه پورې چې د اریایي پخوانیو وثایقو، تاریخ او د کتنو او د لرغونو شیانو د پېژندلو له تحقیقاتو څخه معلومیږي، د پخواني افغانستان یاد آریانا اوسیدونکي تل دیندار ه

خلک وو ، او له هر آئین سره چې په خپله په مملکت کې دننه پیدا شوي دي او یا یې له د پاندې څخه سرایت کړی دی، ډېره مینه ښکاره کړې ده، خپل او د خپل محیط د عقیدې او آټکل انځور یې په هغه ائین کې کیندلی دی، د هغو تحقیقاتو له مخې چې د آریانا په غربي او جنوبي برخو د اندوس او بلوچستان په علاقو کې شوي دي لکه; چې "اوپرت " نظر یه ورکوي داسې معلومېږي چې;دین د آریایانو تر ظهوره پخوا لوړ مقام درلود ،ددغه ځای اوسیدونکي له آریائیانو څخه پخوا د یوه آسماني ذات او د یوی الهی مفکوره په خپلو ماغزو کې درلود. "
دغه دواړه خپلواکی "مطلق العنان "وو "او د بشري او دنیایي ټولو ښېګڼو او بدیو واکمن ګڼل کېده. "
الا هه مور، یا ستره مور; د اندوس او بلوچستان د حوزې د کلکولتیک د دورې په شیانو کې د ښځو یو شمېر ډېر هیکلونه پیدا شوي دي، چې ځینې یې ښایي د لوبو د سامونونو جز وي، خو ځو نور یې په ټینګه سره په ذکر شوي ډله کې نه ګڼل کېږي. "
عموماً لوڅې او نیم تنه دي او متعد دي غاړکۍ "ګلوبند "لري، هغه توپیر چې د بلوچستان او سند د ناوې په مجسمو کې شته،. هغه دا دی چې; په بلوچستان کې یې زیاته برخه ددغه هیکل سرښودلی دی، او دهغه بڼه ډېره بدقواره ده، دغه هیکلو نه یې "الاهه مور " تعبیر کړي دي. "
څرنګه چې دوی په دې عقیده وو چې ددې آلهي نیمه تنه تر ځمکې لاندې ده نو دغه هیکل یې همیشه نیم تنه خرګند اوهمدغه ډول مجسمې د آسیا د غرب له برخو نه له فارس نه نیولې دایجي د بحیرې تر سواحلو او همدغه رنګه له اعیلام بین النهرین، کمکۍ، اسیا ،شام، فلسطین، قبرس، بالقان او مصر نه هم پیدا شوي دي، خو په هر ځای کې په لږ توپیر سره ښودل شوي وي. "
مګر هرچېرته هماغه "الاهه مور " یاد "طبیعت مور "مجسموي، د "الاهه

مور " لمانځنه په آریانا کې د کلکولیتیک په وخت کې تر دوه وو زرو کلونو ق م، پخوا رواج او عمومیت درلود ، او ښايي ځینو مظاهرو د هغې په شان له هغې دورې نه په وروسته دورو کې دوام کړی وي. "
ځکه چې "موسیو کرل " په۱۲۱۷هجري کال کې دشهربانو ،کنډوالو څخه دتا شقرغان"پخوانی خلم"دا مجسمې"الاهه مور" یا ستره مور" لمانځنه تر تاریخي، دورې پخوا د سند څخه نیولي تر نیل پورې د آسیا دغه برخه کې معمولي وو ، او سوات څخه هم کشف شوي دي، دغې ربت النوع یو نر جوړه هم درلود ، چې د پوهانو په عقیده د "شیوا "لومړنۍ نمونه تشکیلوي دی یې له څو مخونو، دوه وو ښکرونواو دریو سترګو سره ښودلی دی، او د ځارویو بادار یې باله، دده په شاوخوا کې یې تل ځاروي ښودل. "
د هغه غوايي تصویر چې د ځینو موهنجو دارو مهرو ، په مخ انځور شوی دی، د هغه غوايي لومړۍ نمونه ده، چې په تاریخي نسبتاً نویو دورو کې د "شیوا "د علایمو جز د مسکو ګاتو پر مخ استعمال شوی ده ، دغه ربت النوع د سند له حوزې نیولې د نیل تر حوزې پورې د آسیا په دغه ټوله برخه کې په بیلو بیلو نومونو "-Attis Cybele, Lois osiris Rheuama"مشهورو " او د کلکولي تیک د عصر د دیني مفکورو اساس ورباندې ولاړ و ، اناهیتا ; پخوا مو وویل چې د "الاهي مور "لمانځنه د آریائیانو پخوانی یادګار نه دی سره له دې آریایي وثایق خاص بیا "اوستا "دغې زړې خاطرې یا هغې خاطرې ورته موضوع ته اشاره کوي، د "اوستا " د شهادت له مخې واضح معلومیږي چې د "الاهي مور "یاد "طبیعت مور "مفکوري د اوبو د "الاهي " او د ځمکې د نامیي قوي شکل هم غوره کړی و ، او په تیره بیا د سردریا او د اکسوس ترمنځ برخو کې په پای کې د "اناهیتا " په نامه یاده شوې ده، "آناهیتا چې په "اوستا " کې دېر مکمل، څو ځله "اردوی سورا " آناهیتا "لیکل شوې ده، اصلاً د اوبو ربة النوع په عام مفهوم یا هغه

ډول لکه چې "کایګر" عقیده لري د اکسوس رودخانو یاد امو سیند ربة النوع وه. "

"دارمستتر" له دغې پورتنۍ "اوستايي تسميې" عالي مظهره قوه" ژباړلې ده چې له هغې نه مطلب د دغو اوبو درابهیدو طبیعي سرچینه ده چې له "هرکريا "د غره پر سره د پامير په يوه لوړه څوکه واقع ده. "

"اوستا "د "اناهيتا "د شکل او اندام او جامو په نسبت مفصل معلومات ورکوي، خو څرنګه چې دغې ربة النوع په "آريانا "کې د قبل التاريخ له زمانو څخه پخوا، نيژدې د لويو کوشانيانو د دورې ترختم پورې پيروان درلودل، پاتې تفصيل به يې په خپل ځای کې ولیکو دلته د "اوستا "په دغې برخې باندې استناد کوو چې "اناهيتا" يې د باستاني ربة النوع په حيث ياده کړې ده، او دغه مطلب له دې څخه واضح کېږي چې ټولو آرياي پاچاهانو له "يما" څخه نيولی تر "ويشتاسپه "د زرتشتر معاصره پورې او په خپله زرتشتر هم هر يوه له هغې څخه استعانت کړی دی، نو د "الاهي مور" په اريانا کې ډېره لرغونې سابقه لري، او د حفرياتو له شواهدو څخه په پرته، پخوانۍ ديني ادبيات هم له هغې څخه صحبت کوي، او "اوستا "په هغې مشخص نوم هم ايښی دی چې د دې د نورو نومونو په لړ کې ياد دېدی شي، "آناهيتا دوکتله شي. "

ويدي عناصر لمانځنې; د آريايي شفاهي ادبياتو له پيدا ايښت سره سم چې د هغو خاطرات نن ورځ دويدي کتابونو په صورت سره زموږ په لاس کې دي، عناصر لمانځنه او د طبيعي عناصرو احترام دهندوکش په دواړو خواوو کې عموميت پيدا کړ، اريايیان دډېرو طبيعي قواو او مظاهرو مجذوب وو، اوهمدغې جذبې د ژوند په لومړيو مرستو کې پراختيا وموندله، اوداسې شکل يې غوره کړ، چې هغه د "طبيعي" عناصرو و احترام، بللی شو. "

ځينې مدققين په دې عقيده دي چې په "ويدي "سرودنو کې د قبل

التاریخ د بېلو بېلو دورو، د یانتونو اغیزه کړې ده، البته دغه کار بې دخله هم نه دی، خو په پرله پورې ډول، د افغانستان "ویدي "عصر دیانت عناصر لمانځنې او د طبیعي قواو تمجید دی، چې ورو ورو د مذهبي میتولوژي خاوندان شوي دي، او هر یو طبیعي عناصرو د نامه، شخصیت او د ممیزاتو څښتن ګرځېدلی دی. "
لکه چې ډېر مشهوره یې "آندرا "د جګړې ربة النوع "وارونا "ستوري لرونکي اسمان "سوریا "او "میترا "د لمر رب النوع "اګني " د اور رب النوع اود نورو کورینو میرمن ده، لکه د باد، آسمان، ځمکه، شفق، شپه، ورځ، سهار، ماښام، په دې کې شک نه شته چې آریایي ساده او لومړني ائین په تدریجي تحول بېلې بېلې مرحلې وهلې دي، له سرودونو څخه داسې هم معلومېږي چې د ټولو ګټورو، اونوراني عناصرو مجموع ته یې "دووس پاتر " یعنې؛ "ځلیدونکي ذري "ویلي او د ټولو مافوقه ځلیدونکي قوه یې هم په دې نامه بلله، لکه چې د پاک خدای ج نوم د هندو آروپایي په ډېرو ژبو کې د "دووس " له همدې کلیمې نه مشتق شوي دي. "
او په پښتو کې د هغه لغوي مفهوم د "ډیوې "یعنې د څراغ په شکل لا تر اوسه پاتې دی، په دې اساس ځینې مدققین دا عقیده لري چې آریاییان له "آوستایي " عصر نه پخوا تر دې چې د "ویدي "په دورو کې هم دپاک خدای ج دو حدانیت په موضوع پوهېدلي و، نو وایي چې د ویدي "عصر "اریایانو که څه هم په ظاهر کې د عناصرو او طبیعي قواو د مظاهرو تمجید او ستاینه کوله، بالواسطه یې د دوی ټولو خالق هم پیژندلی، یعنې د کائیناتو د خالق لمانځنه یې دده د بدیع مخلوق په واسطه سره کوله، په هر حال د پخواني افغانستان د "ویدي "عصر آریایي آئین د عناصر لمانځنې شکل درلود، او د هغې دورې د ځینو ارباب انواع په باب کې لنډ تشریحات ورکوو. "
"اندرا "د "ویدي "اریایانو مهمه رب النوع "اندرا "وه چې اصلاً د کومې

فاتحې قبیلې حامي وه، او په جګړو کې یې د "پکتیانو" یعنې د پختون د قبیلې په طرفدارۍ هم اقدامات کړي دي، دغې رب النوع، زیاتره د جګړې رب النوع شکل درلود او د هغې علامه فارقه "تالنده "او "برښنا "وه، هغه صدقه چې زیاته به یې ده ته ورکوله د "سوما "مشروبات و، د مارانو او هپیانو سره ددې جګړې تراوسه زموږ په نکلونو کې شته. "
وارونا; "وارونا " د اسمان رب النوع او د رڼا او ژوند او ښېګڼو د قوت د مبدا په حیث ګڼل کېده اریایانو لمر د هغه سترګې او آسمان یې کالي او د بادونو طوفانونه یې د هغه سابلله او د نړۍ د نظام اداره یې و هغه ته منسوبوله. "
اګني; د اور رب النوع او د کهول کانون شمېرل کېده او دې یې د کور دواک خاوند او د نسل او د کهول د سعادت د ډېرښت عامل ګاڼه او د ماشومانو د عمر د ډېروالي او د هغو د سلامتۍ هیله یې دده څخه کوله، په همدې ډول د قربانیو رب النوع هم و. "
سوما; سوما هغه مشروب و چې د یو ډول وښوله عصارې اوله شیدو او عسلو څخه به جوړېده، د هغه حرارت او خوشالي له کبله چې په بدن کې به دده په سبب پیدا کېده "د ویدي "د زمانې آریایانو په نزد یې رب النوع مقام پیدا کړی وو، د سوما واښه د افغانستان د غرونو په لمنو کې شنه کېده، د افغانستان د "ویدي" زمانې د آریایانو عناصر لمانځنې ډېر مراسم نه درلودل، او ساده وي، او کوم مراسم او دودونه چې یې درلودل په دوه وو برخوو، یوه هغه وه. "
چې په رسمي ډول سره وه، لکه; باچاهي قرباني یا عمومي قرباني، بله برخه یې د کهولونو دودونه وو، په لومړۍ برخه کیې به پوهانو یا منورې طبقې زیات ګډون کاوه او دوهمه برخه به یې په کهولونو کې دننه کېدله، آریایان به د خپل دود سره سم دورځې درې واره، سهار، غرمه او ماښام په زیاته بیا سهار د خپلو ساده دودونو یا مراسمو د

پرځای کولو دپاره چې دا دودونه د ستاينې سرودونه وو، په طبعي ښکلو ښکلو ځايونو کې سره راغونډېدل او وروسته د "سوما " تر څښلو به يې خپل سرودونه ويل; د روحانيونو طبقي او پوهانو په ټولنو او پاچاهي دربارونو ښه نفوذ درلود ، او په حقيقي او پوره ډول سره د قوم د سعادت خادمان وو. "
آوستايي آئين او زردشتي اقوام; که څه هم د "ويدي " په زمانو کې د افغانستان آريايانو سره له دې چې ويدي سرودونه يې لرل، يو ډول مذهبي کتاب يې هم درلود ، سره له دې چې هغه وخت دا کتاب د يوه کتاب په دول نه و سره ټول شوې. "
خو د خپل ژوندانه په دوهمه مرحله کې د هندوکش په دواړو خواوو کې په يوه معين او مشخص ډول سره د يوه مذهبي کتاب خاوندان شول، چې تر نن ورځې پورې د "اوستا " په نامه سره مشهور دی، د "ويدي "د دورې له ختمېدو او د هندوکش له درو څخه د ځينو ارياېي قبيلود مهاجرت نه وروسته چې د هند او فارس خواته ولاړل، تر مسيح د مخه د يوزر يا يو زر او دوه سوه کالو په شاوخوا کې د "ويدي "ټولنې پخوانی "عناصر لمانځنه " واوښتله، او ځانته يې نوی شکل پيدا کړ او ددې نوي لارې او نوي ديانت پيدا کوونکی "زرتشتر " يا "زرتشتر سپينتمان "و، او نوموړی د باختر د پخوانيو روحانيونو يا حکماو يا ريشيانو له طبقې څخه و، د "زرتشتر "ماده دې وکتل شي. " او د محيط او زمانې د اقتضاآتو په اساس يې د "ويدي "مملکت په معتقدانو کې تغير راوست، او د نوي دين بنسټ يې کېښوده چې ځينې يې "زوراشدي "او "زردتشي "او ځينې يې "مزديزم "او ځينې يې د ښو اوبدو عناصرو د مقابلې په علت "دوالزم "او ځينې يې د ديني کتاب په نامه اوستايي "بولي "دا نومونه ټول مناسب وو، مګر موږ د خپل هيواد دادیانو په تاريخ کې هغه دېر د "آوستايي "ديانت په نامه بولو "آوستايي " آئين د پخواني "ويدي "آئين د معتقداتو د تحولاتو لمن او

فرع ده، ځکه د ځینو کسانو د تصوراتو په خلاف ثابته ده چې "ویدي " او "اوستایي "معتقدات لکه; دهندي دوه وو، دورو ژبو اونورو ممیزاتو غوندې د یوه اریانا په ځمکه کې وو ، او اصلاً ددې ځمکې د اوسېدونکو مخصوصه مبدا وه. "
"آوستایي "دین په باختر کې د هغه د پیدا کېدلو له وخته د "زروکالو ق م " په خوا او شا کې و. "
تر اوسه له مینځه نه دي تللي او د وخت او زمانو په تیرېدلو سره یې په مختلفو زمانو او مختلفو ځایونو کې د ترقۍ او بحران دورې تېرې کړې، او د ډېرو سترو تحولاتو سره مخامخ شوي دي، چې دلته د هغو پوره بیان نه شي کېدلای. "
نو دلته د "اوستایي "دین د شرحي نه مطلب د هغه پیدا ېښت او اساسي او واقعي شکلونه دي،. چې د "یو زر کالو ق م "په خوا او شا کې تر دوه سوه کلونو ق.م " په افغانستان کې د بودایي دین د پیدا ېښت تر وخت پورې د اریائیانو رسمي او عمومي دین وو ، د افغانستان د آریایانو د "ویدي " عصر عناصر لمانځنه په لنډ ډول سره د اسې ښودلی شو چې له نوراني او ظلماني عناصرو څخه ویرې او هیلې درلودل، دوی دې ته ګمارلي وو ، چې دعناصرو لمانځنه او احترام وکړي او د کائیناتو د خالق پروجود باندې هم تر یوې اندازې دوی ایمان درلود ، او پیژانده یې په "اوستا "دین کې دې شیانو هر یوه پر خپل ځان انبساط وموندو ، او په ډېر قوت سره یې خپل معین شکل د ښو اوبدو په ډول یو د بل په مقابل کې پیدا کړ او یو د بل سره مقابله یې د "اوستایي " دین بنسټ شو ، دا دواړه قوتونه هر یو د یوه بیل شخصیت خاوند او ځانته نوم یې پیدا کړ، لکه چې د ښو قوت یې "سپنته مینو "او د بدو قوت یې "انګرومینو " باله که څه هم د "اوستایي "دین اساس د همدې دوه وو قوتونو "رڼا او تیاره " ښو او بدو پرمقابله باندې کېښودل شوې وو ، خو بیا هم "آهورامزدا " یعنې "هرمزد " پر ټولو باندې حکمراني کوله،

نو په همدې دول ښايي چې ځير شي چې هره مقابله او شخړه به چې د "سپنته مينو " او "انګرمينو "په منځ کې راتلله، د آهورامزدا په مقابل کې کومې خبيثې فاعلې قوې خارجي وجود نه درلود،نو" اوستايي "دواليزم" په "ګاتونو "کې يو مخصوص او ځانګړی مفهوم درلود. "

او په همدې ډول "آهورامزد " هرمزد "په يوائينی صورت سره د کائيناتو د نظام اداره کوله اونيکۍ او بدۍ، خير او شر، نور او وجدان او د نفساني شهواتو د اغوا د تيارو د قوتونو په مقابله وه، او سره له هغه هم د خوشبينۍ د روح په واسطه چې په همدې دين کې موجود و ، او اخلاقي قوانينو په مراعات سره به روڼا او د ژوند مربوطاتو ته دوی جنبي ورکړي وي، چې يوه يې روڼا او بله يې تياره او ظلمت وو ، جګړه او شخړه او نفسياتي غوښتنې او وجداني هدايات د همدې دوه وو مفکورو آثار او مظهر باله کېده، چې "اوستا "بيا هغه ته بشري ټولنه کې عموميت ورکړي دي، اود مقابلې او جګړې په مهال کې يې تل د عزم او ارادې توصيه کړې ده چې په پای کې پر نفسياتي تيارو باندې د وجدان رڼا غلبه او په دې ډول ده لکه څرنګه چې وړاندې وويل شول، په "اوستايي " دين کې چې نوم، شخصيت اونښانه يې هم لرله، نوراني عناصرو يا خير او نيکي سره له هغه خپل اهميت او ښېګڼې چې درلودل يې په اويستائي مذهب کې ئي لوړ مقام پيدا کړ او دغې مجموعې ته ځينو "اوستايي "ارباب الانواع ويل، خو په دې هم بايد وپوهېږو چې لکه يوناني ارباب الانواع غوندې د ماديا تو نمايندګان نه و. "

او هغوی ته يې په مجسمو سره نمايش نه ورکاوه، بلکې په عمومي ډول به يې معنوي شخصيتونه درلودل چې هغوی به يې "يزتا "بلل اوامشه سپنته" يعنې "ابدي "او پاک ارواحان" به د هغو په ډله کې راتلل او د هغو شمېر په دې ډول وشپږ وته رسيده. "

۱- وهیومانه "Whoumana" ښه فکر.۲- اشاوهشیته "Acha vahishta" خورا ښه تقدس.۳- خشه تره وریا "Khashthana varya" "عالي سلطنت " ۴- سپنتا ارمتي Spenta Armat "د اعتدال حس.۵- هروتات "Hervotat" "سعادت او صحت.۶-امرتاتAmertat "ابدي "امشه سپینته " پاکو ارواحو "هر یوه خپل ځانته وظیفه درلوده. "

لکه "وهیومانو "درموساتونکی و "اشاوهیشته "د اور رب النوع باله کېده او تقریباً د "اهورامزدا " استازی "قاصد "هم و، "سپنتا ارمتي " د ځمکې ساتندوی و، او "هروتات " او "امرتات "د اوږده عمر او سعادت او خوشبختۍ ښوونکی باله کېده، او پر اوبو اونباتاتو یې سلطنت درلود او پرته له دې نور ګڼور قوتونه او عناصر هم وو چې "سپنته مینو " یا د "ښیګڼې قوي "ډله یې د "انګرمینو " یاخبیشو ارواحو " یاد دیوانواو شیطانانو په مقابل کې تشکیل او پیدا کوله، لکه چې وویل شول د "اوستا "دین د اخلاقي رشد، د ښو او بدو پرتمیز او د ښو د تقویه کولو پر اساس بنا شوی و. "

انتخاب او مسئولیت د وګړو پر خپلو اوږو باندې وو، د "اوستایي " اصولو سره سم بشر د "هرمزد " مخلوق باله کېده، خو څرنګه چې بشر آزاد پیدا شوی وو،نو انتخاب دده خپل حق باله کېده او چې سعادت او نجات یې دده په همدې انتخاب پورې تعلق درلوده، نو پرتیاره باندې د نور پر غلبې او بریالیتوب کې به هم دی موثر او سهیم و، ځکه چې د بشر هر ښه عمل د نور اورڼا له قوي سره لویه مرسته کوله، او هر بد عمل چې د هر چا څخه به کېده، د تیاري سره مرستیال و، او تیاره او ظلمت به یې زور ورکاوه، نو له دغه کبله بشر باید د ښه والي او رڼایي خوانیولې وای، چې رڼا فاتحه شوې وای، ځکه چې دده ساتنه د تیارې په مقابل کې د رڼا د بري په واسطه سره کېدله، برسیره پر دې بل کوم څیز چې د "اوستایي "پیروانو په اخلاقو کې زیات تاثیر درلود، هغه د اعمالو د نظارت عقیده ده چې د "امشه سپینته " له خوا به کېده او هر

شه او بد کار دده له خوا تشخیص او لیکل کېده. "
او په دې ډول سره به "اوستایي "دین خپل پیروان د نورو رهایي او نیکې وخواته رابلل او هر چاته به یې درهایي او تیارې په غوره کولو کې آزادی ورکوله او د ښو او بدو عملونو د نګراني څخه به یې خبر ورکاوه،او فردي نجات او سعادت یې د ښو اخلاقو په غلبه پورې منوط او مربوط کړی و، لنډه دا چې د "اوستا "اخلاقي قوانین په درېو کلیمو سره چې د یو فورمول په ډول دي تاسوته دربښودلای شو، هومته، هوختته، هورتشته، یعنې;نیک اټکل ښه ویل او ښه کول. "
په همدې ډول سره د "اوستایي "پیروان مجبوره وو چې خپل فکر، ژبه او عمل د هرې ناوړتیا څخه پاک وساتي او بد اعمال په فکر کې هم راونه ګرځوي، د "اوستایي "دین منونکو د اخرت په ورځ او داعمالو په جزا باندې ایمان درلودل او منل یې، اوپه ظاهري او باطني سپیڅلتوب او پاکي په رښتیا مروت او سخاوت سره توصیه شوی وه، او درواغ د خورا زښتو لویو ګناهونو څخه شمېرل کېدل، "اوستا " کلکه مارینه کړې وه. "
چې ځمکه، اور او اوبه دي د لوث او مردارولو څخه پاک وساتل شي خصوصاً د مړو د جسد له لوث څخه دې ساتل کېږي او په همدې سبب چې اور د پاکي نخښه وه نو په دې دین کې د اور احترام په دومره افراط سره وشو چې دا دین داورلمانځنې په نوم موسوم شو،او اور دا هورامزد د نور او پاکۍ په حیث مقدس باله کېده په همدې ډول د ځمکې د پاکوالي احترام داوکړه چې مړی هم ښخ نه کړي او د غرونو پر لوړو څوکو کې کیږدي چې غوښه یې مرغان وخوي او ورک شي. "
د "اوستا " د دین طرز اورفورم د نوموړي اصولو په مطابق د افغانستان د هغه وخت دپاره خورا غوره او خورا ګټور ثابت شوی دی; چې وګړي یې د زحمت د کښلو او کښت کولو، د ځمکې ودانولو او پاکۍ، خوشبینۍ او ښوو اعمالو ته تشویق او وګمارل په قومونو کې یې د

رشادت مقاومت او مبارزې روح تولید کړ چې په نتیجه کې ملت د ښه شهامت خاوند شو. "
(اوستایي فرعي مذهبونه:۴۱۵مخ)

هر کله چې د "ویدي "دین د رفورم په اثر "اوستایي "دین د هندوکش په دواړو خواوکې پیدا او منځته راغی نو د "اوستایي "او "ویدي " ادیانو له ځینو پخوانو اساساتو څخه کم کم نور مذهبونه هم پیدا شول، چې په مملکت کې دننه او تر مملکت دباندې یې هم لږ لږ تاثیرونه وکړل. "
د اور لمانځنه; پخوا مووویل چې د "ویدي " په عصرکې "اور "یو رب النواع درلود چې نوم یې "اګني "و او په "اوستاکې "اور "د "اتار "په نامه راغلی دی او لکه چې ومو ویل چې; امشه سپنته" او اشا وهیشته " د هغه نمایندګي کوله د "اوستا "دین په وړومبني اساس کې د "اور "لمانځنه او پرستش نه کېده، خو وروسته د هغه پاکۍ ته لږ لږ د تقدس مقام ورکړ شو، او د "اهورامزدا " دنور انعکاس او د اخلاقو د سپېڅلتیا نخښه، او د ځینو ارواحو په مقابل کې د دفاع وسله او حربه وباله شوه، او دا ډول خیال یې کاوه چې کله چې دیوان او شیطانان د شپې له مهال فساد او فتنه اچوي، یواځې د "اور "رڼا دا فساد ورکوي او دوی فرار او فنا کوي، نو ځکه یې د اور د "اهورامزدا " زوي او نور فارقه علامه بلل او د "ویدي "زمانې د دودونو پر اساس د کورنۍ په کانون کې د "اور بلولو عمومیت وموند او په اورتونونو کې داورساتنې د همېشه دپاره رواج وموند .او روحانیونو دا کار پر اوږه واخیست، او دوی ته وسپارل شو، او دشاهانو او موبدانو له خوا لوی لوی "اورتونونه " جوړ شول، او زموږ په هیواد کې ډېره لویه اتشکده یا "اورتون "د "مهربرزین " یا "برزین "مهر اورتون " وه چې "ویشت اسپه جوړه کړې وه. "

بنداهش هغه په خراسان کې د "رای ونتا "Raeventa" د غره پر سر بولي سپینتو داتا "یا اسپندیار،د اریانا د باچا ویشتاسپه "ځوی په "بخل بامیک " یا ځلاند بلخ کې د "نوازک " Navasak" ښارودان کړ او د "وهران "Vahrn" اورتون "یې هلته جوړ کړ. "
ځینو د نوازک شار د "نویده "Navida" ښار بللی دی، او د بلخ د شمال په۲۰ میلي کې یې داکسوس "آمو "د سیند پر غاړه او سمر قند په لاره کې بولي، کوم وخت چې اسپندیار دا "اورتون "جوړ کړ نو د ګاونډیو هیوادونو باچاهان یې د اور لمانځنې د دین منلو ته راوبلل، که څه هم په "۷" مسیحي پېړۍ کې هغه وخت چې چیني زایره "هیوان تسنګ " دلته راغلی و د بلخ مشهور "نوبهار "بودایي معبد و، او د "ناواویهارا " په نامه معروف و، خو په اصل کې هغه "اورتون "و، خو کوم وخت چې بودایي دین په باختر کې رواج شو، نو دغه "اورتون "په بودایي معبد تبدیل او الیشه شوی او ډېر شهرت یې پیدا کړی دی. "
(آناهیتا:۴۱۲مخ)
مخکې مو د "الا هه مور" یا "ستري مور "په بحث کې "اناهیتا "یاده کړې وه، خو هلته یې د قبل التاریخ شکل په نظر کې نیول شوی و، "اوستا "اناهیتا "او د هغه شکل، او ګڼه دا ډول ښیي چې لکه; مجسمه او معبد چې یې په همدغه وخت کې حاضر وو، "راولنسن "په خپل کتاب بکتریان کې وایي چې "اناهید "د بکتریا "یعنې د بلخ په ښار کې یو خورا غوره او ښکلی معبد و، نوموړی لیکي چې تر سیروس او د اریوش پخوا "اناهیتا "پېژاند او د لمانځنې مفکوره یې په فارس کې خپره کړه او یو معبد یې په "اکباتانا "همدان" کې جوړ کړ او وروسته تر ارتا ګزارستن منون "Artaxerxesmen ewoh" ۳۶۲-۴۰۴ق م په فارس کې د هغه لمانځنه رواج وموند، په باختر کې د کوشانیانو تر وخته پورې د "اناهیت "لمانځنه لا کاملاً له منځه نه وه تللې. "

داوه د حضرت زردشت علیه السلام او د هغه د ویدي او ستایي شریعت پېژند پانه، موږ په دې پېژند پانه کې ولوستل چې حضرت زردشت په دیرش کلنۍ کې د خپل ددین او شریعت تبلیغ پیل کړی دی، او لکه څنګه چې حضرت یوسف علیه السلام د مصر پرتخت باندې ناست واکمن خپل دین او شریعت ته واړاوه، او د هغه ترسیوري لاندې یې په مصري ټولنه ک خپل سیاسي، اقتصادي او دیني اصلاحات پلې کړل، په هماغه توګه حضرت زردشت علیه السلام په دېره لږه موده کې د بلخ پرتخت باندې ناست واکمن خپل دین او شریعت ته واړاوه او په دې توګه یې په بلخي اریایي ټولنه کې خپل دین او شریعت د سیاسي او اقتصادي اصلاحاتو سره سم پلې کړ،د حضرت زردشت او د حضرت یوسف ترمنځ یواځینی توپیر دا دی چې; زردشت په ماشومتوب کې هغسې درخې او کرکې ښکار شوې نه و، لکه څرنګه چې حضرت یوسف په ماشومتوب کې د خپلو ورونو د رخې او کینې په تورو بلاګانو کې لتاړ شو تر هغه چې په کوهي کې وغورځول شو، د مریي په څېر وپلورلشو او په جیل کې ډېر کلونه پاتې شو، څنګه چې حضرت یوسف علیه السلام د زغم، وروروالی، سولې، روغې او د دینې، سیاسي او اقتصادي د سمونونو د اتل په توګه د څلورم اتل عالي سمبول خاوند ګڼل کېږي، په هماغه توګه حضرت زردشت علیه السلام د زغم، مینې، وروروالی، سولې، روغې او په ټولنه کې د دیني، سیاسي او اقتصادي مصلح او سمونوال په توګه د پنځم عالي سمبول په نامه پیژندلی شو، لکه چې په دې لاره کې شهید هم شو، څه چې د مصلحینو په ډله کې دغو دوه وو تنو ته د ډېر درنښت مرتبه ورکول کېدلی شي، هغه هم په اصلاحي پروګرامونو کې د دوی بریالیتوبونه دي یعنې; د نوح علیه السلام نه تر یوسف علیه السلام پورې هیڅ یو پیغمبر هغه که ابراهیم علیه السلام که اسحق علیه السلام او که یعقوب علیه السلام او که بل څوک و، په دې بریالي نه شو څو په خپله

ټولنه کې خپل دیني، سیاسي او اقتصادي سمونونه پلي کړي او د خپل ولس څخه یو واحد ملت جوړ کړي، مګر حضرت یوسف علیه السلام او حضرت زردشت علیه السلام ددې وسه وموندله څو خپل دیني، سیاسي او اقتصادي موخو ته ورسیږي، او خپلو ولسونو ته ښه غښتلي او بسیا ملت جوړ کړي، کوم چې لا د حضرت زردشت د ملت څخه لاوس هم زموږ د سیمې، په ځینو هیوادونو کې یو شمېر انسانان شته دي چې ځانونه د زردشت علیه السلام د دین او شریعت لار ویان ګڼي. "

د حضرت یوسف او حضرت زردشت ترمنځه بل ورته والی دا دی چې; لکه څنګه چې حضرت یوسف ته د پلار، نیکه او اور نیکه څخه دیني شریعت په میراث پاتې و او هغه په دې لاره کې هم د خپل پلار له لوري روزل شوی و. "

په یوه اضطراري حالت کې د مصر ولس ته داسې نظام وبانېه چې د هغه له برکته مصري ولس د اوه کلنی وچکالۍ له مرګوني حال نه وژغورل شو; چې دغه نسخه د نړۍ د هرې سیمې هر سیاسي واکمن ته لاره ښیي چې په اضطراري حالاتو کې د خپل ولس د هوساینې په موخه هر هغه کار چې د ولس د انفاق په لاره کې ګټور وګڼل شي د هغه په پلي کولو د ېې زغرده وکړي. "

ددغې نسخې په رڼا کې کولی شو ووایو چې; حضرت زردشت هم د "ویدي "تعلیماتو په رڼا کې چې له ډېرې پخوانۍ زمانې څخه راپه دېخوا په سیمه کې د اریایانو د ولس دیني پراخه کلتوري چارې ګڼلی کېدې لکه د موسی علیه السلام غوندې په خپل "اوستایي "تعلیماتو چې ځانله دیني او شرعي بڼه لرله خپل ولس ته د ژوندانه په هر اړخ هر رنګه منظمه او بشپړه لارښوونې وړاندې کړي. "

حضرت زردشت لکه څنګه چې د خپلو پروګرامونو په پلې کولو کې د حضرت یوسف علیه السلام غوندې د بریالیتوبونو خاوند و، لکه د

موسی علیه السلام غوندې هم د خپل ولس لپاره هر رنګه منظم او بشپړه لارښوونې وړاندې کړی دي. "

یعنې حضرت زردشت نه یواځې دا چې په عملي اړخ کې د یوسف علیه السلام غوندې د برې خاوندو، چې په نظري اړخ کې هم یو ښه پوه او د مختلفو قوانینو په رامنځته کولو کې فیلسوف و، په "سامي "ولس کې چې د ملت د جوړونې، روزنې او پالنې په لاره کې موسی علیه السلام کوم غښتلی مبارز و، په هماغه توګه په اریائي ولس کې د زردشت علیه السلام جوړونکی، روزونکی او پالونکی هلې ځلې د خورا ستاینې وړ ګڼل کېږي. "

زردشت علیه السلام داسې یو شخصیت و چې د بریالیتوبونو له دریځه د یوسف علیه السلام سره سیاله څهره وه، د دینه داسې برېښي چې; په سامي ولس کې د نوح علیه السلام نه راپاتې لارښوونې د ابراهیمي شریعت په نامه تر موسی علیه السلام پورې او د نوح علیه السلام نه په اریایي ولس کې راپاتې د "ویدي "تعلیماتو په نامه د زردشت پورې د لمانځلو مشترک ټکي ارومرو شته والی لاره، چې په سامي ولس کې د موسی علیه السلام له خوا د ابراهیمي شریعت په سیوري کې بني اسرائیلو ته د ژوندانه په هر اړخ کې بشپړه او منظمې لارښوونې جوړې او وسپارل شوې او په هماغه توګه په اریایي ولس کې هم د "ویدي "تعلیماتو په رڼا کې د ولس د جوړونې روزنې او پالنې په موخه د حضرت زردشت له خوا "اوستایي "شریعت چې په خپل مهال او سیمه کې ساری نه لاره تنظیم، ترتیب اود پلې کولو ډګر ته وړاندې شوې دي.

سر بېره پر دې دحضرت زردشت دیني شریعت چې کومې اصولېې ستنې او هغه هم په اوستایي ژبې کې په ډېره لنډیزه توګه تر موږ رارسیدلي څه ناڅه کټ مټ د حضرت محمد ص د اسلامي دین د شریعت د اصولي رکنونو سره ورته والی لري. "

وګوری زردشت نه راپاتې وینا ده; هومته، هوخته، هوتشته، "دغه دري "ویه "ښايي په پښتو ژبه کې داسې وژباړو چې "غوره سوچ غوره وینا اوغوره کړنه، " همدغه دري "ویه "په پاړسي ژبه کې داسې ژباړل شوي دي، "پندار نیک، ګفتار نیک وکردار نیک "چې په پښتو ژبه کې کولی شو، ووایو; غوره سوچ،غوره وینا او غوره کړنه. "

د غو دریو "ویو "ته پاملرنه او د هغه پلې کول انسان ته د لوی خدای په وړاندې کرامت ورپه برخه کوي، چې همدغه انساني کرامت ته د رسیدلو لاره په اسلامي شریعت کې هم دغه دري "ویه "په ګوته شوی دی، چې وايي; پر غیب ایمان لرل، لمونځ ادا کول او دانفاق رعایت. "د حضرت زردشت "هومته "رکن زما په اند کټ مټ همدغه د اسلامي شریعت پر غیب ایمان لرل دي چې په پاړسي ژبه کې هم ورته پندار نیک ویل شوی دی. "

اودحضرت زردشت "هوخته "ښايي کټ مټ د اسلامي شریعت لمونځ ادا کول وي، دا ځکه چې لمونځ په خپل ذات کې غوره وینا ده،اوداغوره وینا ده چې په هر دیني شریعت کې د لمانځه اصول او ایجابات تشکیلوي، وګوری که چېرې یو مسلمان په خپل لمانځه کې د "الفاتحې "سورة ونه لولي د هغه لمونځ نه پوره کېږي. "

کوم چې د "الفاتحې "سورة ټول په ټوله کې د غوره ویناو څخه ګڼل کېږي چې همداسې هم دي،همدارنګه د حضرت زردشت "هورتشته " هماغه د اسلامي شریعت د "انفاق "کلیمه ده چې د غوره کړنې ټوله معنا افاده کوي، یعنې; څو چې یو مسلمان وګړی "انفاق "ونه لري د هغه د "تقوي "عملیه نه بشپړیږي، او څو چې د چا د "تقوی "عملیه بشپړه نه شي،هغه د لوی خدای په وړاندې د "کرامت "خاوند نه شي کېدلی، له دې کېله موږ په ډېره اسانۍ سره کولی شو د زردشت د شریعت او دحضرت محمد<sup>ص</sup> د شریعت ترمنځه ورته والی ووینو او ووایو چې په اسلامي دین کې د انسان له پاره د خدای په وړاندې

دکرامت تر دریځه رسیدل په "تقوی "کې نغښتی، چې د "تقوی "ژباړه هم د لوی خدای له لوري په قرآن کریم کې د البقری سورة په پیل کې داسې شوېده; "
یؤمنون با الغیب،ویقیمون الصلاة، و مما رزقنا هم ینفقون. "
ژباړه:ایمان پر غیب لرل لمونځ ادا کول او له هغو ټولو خوړو او شتو څخه چې یو څوک یې لري پر بې وزلو ویشل، "داوه د کرامت تر لوړې مرتبې پورې د رسیدلو لاره که دا درې رکنه پر ځای نه شي، متقي نه ګڼل کېږي چې متقي ونه ګڼل شي د کرامت مرتبه نه شي موندلی. "
لکه چې مو ولوستل د تقوی په رکنونو کې د "انفاق "د رکن ادا کول یو ډېر ستر، مهم او غوره رکن دی دا ځکه چې انفاق نه یوازې وګړنیزه اړخ لري چې په ټولنیزه اړخ کې هم ډېر مهم او حیاتي رول لوبولی شي دا په دا چې لکه څنګه چې هر وګړی مکلف دی د انفاق د حکم پر مخ بې وزلو سره مرسته وکړي ، لا چې هغه ته نه دي روا خپله دخولې مړی دکوم اوږي بې وزله په لیدلو سره خولې ته کړي. "
د غسې په ټولنیز اړخ کې دولتونه او حکومتونه هم دنده لري چې د خپل ولس دخېټې د مړولو په هکله ضروري او لازمي پلانونه او پروګامونه طرح او دعمل په ډګر کې پلي کړي. "
دولتونه او حکومتونه مکلف دي څو په اضطراري حالاتو کې لکه د یوسف علیه السلام غوندې د ولس د ښېګڼې او بسیاینې په لحاظ ګټور ګامونه اوچت کړي، دګټورو ګامونو په هکله د حضرت یوسف علیه السلام په برخه کې اوږد بحث شوی دی هیله ده هلته دې ولوستل شي، ددې برخې لمنه به همدلته وتړو لوستونکي کولای شي زموږ ددې کتاب د شپږم اتل پر برخې سترګې وغړوي. "

# شپږمه برخه

## موسی علیه السلام

د سولې،روغې اود وروروليۍ د مينې شپږم اتل يا سمبول حضرت موسی علیه السلام ګڼل کيږي. "
ښه به وي تر هرڅه دمخه دموسی علیه السلام پيژند پاڼه ولولو، د پښتو اريانا،دائرت المعارف اوم ټوک په "۱۰۴۲"مخ کې داسې ليکل شوي دي. "
موسی علیه السلام بن عمران: موسی چې په عبري ژبه "د يهودو په ژبه" مو شه ورته وايي، د بني اسرائيلو پيغمبر دی چې يو مبارز، سياستمدار او قانون جوړونکی سړی وو، اودده ديني احکام دتوراة په کتاب کې تدوين شوي دي، مورږ ددغه ستر پيغمبر د ژوندانه مهمې پيښې د معتبرو تاريخونو په حواله داسې رانقلوو; د پلار نوم يې عمران دمورنوم يې پوخابد او په بل قول اناحيد وو، ښځه يې چې صفورا نوميده د حضرت شعيب‌ع لور وه، د حضرت موسی په مهال د مصر فرعون "قابوس" بن "مصعب "وو. "
او کله چې دی مړ شو، دده ورور، وليد بن مصعب چې په کفر او ضلالت تر خپل وروروسخت وو،دهغه پر تخت کيناست،او په دغه وخت کې وچې موسی او د هغه ورور "هارون‌ع" دخدای لوري ته د فرعون په رابللو وګمارل شو، محمد بن جرير "طبري" په خپل تاريخ "طبري" نومي کتاب کې د محد بن اسحق مجاهد او نورو په حواله وايي; کله چې د موسی زمانه نيژدې شوه. "
د فرعون منجمانو ورته وويل; مورږ ته په خپل علم کې داسې شکاري چې ډير ژر به په بني اسرائيلو کې يو هلک پيدا شي چې سلطنت درنه واخلي، او ستا قدرت به له منځه يوسي، او ددې خاورې څخه به دې

وباسي. "
او ستا دین به هم ویجاړ کاندي، فرعون امر وکړ چې د بني اسرائیلو ټول نارینه هلکان دې چې نوي زیږي ووژل شي، او نجونې دې ژوندی پرېښودل شي، دده مامورینو همدغسې وکړل، حتی څو کلن هلکان یې هم ووژل،او ښځو ته یې داسې ښکنجه ورکړه چې جنینونه یې وربا ندې وغورځول مجاهد وایي، چې د فرعون په امر یو کال ماشومان وژل کېدل او بل کال ژوندي پرېښودل کېدل، او هارون چې د موسی نه یو کال مشر و، په هغه کال وزېږېده چې هلکان یې ژوندي پرېښودل، او موسی په هغه کال کې زېږېدلی دی چې ماشومان یې وژل، فرعون خپل قوم قبطیانو ته لارښوونه وکړه چې خپل غلامان چې دباندې په کار بوخت دي، راوغواړي او سخت کارونه بني اسرائیلو ته ور په غاړه کړي. "
کله چې د موسی د مور د حمل د وضعې وخت رانیږدې شو، هغه ډېره اند ېښمنه وه، خدای پاک لکه چې په قران کریم کې فرمائیلي دي، هغې ته داسې الهام وکړ چې؛ شیدې ورته ورکړه او کله چې پرې وډارېدې سیند ته یې خوشې کړه، مه وېرېږه او غمجنه مه اوسه،موږ به هغه تا ته بېرته دروګرځوو، او د پیغمبرانو په ډله کې به یې ودراوو. "
کله چې موسی وزېږېده، مور یې ورته شېدې ورکړې او په یو صندوق کې یې کېښوده او سیند ته یې خوشې کړ او خورته یې وویل؛ چې تعقیب یې کړي،صندوق د فرعون کورته ننوت او د فرعون د ښځې آسیې مینځو هغه آسیې ته یوړو. "
کله چې د آسیي نظر په موسی باندې ولوېده پرې مینه شوه، فرعون غوښتل چې هغه ووژني خو د آسیې په غوښتنه یې ژوندی پرېښود، او ویې ویل؛ وېرېږم چې دا هلک د بني اسرائیلو څخه او همغه هلک وي چې زما مرګ د هغه په لاس کې دی. "
یوه دایه یې وروغوښتله خو د هیچا تیونه یې په خوله نکړل، کله چې د

موسی مور راغله د هغې تی یې په خوله کړه، نېژدې وه چې هغه وو ایې دا زما ځوی دی، خو خدای پاک هغه وساتله، موسی نوم یې ورباندې کېښود ، او ببرته یې مورته وسپاره، فرعون هغه ته ځوی ویلی و ، کله چې ماشوم وده وکړه مور یې هغه آسیې ته وروښود ، آسیې هغه فرعون ته وړاندې کړ او ویې ویل؛ درواخله چې ستا د سترګو رڼا ده "فرعون وویل؛ ستا د سترګو رڼا ده نه زما " کله چې فرعون موسی په غېږ کې ونیوه موسی د هغه ږیره ونیوله او ویې شکوله، فرعون وویل؛ جلادان راوغواړئ چې دا همغه هلک دی. "
آسیې وویل؛ دا کار یې د ماشومتوب له مخې کړی دی، اوس ورته یو څه یاقوت او یو څه اور راوغواړه که چېرې یې یاقوت په لاس ونیوه نو هوښیار دی باید ووژل شي او که یې اور ته لاس وروړ، نو ماشوم او ناپوهه دی. "
نو کله چې یې اور او یاقوت دواړه وروړاندې کړل، موسی د خدای په اراده اور ونیوه او خولې ته یې ننه ایست کله چې موسی لوی شو ، خلکو هغه د فرعون ځوی باله، یوه ورځ چې فرعون د منیف ښار ته تللی و ، موسی هم وروپسې لاړ او په داسې مهال کې هلته ورسېده چې ټکنده غرمه وه، د کانونه تړل شوي وو. "
او په کوڅو کې هم هیڅوک نه لیدل کېدل، هلته یې دوه تنه ولېدل چې سره نښتي دي یو یې دده له پیروان او بل یې دده له دښمنانو څخه و ، دده پېرو ده نه مرسته وغوښتله، موسی مخالف سړی په څوک وواهه، چې په همغه یو څوک مړ شو ، ده شپه په دېره وېره اواند ښننه تېره کړه، سبا بیا همغه سړی چې یوه ورځ د مخه یې د موسی نه مرسته غوښتې وه، د یوه قبطي سره د شخړې په وخت دده نه مرسته وغوښتله، موسی ورته وویل؛ ته ډېر ګمراه سړی یې. "
موسی ورغی چې مرسته ورسره وکړي، خوهغه چې یو اسرائیلي و ، ووېرېده، او خیال یې وکړ چې هغه وژني." نو ویې ویل؛ یه!

موسی !غواړې چې ما ووژنې لکه چې پرون دې یو تن وواژه، ته غواړې چې په دې خاوره کې ستم وکړې، او نه غواړې چې د خلکو ترمنځ سوله وکړې. "

موسی هغه خوشې کړ، خو قبطي لاړ او دا خبره یې نورو ته وکړه فرعون چې خبر شو آمر یې ورکړ، رایې وړی چې همدغه دی. " یو مصلح سړی موسی ته خبر وکړ چې وتښتي ځینې وایي چې وروسته بیا یو ملکي تر مداین پورې د موسی سره ملګرتیا وکړه. "

موسی د شعیب سره؛ کله چې موسی مداین ته ورسېد څرنګه چې "طبري"د سعید بن جبیر د قول نه لیکلي دي؛ د مصر او مداین ترمنځ "اته" ورځو منزل و، اود ونو د پاڼو نه یې پرته بل خوراک نه درلود، اوڅرنګه چې د موسی پښې لوڅې وې، نو د پښو پوستکي یې غورځېدلي وو، په مداین کې یې د کوهي پر سر ګڼ خلک ولیدل، چې خپل څارویو ته اوبه ورکوي. "

او په دې ترڅ کې یې نظر پر دوه وو ښځو ولوېد، چې خپلو څارویو ته اوبه ورکوي، موسی د دوی د مشکل پوښتنه وکړه، هغوی وویل: چې موږ تر هغه انتظار باسو چې نور خلک خلاص شي، ځکه چې زموږ پلار سپین ږیری دی او موږ د نورو نه راپاتې اوبه خپلو څارویو ته ورکوو، موسی په دوی باندې ترحم وکړو کوهي ته نیژدې ورغی، هغه ګټه تیږه یې چې د کوهي په خوله کې ایښودل شوې وه، او دهغې د پورته کولو دپاره به همېش څو تنه سره لاس په لاس کېدل، د کوهي د خولې نه پورته کړ او د هغوی څارویو ته یې پرېمانه اوبه ورکړه. "

دا دواړه د حضرت شعیب رض نجونې وې کله چې کورته ورغللې. "

او کیسه یې خپل پلار ته وکړه شعیب رض خپله یوه لور موسی پسې واستوله، هغه نجلۍ په ډېره حیاناکه وضع موسی ته چې یوې ونې ته یې ډډه لګولې وه، ورغله او ویې ویل: زما پلار غوښتی یې چې ستا اجوره درکړي، پاڅېد او شعیب ته ورغی، او خپله قیصه یې ورته

وکړه، هغه ورته په ځواب کې وویل; مه ویرېږه د ظالم قوم نه خلاص شوې، " وروسته بیا د حضرت شعیب د یوې لور په غوښتنه د شعیب او موسی ترمنځ د مزدورۍ په باب خبرې وشوې اونجلۍ خپل پلار ته دموسی د عفت او حیا چې په لاره کې یې ورڅخه لیدلی و. " قیصه وکړه، شعیب موسی ته وویل; چې زه غواړم د خپلې یوې لور نکاح درسره وتړم خو په دې شرط چې ته زما سره تر یوې ټاکلې مودې پورې خدمت وکړې، موسی ومنله او شعیب د همغې لور نکاح ورسره وتړله چې د موسی پسې یې استولې وه، او نوم یې صفورا وه شعیب خپلې لور ته وویل; یوه د ځارویو پوولو لکړه موسی ته راوړه، نجلۍ همغه لکړه ورته راوړله چې یوې ملکې د بنیادم په بڼه شعیب ته ورکړې وه. " شعیب څو وارې هغه امسارده کړه، خو هر واري به نجلۍ د بلې امساء پسې تلله، همغه امسا به یې لاس ته ورتله، څو په پای کې شعیب مجبور شو، چې همغه امسا موسی ته ورکړي. "

موسی لس کاله د شعیب سره خدمت وکړ، کله چې بېرته مداین ته ستنېده، ښځه یې هم ورسره وه، خو د شپې یې لاره ورکه کړه، څرنګه چې ژمی او سخته یخني وه، او په ښځې باندې یې د حمل د وضعې درد راغلی و، اود دوی چقمق هم له کاره لوېدلی و نو په دغه وخت کې یې یوه رڼا ولیدله، چې د اور ګومان یېورباندې وکړ، خو کله چې ورغی اورنه، بلکې د خدایج نور و چې په یوه ونه کې ځلېده او ټوله ونه یې سر ترپایه روښانه کړې وه، او د همدغې ونې نه په موسی باندې غږ وشو; یه موسی !زه ستا خدای یم، دا څه شي دي چې ستا په ښي لاس کې دي.؟ "

موسی وویل; دازما امسا ده په هغې باندې تکیه کوم او خپلو پسونو ته پرې پاڼې څنډم او نور کارونهورباندې کوم. "

خدایج وویل; یه موسی ! هغه وغورځوه موسی امسا وغورځوله، او هغه ناڅاپه یو مارګرځېد چې خوله یې وازه نیولې او په ځمکه باندې

خوځېده، موسی وتښتېد خدایج وویل: په موسی ! مه وېرېږه چې تا امان موندلی دی، ویې نیسه موسی هغه ونیوه، خدایج وویل: خپل لاس دې ګرېوان ته ننه باسه، څوتک سپین بې عیبه راووځي، او دا دواړه معجزې فرعون او دهغه مرستیالانو ته چې ټول ګمراهان دي وروښیه، موسی وویل: خدایه ! ما هلته یو تن وژلی دی، هغوی به ما ووژني. "

زما ورورهارون د ژبې د فصاحت خاوند دی، هغه زما مرستې ته وګوماره، چې زما د نبوت تصدیق وکړي، او هغوی زما په مطلب پوه کاندي، ځکه چې هغوی به ما دروغجن وګڼي خدای پاک ورته وویل: ستا مټ ستا په ورور راټینګوم او تاسو ته په خپلو آیتونو سره تسلط درکوم چې دښمنان برې ونه مومي تاسې او ستاسو مرستیالان بریالي یاست، موسی علیه السلام مصر ته لاړ د شپې د خپل مور کورته ورغی، لومړیی هغوی د مبلمه ګومان ورپاندې وکړه، خو وروسته یې وپېژانده خپل ورور هارون ته یې د خدای امر ورساوه. "

هغه اطاعت وکړ، او په همغه شپه دواړه د فرعون کورته ورغلل، فرعون یې د خوبه ویښ کړ، ځان او خپل ورور یې د خدای داستازي په توګه ورمعرفي کړل، او د خدای پیغام یې ورورساوه. "

فرعون پرده باندې په قهر شو او ویې ویل: ته ماشوم وې موږ ورروزلې، ډېر کلونه دې زموږ سره تېر کړل او نا شکري دې وکوله، سړی دې وواژه، او وتښتېدې. "

موسی وویل: ما هغه کارونه د ناپوهۍ په مهال کې کړيدي، او څرنګه چې ستا څخه وېرېدم، وتښتېدم خدای راته عقل او پوهه راکړه، او په پیغمبري یې مبعوث کړم، آیا دا هم څه نعمت دی چې ټول اسرائیل دي غلام کړی او غواړې چې پر ما باندې منت کېږدې. "

فرعون وویل: دعالم پروردګاره څه شي دی؟ موسی وویل هغه د اسمانونو او ځمکې او د هغو ټولو شیانو چې د هغو په منځ کې دی

خالق دی. " فرعون هغه لیونی وباله او په بند باندې یې تهدید کړ، موسی خپل معجزه وروښوده، کله چې فرعون ښامار ولید وډاریږ، چیغه یې وکړه، چې ښامار بېرته ونیسه، زه به تاباندې ایمان راوړم،او بني اسرائیل به درسره کړم، موسی ښامار ونیوه، او بېرته په امسا بدل شو، بیا یې د "یدبیضا "معجزه وروښوده،خو کله چې یې د خپلو واکدارانو سره مشوره وکړه، په موسی اود هغه په خدایج باندې یې له ایمان راوړلو نه انکار وکړ، او خپل وزیرهامان ته یې وویل چې خښتې پخې کړي او یوه لوړه ودانې دې جوړه کړي چې پرې وخیژي او د موسی د خدای سره وجنګیږي، کله چې برج جوړ شو، فرعون پرې وخوت او غشی ویشتونکي ته وویل چې;آسمان په غشي وولي، دخدای په اراده غشی په وینه لړلی بېرته وګرځېد، اوفرعون وویل چې د موسی خدای مې وواژه. "

قتاده د همدغه آیت په استنا دوایي; فرعون لومړنی سړی و چې خښتې یې پخې کړې او په هغو باندې یې برج جوړ کړ، ابن اسحق وایي چې موسی او هارون دوه کاله د فرعون دربار ته ورتلل او بېرته راستنېدل او د فرعون په لیدلو نه بریالي کېدل او چا جرآت نه شوکولی چې د دوی غوښتنه فرعون ته وړاندې کړي، ځو د فرعون د دربار مقلد " مسخره " ورغی او خبر یې ورته ورکړ چې یو سړی راغلی او وایي چې بې د تانه هم یو خدای شته. "

فرعون وویل رایې ولي، او د موسی او فرعون ترمنځ هغه خبرې چې پورته ذکر شوی په دربار کې وشوې، د دې پېښې نه وروسته فرعون په یو ډول نس خوږي اخته شو او وهب بن منبه وایي چې ځلیریشت ورځې په دغه درد اخته وو، فرعون پر موسی باندې دکوډګر فتوی وکړه، او غوښتل یې چې هغه ووژني، خو دده د دربار یو مومن سړي وویل; تاسې ولې یو داسې سړی وژنئ چې هغه وایي زما خدای واحد خدای دی، حال دا چې ښکاره دلیلونه یې هم د ځانه سره راوړي دي، او هغوی

یې د خدای له عذاب نه وویرول. "
د فرعون واکدارانو مشوره ورکړه چې د هیواد ټول کوډګران راوغوښتل شي، څو ددې کوډګر سره مسابقه وکړي، موسی او هارون بېرته لاړل او لکه چې ویل شوي دي، فرعون پینځه ویشت زره جادوګران راغونډ کړل او هغوی ته یې وویل چې؛ که تاسې په دې کوډګر باندې بریالي شوي تاسو ته به ډېر عزت درکړم، او ځان ته به مونيژدې کړم، د کودګرانو مشرانو څلور تنه وو، سابور،عادور، حطحط،او معفی، او همدغه څلور تنه وو چې د خدای د قدرت او د موسی د معجزې په لیدلو سره پر مخ پرېوتل او ایمان یې راوړ او فرعون هغوی مصلوب کړل. "
فرعون په دې مبارزه کې مغلوب شو، خو بیا یې هم ایمان رانه ووړ،نو په قحط او توپان اخته شو،هغه افتونه چې په فر عون او قبطیانو باندې نازل شول، توپان او سخت باران، ملخ، سپږې، چنګښې، وینه او نورو خودا یوهم د فرعون د هدایت سبب نه شول یو واري چې موسی د خدای په امر د فرعون سره په نرمه لهجه خبرې وکړې او هغه ته یې د زلمیتوب د دورې د بېرته راګرځولو دایمي سلطنت او په اخرت کې د جنت وعده ورکړه فرعون د هامان سره د کتلو تروخته پورې ورڅخه مهلت وغوښت خو څرنګه چې هامان له هغه پښیمانه کړ، نو بېرته یې خپل قوم ته وویل؛ چې انا ربک الاعلی " تر دې وروسته خدای پاک موسی ته لارښوونه وکړه چې بني اسرائیل د شپې له مخې له مصر څخه وباسي، موسی د شپږو سوو زرو تنو اسرائیلیانو او خپل وروړهارون سره ښار نه ووتل؛ فرعون هم ورپسې وخوځېد او هغوی یې په لاره کې د قلزوم په غاړه کې ونیوله د موسی ملګرو ورته وویل چې موږ یې ونیولو موسی د خدای په امر سیند په لکړه وواهه اوبه سره بېلې شوې او هره خوا یې د غره په شان ولاړې پاتې شوې، او دولس لارې په کې پرانیستلې شوې کله چې فرعون د سیند غاړې ته ورسید جبرائیل په

یوې مادیانې باندې سپور راغی او ټول اسان په مادیانې پسې لاړل او کله چې ټول سیند ته ننوتل. "
خدای پاک سیند ته امر وکړ چې ویې نیسي فرعون په دې وخت کې وویل; پر هغه خدای باند ې چې بني اسرائیل ایمان لري، ما هم ایمان راوړ او زه مسلمان یم، خدای پاک ورته د میکائیل په وسیله په ځواب کې وویل; همدااوس او پخوا هم د باغیانو او مفسدینو له ډلې څخه وې اوې. "
په دې توګه فرعون د خپلو لښکرو سره په اوبو کې غرق شو، بیاد موسی په دعا د فرعون او د هغه د واکدارانو او لښکرو مړي له سیند څخه وویستل شول، د عروت بن زبیر نه روایت شوی دی، کله چې پاک خدای موسی ته امر وکړ چې بني اسرائیل بوځي، نو دالارښوونه یې هم ورته وکړه چې د حضرت یوسف علیه السلام مړی هم یوسي، خوموسی ته یې ځای معلوم نه و، مګر یوې اسرائیلي زړې بوډۍ دهغه ځای وروښود. "
او موسی هغه چې د مرمرو په تابوت کې ایښودل شوی و، له ځانه سره یوور، له عبد الله بن شداد نه روایت شوی دی چې; فرعون د اویازرو تورو آسانو سره په موسی پسې وخوځېد، او دایې د هغو برګو آسانو څخه وو، چې دده په لښکرو کې وو، د فرعون او د هغه د لښکرو ډوبېدلو نه وروسته جبرائیل راغی او موسی یې د طور غره ته بوت، او هلته یې څلویښت شپې تېرې کړې، او په دغه وخت کې د سامري قیصه پېښه شوه، کله چې بني اسرائیل له سیند نه پورې ایستل، اوبو ته اړ شول، موسی دخدای نه خپل قوم ته اوبه وغوښتلې خدای پاک ورته امر وکړ چې خپله امسا په تېږه ووهي چې د ولس چیني ورڅخه وبهیدلې، اوهر تېر یوه چینه تر لاسه کړه، د طور په غره کې کله چې موسی د خدایج سره خبرې کولې، هیله یې وکړه ، چې ځان وروښیي خو خدای پاک ورته وویل چې; مانه شې لیدلی، وګوره غره ته. "

کله چې موسی غره ته وکتل، غر د خدای د نور له هیبته ټوټې ټوټې شو او موسی بې هوشه پر ځمکه ولوېد ، خدای پاک په همدغه مهال موسی ته د تورات لیکلی لوحې ورکړې چې ټول هدایتونه په کې لیکل شوي وو ، د سامري او هغه د سرو زرو د خوسکي د پیښې په پای کې موسی د اسرائیلو او یا تنه مشران د ځانه سره د طور غره ته بوتلل، څو د خپلې ګناه نه توبه وباسي، خو کله چې دوی د سینا غره ته ورسېدل، له موسی نه یې وغوښتل چې دخدای نه وغواړي چې موږ یې هم ویناواورو ، دوی د موسی په غوښتنه د خدایج وینا واورېدله، او په امر او نهې باندې پوه شول. "

خو بیا یې موسی ته وویل چې؛ موږ تر هغه پورې ایمان نه راوړو ، ترڅو مو خدای په ښکاره نه وي لیدلی، پر دوی بآندې تندر نازل او ټول مړه شول، خو د حضرت موسی په التجا بېرته ژوندي شول، مګر د خوسکي د لمانځنې د ګناه نه د بني اسرائیلو د توبې د قبلولو په باب خدای پاک امر وکړ چې بایدګناهګار کسان یو بل ووژني، بني اسرائیلو د خدای دې امر ته غاړه کېښوده، او هغو کسانو چې د خوسکي عبادت یې نه وو کړی، د هغو کسانو په وژلو پیل وکړ چې؛ خوسکی یې په خدایي منلی و، خو دموسی په ژړا او دعا او د ماشومانو په زارۍ اوننواتې خدای پاک پاتې کسان وبښل. "

ځینې روایتونه وایي چې؛ د طور غره ته د اویاتنو اسرائیلو مشرانو ورتګ د خوسکي عبادت نه د هغوی د توبې ایستلو څخه وروسته وو ، تر دې واقعاتو وروسته د "اریحا " بیت المقدس خواته د "۱۲ " تنو بني اسرائیلو مشرانو ورتګ او د هغه ځای د جبارانو څخه د هغوی وېرېدل او موسی ته بېرته ورتلل او د خدای حضور ته د موسی دا دعا چې خدایه ! زما او د فاسیقینو تر منځه جدایي راوړه " او خدای پاک دا اراده چې؛ تر راتلونکو څلویښتو کلونو پورې د "اریحا " د ښار نیول و ځنډېدل، واقعات پیښ شول، او د اسرائیلو څلویښت کاله په "تیه "

سارا کې لالهانده ګرځېدل او د خدای دخواه څخه د موسی په غوښتنه "من او سلوی " بني اسرائيلو ته نازل شول، ځينې وايي چې؛ د دولسو چينو دراوتلو پيښه هم په همدې وخت پورې اړه لري، او خدای پاک وريځه وګمارله چې سورېورباندې وکړي. "

وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْهِمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ١٦٠

" د موسی او هارون مړينه. "

وهب بن منبه روايت کړی چې؛ موسیؑ په يوه څپره کې اوسيده او د تيږې په يو لوښي کې يې ډوډۍ خوړله، او اوبه يې څښلې، دده د وفات په باره کې ويل شوي دي، چې يوه ورځ د خپلې څپرې نه راووت او د ملايکو د يوې ډلې خواته ورغی چې د قبر په کيندلو لګياوي، او يو ډېر ښکلې قبر يې کيندلی و. "

چې د موسی ډېر خوښ شو، او پوښتنه يې ورنه وکړه، چې؛ دا قبر د چا دی؟ هغوی ورته وويل؛ دهغه بنده چې په خدای ډېر ګران دی، موسی وويل؛ په رښتيا چې دغه بنده په خدای ګران دی. "

ځکه چې ما دغسې ښکلی قبر نه دی ليدلی، ملکې ورته وويل؛ يه کليم الله، غواړې چې دا قبر ستا وي؟ موسی وويل چې هو؛ او په قبر کې دننه اوږد څملاست، او خدای ته متوجه شو، خدای پاک يې روح قبض کړ، او ملکو ورباندې خاوره واړوله، ځينې وايي چې؛ ملايکو يو شی د بويولو دپاره موسی ته ورکړ او کله چې موسی هغه بوی کړ، ملکې يې روح قبض کړ، موسی عليه السلام "۱۲۰ " يو سل وشل کاله عمر کړی و. "

هارون د موسی نه مخکې مړ شويدی، او موسی هغه په خپله په دښته کې ښخ کړيدی، وايي چې؛ کله چې موسی بني اسرائيل د هارون په مرګ باندې خبر کړل. "

هغوی نه منله او ويل يې چې تا هغه وژلی دی، خو موسی د خدای په

امر یو شمېر اسرائیلیان د هارون قبر ته بوتلل په هارون باندې یې غږ وکړ هغه ژوندی شو او موسی ورنه پوښتنه وکړه چې ما وژلی یې؟ هغه وویل چې نه زه په خپل مرګ مړ شوی یم. "

دا وه د موسی علیه اسلام د ژوند پاڼه، موږ په دې پاڼه کې ولوستل چې؛ موسی علیه السلام هم لکه د ابراهیم علیه السلام په څېر د ژوند لوړې ژورې لرلې دي، څنګه چې په بابل کې نمرود کلدانیانو ستر وکمن د ابراهیم علیه السلام د زېږېدو او دهغو د ژوندي پاتې کېدو مخه نیولې چې بریالی نه شو. "

په هماغه توګه په مصر کې هم د قبطیانو ستر واکمن فرعون هوډ دردلود چې د موسی علیه السلام دزېږېدو او ژوندي پاتې کېدو مخه ونیسي، چې بریالی نه شو، لا چې خپل هماغه دښمن یې په خپله غېږه کې وروزه همدارنګه لکه څنګه چې ابراهیم علیه السلام د نمرود له خوا په اور کې واچول شو، چې وسوځي، ونه سوځېد، بندي یې کړ چې له خپله هوډه واوړي، وانه وښت، غوښتل یې چې ابراهیم ووژني، مګر هغه د نمرود له هوډه خبر شو او له بابله د مصر په لوري وتښتېده. "

او په دې توګه د تل لپاره له خپل خواږه هېواده په ډېر لرې واټن کې د پردیس په توګه، هغه هم په پردي هیواد  او د پردي ولس په لمنه کې میشت شو. "

موسی علیه السلام هم کله چې د فرعون په غېږه کې لوی شو او خپل ځان یې وپېژانده چې د فرعون ځوی نه دی، بلکې یو اوبو راوړی سبطي بني اسرائیلي دی چې په خپله مصر کې کور لري، مور لر ي، ورور لري، خور لري، او نور د خپلو خپلوانو څښتن دی چې هغوی ټول د مریانو په څېر د فرعون او د فرعون د قبیلې یعنې؛ د قبطیانو په چوپړ کې بوخت او په دې توګه د نه پای ته رسېدونکو ربړونو او کړاوونو په جال کې لتاړ دی. "

موسی علیه السلام دغه د خپلې کورنۍ او قبیلې د مریي توب حالت نه

شو زغملی، نو ځکه هغه د کوم قبطي په وژلو تورن شو او له مصره وتښتېده، لاړو د شام په لوري، کله چې مداین ته ورسېده، نو د حضرت شعیب علیه السلام د لوڼو او د هغوی د رمې د لیدلو له لامله، په خپله شعیب علیه السلام ته بو تلل شو. "
او هلته یې د شعیب علیه السلام د لور "صفورا "نومي سره واده وشو، او په دې توګه د موسی علیه السلام چې بني اسرائیلی و، او د شعیب علیه السلام د لور چې بني اسمعیلی وه، وصلت رامینځته کېږي. "
د موسی علیه السلام د ژوند قیصه خو مو د هغه د ژوندانه په پاڼه کې ولوستله، څه شي چې کولی شي موسی علیه السلام د انسانیت په لمنه کې د وروروليـ د مینې د اتل په توګه راوپېژني، هغه دغه څو ټکې دي. "
الف: د موسیؑ او د ابراهیمؑ د زېږېدو نه د مخنیوي لاملونه
ب: د موسیؑ اود ابراهیمؑ مبارزه هغه هم د زمانې د یو ستر واکمن په وړاندې.
ج: د موسی علیه السلام او د ابراهیم علیه السلام هجرت.
د: لکه څنګه چې دموسی علیه السلام د مبارزې په پای کې د مصر فرعون د خپلو لښکرو سره مري د ابراهیم علیه السلام د مبارزې په پای کې هم د بابل ستر واکمن "نمرود " د یوې کوچنیـ میاشې له لامله ژوند له لاسره ورکوي. "
هـ: موسی علیه السلام خپل قوم د فرعون د مریي توب څخه وژغوره، خو ددې وسه یې ونه موندله څو له هغوی نه د ځمکې پر مخ یو ستر ملت جوړ کړی، دا ځکه چې هغوی د ځمکې پر مخ کور، کلی او وطن نه لاره. "
و: دا چې د مصر قبطي ولس د یوسف علیه السلام جوړ کړي اقتصادي نظام چې په دولتي سیوسیالیستي عدالت ولاړ و، له منځه وړې او همدارنګه د یوسف علیه السلام د دین او شریعت نه هم اوښتي او بیا د

پخوا په څېر د بت په لمانځنه بوخت شوي وو، چې ددغه کار په غبرګون کې موسی علیه السلام هغوی ته یو ځل بیاد یو واحد خدای د لمانځنې بلنه ورکړه. "
دا او داسې نوردلایل شته، چې دانسانیت په لمنه کې د ښې او ګټورې وروروليـ دمینې له لامله د موسی علیه السلام تله درنیږي، او هغه ته ددې وسه وربښي چې لکه د "هابیل" نوح^ع" ابراهیم^ع او زردشت غوندې د سولې، روغې، او هوسا ژوندانه په لوري د وروروليـ د مینې اتلولی وګټي دی د خپل ولس د ژوند د ژغورنې په لاره کې د فرعون له درباره وواته او د دربار ټولو خوږو او خوندورو، مزو او چړچو ته شا واړوله چې آسان کار نه و، او د هر چا د لاسه هم پوره نه دی، څو د موسی^ع په څېر له خپلو ټولو امتیازاتو څخه تېر شي او خپل پاتې ژوند په دښتو او غرونو کې هغه هم د ولږې او تندې سره یو ځای پر مخه بوځي. "
موسی علیه السلام غوښتل دخپل قوم څخه ملت جوړ کړي، همدغه لامل و چې هغه د یو مستقل شریعت د راوړلو سره یو ځای دېره هڅه وکړه څو د "شام" په سیمه کې خپل قوم ته تر هرڅه دمخه کور، کلی او هیواد پیدا کړي، او بیا ورته د ملت سیاسي امتیاز وګټي. "
کوم چې د همدغې موخې په لاره کې یې خپل قوم ته امر وکړ، څو د "اریحا" پر ښار حمله وکړي، او هغه ښار ونیسي، مګر قوم ورسره ملا ونه تړله، او د موسی علیه السلام دغه ارمان نیمګړی پاتې شو، خو بني اسرائیلو لا ترننه پورې د موسی علیه اسلام د دیني شریعت پوري ځانونه کلک تړلي ګڼي، چې د موسوی امت په نامه هم پېژندل کېږي. "
په "سامي "ټولنه کې موسی علیه السلام هغه څوک دی چې لکه د "اریایي "ټولنې زردشت علیه السلام غوندې د خپلې ټولنې لپاره د ژوندانه په هر اړخ کې د زمان او مکان د شرایطو سره سم مختلف النوعه قوانین ترتیب او تنظیم کړل، خو په دې کار کې زردشت ترې

غوږ بریښي، دا ځکه چې زردشت د خپلې ټولنې د "ویدي" تعلیماتو په لړ کې خپل نوی "او ستایي" تعلیمات او لارښوونې خپل ولس ته وړاندې کړي، چې ولس هم د خپل واکمن په امر د زردشت له شرعي تعلیماتو څخه په پراخه توګه ګټه پورته کړه، خو د موسی علیه السلام قوم لکه څنګه چې باید شوي وی، هغسې د موسی علیه السلام د شریعت څخه د هغه په ژوندانه کې ګټه وانه خیسته، او دغه هم یوائځنې لامل دی چې د بني اسرائیلو څخه د موسی په ژوندانه کې ملت جوړنه شو، کوم چې د ملت د جوړونې، روزنې او پالنې په موخه موسی علیه السلام په خپل قوم کې تر هربل پیغمبر څخه ډېرې زیاتې ربړې اولانجې پر ځان وزغملې."

د موسی علیه السلام د شریعت قوانین دهغو تعلیماتو په رڼا کې رامینځته شوي چې د نوح علیه السلام نه وروسته د "سامي" په ټولنه کې د ابراهیمي شریعت په نامه تر موسی علیه السلام را رسیدلی و، کوم چې په اریایي ټولنې کې دنوح علیه السلام شریعت تر زردشته پورې د "ویدي" دتعلیماتو په نامه په میراث پاتې و، همدارنګه د نوح علیه السلام له تعلیماتو څخه په "چیني" ټولنه کې د "تاوویزم" په نامه تعلیمات تر کنفوسیوسه رسېدلي چې په هکله به یې د کنفوسیوس په برخه کې ورباندې خبرې وشي."

# اوومه برخه

## حضرت بـــــودا

د "ویدي" او "اوستایي" تعلیماتو په لړ کې چې کوم سمونواله، سوله ییزه او د ورورولۍ دمینې د ښېګڼو اتلواله څېره د ستاینو او ویاړونو وړ ښکاري هغه حضرت "بودا" دی بودا د دربار د زور ځواکې د ځځوالۍ څخه کرکجن او په سوله، روغه، بسیاینه کې د ورورولۍ پر مینې مین اتل د پښتواریانا دائرة المعارف "۴" څلورم ټوک په "۵۰۹" مخ کې داسې راپېژني. "

بودا: "Budha" بودا چې له ۵۲۸ تر ۴۸۸ ق م کلونو کې ژوند کاوه، دهند له شاهزادګانو څخه یو تن او اصلي نوم یې سیدا ارتاګاتاما "Siddhartagatarma" دی، د مسیح میلادي نه پنځه سوه کاله پخوا، سیدا ار تاګا تا ما په هندوانو کې د ښې رویې او ښه اخلاق او پر تولو ژویو باندې "ترحم" د تلقین په واسطه فوق العاده شهرت حاصل کړی، او د بودا په نوم چې "منور" معنی لري یاد شو، دده په ژوند کې اکثرو وګړو دده د طریقې او تلقین څخه پېروي کوله. "

دده د مړینې نه وروسته، دده په ویاړ ډېر معابد تعمیر شول، دده دین د بودایي دین په نامه د ایشیا په اکثرو نقاطو کې ډېر نفوذ موندلی دی، معلومېږي چې ددې ځوان شهزاده د پاره د عیش عشرت ټول وسایل لکه پیسې،جایداد ،رتبه،عزت،ښځه،اولاد ، خدمه او داسې نور ټول مهیاوو. "

لاکن دده افکار له مادي علایقو او د نیوي لذایذو بیزاره او روحاني عالم او دحقیقت پلټنې ته ځیر وو. "

هغه مهال چې دا نیک فطرته شهزاده، نهه ویشت "کلن "و د دربار او کورکهول له مصاحبته ناخاپي وتښتید، او د فقر او درویشي طریقه

یې غوره کړه، جسماني راز راز مصاعب او بلاوي یې پر ځان ومنلې د """" معنوي او حقیقي بزرګۍ د حاصلولو او د خپل مقدس مرام د پاره هڅه وکړه، د پوهې دونې "Botree "تر سیوري لاندې هغه مهال چې دده د حقیقت غوښتنې هیلې په فضا کې په الوتو وو. "
ورمعلومه شوه چې اصلي سعادت د پوهې په حصول کې دی او ناپوهۍ د ټولو فشارونو او بد مرغیو اصلي منبع ده، نوویلای شو، دا لوړه مفکوره به د نورو لویو او سترو ادیانو په اساس کې هم ومومو. "
دا روحاني حالت چې انسان له ګناهونو څخه پاک ساتي او د اشیاو او کائیناتو د رموز سره یې اشنا کوي، د اکثرو منورو او پاک نفسو وګړو نصب العین دی، د بشر په تاریخ کې د هغه نظائیر ډېر تر سترګو کېږي. "
حتی دهند حقیقي فقیران چې د خپلو نفسونو د تزکیې په ریاضت کې ډول ډول زحمتونه دامساک او نورو ریاضیاتو له قبیله ګاللي دي، ددغې طریقې څخه پیروي کوي. "
هغه مهال چې بودا د باطن په تنویر او عالي معنوي حالت ته لکه چې؛ غوښتل یې ورسید، خپل ویښتان یې وخرئیل او څلویښت کاله یې د ګنګا په وادي کې د بودایې دین تبلیغ وکاوه په دې ګشت او ګذار کې په دې پوه شو چې د هند روحانیون او د هغو پیروان د "وید "veda " د مقدس کتاب حقیقي لارښووونې او وصایا، نه تعقیبوي. "
بودا په تلقین او تبلیغ بوخت او د درې ګونو پر نسیبونو نشر ته متوجه شو،او ښکاره یې کړه چې درې ګونې خطاګانې او جنایات؛ خو د پرستي، بدخواهي او ناپوهي ده، " او ښکاره یې کړه چې که چېرې انسان خپل نفس د هوااو هوس د مادیاتو له دوستۍ څخه خلاصوي د دائیمي او حقیقي آزادي او خوشالي حالت ته چې د ځان هیرولو او تر ځان تېرېدلو سره جوخت وي، رسیږي، چې دغه حالت ته "Nirvand " وایي. "

بودا په کال "۴۸۸ "ق م کې په اتیا "۸۰ "کلنۍ عمر د بنارس ښار ته نېږدې له دنیا تېر شو ، د بودا مریدان او پیروان په قدیمي پالي "Pali " ژبه د یوه کتاب په جوړولو چې د بودا پر افکارو او اعمالو حاوي دی بریالي شول. "
چې د بودا له تعلیماتو څخه د هغو پیروانو ته لارښوونه کوي، د بودایي دین د عقیدې پر بنا ژوند یو بد شی دی، روح نه مري، بلکې تحول قبلوونکی دی، چې وقتً فوقتاً له یوه ژوندي څخه بل ژوندی ته تېرېږي. "
که چېرې دانسان ژوند په ښووکارونو کې تېر شو ، د هغه روح بل ښه ژوند ته رسیږي، او ترقي کوي اوکه چېرې ژوند په بدیو تېر شوی دی، روح تنزل کوي، او په نتیجه کې یودني او پست ژوندانه ته داخلیږي. "
د بودا پیروان وایي د یوه ژوندي شي د له منځه وړلو څخه که څه هم نبات وي، باید ځان وساتل شي، ولې چې ممکنه ده په هغه کې کوم روح ځای نیولي وي او د نبات د تلفه څخه د هغه د روح د زحمت سبب شي. "
نو ځکه بودایان د معابدو شاوخوا له بوټو څخه پاکوي څو عابدین پر بوټي چې د یوه روح ما واده پښه کې نه ږدي. "
د هند د جانیزم "Janism " د مذهب پیروان چې د بودایي دین سره زیات شباهت لري، ناروغه حیوانات بستري کوي او د هغوی تیمار داري او پر ستاري کوي، چې هغه غریب کسان چې په ځان کې چینجي لري ساتل کېږي چې نه دي وي چینجیان بې خوراکه پاتې شي. "
بودا په ټولو ژوندیو شیانو کې ژوند مقدس ګڼي اود ټولو ژوندي شیانو د حمایې سپارښت کوي، د بودا دین په هنداو چین کې زیات نشر شوی او پر مخ تللی دی، لاکن په هغه ځای کې چې سپېڅلی او پر خپل اصلي شکل پاتې شوی دی هغه د سیلون "Cylon " ځمکه ده. "
همدارنګه د پښتو اریانا دائرت المعارف "دریم " ټوک په "۴۱۲ " مخ

داسې لیکي. "
بودایي دین: په هغه وخت کې چې اوستایي دین ټول پخواني افغانستان نیولی و، او د دولت د رسمي دین او د خلکو د ملي مذهب په حیث ګڼل کېده په "۶" ق م پېړۍ کې زموږ په ګاونډ مملکت هند کې د بنارس د ښار د کشتر یاد کورنۍ اود "ساکیا" د ټبر څخه یو "ساکیا موني" نومي شهزاده سلطنتي، عیش او برم تر پښو لاندې کړ، او وروسته د څو کلونو انزوا او د نیا پرېښودلو څخه او د ژوندانه د نېکمرغۍ او د حیات د فلسفې د پلټلو په نتیجه کې "بودهي" یعنې؛ منور شو، او د بودایي دین تاد او یې کېښود، او د ده د هارمه "Dhanma" او سانګه "sangha" یعنې دده د راهبانو حلقې او قوانین منځته راغلل.د بودایي دین اساس او فلسفه د درد احساس او د هغه علاج د لارو پیدا کول وو. "
د د نیا اود هغې د پیدا ېښت اسرارو ته اهمیت نه ورکاوه، او دا توصیه یې کوله چې هر سړی دې باید د ریاضت او سولې او سلام د لارې نه په ځان کې د روح داسې ارامي پیدا کړي چې په "نیروان" یعنې؛ د دنیا په ما وراء ژوندانه کې نجات ومومي د پخوانیو روایاتو له مخې د بودا د مرګ په کال په "پاچاګره" کې یو مذهبي مجلس جوړ شو، اودده درې نفرو سترو مریدانو چې "اناندا" Ananda" یو پالي "Upali" او "کاسیا په" Kacyapa" نومیدل دده د خبرو څخه دیني قوانینو یوه مجموعه د "تري پي تاکه "Thripataka" یعنې؛ دګلونو ګېډۍ" په نوم جوړه کړه. "
بودایي دین تقریباً درې سوه کال په هند کې پاتې شو، او د آشوکا "د تخت کېناستو په یو لسم کال چې د مور یا د باچاهانو د کورنۍ څخه و. "
په "**۲۵۹**ق م" کې په هندوستان کې یو مذهبي مجلس جوړ شو، دې مجلس دا فیصله وکړه چې مبلغین دې هم په هند کې او تر هند د باندې

ولېږل شي، باالاخره مبلغین لکه; مجهان تیکا "Majihantika"د هډه ماراکي تا "Dhamarakita" او مهارا ګیتا د اریانا او اسیا د غربي مملکتونو خواته ولېږل شول، او په نتیجه کې په سوکه سوکه ګندهارا، ننګاراهارا لامپاک، کاپیسا، بامیان، هیبک، باختر، تخارستان یعنې; د مملکت نیمه شرقي برخه یې ونیوله، او اوستایي دین د هیواد په نیمه غربي خوا برخه کې محدود شو، همدې بودایي دین په هندوستان کې ډېره محدوده فلسفه درلودله او یوائې د "هنایانا " دنجات کوچنی لاره وه. "

د افغانستان او ستایي معتقد انو د هند په مذهب کې خورا ډېر تاثیر وکړ او دهغه رقبه یې د "سروستي وادن" دمدرسې په اصولو سره پراخه کړه او د یو لوی محفل په اثر چې د لوی کنیشکا په وخت کېږې په پېښور یا کشمیر کې د یوعالم تر ریاست لاندې چې "وازو میترا " نومېده جوړ شو د "هنایاني " د مدرسې محدود حال خورا پراخ شو او د "مهایانا " یا د "نجات لویه لار "جوړه شوه او ګندهارا " یعنې; دکابل دره د بودا د دین نوې ځمکه شوله، د بودا دین د افغانستان په نیمه شرقي خوا کې خورا ژر پر مخ لاړ او د مور یائي "آشوکا " د وخته څخه نیولی بیا د "کانیشکا "تر وخته پورې په هډه کاپیسا، پېښور، بامیانو،هیبک او باختر کې خورا لوی لوی معابد ورته جوړ شول، چې لویې لویې نخښې یې تر اوسه په افغانستان کې پاتې دي، په زرګونو معبدونو او مبتحره راهبین او روحانیون د دینې کتابونو په تالیف او ترجمه بوخت شول، د باختری یونانیانو او د افغانستان د بودایي صنعتي روح سره په افغانستان کې هیکل جوړول هم باب شول او په هند او مرکزي اسیا کې نشر شول. "

د بودا خورا لوی هیکلونه خورا لویې ډبریني استوپې "مونولیت " چې په ټول جهان کې تر اوسه نه دي لیدل شوي، په پېښور، هډه، بامیان او بلخ کې جوړ شول. "

د افغانستان بودايي روحاينونو د خپل هيواد څخه د بودا د دين فلسفه، د معمارۍ او د هيکل تراشۍ اصول پټ پر پټ د پامير د هغې خواته د ختا او ختن ته اود مرکزي آسيا څخه وچين بلکې تر شرقي اقصی پورې خپاره کړل، د بودا دين د "ق م، د دوهمې پېړۍ څخه د مسيحي تر "۹م" پېړۍ پورې چې پوره زر کاله شي د افغانستان په نيمه شرقي برخه کې يې رواج درلود ، او افغانستان د همدې دين کانون ګڼل کېده. "

د افغانستان وګړي لکه څرنګه چې وويل شول خورا ډېر د نجات د لويې لارې "مهايانې" پېروان وو، او دنجات د وړې لارې "هنايانې" پېروان هم څه نه څه په دوی کې پيدا شول، لکه څرنګه چې د چين لوی ګرځېدونکی "سياح "هيوان تسنګ" د تللو په وخت کې چې په مسيحي "۷" قرن کې د دواړو طريقو پيروان ليدلي وو، افغانستان په بودايي مذهب کې خورا مشهور راهبين تربيه کړي وو، چې هر يوه په خپل عصر کې خورا نوم درلود. "

د کنيشکا په زمانه کې د مسيح په دوهمه پېړۍ کې "وازومترا" او "پارشووا" چې اصلاً کندهاری وو، د ښه نامه خاوندان و، او د پاچا په مذهبي محفل کې يې ښه رول لوباوه، "مانتانکا" او "د هرما کالا" او ګوناوارمن" چې اصلاً يې نسبت و ګندهارا او کاپيسا ته کېږي، د افغانستان د کوشانيا نو د عصر نمونه وو، او د ديني کتابونو په ترجمه کې يې ډېر لوی خدمتونه کړي دي. "

په "۷" مسيحي پېړۍ کې "پراجانا کارا" په بلخ کې او "الي يوسن نا" او "الي يوتوسا" په باميانو کې زموږ د مملکت د بودايي دين خورا لوی علما ګڼل کېدل. "

په خوا مو وويل چې، کله د بودا دين په افغانستان کې خپرېده، د اوستا دين ټول مملکت نيولی و، او دواړو دينونو په ډېره ارامه سره په همدې مملکت کې تر ډېره وخته پورې مقابله سره دلودله، او د بودا

دین په تدریج سره په اخره کې کامیاب شو، خو دا کامیابي د افغانستان په شرقي نیمه خوا کې ودریده. "
د همدې کتاب "۴۱۷ " مخ کې داسې لیکي. "
دیوناني اساطیرا ارباب انواع; د سکندر فتوحاتو په شرق کې او د یونانو باختر مستقل سلطنت تشکیل په لومړیو دوه وو ق،م " پېړۍ کې په افغانستان کې اساطیري یوناني ارباب الانواع باب کړل او د دوی نقلونو د خلکو په ذهنونو کې لوی تاثیر واچاوه. "
مسکوکات او هیکل تراشي په دې لاره کې دخیلې وې، او په دې ډول د هر کهول، زوس،ژوپیتر،د یواني زوسن او نورو نکلونه رواج شول. "
او د دوی لپاره عبادت ځایونه هم جوړ شول، د یونانو باختري د باچاهانو د سلطنت په عصر کې او د لویو کوشانیانو په وخت کې دیني کارونه آزاد شول، چې په دې ډول سره بودایي دین ډېر پراخ شو، او زمینه یې د نورو دینونو لپاره مساعده شوه، باختري یونانو شاهانو که څه هم رسماً یوناني آساطیري رب النوع په خپلو سکو کې وهله، خو بیا هم لږ او ډېر د افغانستان دمحلي دینونو تر تاثیر لاندې شوي وو. "
لکه چې عقیده دا ډول ده چې "مناندر " په پای کې د بودا په دین شو، لوی کوشانیان هم په پای کې د افغانستان په ادیانو کې داخل شول. "
"ویما کد پیزسن " په خپلو مسکوکاتو کې شیوا ښودلی دی او ځان یې شیوایي معرفي کړی، لوی کنیشکا هغه پاچا و، چې د خپلو مسکوکاتو په واسطه دا ښیي چې دوی و ټولو دینونو ته احترام درلود، رب النوع، اوستایي، یوناني او بودایي ټول دده په سکو کې وو، او نومونه یې اخیستل شوي دي، په هر تقدیر د ټولو عقیده د ډول ده چې دوی وروسته بودایي شوي دي. "
او د همدې بودایي دین په ترویج او لویو لویو معابدو په جوړولو یې خورا زیار ایستلی دی، دا هم باید زیاته کړو چې د "اناهیتا " لمانځنه د لویو کوشانیانو په عصر کې د مسیحي د دریمې پېړۍ ترمنځ پورې نه

وه ورکه شوې او علاوه د هغه له نمایش پر مسکو کاتو باندې د امو پر غاړه یې مجلل معبد درلود چې د مسیح تر دریمې پېړۍ پورې و. "
برهمني لمر لمانځنه، د چیني ګرځېدونکي "سیاح" هیوان سنګ" له لیکنو او ځینو اسلامي مورخینو لکه محمد عوفي د شاهدۍ څخه دا ډول ښکاري چې د کوشانیانو په وروستیو وختونو کې د افغانستان په جنوب او غربي جنوبي خواوو کې د لمر لمانځنه هم رواج درلود ، او د بودایي معابدو سره د لمر لمانځنې معابد هم وو ، او تر اوسه د دغو معابدو څخه د "سوریا " د لمر درب النوع مصدر د کابل په شمال غربي "۱۲" کیلو متری خوا د خیرخانې په کوتل کې میندل شوی دی، او دایي ثابته کړې ده چې د لمر لمانځنه د هندوکش په اکثرو برخو او د هغه په جنوب غربي لمنو کې رواج او پیروان او معابد یې درلودل، او پروفیسر "هاکن" په خپل کتاب کې چې د خیرخانې د کوتل دعتیقه پېژندلو د تجسساتو په باب کې لیکلي دي، او په "۱۹۲۹" په پاریس کې چاپ شوی دی. "
او موضوع یې هم د "سوریا " معبد دی، د "موسیو کومون" او د هغه د مدارکو په استناد ، دا ښیي چې په "۴" مسیحي پېړۍ کې په شرق کې د لمر لمانځني رواج وو ، او د لمر او "اور" لمانځنې چې د زراتشترا د دین بقایا وو ، تر ډېره وخته په سیستان کې رواج درلود ، او قدم پر قدم د هندو خواته ولاړ، او هلته هم منشتر شو ، "د بها وشیا پورانه" څخه معلومېږي چې د لمر لمانځنه په "ساکه دوپیا "یعنې; په سیستان کې معمول و ، او ځینو موبدانو هغه "بهوجکه" او "ماګه" په نامه یاد کړی دی د "خیرخانې دغاښي د عتیقه پېژندنو د تجسیساتو د کتاب لمن لیکونه د "هاکن"تالیف ۳ مخ. "
نو د پورته بیان دمخې موږ ویلای شو چې د لمر لمانځنه د سیستان څخه چې اصلي ځای یې دی د هندوکش په جنوبي خواوو کې د شرقي وخواته هم پر مخ تللی دی، او د هلمند او فراه د سیند غاړه یې را

اخیستی، ارغنداو، زابل او کابل ته رسیدلي دی. "
او د مسیحي ځلورمې پېړۍ څخه وروسته یې د افغانستان په جنوب او جنوب غرب کې پېروان او معابد پیدا کړي دي، چې و دوی یې لمر لمانځونکي، برهمنان هم بولي. "
د لمر لمانځنې موضوع د تګین شاهي "کوشاني یفتلي" په "۶"۷" مسیحي پېړۍ د مسکوکاتو څخه هم معلومیږي، مستر "سي مارتین " M.F " د بنګال د آسیایي شاهي انجمن د نشریاتو د خپلې "۳۲۸" مقالې د "۴۶" نمبر ضمیمي په ترځ کې د جرمني داکتر "هاین ریش جونګر" د مطالعاتو پر اساس د لمر رب النوع شکل ښودلی دی، او د افغانستان د ځینو ځایونو، نومونه یې یاد کړي دي. "
د دغو مسکوکاتو پر مخ د رب النوع نیم ځان دا ډول نقش شوي دي،چې د هغه د شاوخوا نه د اور لمبې راپورته شوي دي، "داکتر جونکر" ددې سیکو پر مخ د "داور" د زمین داور، د هلمند د سیند غاړې، د زابلیستان، سکاوند " د لوګر او څو نورو ځایونو نومونه لوستي دي. "
او دا لوی شاهد دی چې د لمر لمانځنه د هندوکش په جنوب اود افغانستان په جنوب غربي خوا وو کې ښیي، علاوه پر مسکوکاتو د عربي او فارسي منابعو یادونې هم شته، د لمر د لمانځنې په خصوص کې چې په زمین داور کې رواج و، بلا ذري هم معلومات راکوي،او وایي چې عبد الرحمن بن سرمه په ۲۳ هجري کې چې "۲۵۲"سره برابره وه. "
په "حیل الزوره" کې چې په ولایت الداور "زمین داور" کې دی، یو طلایي هیکل چې یاقوتي سترګې یې وې، لیدلی دی، عربي مدقیقینو دا مجسمه د لمر رب النوع بللی ده. "
د لوګر د سکاوندډو معبد په خصوص کې محمد عوفی په خپل جوامع الحکایاتو کې لیکي، چې دا معبد د هندوانو لوی معبد باله کېږي،

دده د ویلو سره سم د هندوستان د خورا لیرې ځایونو څخه به برهمنان ودی ځای ته راتلل او دا معبد د هجري دویمې پېړۍ تر نیمایي او د مسیحي "۹" پېړۍ تر آخیره جوړ و، او د "فروعان" په لاس چې د صفاري عمرولیث د لښکرو مشر و، د "کلمو" یا "کملو" سره په جنګ کې چې د کابلي برهمنیانو پاچا و، په "۲۲۵-۲۸۷" هجري-۸۷۹-۹۰۰ میلادي کال کې خراب شوی دی، نو بې له شک او تردیده ویل کېدی شي چې د مسیحي د "۴" پېړۍ نه وروسته د بودایي او اوستایي دینونو برسیره چې د افغانستان شرق او غرب یې نیولی و، د هندوکش په جنوب کې د لمر لمانځنه هم کېدله."

اوغوره معابد یې درلودل، د چین لوی ګرځېدونکی سیاح "هیوان سنګ د میلادي "۷" پېړۍ په نیمایي کې ډېر برهمنیان چې په ایرو به یې ځانونه ککړ وو، د "کاپیسې" په ښار اوسني "بګرام" کې لیدلي وو، او د دوی د معابدو نکلونه یې کړي دي، دا دین دهجري په دریمه پېړۍ کې چې د میلاد "۹" پېړۍ سره برابر دی په افغانستان کې موجود و، او وروستنی ځای یې د هیواد دجنوب خوا وه او د کابل د برهمن شاهانو سره د صفاریانو په جنګونو کې د مملکت د جنوب څخه وایسته شو."

او غزنویانو یې وروستۍ برخې هم د لغمان او جلال اباد د سیمو څخه لرې کړل دا وه د بودا پېژندګلوي، په دې پېژندګلوۍ کې څو ځایه د بودا د دین پر ځای د مذهب نوم یاد شوی، یعنې؛ د دې پر ځای چې ووایي د بودا دین، هغه یې د بودا مذهب ګڼلی دی، چې سمه نه ده، دا ځکه چې دین ځانله معنی لري اومذهب ځانله، دا په دا چې؛ دین یوې بشپړې ترلې غوتې ته وایي چې د لوی خدای له لوري رانازلېږي حال دا چې مذهب هغې لارې ته وایي چې پرې تګ راتګ وشي یا شوي وي، او دا د هر دین په لارویانو کې د پوهانو اوعالمانو له خوا رامینځته کېږي چې دې ته د دین د علماو او پوهانو له خوا بدعت ویل شوي دي."

بدعت هغه کار ته وایي چې په یوه رنګ کې بل نوی رنګ وپنځول شي، دې کار ته دیني عالمان که د دین په خلاف نه وي او ولس ته ګټه ورسوي حسنه بدعت یا ښېګڼه ایزه نوې والی وایي. "
خو که چېرې دیني احکامو سره ټکر و لري، یا دا چې ولس ته یې ضرر ورسیږي، نو په هغه بڼه کې ورته بدعت سیئه وایي او ناروا ګڼي، لوستونکي به په دې، وپوهیږي چې هر کله او په هره سیمه کې چې کوم دین راغلی، هغه خو بیا پر مذاهبو ویشل شوي دي، لکه چې د بودا دین هم، د دې پېښې نه بچ نه دی پاتې شوې او دا په باوري توګه ویلی شو، چې د سیمه ایزو او ټولنیزو شرایطو له مخې د بودا په دین کې هم مذهبي توپیرونه همدا اوس اوس هم په څرګنده توګه لیدلی شو چې د بودا د دین په لارویانو کې شته والی لري. "
د مثال په توګه د سیلون د بودایانو او د تبت د د لالی لاما دلارویانو تر منځه او همدارنګه درنګون د بودایانو او د بنکاک د بودایانو تر منځ په پراخه توګه مذهبي توپیرونه شته دي، دچین او د جاپان د کور یا او د ویتنام د بودایانو به لارنور څومره توپیروي؟ لکه څنګه چې په پورته توګه مو ورته ګوته ونیوله مذهبي توپیر په ټولو ادیانو کې رامینځته شوی دا که زردشتي دین و او که موسوي دین، او که هر یو بل دین، دا چې زموږ موخه په مذهبي توپیر نه څرخي، له دې امله دغه خبره به هم همدلته، پرېږدو او رابه شو خپل بنستیزې موخې ته چې هغه ته د وروروولۍ د مینې اتلواله وایي. "
لکه څنګه چې مود وروروولۍ د اتلوالې نښې نښانې د حضرت "هابیل" "حضرت نوح "حضرت ابراهیم "حضرت یوسف" حضرت زردشت او حضرت موسی علیه السلام په ژوندانه کې ولوستل; دادی د حضرت بودا " علیه السلام په کړو وړو کې هم لوستلی شو او کولی شو ووایو; حضرت بودا په انساني ټولنه کې د سولې، روغې، جوړې، هوساینې او نېکمرغۍ بې جوړې ستړه او د تاوتریخوالي ځاځنی او تشدد محوه

کونکې انسان و ، دده لارښوونې د ژوندیو سره مینه اوخواخوږی ده، حضرت بودا لکه څنګه چې دنامه څخه يې ښکاري د انساني نړۍ یو ستر روڼ اندې، سوله من، لاوريبزه او خواخوږی انسان و ، د هغه د ژوند پېښې او بيا د هغه لارښوونې د عدم تشدد او ورورولۍ د سروال حضرت "هابيل " عليه السلام هغه خبره چې يې خپل ورور "قابيل " ته کړی وه کت مټ په عمل کې تمثيل کړی ده. "
يعني; حضرت "هابيل " ويلی و ، يه قابيله ! ته زما ورور يې; که ما ووژني هم زه به ستا د لاسونو مخه ونه نيسم " د ورورولۍ د مينې د اتل دغه خبره حضرت بودا تر دې بريده راورسوله چې ووايي; هر ژوندی د روح څښتن دی او د روح د څښتن وينه تويول او غوښه خوړل ناروا دي. "
د "هابيل " نه وروسته د انسانيت په لمنه کې د خواخوږۍ او زړه سواندۍ کچه د بودا د لارښووونو او کړنو ترکچې پورې لا تر اوسه چا نه ده رسولې، دغه ستائينزه مرتبه او دا چې بودا په ځوانۍ کې خپل تاج او تخت، حشمت او نعمت او د تشدد سياسي واکمنۍ ته شا اړولې، هغه ته د انسانيت په نړۍ کې د ورورولۍ د مينې يوخورا ستره اتلواله کچه وربښلې ده. "
دا چې د ژوندانه بهير د ادم عليه السلام په ژوندانه کې د "قابيل " او د "هابيل " د پېښې نه وروسته په دوه متضادولارو سم شوی. "
چې يوه ته تشدد او ځځواله وايو او بل ته عدم تشدداو سوله ييزه د تشدد سروال "قابيل " او د عدم تشدد سروال "هابيل " دی په دې توګه د "هابيل " او "قابيل " د پلويانو ترمنځ د ژوندانه جګړه په خپل ټول زور او شور سره لا ترننه پورې روانه پاتې او تر څو چې نړۍ ودانه وي او د ځمکې پر مخ ژوند دوام لري دغه جګړه به روانه وي، يو به د "قابيل "پلوی وي، او بل به د "هابيل " يو به د سولې، روغې او خواخوږۍ نه وايي بل به د زور زياتي، تاوتريخوالی، تشدد او

ځځوالې ډمامې غړوي، یوبه ژوندانه ته د ژغورنې لارې چارې لټوي، بل به د ژوند د ښښو ښښانو د له منځه وړلوهلې ځلې کوي، یعنې; یوبه ودانوي او بل به ورانوي، دا ودانول او ورانول، دهغو متضادو خویونو عملي چارې دي چې انسان د ژوند د پیل څخه په برابره او په پرله پسې توګه د تاریخ په اوږدو کې خپل ښښې ښښانې پریښې دي،یوه ژوند ته وده او ښېرازي وربښلې او بل د ژوندانه هرڅه مروړلې دي. "
یو د حق په نامه یادېږي او بل د باطل حق لومړی دی چې د ژوند مینه نومېږي او باطل وروستی دی چې "کرکه" ورته وایه شي، "مینه" د ژوند پیل او "کرکه" د ژوند پای ده، موږد پیل او پای ښښې ښښانې دهغو په کړنو کې لیدلی شو چې ژوندانه ته ښېرازي، بښلی، یاچا چې ژوند وژلی دی، حضرت "بودا " په دې لاره کې د "کرکې "دریځ څخه چې ژوند وژونکی و رابښکته شو او لاړ چې د "مینې" خواخوږی" او لورینې ځلا لرونکې رڼا ومومي، څو د ژوند د ښېرازي په لاره کې خپلو ورونړو ته مرستې ورسولای شي، لکه چې په خپل هوډ کې بریالی هم شو ، او دا دې تر ننه پورې دهغوی د مینې لارویانو یوستر "ملت" خپل شته والی ساتلی دی، موږ دلته کولای شو لا چې اړیو. "
څو حضرت "بودا " ته په انساني ټولنه کې د مینې خواخوږی، لورینې، سولې، روغې،هوسایینې او بسیاینې د "۷" اتل په نامه ونوموو، ولمانځو او یاد یې تازه وساتو،د حضرت "بودا " لاربښوونې د هغوتعلیماتو په رڼا کې خپل نظم او ترتیب، موندلی چې د حضرت نوح علیه السلام نه را په دېخوا ، په اریایي ټولنه کې د "ویدایي " تعلیماتو په نامه په میراث پاتې وو. "
په دې "ویدایي "تعلیماتو کې د "بودا " نه مخکې حضرت زردشت له خوا د "اوستا " د دیني تعلیماتو په نامه یو لړ پراخه اصلاحي سمونو نه هم رامنځته شوي وو، چې د حضرت "بودا " دغه تعلیماتو ارومرو د "ویدایي " او "اوستایي تعلیماتو په رڼا کې خپل رنګ او ځلا تر لاسه

کړی دی. "

دا خبره څه دتعجب او حیرانتیا خبره نه ده دا ځکه چې د "اریایي" ټولنې نه پرته په "سامي او چینایي ټولنو کې هم ورته تاریخي پېښې لرلی شو. "

لکه په "سامي" ټولنه کې د "ابراهیمي" دین د تعلیماتو په رڼا کې موسوي" عیسوي او د اسلامي ادیانوتعلیماتو اوهمدارنګه په "چینایي" ټولنه کې د "تاوویزم" تعلیماتو په رڼا کې د "لاوتوسو" او د کنفوسیوس اصلاحي تعلیمات او دیني لارښوونې کومه مرتبه چې په اریایي ټولنه کې د عدم تشدد په اړه حضرت بودا لرلي، څه ناڅه په همدې کچه په "سامي "ټولنه کې د حضرت عیسی علیه السلام او په چینایي ټولنه کې د حضرت لائوتسه هم ګڼلی شو. "

# اتمه برخه

## لائوتسه

په اتمه برخه کې هغه چاته د انسانیت په لمنه کې د سولې، روغې، مینې، خواخوږۍ اوروروولۍ د درناوی نه یادونه کېږي چې د "تاوو "تعلیماتو په رڼا کې خپل ولس ته د نوي ژوند په لاره کې د نویو سمونونو لارښوونې وړاندې کړې دي".

دغه انسان د چین په ټولنه کې د "لائوتسه" په نامه یادیږي، او "لائوتسه" د تاوویزم" لارښوونو د مخکښ شخصیت په توګه د درنښت د دریځ د خاوند په څېر د درناوي او لمانځنې وړ ګڼل شوی دی"

د ادی"لائوتسه" د پښتو اریانا دائرت المعارف دڅلورم ټوک په "۹۰۵" مخ کې دارنګه پېژنو."

تائویسم: Taoisme" تائویسم یو سیاسي او اجتماعي مکتب دی چې چیني فلسوف "لائوتسه" پورې اړه لري، چې د "۶۰۴" "۵۰۱" کاله پخوا له میلاده یې ژوند کاوه، لائونسه" د چین د لرغوني تمدن له موثره عواملو څخه شمېرل کېږي."

د "لائوتسه" فلسفه آزاده او پرته له قیده فلسفه وه، د انسان طبیعي ښېګړې ستایي او له قید او قانونه سره علاقه نه لري، او د دولت له ایجاد سره هم علاقه نه لري، او وایي چې ملت پرته له حکومت څخه ډېر ښه ژوند کولای شي، او ستمکاري هغه وخت زیاتېږي چې یو با قدرته حکومت پر ملت باندې حکومت وکړي."

لائونسه له علم سره مخالف او طبیعي جهل ستایي د "لائوتسه" په عقیده خلق هرڅومره لږ علم زده کړي، هغومره لږ جنایتونه کوي، د فساد منبع د فکر په پرورش کې پیدا کوله او درې ګرانبها ګوهروته یې

ارزښت ورکاوه چې هغه عبارت له شفقت، صرفه جویي او تواضع څخه دی، او ده ویل چې په رحم دلی سخي کېدلای شو او په تواضع به د خلکو پیشوا وګرځو. "
داوه دده د نظریاتو خلاصه"لائوتسه" صحیح او سمه طریقه یا "تائوئسیم" منځته راوړ" تائود طریق" په معنی او هم د "طریقي سالک " په معنی داسې یوه اصطلاح ده، چې د "لائونسه" په ویلو او لیکنو کې مکرره راغلې ده،او "تائو " د ژوندانه او دولتي د سلوک او رفتار په وسایلو کې شامله ده، "تائو " چې "تائو ته کینګ " په کتاب کې ذکر شوی دی، عبارت له هغه حقیقت، طبیعت اویا هغه نهاني اصل څخه دی چې په هر شي کې نفوذ لري او په هر شي باندې حکومت کوي، ددې فیلسوف سیاسي او اجتماعي ښوونځي یو زر کاله "چین" اداره کړ. "
برتراندرسل" انګلیسي فیلسوف په خپل کتاب کې چې د "چین مساله" په نامه یادیږي، دغه فلسفي مکتب ډېر ستائیلي او د هغه مفصله شرحه یې لیکلې ده، " دده له افکارو او اندیښنو څخه یو څو ټوټې دادي؛ "
۱- که مرکزي حکومت د تابع ولایت په نسبت فروتني وکړي، نو هغه ولایت به په غنیمت یوسي ددې مثال نمونه داده؛ لوی رودونه قدرت لري چې په سلها وغرنیو ویالو باندې تسلط پیدا کړي، همدا دی چې پوهیږي څرنګه خپل ځان له لاس لاندې وګرځوي، همدا شان ددې دپاره چې "دانا " پر نورو مسلط شي، نو باید تواضع وکړي ، ددې دپاره چې هغه پیشوا وګرځوي، نو دی باید خپل ځان په شا بوځي، د چاچې شتمني لږه ده برې مومي، او هغه چې شتمني ډېره لري ګمراه کېږي. "
۲- هغه چاته غني ویلی شو چې پوه شي دده مایحتاج او غیر مایحتاج څه شي دي؟.
۳- ښه اخلاق لکه جاري اوبه داسې دي چې د خپل چار چاپیر د خرمي

او حاصلخیزې موجب ګرځي. "
په پورته توګه مو د "لائوتسه" په هکله یو څه څرګندونې ولوستلې دا چې په دې لیکنه کې "لائوتسه" د تائوئزم" رامنځته کوونکی ښودل شوی، زه ورسره موافق نه یم، تر کومه چې ما لوستلي "تائویسم" لکه په اریایي ټولنه کې "هندوییزم" د چنایانو پراخه دیني تعلیماتو بنسټ دی، په دې دیني بنست کې لکه "لائونسه" ډېر داسې کسان راغلي او خپلې اصلاحي پروګرامونه او لارښوونې یې پریښي دي. "
لري به نه څو همدا د "لائوتسه" لارښوونې او سمونو نه هم په خپل ذات کې د تیرو زمانو نه د راپاتې تعلیماتو په رڼا کې نوی اصلاحي غبرګون دی چې رامینځته شوي دي. "
دلته چې "لائوتسه" کوم د ستایلو وړتکي لري، او هغه د نورو مصلحینو په لړکې د روغې، جوړې او د ورورولۍ د میني د اتل په څېر ګڼلی شو، هغه خو دده د دیني شریعت هماغه درې اصلحه دي چې ډېر کلونه یې په چین کې دود لرلی او خپل مثبت اغیز یې ښندلی دی. "
دا په دا چې موږ کولی شو د "تائو" د لغوې معنی له مخې هم ووایو چې لکه څنګه چې په چین کې د چینانو لپاره، "تائو" د طریقې یاد لارې په توګه د دیني لار ښوونو په نامه مسمی شوی په عربي ژبه کې هم "دین" هماغه د "تائو" نوم دی چې لغوې معنی یې غوټه شوې لاره ښوونو ته وایي کله چې د "تائو" لغوې معنی په لاره وژباړلی شو نو په زغرده، ویلی شو چې دغه لاره د "لائوتسه" څخه پخوا هم د چینایانو په منځ کې شته والی لر لی او د چین ولس ارومرو د "لائوتسه" د لار ښوونو څخه پرته نورې "تائوسیتي" یا دیني لارښوونې هم لرلی چې له "لائوتسه" نه پخوا رامینځته شوي وي، په دې دلیل "لائوتسه" په چین کې د تاتوئیسم" د مصلح په نام د دریو اصلاحي بنسټونو د وړاندې کوونکي په توګه او همدارنګه د تشدد او ځځوالي سره د مخالفت له امله د خواخوږۍ، لورېینې او د ورورګلوۍ د مینې د "۸"

اتل په څېر د ستایلو او لمانځلو وړ انسان ګڼل کېږي چې باید د تل لپاره یې درناوی وسي. "

# نهمه برخه

## کنفوسیوس

په نهمه برخه کې د چینایي ولس یو بل مصلح او د انساني ورورولۍ پر مینې مین شخصیت نه وایو چې کنفوسیوس نومېږي، د کنفوسیوس په هکله د اریانا دائرت المعارف د اوم ټوک په "۸۵۲ " مخ داسې لیکل شوي دي. "
کنفوسیوس; ۵۵۱-۴۷۹-ق م "کنفوشیوس یا کنفوسیوس چې اصلي نوم یې "کونګ فودزو " Kung fu+zu "یا کونګ فوتسه" Kungfu+se " وو، چې ادبي معنایي "کونګ"فیلسوف دی، او په لاتیني ژبه کې د کنفوسیوس په نامه بلل شوی دی. "
او کونګ چیو "kungchiu " یې هم بولي د چین ستر فیلسوف او لوی مفکر وو، چې په "۵۵۱ق م کال په لو "LU"کې چې اوس د شاتونګ-Schantung " د ایالت په نامه یادېږي، زېږېدلې دی، د ژوند په سر کې یې خپل وختونه د لرغونیو لیکنو په کتنه او مطالعه تېراوه، په علم او پوهه یې شهرت وموند او د "لو " د دولت درئیس الوزا مرتبې ته ورسېده. "
او هغه وخت چې د هغه هیواد واکمن د عیاشۍ خواته مخه وکړه، کنفوسیوس استعفا وکړه "۳۹۰ق م " تر دولسو دیارلسو کالو پورې یې لالهانده ژوند کاوه او له یوه هیواده بل هیوادا ته تللو، او خلکو ته یې ښوونه کوله، دې مذهبي ښوونکی نه و. "
بلکې دده ښووني او تعلیماتو زیاتره اخلاقي جنبه درلودله او یا زیاتره د کورنۍ ژوند او اجتماعي اصلاحاتو د واکمنۍ "زمامداري " د فن په باب کې وو، او دده نصیحتونه و چې تر نني ورځې پورې د خلکو د ورځني ژوند لارښوونکی ګڼل کېږي. "

علمي ارزښت لري او د ګټې لټولو "یو تیلیتار یا لسیم " فلسفې ته ورته دی، دی خپل ځان د هغې فلسفې مبتکر او خلاق نه ګڼي، بلکې د هغې "ناقل " او په اصطلاح ځان د هغې فلسفې "پیام وړونکی "بولي، دده لیکنې زیاتره د چین د کلاسیکو معقداتو توجیه او تفسیر دی، ډېر شاګردان یې درلودل، چې پر چیني ادبیاتو ډېر مطلبونه زیات کړي دي، د انا لکت " Analect " کتاب چې په مختلفو موضوعاتو کې دده د ښوونو او تعلیماتو لنډیز دی، د چین له څلورو مشهورو کلاسیکو کتابونو څخه دي. "

ددې ستر چیني حکیم لیکنې له "۲۵۰۰ " کالو راهیسې بیا تر اوسه پورې د مشرق د بې شمیرو خلکو دپاره د اخلاقي اصولو او د تګ د مقیاس د یوې لویې دستګاه مبنا باله کېږي. "

او سره له دې چې په پېړیو "تائوئیسم " او بودیسم " اومسیحي مذهبونو ورسره مبارزې ته هڅې کړې دي، خو بیا هم دکنفوسیوس آئین که څه هم نن ورځ د سیاسي نظم دپاره د یو دستور عنوان نه شي کېدلای مګر لا اقل د ژوند د یوې فلسفې او د اخلاقي او اجتماعي احکامو په عنوان تر ننې ورځې پورې همغسې پر خپل ځای پاتې دی دده له مغزه ډکې ویناوې چې له کوچنیوالي تقریباً د چین د ټولو خلکو په دماغ کې ځای نیولي په هغه هیواد کې بې حده اجتماعي اغیزه درلودلی ده. "

د تقوې او د رستي، خیر غوښتنې او د نجات په باب کې دده تاکید چې دده د فلسفې سره سم له فرده شروع شوی، کورنۍ، ټولنې، ولس او نړۍ ته خپرېږي، دده آئین د یوه ډېر غښتلي اخلاقي قوت په صورت ځان له پېړیو او اعصارو څخه را ایستلی دی. "

کنفوسیوس تر دیارلسو کالو لالهاندي وروسته په خپل ټاټوبي کې چې هلته و، خپل عمر د تاریخي مباحثو اومحلي اشعارو په تالیف او د "لو " د پایتخت د تاریخ په لیکلو او شونګ "Shung " ۱۷۲۱-۱۱۲۲-ق

م "د زمانې راهیسې د پخوانیو قصیدو په ټولو لو صرف کړی دی. "
د چین په ادبیاتو او فلسفي لیکنو کې څلور لوی او مشهور کلاسیک کتابونه شته، چې دوه یې د کنفوسیوس ښوونې او تعلیمات دي او دده د شاګردانو په قلم لیکلي شوي دي، او هغه دده نور کتابونه دده د شاګردانو او پیروانو افکارو تعلیمات دي. "
کنفوسیوس تر میلاده "۴۷۹ " کاله د مخه په "۷۲ "کلنۍ کې مړ دی.
داوه د کنفوسیوس پېژندګلوي، په دې پېژندګلوۍ کې نوموړی د چین یو ډېر ستر مفکر، د اخلاقو او تقوې یو لوی او غښتلی سړي توب ګڼل شوی دی او په رښتیا کله چې دده کړو وړو ته څه غونډې تم شو. "
وبه وینو چې هغه کټ مټ لکه د یوسف علیه السلام او د حضرت زردشت علیه السلام په څېر خپل اصلاحي پروګرامونه د بلچاتر سیوري لاندې پلي کړی دی، اوپه دې توګه یې د انسانیت په خورا پراخه لمنه کې د ورورګلوۍ د مینې د یو ستر اتل غوندې ځیدلی دی، هغه که الهي پیغمبر وګڼل شي، او که نه؟ په دوو حالتونو کې د هغه تله ډېره درنه ده، دا ځکه چې؛ لکه څنګه چې په پېژندګلوۍ کې یې ولوستل شول، نوموړي په خپل پیغام کې وګړي او ټولنې ته د تقوی د لرلو لارښوونه کړې، چې دا خبره یا دا پېغام په خپله د هغه د الهي استازي په توګه لوړ دریځ روښانه کوي، تقوی هغه پیغام دی چې د هر یوه الهي استازیو په لارښوونو کې تر هرڅه د مخه انسانانو ته وړباندې تاکید شوی دی، دا که نوح علیه السلام و، که ابراهیم علیه السلام، او که موسی علیه السلام، یا عیسی علیه السلام او یا که هم حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په قران کریم کې چې د لوی خدای سپېڅلی کلام دی د تقوی په هکله ډېر ځلي یادونه شوې ده. "
او داهم راغلي دي چې د لوی خدای په وړاندې د انسان کرامت په تقوی کې نغښتی، که څوک د تقوی خاوند وي هغه به د لوی خدای په وړاندې د ډېر محترم او مکرم انسان په څېر د جنت اوسېدونکی شي،

او که چا تقوی نه لرله، نو ځای به یې دوزخ وي، په قران کریم کې د تقوی لغوي معنی هم تفسیر شوی. "
په هغه کې راغلي دي; څوک چې پر غیب ایمان ولري، لمونځ وکړي او د رزق او روزي انفاق وکړي د تقوی خاوند ګڼل کېږي، یعنې د اسلام په دیني شریعت کې په دې درې ګونو بنسټونو تاکید شوی، او هغه یې د یوه مسلمان وګړي رښتیني وجیبه ګڼلې ده. "
په دې توګه موږ وینو چې په ختیځ یعنې له چین څخه نیولې تر منځني ختیځ بابله پورې په ټولو شرایعو کې د دغو درې ګونو اصلونو تاکید شوی او د هغه په پلي کولو سره د انسانیت د ژغورنې د غوره پړاو ته د رسېدلو یو اځنیۍ لاره ګڼلې شوې ده. "
دغې ټکي ته په پام اړولو موږ ته ددې وسه ښني،څو وپوهېږو چې له ختیځه تر لوید یځه د ټولو الهي استازیو پیغامونو کې دغو دریو ټکیو ته په یوه ځای کې یو رنګ او په بل ځای کې بل رنګ، هغه هم د لفظونو په توپیر کې دانساني ټولنې پام اړول شوی دی، د توپیر ونو لامل ښايي سیمه ییزې جغرافیوي حالات وي، او همدارنګه ښايي دولسونو کلتوري کړه وړه او ژوند او ژواک وي چې لا تر اوسه پورې یې خپل شته والی ساتلی دی. "
باید ووایو; په حقیقت کې د الهي شریعتون موخه په ټولو ځایونو کې یوه او هغه هم د انسانیت ژغورنه ده. چې هر کله او په هر ځای کې د لفظونو په توپیرونو سره لکه د لمر د وړانګو په څېر ځلیدلی او خپره شوی، وګوري د چین د ستر مفکر کنفوسیوس لارښوونې چې د زرګونو کلونو په اوږدو کې لا هم خپل ارزښتناک اغیزې یې په خورا اغېز منه توګه د چین دولس په منځ کې ساتلی او دغه ولس ته یې د نیکمرغۍ،هوساینې او بریالیتوبونو د زیري په څر وړمې خپرې او خورې ورې پریښې دي. "
هر هغه پیغام چې په کې د ولس د جوړونې،روزنې او پالنې الهام پروت

وي،هغه د تل لپاره د ولس په منځ کې پاتې کېدونکی او ژغورونکی ګڼل کېږي. "
د ولس جوړونه،روزنه او پالنه کوم داسې اسان کار نه دی چې د هر چا د لاسه پوره وي، اوهرڅوک پاڅېږي او یو ستر تاریخي پېښنه رامنځته کړي، داکار د هغه چا له وسې پوره ګڼل کېږي چې د خپل ولس دجوړونې،روزنې اوپالنې مینه په زړه کې ولري، او ومني چې په دې لاره کې د هر رنګه ستونزو ،ربړونو او لانجو سره دمبارزې هوډ په خپل ځان کې وینې، کنفوسیوس دغه وسه لرلې وه چې د "تائوئیسم" په رڼا کې د "لائوتسه" د تعلیماتو په غبرګون خپله لاره جلا کړي او خپلې ټولنې ته یې هغه څه وښودل چې لسګونه پېړۍ د ولس په منځ کې لا د منښت دریځ خاوندا او د درناوي ارزښت لري. "

# لسمه برخه

## حضرت عیسی علیه السلام

په لسمه برخه کې د هغه چا یادونه کوو چې اوس اوس د ځمکې پر مخ څه کم نیمایي او سېدونکي انسانان یې په نامه ویاړي او ځانونه د هغه د لارې پېروان ګڼي، او هغه حضرت عیسی علیه السلام دی، د عیسی علیه السلام په هکله د پښتواریانا دائرت المعارف د اوم ټوک په "۲۰۲" مخ کې داسې لیکي. "

عیسیٰ عیسی بن مریم یو الوالعزم رسول دی چې د انجیل د کتاب سره بني اسسرائیلو ته ولېږل شو. "

د بیت الحم په کلي کې چې یو فلسطیني کلی دی، بې له پلاره دده مور حامله شوه، د معجزې په بڼه خدای پاک مریمې ته روح القدس ولېږه اوهغه ورته د بشر په شکل ځان تمثیل کړ، څرنګه چې دهغه د لیدلو څخه د مریمې په زړه کې ویره پیدا شوه. "

نو جبرئیل علیه السلام د هغې ویره حس کړه او زېری یې ورکړ چې داسې وخت راغلی دی چې لوی خدای تاته د یو ذکي او هوښیار ځوی وبښي. "

نو وروسته یې د هغې په ګرېوان کې پوه کړ او عیسی علیه السلام یې په ګېډه شو، دده په ګېډه کې یې وده وکړه، لکه چې نور خلک پیدا کېږي. "

دغسې هغه هم پیدا شو، له بلار بېدو څخه وروسته خلک په مریمې باندې بدګمانه شول، لوی خدای په همادغه مهال کې چې عیسی علیه السلام د خبرو نه وُو په خبرو راوست، او د مریمې په عفت او پاک لمنۍ او پاکي یې شهادت ورکړ، او په دغو جملو سره یې خپلو خبرو ته دوام ورکړ. "

زه د لوی خدای بنده یم، لوی خدای ما ته کتاب راکړی دی او زه یې خپل پیغمبر کړی یم، سلام دې وي پر ما او هغې ورځې باندې چې زه په کې زېږېدلی یم، او په هغې ورځې باندې چې زه په کې مرم، او په هغې ورځې باندې چې زه په کې بېرته راژوندی کېږم."
کله چې عیسی علیه السلام غټ شو او د رسالت په واجباتو باندې قوي شو، نو لوی خدای بني اسرائیلو ته په رسالت ولېږه او عیسی علیه السلام د یو لړ داسې مشکلاتو اوسختیو سره مخامخ شو، لکه چې نور نبیان علیهم السلام د خپلو امتیانو سره مخامخ کېږي، د یو شمېر کمزورو کسانو څخه پرته نور چادده متابعت ونه کړ، خو په زاهدي او حکمت کې دده اصولو او تعالیمود یهودانو په سترو کسانو او رجالو کې دردونه پیدا کړل."
ځکه عادت او رواج داسې دی چې د قدرت خاوندان او مشران مصلحینو ته په بده سترګه ګوري چې ددغه ډول کسانو راتګ او موجودیت دده باعث ګرځي چې د خلکو حالاتو ته بدلون ورکړي یو قوم ته سقوط ورکوي."
او بل قوم د لوړ تیا سره مخامخ کوي، د دین مشرانو او رئیسانو د خپل اقتدار او زور د له مینځه وړلو د ویرې له کبله د ده په مقابل کې راپورته شول."
اود ده پرضد یې د دروغجنې او تګي دعوی وکړه، تر څو چې د روما حکومت دده د مصلوبولو امر وکړ، او هغه یې راوغوښت چې د صلب حکم ورباندې وچلوي، لوی خدای هغه وژغوره او آسمان ته یې پورته کړ، او په دغه آیت کې چې لوی خدای په قرآن کې فرمائلي دي؛ بل رفعه الله "مفسرین" اختلاف لري، ځینو ویلی دي چې یې له جسد سره آسمان ته جګ کړ او ځینې نور وایي هغه یې مړ کړ، لکه چې نور مړه کوي او دده روح یې پورتنۍ نړۍ ته وخېژاوه."
د سنت او جماعت د خلکو عقیده داسې چې هغه یې له جسد سره

اسمان ته پورته کړ، اودغه ایت چې د قرآن کریم په بل ځای کې راغلی دي داسې فرمائلي دي چې؛ " إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ " د توفي معنی، په پوره نیولو او یا خوب وړلو سره تفسیر وي، داسې معنی کېږي چې؛ستا پوره جسد او روح اخلم او خپلې خواته دې پورته کوم او که چېرې یې خوب وړلو سره تعبیر کړو، نو تعبیر یې داسې کېږي چې تا په خوب وړم او اسمانه ته دې جګوم. "

اسمان ته د عیسی علیه السلام له جګېدلو څخه وروسته دده اتباعو او پېروانو د هغه د دین په خپرولو کې په وروستنۍ اندازه هاند او هڅه وکړه او د ډول ډول شکنجو او ربړونو سره مخامخ شول. "

دا وه د عیسی علیه السلام پېژندګلوي، د پېژندګلۍ د مخې نه موږ دې ټکي ته راغلو چې ووایو؛ د عیسی علیه السلام د ژوند او مړینې په هکله دوه ډوله انګېرنې دي، ځینې وایې چې پر صلیب ووژل شو، خو بیا مړ یې د لحد څخه ورک شو، مګر ځینې وایي د لوی خدای د لوري نه ژوندی ژغورل شوی او په څووم اسمان کې اوسي هغه که مړ وي که ژوندی وي ځانله بحث دی، کوم څه چې زما موخه ده، هغه خو یواځې او یواځې د ورورګلوۍ د مینې د اتلانو پېژندل دي، عیسی علیه السلام زما په دې بحث کې په نښه شوی او غواړم د هغو څو ټکیود مخې نه چې کولای شي د عیسی علیه السلام په کړو وړو کې وځلیږي، هغوی ته دغه دریځ ورکړم. "

۱- عیسی علیه السلام بې پلاره مولود دی، هغه د مور په غېږ کې غرېدلی اوخپل ځان یې د لوی خدای استازی ښودلی. "

۲- عیسی علیه السلام د زېږېدو د نیټې څخه تر صلیبه پورې تل د عدم تشدد، سولې، روغې، مینې او بسیاینې تبلیغ کړی او خپل لارویان یې د تل لپاره د تشدد، تاوتریخوالي، کرکې او ځځوالی نه منع کړي.

۳- عیسی علیه السلام خپلو لارویانو ته همېشه د زړه سوای، لورئینې اومرستو لارښوونې کړي.

۴- عیسی علیه السلام د زمانې د ستر مستبد او جابر واکمن پر ضد پر سوله ییزې لارې مبارزه کړې ده.
۵- عیسی علیه السلام لا خپلو لارویانو ته لارښوونه کړې چې که چا په څپېړه پر یوه مخ ووهلی دا بل مخ دې هم ورته ورواړوه، چې په بلې څپېړې دې ووهي، خود تشدد ځواب په تشدد مه ورکوه.
۶- د عیسی علیه السلام دامت د رامینځته کېدلو بنسټ پر عدم تشدد ولاړ دی.
دغه پورتني څو ټکي اوداسې نور هم د پام وړ ټکي شته چې دعیسی علیه السلام دریځ ته ځرګندوالی ښښلی شي، خو هغه څه چې دهغه د امت په هکله د ویلو وړ ګڼلی شو دا دي: "
دعیسی علیه السلام "امت" چې د ابراهیمي "ملت" په لمنه کې راټوکېدلی، همدا اوس د ځمکې د دریمې برخې څخه دوی برخې په واک کې لري چې د سر د شمېر له مخې دوه تر دریو میلیاردو څخه هم وراوړي، دغه عیسوي "امت" چې په دریو سترو مذهبونو هر یو؛ ارتودوکس، کاتولیک او د پروتیستانتو په نومونو ویشل شوي، داسې نه ده چې ګنې د عیسی علیه السلام دعدم تشدد دچال چلند پر مخ د غومره ډېره برخه د ځمکې یې نیولې اود سر د شمېر له مخې یې هم په دې ډېروالي سره دغه ټول وګړي د عدم تشدد پلویان دي. "
بلکې د یوې بې پلوه څېړنې له مخې ویلی شو چې لا تر ننه پورې د عیسوي "امت" واکمنه ډلې او ځواکونو لا د تاریخ په اوږدو کې د تل لپاره د ځځوالي تاو تریخوالي، مکرونو، حیلو، دسیسو او اقتصادي بندیزونو څخه په پراخه توګه کار اخیستی او په دې لاره کې یې په میلیونونو لا څه چې میلیاردونو انسانان یې د مرګ کومي ته ورغورځولي دي. "
دا که د مذهب د واکمنانو له خوا وه او که د سیاست د واکمنانو له خوا په نړۍ کې د غو دوه وو ځواکونو لکه د نورو متشدده ځواکونو په څېر

د ژوندانه د تشدد په هر اړخ کې له هرې لارې هر رنګ زور زیاتي نه کار اخیستی، څو خپله خبټه وپړسوي، چې په نتیجه کې همدا نن د هغوی د تېرو ټولو ننګینو جنایاتو پایله دملګرو ملتونو د ټولنې رامینځته کېدل دي. "
دا چې ددې ټولنې رښتینې واک د چا په لاس کې دی ځانله بحث غواړي، مګر زموږ خبرې پر عدم تشدد څرخي، چې په دې برخه کې د عیسی علیه السلام په نامه د هغه کتاب پېژند پانګه ولولو چې نوم یې انجیل دی. "
د انجیل په هکله د پښتو اریانا دائرت المعارف څلورم ټوک په "۱۸۴ " مخ کې داسې لیکل شوي دي. "
۱- انجیل: دالف په کسریا فتحه سره د یوناني کلیمي تحریف اود نصارا وو معروف مقدس کتاب دی، چې په نوي عهد سره معروف دی لومړی نصاري اوعربو هغه له سریاني او یوناني او قبطي څخه په عربي ترجمه کړ اوخصوصاً دهغه ترجمه له یوناني څخه په خورا تیر عصر کې شوې ده. "
لکه چې د پخوانۍ زمانې مخصوص لیکونه اونویشتې چې دواتیکان په کتابخانه کې ساتلی شویدي. "
پرده شهادت کوي د قرائینو له رویه معلومېږي چې نوموړي لیکونه په "اتمې " میلادي پېړۍ پورې اړه لري، ابن عربي وايي چې پر له پاسنیو ترجمو، نورې پخوانۍ ترجمې لا هم شته چې د "یوحنا " په طریق پر هغه دربدلي اوهغه یو سړی و چې په یوه طبیعت قائل و، اونوموړي دا ترجمه دعربي امیر عمرو بن سعد په امر په "۲۳۱ " او "۲۴۰ " میلادي کلونو کې مینځته راوړې، اما د ابن العربي دغه روایت چنداني واثق نه دی، ځکه چې د عمر و بن سعد په نامه مشهور امیر د تاریخ په کتاپونو کې نه دي لیدل شوي او یا دا چې دده په نامه کې اشتباه شوې ده. "
د بابل دعربي قبایلو اسقف جرجبیس چې د "رهاوي " یعقوب دوست او

معاصر و پر مقدسو کتابونو باندې ځینې تعلیقات لیکلي دي. "
"شپر نجر " وایي چې؛ د محمد بن اسحق په کتاب کې یوه فقره شته چې د انجیل هغې ترجمې چې پخوا تر اسلام څخه شوی دي اخیستل شوې ده. "
نوموړې فقره د یوحنا د انجیل د "۱۵ " اصحاحو د ۲۳-۲۷ فقرو متضمنه ده.
که څه هم نه شو ویلی چې دا ترجمې تر دې اندازې په قدیم عهد پورې عائیدي دی. "
اما دا ادعا کولای شو چې لومړنۍ ترجمه چې له یوناني څخه نقل شوی کم له کمه د اسلام له فتوحاتو څخه وروسته او په هغه وخت پورې اړه لري چې عربي ژبه مخ په خپرېدو او توسعي وه. "
دانجیل یوه بله ترجمه هم شته چې له سریاني ژبې څخه نقل شوې ده، یوه خطي نسخه یې د لایپزیګ په کتابخانه کې موجوده ده، د دې نسخې په نسبت داسې عقیده موجوده ده چې دا ترجمه د "۷۵۰" "۸۵۰ " میلادي کلونو په منځ کې مینځته راغلی ده، په لنډ ډول سره ویلای شو چې د ډېرو پخوا زمانو څخه مسلمانانو دنوي عهد د کتابونو مهم فصلونه پېژندلي وو. "
د انجیل په عربي نسخو کې سر بېره دانجیل پر معروفه کتابونو، انجیل ته منسوب ځینې اضافي کتابونه هم شته چې عبارت دلاندې کتابونو څخه دی. "
انجیل الصبوة، انجیل القدیس، رویا القدیس، یعقوب او سیمون او دا سربېره پر هغو اناجیلو دي چې د معلوماتو له مخې مسلمانان له هغو څخه خبر نه وو. "
د وال "D.Delval "په خپل "Litrature-spriquie " نومي کتاب کې وایې؛ د قدیس بطرس رویا په دیارلسمې میلادي پېړۍ کې په عربي ژبه لیکل شوي دي. "
ځینې هغه حکایتونه او ځینې اخلاقي مسائل چې په قرآن کریم کې وارد شوي دي. "

نو د هغو نظائير په انجيل کې هم ذکر شوي دي، لکه چې په دواړو کې دحضرت عيسی او مريمې څخه په ډېرو ځايونو کې ذکر شوی دی. "
مثلاً د فتحې د سورت په "۲۹ " آيت کې د زارع حکايت او د رعد د بل رسول لېږل. "
د اعراف سورة "۱۵۷ " آيت د يوحنا په انجيل کې "۱۲ " اصحاح "۷ " فقره کې موجود دي، دعيسی عليه السلام د معجزاتو ذکر په دواړو کې راغلي، د آل عمران سورة د "۴۲ " مبارک ايت مفهوم چې فرمائي؛ "
"يا مريم ان الله اصطفاک وطهرک واصطفاک علی النساء العلمين. "
د لوقا انجيل د لومړي اصحاح په "۲۸ " فقره کې راغلي دي. "
د عيسی عليه السلام د زېږېدنې تصديق د پېغلې مور څخه د انبيا د سورة په "۹۱ " ايت مبارکه کې هم ذکر شوی دی. "
د مسيح د صليب کېدو انکار د سورة النسای په "۱۵۷ " مبارک آيت کې د ال عمران د سورة په "۵۵ " آيت کې د نصراني دوستو د طايفې په عقيده کې موجود دي. "
د دغه آيت مفهوم؛ " قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اَنْزِلْ عَلَيْنَا مَآىِٕدَةً مِّنَ السَّمَآءِ تَكُوْنُ لَنَا عِيْدًا لِّاَوَّلِنَا وَاٰخِرِنَا وَاٰيَةً مِّنْكَ ۚ وَارْزُقْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ "
دالمائده سورة "۱۱۴ " آيت د اعمال رسل په لسم اصحاح نهمه فقره کې او د هغه پسې وروسته موجود دي. "
دغه رنګه له ختو څخه د مرغه خلقول د مسيح عليه الله له خوا چې د هغه قيصه د مائدې د سورة په "۱۱۰ " آيت کې شته، د صبوت المسيح په انجيل کې هم وجود لري. "
داسلام مورځينو په انا جيلو کې پراخ علم درلود، لکه يعقوبي چې د عربو د مورخينو مشر دی، د اناجيلو ځينې فقرې په خپل کتاب کې رانقل او روايت کړې دي. "
ده په ناصره کې د نصار او يوه کليسا او د انجيل ډېرې قيصې له هغې څخه ځانته معلومې کړې دي. "

مسعودي د حضرت مسیح علیه السلام د زیږېدو په باره کې په بیت الحم کې او دده د کوچنیوالي د دورې په خصوص کې په الناصره کې او د نورو هغه حالاتو په باب چې د متي انجیل دریم اصحاح "۱۷" فقره کې راغلي دي، کافي معلومات درلود. "
همدارنګه د یوه محبوس له خوا د عیسی علیه السلام د زیارت کولو قصه هغه وخت چې کمکی و، لکه په انجیل او نورو مصادرو کې راغلي دي، او دغه رنګه د حواریونو د غوښتنې قیصه او د رابعه انا جیلو د اصحابو نومونه یې ذکر کړي او د هغو په باب کې داسې بحث کوي. "
لکه چې هغه یې لیدلی او لوستلی وي، سر بېره پر دې مسعودي د حواریونو په احوال باندې پوره خبر و، لکه چې د قدیس "بطرس" او قدیس "پولس" استشهاد دوه ځلې ذکر کوي او وایي چې "پولس" داسې شهید شو چې غیر له بطرسه بل څوک هغسې شهید شوای نه و. "
مسعودي وایي چې "قدیس" توما " یوائینی حواري دی چې هند ته تللی دی، لاکن "بیروني " نسبت مسعودي ته زیات معلومات درلود. "
هغه وخت چې ده خپل کتاب الاثار الباقیه عن القرن احالیه " تالیف کړ، له نسطوریانو څخه یې ډېر معلومات حاصل کړي، او دا ناجیلو ډېر نصوص یې په یاد وو، همدارنګه یې د داد ذیسوع، "Dad gesa" د انجیل تفسیر له ځینو تنقیداتو سره یو ځای ذکر کړی دیو د بیروني په عقیده اربعه اناجیل څلور نسخې دي، دی ګمان کوي چې یوه نسخه یې د یهودیانو سره په تورات کې او بله یې د نصاراوو سره او هم یوه بله یې د سامریانو سره شته. "
او وایي چې په دغه څلورګونو اناجیلو کې ډېر اختلاف او توپیر وجود لري. "
بېروني، د یوسف علیه السلام نست لکه چې د متي او لوقا په اناجیلو کې راغلي دي، په تفصیل سره بیانوي او په ډېر ښه عبارت اوخوږې

ژبې سره دا وايي چې نصارا په څه طريقه او ترتيب ددې دواړو عبارتونو اختلاف تحليلوي، او هم دی وايي چې؛ "
د مرقيون پېروان او دا بې د ليصان طرفداران او د "ماني" د پيروانو انجيل د هغه انجيل سره چې د نصار اوو په لاس کې دي، د سرنه تر اخيره پورې توپير او فرق لري، په اخر کې دی وايي سره ددې چې د کتب انبياءالله ج په دغو اناجيلو کې داسې انجيل نه شته چې د اعتماد وړ وي، د "طبري" د تاريخ د فارسي په ترجمه کې د نوي عهد ځينې قيصې ذکر شوې دي. "
چې د دغه کتاب د عربي په متن کې هغه نه شته، د غه قيصې د هغو قيصو په شان دي چې په قصص الانبياء کې راغلي دي. "
مثلاً د سيمون قيصه، د يوتن حواري خيانت او د صليب لاندې د بي بي مريم وقوف او دغسې نور د تکاليفو او آلامو تفصيلاتو کې چې په هغه کې راغلي دي، همدارنگه که وګورو د صوفيانو په کتابونو کې ځينې اشاري انجيل ته شوي دي. "
دا ويلای شو چې د تصوف د کتابونو مؤليفينو د انجيل په هغو ځينو برخو کې چې د "اباکليسا " له خوا يې تفسير شوی دی، علم درلود، د اخوان الصفا اسرائيلو دحضرت مسيح عليه السلام د صليب په باره کې ډېرې فقرې نقل کړي دي. "
اوهمدارنگه يې د رسولانو د بعث او اجتماع په باره کې په اخير عشاء کې او د ځمکې په مخ دهغوی د انتشار په خصوص کې ځينې روايتونه ذکر کړي دي، او هغه فلسفي اثار او مناظرې چې د نصاراوو او مسلمينو ترمنځ شوي دي په کې شته دي. "
ددې جملې نه کولای شو ابو علي عيسی بن زرعه يا د کړو چې په "۳۸۷ " هـ کال کې يې يوه رديه ابن القاسم عبد الله بن احمد بلخي ته ليکلی ده. "
او هم بل يحيی بن عدي دی چې د نصاراوو د علماؤ څخه شمېرل کېږي

او د "فارابي" شاګرد و، نومړي يو کتاب ليکي او په هغه کې يې د مسيحيت نه دفاع کړې ده او دغه کتاپ يې شيخ ابي عيسى محمد بن وراق ته هديه کړی دی."
او همدارنګه يې د کندي اعتراض د تثليث په عقيده رد کړی دی، لنډه دا چې مسلمانان دانجيل د موجوديت نه انکار نه لري، اما عقيده لري چې انجيل د قرآن کريم د نزول نه وروسته منسوخ شوی دی، او هغه تعليمات چې په انجيل کې وو، په قرآن کريم کې چې د وروستني وار دپاره د بشريت د سعادت د ضامن او لاربښوونکي په حيث د آخيرې زمانې پيغمبر حضرت محمد صلى الله عليه وسلم ته نازل شوی دی شته، نو انجيل شريف ته څه احتياج نه دی پاتې شوی."
که څه هم انجيل شريف له هغو حقو او مقدسو کتابونو له جملې څخه دی چې د حضرت الهيج د وحي په واسطه حضرت عيسىع ته نازل شوي دي."
په دې خصوص کې مسلمانان هيڅ شک او ترديد نه لرې، اما کوم شی چې مسلمانان په کې شک او ترديد لري، هغه دادي چې؛ دغه انجيل چې نن ورځ د نصاراوو په لاس کې موجود دي."
هماغه انجيل نه دی چې حضرت عيسىع د الهي وحي په واسطه د لوح محفوظ نه تلقی کړی دی، بلکې د هغه اصلي نسخه له مينځه تللی او روسته حواريونو هغه څه چې په سينه کې لرل نورو ته نقل کړی دي، او د هر يوه حواري د بل نه توپير او مغايرت لري."
نو په دې صورت نقل په نقل داسې تحريف په کې شوی او داسې شکل يې ځانته نيولی دی چې حتی د هغه د صحت په باره کې په خپله د عيسى عليه السلام ددين علماء شک او ترديد لري."
په پورته توګه مود انجيل په هکله پېژندګلوي بشپړه شوه، اوس کولی شو ووايو چې انجيل دعيسى عليه السلام په قلم يا د عيسى عليه السلام په وړاندې يا ترنظر لاندې د کوم ليکونکي په لاس نه دی ليکل

شوی، بلکې کله چې د ځمکې له مخې نه دعیسی علیه السلام شته والی لرې شو، دهماغې مهال نه وروسته د هغوی د حواریونو له خوا دلته هلته د توپیرونو څخه ډک انجیلونه لیکل شوي دي. "
هغه هم د روایت په توګه او سنی انجیل که هرڅه وي، هغه د فروعاتو له مخې زموږ د بحث موردنه شي ګرځېدلی، څه شي چې موږ ورته د ارزښت ټکی وایو، هغه خو د انجیل پېغام دی چې پر عدم تشدد، پر خواخوږۍ، لورېینې او پر ورورګلوۍ څرخي، د انجیل دغې برخې عیسی علیه السلام ته د انسانیت په پراخه لمنه کې د ورورګلوۍ او سوله ییزې کړنې او خواخوږۍ د اتلانو په لړکې د یوغوره انسان په توکه اوچت دریځ وربښلی دی، هیله ده د مسیحیت مدعیان چې د سر د شمېر د مخې اوس اوس د هر یوه بل امت نه په وار وار ډېر دي، د خپلو ځځوالونه ډکوکړو ورو څخه لاس واخلي او پرېږدي، چې د ځمکې پر مخ د انسانیت په لمنه کې سوله، روغه، ډاډېینه اوخواخوږۍ د تل لپاره خوندي پاتې شي. "
اتومي بمونه، جنګي بېړۍ، بې پېلوټه جنګي الوتکې او جګړه ماره سیاستونو هڅکله هم ددې وسه نه ده لرلې چې د ځمکې پر مخ انسانیت ته د ژوند د پایښت ډاډ ورکړي. "
خوږ هغه دی چې د خوړلو په مهال خوندور وي، داسې خواږه به څوک څه کړي چې هرکله او په هر ځای کې دهر چا د خولې خوند خراب کړي، لکه خرنګه چې د مسیحیت دعدم تشدد د سوري لاندې هر رنګه تشدد او ځځواله د ازمیښت په نامه په کار اچول کېږي،د داسې کړنو په څېر سمه خبره هم که چېرې سیده او په خپل ځای کې ونه کارول شي؛ "
ناسمه غبرګونونه راولاړوي، او په دې توګه ټولنه د ځځوالې او تشدد کندې ته ورغورځوي، پر نړۍ او نړۍ والو باندې د واک لرلو خوبونه دتاریخ په اوږدو کې نورو ډېرو انساني ځواکونو د ځانه سره ګورته وړي دي. "

زموږ د زمانې ځواکونه هم که چېرې پر نړۍ د واک چلولو خوب او خیال ولري. "

بې شکه دوی به هم د تېر په څېر پرته له بدمرغیو نور څه انسانيي ټولنې ته په میراث کې پرېنږدي، ښه به وي په کومه لاره چې عیسی علیه السلام خپله مبارزه پیل کړې وه، پر هماغه لاره د "امت" جوړونې، روزنې او پالنې له لارې د ابراهیمي "ملت" د رغونې او پالنې کارته پایښت وبښل شي. "

او که نه، کومې لومړنۍ او دویمې نړۍ والې جګړې چې د همدغو عیسوي، "امت" له خوا د ځمکې پر مخ و ازمائیل شوې، بیا به هم د دوی له خوا په دریمه نړۍ واله جګړه کې د انسانیت د لمنې سره جوخت د انسانیت ټولې جامې هم وسیزل شي. "

د هوسا، بسیا او نېکمرغه ژوند د ګټلو په لاره کې اوس اوس انساني ټولنې ته یوه ټاکنه په مخ کې پرته ده چې له ټولو ذروي او کیمیاوي وسلو څخه یعنې؛ د هغو ټولو وسلو څخه د ځمکې مخه پاکه کړي چې د ټول وژني او تباهۍ په موخه جوړې شوي او د سترو ځواکونو په زېرمه تونونو کې پټې ساتل کېږي. "

نن هر څوک په دې پوهېږي چې عیسوي امتونو د عیسی علیه السلام دعدم تشدد او د خواخوږۍ او ورورولۍ لارښوونې کلیساوو، ته سپارلې چې هغوی په خپله هم یوه اوږده موده د تشدد او ځځوالي تاریخ لري، یعنې د عیسوي "امت" سیاسي کړیو د پروني کلیساوو د تشدد او ځاځنې چال چلند د دولتونو او حکومتونو ذمه واري ګڼلې اود عدم تشدد او خواخوږۍ لارې چارې یې د کلیساوو ملایانو ته پرېښې او په دې توګه یې د سیاست اومذهب ترمنځ د جلاوالي کرښه رایستې ده. "

دا د دې متل ښه تمثیل دی چې وایي ګډې یې د کلیسا ملا ته سپارلې او ښه تېره چاړه یې د حکومت د قصاب د لاس په منګولو کې کلک

تړلی، د کلیسا ملا به د تشدد لپاره لارې چارې جوړوي، او حکومت به خپل انسان دښمنه تشدد پلي کوي، ځو په دې توګه ډېر ولسونه او هیوادونه ښکیل کړي او ویې زبیښي، کوم چې عیسی ع نه یواځې داسې نه دي کړي چې داسې یې هم نه دي ویلی، نو په دې دلیل هغه چې وايي حکومت د سیاست وکړي کلیسا دې مذهب وچلوي، خوشې بابیزه ختلی، دا ځکه چې د عیسی علیه السلام د شریعت لارښوونې د تشدد له مینځه وړل دي نه ویشل، او انساني ټولنې په منځ کې د خواخوږۍ، لورینې او د ورورولۍ د مینې د ساتنې هلې ځلې دي، نه د کرکې، ځبیښتیا او د ښکیلاک د پیاوړي کولو غورځنګ ته وده ورکول، دا چې عیسی علیه السلام ښايي لاهم ژوندی وي او داسې هم ویل کېږي چې ښايي واپس ځمکې ته راشي او یوه نیاومنه ټولنه به جوړه کړي نو د هغې ورځې په هیله دلته خپلې خبرې لنډوم او غواړم د ابراهیمي ملت په هکله ووایم چې؛ ددې ملت عقیدوي مزي د نوح علیه السلام نه را په دېخوا د "سامي" ټولنې په وګړو کې غځېدلی چې ددې لړۍ وروستنی پیغمبر د ابراهیمي ملت په بني اسرائیلو کې همدغه عیسی علیه السلام دی او بس، د ابراهیمي ملت"د بني اسماعلیو "وروستنی پیغمبر په هکله به د اسلام دین د پیغمبر په برخه کې پوره بحث وشي."

# یوولسمه برخه

## حضرت محمد صلی الله علیه وسلم

محمد صلی الله علیه وسلم؛ دا هغه نوم دی چې په جزیرت العرب یعنې حجاز کې سترګې پرانیستې او د انسانیت په خورا پراخه لمنه کې یې د ورووولۍ د مینې په خورا غوره مرتبه کې زموږ انساني نړۍ ته یې خورا غوره ژغورونکې لارښوونې وړاندې کړې دي، ښه به وي لومړی تر هرڅه د مخه ددې غوره انسان عالي پېژندګلوی د پښتو اریانا دایرات المعارف څخه تر لاسه کړو، د پښتو اریانا دایرت المعارف د "اوم" ټوک په "۹۶۲" مخ کې داسې لیکل شوي دي."

"محمد "احمد "ابوالقاسم ص" زېږېدنه،کوچنیواله ځواني تر ازدواجه؛ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ابن عبدالمطلب ابن هاشم ابن عبدالمنان ابن قضی ابن کلاب د نړۍ ستر لارښود او د مسلمانانو پیغمبر د عام الفیل" د فیل کال"د ربیع الاول په دولسمه د " ۵۷۰ " میلادي کال د اګست په شلمه په مکه کې د عبدالمطلب په کور کې زېږېدلی دی، عام الفیل هغه کال دی چې په یمن کې د حبشې نائب اسلطنه" ابرهه" په کې د کعبې د ورانولو له پاره له خپل لښکر او پیلانو سره د مکې خواته خوځېدلی و."

د زېږېدنې په اومه ورځ عبد المطلب یو اوښ حلال کړ او د قریشو غټان یې خواړو ته راوبلل، کله چې هغوی خبر شول چې کوچنی یې "محمد" نومولی دی ،نو پوښتنه یې وکړه چې ولې یې دغه نوم پرې ایښی دی، عبدالمطلب ځواب ورکړ."

ددې له پاره چې هم په اسمانونو او هم په ځمکه کې محمود او ستایلی وي، "محمد ص" لا د مور په نس کې وو، چې پلار یې عبد الله د شام نه مکې ته د راتګ په لاره کې په یثرب کې د خپلوانو په کور کې مړ شو،

مکه والو عادت درلوده چې خپل کوچنیان به یې د زېږېدلو په اتمه ورځ صحرا ته واستول، تر څو له یوې خوا د دښتې په پاکه او آزاده فضا کې ښه وده وکړي، د سختیو او ربړونو سره آموخته لوی شي او له بلې خوا خپله وطني ژبه "عربي" په فصیحه او نګه توګه زده کړي، له همدې امله "آمنه" د "محمد ص" مور سترګې په لاره وه چې کومه سارا یې ښځه راشي او ددې ځوی د شیدې ورکولو او روزنو له پاره د ځانه سره یوسي. "
د بني سید د قبیلې دایګان مکې ته راغلی خو یتیم کوچنیان یې نه منل ځکه چې له پلار مړو نه دومره ګټه په لاس نه ورتله، د ابو ذویب لور "حلیمه" حلیمي په لومړي پلا د "محمد" له منلو نه ځان وژغوره خو دا په خپله کمزوری او ډنګره ښځه وه، نو ځکه شتمنو خپل کوچنیان ورنه کړل. "
کله چې د بني سعدد، قبیلې ښځې بېرته تللی نو "حلیمي" مېړه "حارث" ته وویل؛ وړ نه ده چې تش لاس لاړ شو، ځمه او هغه یتیم کوچني له ځانه سره اخلم. "حلیمي" محمد" د خان سره واخیست له خپلو ملګرو سره دښتې ته ولاړه. "
دې به ویل؛ چې د کوچني له منلو وروسته کور برکتي شو، مېږي یې څربې شوې او شیدې یې هم زیاتې شوې. "
"محمد" دوه کاله په صحرا کې و، حلیمې به تی ورکاوه او ددې لور "شیما" به یې خدمت او څارنه کوله، له دوه وو کلونو څخه وروسته "حلیمې" خپل رضاعي زوی "محمد "بېرته اصلي مور "آمنې" ته یوور خو سلا په دې راغله چې بېرته یې د ځان سره صحرا ته یوسي، تر څو د مکې د "وبا" ناروغۍ نه بچ وي، حلیمې کوچنی بېرته صحرا ته یوور "محمد" پنځه کاله په صحرا کې تېرې کړل، د هغه ځای د آزادی او پاکې هوا نه یې د آزادی حس او د نفس استقلال او د بني سعد له قبیلې نه یې فصیحه او نګه عربي ژبه زده کړله، ده په وروستیو وختونو کښې خپلو ملګرو او اصحابو ته ویل؛ زه له تاسونه په عربیت کې د مخه او زیات کامل یم؛ زه له قریشو نه یم او د بني سعد په قبیله کې مې تی

رودلی دی. "
د صحرا هستوګنې دده په پاک روح کې خپله سوچه اغېزه په ځای پرېښوده، "حليمه" تل دده د احترام وړوه، په راوروسته وختونو کې کله چې "حليمه" ورته راتلله نو "محمد ص" به خپل څادر ورته غوراوه چې ورباندې کښېني او ددې هر ډول پالنه به يې کوله، پنځه کاله وروسته "محمد ص" خپلې مور ته راوستل شو او نيکه "عبدالمطلب" يې روزنه په غاړه واخيستله د قريشو غټان به د سلا مشورو له پاره په دارالندوه کې سره غونډېدل، خو يوائې هغه سړيو ته اجازه وه چې عمر يې له "۴۰" کلنۍ څخه ښکته نه وه. "
خو عبدالمطلب به خپل کوچنی لمسی د ځانه سره دارالندو ته بېوه، کله بې چې د لومړي پلا له پاره هلته يووړ، نو د غونډې شريکان پرې راوبوګنېدل چې ولې يې دغه کوچنی دې لويې غونډې ته راوستلی دی. "
ډېر ژر هغوی ټول ددې کوچني دومره مجذوب شول چې هره پلا به يې چې له نيکه سره دارالندوه ته راته نو د قريشو لويانو په لا نازور کاوه "محمد ص" په شپږ کلنۍ کې له مور نه هم يتيم شو او په اته کلنۍ کې يې نيکه عبدالمطلب هم له لاسه ورکړ، او په دغه ډول که له يوې خوا دده کوچنيواله د يتيمې له ستونزو او ځور سره مخامخ کېدله، نو له بلې خوا قدرت غوښتل چې د نړۍ دغه راتلونکی خورا ستر شخصيت او الوالعزم پيغمبر لاله اوسه نه ځغم، حوصلې او مقاومت سره آموخته کړي، او يوه نه ماتېدونکې اراده ورکې وزېږوي او لا يې ورروزي. "
د شام سفر؛ د محمد ص پالنه دده سره ابو طالب ته ورپه غاړه شوه، او ابو طالب په "۱۲" کلنۍ کې د شام سفر ته ځان سره بوته، محمد ص تر بصري پورې چې د شام په جنوب کې د يوه ځای نوم دی له جوپې سره لاړ هلته "بحيرا" نومې راهب له هغو نښو نه چې په مسيجې کتاب کې دده په باره کې راغلې دي، دی يې وپېژانده، نو ځکه يې ابوطالب ته دده کلکه سپارښتنه وکړه او ورته ويې ويل چې؛ شام ته دې يې نه

بيا يې ځکه کېداى شي؛ چې هلته يې يهودان نښې وپېژني او زيان ور ورسوي، "محمد ص" لاله وړکتوب څخه د مېړانې، وفا او امانت ساتلو د خويونو خاوندو، نو ځکه د خلکو ترمنځ د "آمين" په لقب سره مشهور شو."

حلف الفضول: عربي مورخ، سهيلي، ليکلی، د حج په شپو ورځو کې يو سارايي عرب د خپلې پېغلې لور په ګډون د حج له پاره کلي ته راغی، هلته يوه بدای سوداګر دده لور ورنه وتښتوله، د لور پلار بله چاره نه درلوده، بې له دې چې بېرته خپلې قبيلې ته لاړ شي، او هغوی د تښتوونکي له قبيلې سره جنګ ته راوپاروي، خو د لور د پلار قبيله د تښتوونکي له قبيلې نه وړه وه."

نو ځکه تښتوونکي ورنه کومه ويره او ترا په زړه کې نه درلوده."

همدغه وخت دی چې "محمد ص" له دې نه خبر شو د قريشو د لسګونو قبيلو له ځوانانو يې وغوښتل چې پرې نه ږدي چې د غسې ظلم په مکه کې وشي، د قريشو يوه ډله ځوانان دا و طلب شول او په لاندني مضمون يې يو تړون غوته کړ او د هغه د سرته رسولو له پاره يې لوړه وکړه؛ موږ لوړه کوو چې تر هغه به د يوه مظلوم ملاتړ کوو تر څو ظالم اړ شي چې حق يې بېرته ورکړي، موږ قسم خورو چې په دې لاره کې به له مظلوم نه بدای وي او که بې وزلی د هيڅ شي تمه نه کوو."

له دې تړون نه وروسته د حضرت محمد ص په ګډون د قريشو د ځوانانو دغه کوچنۍ ډله وخوځېدله او د سارايي د لور تښتوونکي کور يې کلابند کړ او هغه يې دې ته اړ کړ چې لور بېرته خپل پلار ته روغه رمټه مسترده کړي، د نوموړي "حلف الفضول" نومې تړون ځوانانو د پاسنې پېښې په خبر په مکه کې ډېرى ورته پېښې هوارې کړې او د مظلومانو حقوق يې د ظالمانو له منګولو نه بېرته وژغورل."

شپني؛ حضرت محمد ص په همدغو کلونو کې د ابو طالب او نورو خلکو د ګډو شپني کوله هوښيار او پوه شپونکيان د ورځې له مخې په پراخه فضا

او د شپې له مخه په ځلېدونکو ستورو کې ژوره کتنه او غور کوي او د تفکر او چرت وهلو زمینه تر هرڅه زیاته ورته مساعده وي. "

په داسې صورت کې چې د مبړو دغه کوچني رمه څارنې ته اړه ده او شپونکی دی چې هغه له لیوانو ساتي، نو آیا څوک دی او کومه قوه ده چې د کائیناتو دغه لوی نظام ساتي او اداره کوي یې؟.

همدغه ژورو فکرونو د حضرت محمد ص لوی روح له دې ژغورلی ؤ چې غولوونکو او ژر تېرېدونکو نفسیاني غوښتنه ایل شي او داسې کار وکړي چې د "آمین" لقب سره نه ښایي. "

له واده نه تر بعثته؛ حضرت محمد ص په خپل رېښتینولۍ، امانت پالنې، وفا او نورو لوړو غورو خویونو، مکه وال ځانته جلب کړی وو، ډېرو هیله درلوده چې پانګه یې وچلوي او د تجارت سر پرستي یې په غاړه واخلي، ابو طالب هم له یوې خواد ګڼې عائلې خاوند وو، او له بلې خوا بې توښې او بې وزلی و. "

همدا وجه وه چې حضرت محمد ص تل په دې هیله کې و چې د خپل مهربان تره کومکیال شي او د ژوند د ستونزو پېټی یې یوه اندازه ورسپک کړي، هماغه و چې د مکې د شتمنې کونډې ښځې، "خدیجې" بنت خویلد د تجارتي جوپې مشري او سر پرستي یې ومنله، حضرت محمد ص د "خدیجې" د مسیره نومې غلام په ملتیا په داسې حال کې شام ته سفر وکړ چې د "خدیجې" د تجارتي جوپې سر پرستي ور په غاړه وه، جوپه په شام ته لاړه او بېرته مکې ته په داسې حال کې راورسېدله چې د حضرت محمد ص د پوهې او امانت پالنې په برکت یې تر ټولو زیاته ګټه په برخه شوې وه "خدیجه" د حضرت محمد ص ښو اخلاقو لاجلب او مجذوبه کړه، هماغه و چېې له دې سره د واده کولو غوښتنه یې ترې وکړه، حضرت محمد ص په دې وخت کې "۲۵" کلن و او خدیجه "۴۰" کلنه کونډه ددغه بختور ازدواج مراسم پای ته ورسېدل حضرت محمد ص د خدیجې کورته لاړ او د ابو طالب ځوی"

علي یې هم د خدیجې کورته بوته او د هغه پالنه یې په غاړه واخیستله خدیجې له حضرت محمد ص نه د دوه وو ځامنو قاسم او عبدالله خاونده شوه خو دواړه مړه شول باید وویل شي چې د حضرت محمد ص کنیه نوم "ابوالقاسم" له همدغه ځوی نه اخیستل شوی دی. "

حضرت محمد ص له خدیجې نه څلور لوڼې، رقیه، زینب او فاطمة الزهرا هم درلودې، حضرت محمد ص د مکې له خلکو سره خوږه راشه درشه او دوستانه ناسته ولاړه کوله، دغوښو خویونو د هر چا په سترګو کې دی قدرمن کړی وو، او هر چا ورته په درنه سترګه کتل. "

د کعبې له سره جوړونه؛ په ۶۰۵میلادي کال کې چې حضرت محمد ص ۲۵کلن و، مکه له یوې ناوړه پېښې سره مخامخ شوه، له درو، او ناونو نه لوی سیلاب رانښکته شو او په نتیجه کې کعبه ونړېدله، قریشیانو کعبه له سره جوړه کړه. "

خو کله چې په خپل ځای کې د حجر الاسود ایښودلو وخت راغی، د قریشو واړه کندې او قبیلې سره بې ګاڼه شوې هرې قبیلې غوښتل چې د نوموړې جنتي ډبرې د نصبولو شرف او ویاړ په لاس وروړي بې ګاري او اختلاف دې حد ته ورسېده چې نږدې وه د قریشو قبایلو په خپلو منځونو کې د خونړۍ جګړې اور بل کړی وای، همدغه وخت ابو امیه مخرومي چې یو بوډا او شریف سړی و، پیشنهاد وکړ چې؛ هر څوک چې د صفا له لارې نه لومړی راننوځي نو ددې نزاع د فیصلې له پاره دې حکم وي ټولو ومنله، هغه لومړی سړی چې د صفا له وره نه راننوت، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وو، ټول خوښ شول او امانت پال محمد صلی الله علیه وسلم د نوموړې شخړې د فیصلې دپاره په لاندې ډول حکمیت وکړ؛ یو څادر یې وغوړاوه، حجر الاسود یې په کې کېښود، د هرې قبیلې مشر د څادر یوه څنډه ونیوله او په دغه دول د حجر الاسود ایښودلو په ویاړ کې ټول سره شریک شول او د حضرت محمد ص ددې ښه تدبیر په مرسته فتنه مړه شو. "

د حرا په غار کې؛ حضرت محمد ص هر کال د رمضان په میاشت کې د حرا په غار کې په ریاضت او فکر وهلو تېروله آیا دغه ارت کائینات د کومه شول؟ د هبل، لات، او عزا " په ګډون دغه ګڼ بتان چې په کعبه کې پراته دي؛ نه ګټه رسولای شي او نه زیان، نه یې ژوند په واک کې دی او نه مرګ پس نو ولې ناپوهان ورته په سجده کې لوئېږي؟ ایا حقیقت او واقعیت څه شی دی؟ دغه ډول افکارو د حضرت محمد ص پاک روح مشغول کړی وو. "

او د حقیقت په لټون کې وو، هر کال د رمضان په میاشت کې ده خپل ریاضت تکراراوه، ورو ورو یې افکار کاملېدل چې په پای کې یې رښتیني خوبونه "رویای صادق" لیدل او د حقیقت لمر خپلې پلوشې وربادې شیندلې او درعایت خورادرانده بار منلو ته یې دده ځلانده استعداد چمتو کاوه. "

بعثت د وحي پیل "۶۱۰" م، ع کال محمد ص د "۴۰" کلونو په عمر وو چې یوه ورځ د حرا په غار کې د خوب او بیداري ترمنځ حالت کې وو چې یوه ملکه ورته راغله او ورته وې وېل اقرء، ولوله حضرت محمد ص ځواب ورته ورکړ، څه ولولم؟ دده په اوږه لاس کېښوده او بیا یې ورته وویل: ولوله! ځواب یې ورکړ، زه لوست نه شم کولی، "

بیا ملکې دده په اوږو لاسونه کېښودل او دومره زور یې ورکړ چې نېژدې وه چې بې سده شي او ورته وې وېل: ولوله! ځواب یې ورکړ؛ څه ولولم! ملکې ورته وویل؛ "اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ ۝Á خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝Ą اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ۝Æ الَّذِيْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۝Ç عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ۝Ĉ" د خپل خدای په نامه ولوله، هغه خدای چې عالم یې شته کړ، انسان یې د وینې له ټوټې نه شته کړ، ولوله! او ستا خدای تر ټولو لوی دی، هغه خدای چې د قلم په وسیله یې لیک وښوده. "

انسان ته یې هغه څه ورکړل چې پرې نه پوهېده، "حضرت محمد ص په داسې حال کې چې ټول وجود یې لړزی او وېرې نیولی و، کورته راغی،

دومره سترې او ستومانه وو چې لاسونه يې په دېوال تکيه کول، خديجې ته يې وويل چې ومې نغاړي ومې نغاړي څادر پرې وروچاوه، لږ غوندې کرار شو. "
کله چې راپورته شو خديجې ته يې خپله کيسه وکړه او وې ويل نه چې په کړه لاره تللى يم او يا کاهن شوى يم؟ پوهې ميرمنې يې ډاد ورکړ او وې ويل؛ خوښ اوسه: په هغه خداى ج چې د خديجې نفس يې په واک کې دى زه هيله منه يم چې ته ددې امت پيغمبر يې ستاخداى تانه خوارويي، ته له خپلوانو سره ښېګڼه کوې رښتيا وايې؛ دمېلمنو شه هرکلى کوې او د حق په لاره کې د تکليفونو کومه پروانه ساتې محمد ص په دې خبرو آرام شو، ويده شو تر څو له ويښېدو وروسته د خلکو لارښوونې ته تيار شي. "
لومړني مسلمانان؛ لومړى څوک چې د حضرت محمد ص پيغمبر رسالت يې تصديق کړ دده بي بي خديجه "رض" وه ورپسې د تره زوى علي "رض" ايمان راوړ، دريم مسلمان دده له خوا آزاد شوى غلام زيد وو. "
ابوبکر ابن قحافه عثمان ابن عفان، عبدالرحمن ابن عوف، طلحه ابن عبيد الله، سعد ابن وقاص، زبير ابن عوام او ورپسې ابوعبيده ابن جراح مسلمانان شول قريشو د حضرت محمد ص او مسلمانانو په مقابل کې دښمني پيل کړه. "
هغوى ته به يې آزار رساوه، تر دې چې پيغمبر به يې په کوڅو کې په ډبرو ويشته په لار کې به يې ورته اغزي اچول، حضرت محمد پيغمبر له خپلو ملګرو سره په يوه کوټه کې لمنځونه کول چې د صفا په غونډۍ کې ودانه وه. "
دده سره حضرت حمزه چې يو سپورت مين او ښکاري سړى و مسلمان شو. "
ورپسې په ۶۱۴- کال کې عمر ابن خطاب چې د يوې پياوړې ارادې خاوند و، هم مسلمان شواو له ده سره د مسلمانانو شمېر "۴۰" تنو ته

ورسېده د قریشو مظالمو او فشارونو مسلمانانو سپین ږیرو عقیدې ونه شو لړزولای، بلکې ددې په عکس د هغوی ایمان لا پیاوړی کېده او شمېر یې مخ په زیاتېدو وؤ. "
د ابو طالب او خدیجې رض مړینه؛ ابو طالب د حضرت محمد ص لوی ملاتړ او ساتندوی وو، او قریشو ته یې لار نه ورکوله، چې وراره یې له مینځه یوسي، خدیجه رض په ژوند کې دده ستره کومکیاله، ډاډ ورکوونکې او پوهه سلاکاره وه، حضرت محمد ص "۵۰" کلن و چې دوی یو په بل پسې مړه شول، ابو طالب د "۸۰" کلونو په عمر او ورپسې په لنډو ورځو کې خدیجه د "۶۵" کلونو په عمر مړه شول او حضرت محمد ص په ضد د قریشو آزار رسونه لا پسې زیات شول. "
لومړنۍ هجرت؛ حضرت محمد خپلو ملګرو ته اجازه ورکړه چې د قریشو د مظالمو له لاسه حبشې ته مهاجرت وکړي، خو دې په خپله په داسې حال کې چې سل په سلو کې د مرګ خطر ؤ، په مکه کې پاتې شو، په حبشه کې نجاشي پاچا ؤ ، نوموړی یو عادل سړی ؤ او په ملک کې یې د هر دین پیروانو په آزادۍ سره خپل دیني مراسم پر ځای کولای شول. "
دعقبې لومړی تړون؛ په "۶۲۱" کال کې معراج صورت ومینده؛ د معراج عنوان دې وکتل شي؛ د معراج پیښې د ځینو مسلمانانو عقیدې بېرته سستې کړې، تر دې چې یوې ډلې یې پیروي پرېښودله، نو ځکه د قریشو فشار لا زیات شو، حضرت محمد ص د حج په شپو کې نورو قبایلو ته حق رسونه پیل کړه او هغوی یې حق ته بلل، دا تقدیر پټېبلې وه چې د اسلام ځلانده رڼا تر ټولو د مخه د یثربیانو په برخه او دوی ددغه حق دین لومړی مرستیالان "انصار" وګرځوي، د حرام په میاشتو کې دولس تنه یثربیان راغلل او په عقبه نومې ځای کې یې د حضرت پیغمبر ص سره تړون وکړ چې؛ د خدای سره به شریک نه نیسي، غلا او زنا به نه کوي، خپل اولاد به نه وژنې، بوهتان او دروغ به نه تړې. "
په ښو کارونو کې به د پیغمبر مننه کوي، که دوی په پخله ژپه وفا وکړه

ځای یې جنت دی او که وفایې ونه کړه، نو واک د خدای دی چې عذابوي یې او که ورته تېرېږي، په یثرب "مدینه" کې ورو، ورو د اسلام نفوذ خپور شو او په دغه ډول حضرت محمد ص یثرب ته د هجرت کولو په فکر کې شو. "

د عقبې دوهم تړون؛ په "۶۲۲" م کال کې ګڼ یثربیان د حرام په میاشتو کې د کعبې زیارت ته راغلل. "

له دوی نه "۷۵" تنه مسلمانان ؤو، دوی ښځې او "۷۳" سړي له دغو مسلمانانو د شپې په زړه کې په ډېره پټه بیا په عقبه کې بل تړون عقد شو چې؛ دوی به محمد ص داسې له دښمنانو ساتي، لکه چې خپلې ښځې او کوچنیان ساتي. "

له یثربیانو نه "۱۲" تنه تقیبان او نمایندګان "نهه تنه د خزرج د قبیلې نه او درې تنه د اوس د قبیلې نه" وټاکل شول چې د خپلو خلکو نمایندګي به کوي. "

له دې وروسته حضرت محمد ص خپلو ملګرو ته اجازه ورکړه چې یثرب ته هجرت وکړي خو په جلا جلا توګه، تر څو د قریشو ورته فکر نه شي، "

هجرت؛ مسلمانانو په پټه په هجرت پیل وکړ، تر دې چې شتمنو مسلمانانو له خپلو شتو سترګې پټې کړې او ورو، ورو، د یثرب" اوسني مدینې" پرخو او خوځېدل یوازې محمد ص ابوبکر او علي رض په مکه کې پاتې وو. "

کله چې ابوبکر د هجرت اجازه وغوښتله، نو په ځواب کې یې ورته وویل؛ عجله مه کوه، ګوندې خدای تاته ملګری درکړي،همدغومره یې وویل او نور یې څه ونه ویل؛ قریشیانو مدینې ته د پیغمبر ص هجرت ځان ته لوی خطر باله، که پرېږدي یې هلته لا پیاوړي کېږي که په مکه کې یې ایساروي، نو دده د خلاصون لپاره د یثربیانو د یرغل ویره ده،

نو ښه لاره يې وژنه ده، خو په څه ډول او د چا له خوا دوی د خپل پلان د عملي کولو لپاره په دارالندوه کې سره جرګه شول. "
فيصله وشوه چې د هرې قبيلې څخه دې يو زړو رځوان منتخب شي، نوموړی ځوانان دې په ګډه په يو وار حمله پرې وکړي، په دغه ډول به يې وينه، د ټولو قبيلو په غاړه شي. "
د حضرت محمد ص قبيله "بني هاشم" له ټولو قبايلو سره د جګړې وس نه لري، نو ځکه به يې په ديت راضي شي. "
خو چې تقدير څه کوي تدبير ړنديږي، حضرت محمد ص د قريشو له ترون نه خبر شو او په خپله د هجرت په تکل شو، خو په داسې پټ ډول چې هيڅوک يې په تکل نه پوهېدل، ابوبکر دوه اوښان برابر کړي ؤ. "
خو سره له دې هم له حقيقت نه بې خبره ؤ، پيغمبر ص دخدای د امر او وحي ته سترګې په لاره وو، وحي راغله او د هجرت اجازه وشوه. "
دابوبکر کور ته لاړ او خبر يې کړ چې د هجرت اجازه وشوه، او دی "ابوبکر" يې هم د سفر ملګری دی، د هجرت په شپه علي رض مامور شو چې د پيغمبر ص په بستر کې ويده شي او هغه امانتو نه چې خلکو محمد ص کره ايښی و، هم خپلو خاوندانو ته وسپاري، د قتل لپاره ټاکل شوو ځوانانو له کړکۍ نه کتل، چې د محمد صلی الله عليه وسلم بستره تشه نه ده او څوک په کې ويده دی. "
نو ځکه ډاډه و چې تښتېدلی نه دی، محمد ص او ابوبکر په نيمه شپه کې ووتل؛ او په جبل الثور "کې پټ شول. دوی درې ورځې په غار کې تېرې کړې، خو چاپې څرک پيدا نه کړای شو، کله چې دغار خولې ته قريشيان ورسېدل، نو ابوبکر ډېر وارخطا شو، تر دې چې سره خوله پرې راماته شوه، حضرت محمد ص ورته وويل؛ د هغو دوه ووتنو په باره کې چې خدای يې دريم د ی څه عقيده لرې؟ "لا تحزن الله" معنی؛ مه ډارېږه ! بې شکه خدای ج راسره مل دی، "دريمه ورځ د بوبکر اوښان ورته راغلل او مدينې ته وخوځېدل او په بې لاره باندې روان شول، څو

له زياتو ستونزو او خطرونو وروسته يثرب ته ورسېدل. "

د يثرب ژوند حضرت محمد^ص^ مدينې ته هجرت وکړ، هلته مسلمانان کومه ډله نه وه، بلکې د يوې ټولنې او "امت" بڼه يې غوره کړې وه، لومړی کار چې پيغمبر وکړ دوحی: د "قبا " جومات يې ودان کړ ده او ابوبکر ختې لمدولې، عمر خاورې راوړلې او نورو لويو اصحابو هر يو خپل خپل کار سرته رساوه. "

په دغه ډول يې مدينې ته په خپل لومړي راتګ سره امتيازات له مينځه يوړل او وې ښودله چې د اسلامي "امت" وګړي د کار په مقابل کې ګډه مسئوليت لري او د هغه او دغه امتياز منځ کې نه شته، حضرت پيغمبر^ص^ د مال، مقام او تجارت بنده نه وو، بلکې غوښتل يې چې د خپلو امتيازونو د آرامه او سوکالې لارې چارې ومومي، دوی غوښتل چې هرڅوک بايد په عقيده او د نظر يې په ځرګندولو کې ازادوي. "

چېرته چې دعقيدې او مفکورې ازادی نه وي، هلته د انسان روح د تورو تيارو لاندې ورکېږي، او په دغه ډول هغه ځلانده، پلوشه چې دی له کائيناتو سره نښلوي مري ، حضرت پيغمبر^ص^ له جنګ جګړې نه بې زاره وو، او د سولې زيات طرفدار وو. "

يوازې له دين او عقيدې نه د دفاع له پاره يې جګړې ته غاړه ايښودله، همدا وجه وه چې دوی په خپل لومړي ګام کې د يثربيانو ترمنځ دوستي ټينګه کړه، د اوس او خزرج د قبيلو ترمينځ چې يو تربله دښمني يې له سلوکالونو څخه هم اوښتې وه داسې وروري ټينګه شوه چې تاريخ يې مثال نه دی ليدلی، مهاجرين او انصار هم سره ورونه شول، د يثرب له يهودو سره هم د دوستي تړون عقد شو. "

د اسلام لومړی آساسي قانون؛ حضرت پيغمبر^ص^ په مدينه کې د جومات له جوړولو وروسته د مدينه والو د ژوند د تنظيم لپاره يو قانون تدوين کړ چې؛ "**۵۲** " مواد يې درلودل، نوموړی قانون په "**۶۲۳** " م کال کې اعلان شو د قانون يوې مادې ديني آزادی تضمينوله او بلې

مادې غوښتل چې ټول يثربيان، مسلمانان دي، "که "يهود "که بت پرستان " مکلف دي چې د نورو د يرغل په صورت کې د مدينې د فاع وکړي، د قانون په " ۱۵ "ماده کې وايي چې؛ هر هغه حق چې تر ټولو بې وزلې مومن ورنه ګټه اخلي له هغه حق سره برابر دی چې تر ټولو بډای مسلمان ورنه ګټه اخلي، " قانون د مدينې ځمکه حرام ګرځولې وه او جنګ جګړې يې په کې ناروا کړې وه. "
داراز قانون تصريح کړې و چې؛ هيڅ مدينه وال نه شي کولای چې د مدينې پر ضد له قريشو او د هغو له کومکيانو سره مرسته وکړي، د مدينې ټول اوسېدونکي په نوي اساسي قانون خوښ شول، ځکه د مدينې ټول خلک يې په حقوقو کې مساوي کړي وو. "
غزاګانې، قريش غټ سوداګر وو، نو ځکه يې وکولای شول جې د جزيرت العرب د شمال سيمې تر خپلې ځارنې لاندې ونيسي، مدينه په اقتصادي محاصره کې واچوي او غذايي مواد پرې نه ږدي، حضرت پيغمبر ص د "۴۰ " داوطلبو مسلمانانو په مشرۍ ځينو قبايلو ته لاړ، هغوی يې د ځان متحد کړل او له هغوی نه يې ژبه واخيسته چې له خپلې خاورې نه به د قريشو کاروانونوته د تېرېدو اجازه نه ورکوي، خو کله چې مدينې ته راغی، نو خبر شو چې يوې ډلې سپرو په مدينې يرغل کړی، ځينې کورونه يې سوځولي او يوه اندازه مواد يې له ځان سره وړي دي، نوموړي يرغلګر د قريشو له خوا استول شوي وو، حضرت محمد ص له دې ډول واقعاتو نه وپوهېده چې له قريشو سره جګړه پېښېدونکې ده. "
د بدر غزا؛ حضرت محمد ص له "۳۵۰ " په بل روايت له "۳۱۳ " تنو "۸۳ " مهاجر "۲۱ " اوسيان او پاتې خزرجيان اصحابو سره د بدرخواته وخوځېده، دوی ايله ۷۰ "اوښان درلودل خو په مقابل کې يې "۹۵۰ " تنه مسلح قريش چې "۷۰۰ " اوښان او "۱۰۰ " اسونه ورسره وو، د مقابلې لپاره رهي وو، "۲۲۴ " ميلادي کال او د هجرت د دوهم کال د رمضان د

میاشتې "۱۷" نېټه د جمعې ورځ وه، چې دواړه لښکرې په بدر نومې ځای کې د جګړې په شکل سره مخامخ شول، د لوی خدای ج په مرسته مسلمانان بریالي او مشر کان له ماتې سره مخامخ شول، دغه بری د مسلمانانو روحیه ډېره پیاوړې کړه او باور یې لاقوي شو چې خدای ج تل د حق پالو پر خواوي، د مکې له مشرکانو څخه "۷۰" تنه بندیان نیول شوي وو، له شتمنو نه یې "عباس ابن عبدالمطلب په ګډون" فدیه واخیستل شوه، بې وزلان بې فدئې خوشې شول، او باسواده یې مکلف کړای شول چې هر یو به د مسلمانانو کوچنیانو ته لیک لوست زده کوي او خوشې کیږي به."

داحد غزا؛ د احد په غزا کې د مسلمانانو شمېر له "۷۰۰" تنو نه پورته وو، په مقابل کې یې د مکې د مشرکانو شمېر له "۳۰۰۰" تنو نه پورته وو، مسلمانان په دې غزا کې له دې امله چې د خپلې اعلی قوماندان محمد ص نقشه یې عملي نه کړه یوه جز یې ماتې وخوړه، خو بیا هم له بشپړې ماتې نه بچ شول، ځکه مکیانو و نه کړای شول چې مسلمانان له منځه یوسي او ځانونه ورنه بې غمه کړي او مدینه لاندې کړي."

د خندق غزا "پنځم هجري کال "۶۲۷" کال" دی غزا ته ځکه د خندق غزا ویل کیږي چې د مدینې د د فاع له پاره خندق کیندل شوی و، دا پلا د مکې قریشو لس زره مسلح عسکرتیار کړي وو، دوی غوښتل چې اسلام له بیخه وباسي، د قریشو قوماندانې د اپلا هم د ابوسفیان په غاړه وه."

ابو سفیان چې خندق ولیده نوهک پک حیران پاتې شو، ځکه له هغه نه تېربدل ګران و، هماغه و چې کېږدۍ ووهل شوې او مدینه کلا بنده شوه، د مکې لس زره ئیز لښکر د خندق په یوه خوا وو، مسلمانان په بله خوا، د خندق د جګړې محاصره له دوه اونیو نه زیاته وه، په پای کې خدايې کومک مسلمانانو ته ورسېده او سخته سیلۍ ولګېده، تر دې چې خیمې یې چپه کړې، دیګونه یې واړول، د قریشو د اسانو

او اوښانو خواړه هم خلاص شول."
له بلې خوا ذولقعده هم لنډه وه، نو موړې مياشت د حرام مياشت وه او جګړې په کې بندي وې، د قريشو په لښکرو کې درځ او بې ګاړې هم لوېدلې وه، نو ځکه سلا په دې شوه چې قريشيان بې له کومې نتيجې وکوچېږي، هماغه وو، چې ابو سفيان د کوچ امر ورکړ او يرغلګرې لښکرې وکوچې دلې، او په دغه ډول د مدينې فضا د جنګ جګړې له دوړو بچ شوه."
د حديبي سوله، له هجرت نه شپږ کاله تېروو، په دغه موده کې اسلام يوه اندازه قوت ميندلی وو، د اسلام وړانګې خوا او شا سيمو ته خپرې شوې وې او مسلمانان د عربستان په ټاپو کې د يوه نوي قوت په بڼه پېژندل شوی وو، مسلمانان پوره شپږ کال د مکې او کعبې له زيارت نه بند وو،هغه کعبه چې هر چا کولای شول چې ورشي او له خپلې عقيدې سره سم په کې مذهبي مراسم پر ځای کړي، هر کال د حرام په مياشتو کې په زرګونو عربان هلته تلل او کله به چې د حرم سيمې ته ننوتل نو هلته يې ژوند له هر ډول تېري نه بچ وو، کعبه د ټولو عربانو يو مشترک معبد وو."
او مسلمانان هم په کې شريک وو، خو قريشو د خپلو نورو مظالمو په څېر دې ظلم ته هم زړه ښه کړی او مسلمانان يې نه پرېښودل، حضرت پيغمبر[ص] د "۶۲۸"کال د ژمي په دوهم مياشت چې د هجرت له شپږم کال سره يې سر خوړ د خپلو دوه وو زرو اصحابو په ملتيا په داسې حال کې چې څو سوه اوښان هم ورسره وو، دعمرې په نيت مکې ته وخوځېده، قريش خبر شول او وروسته له سلا مشورې نه وپتيیله چې مکې ته د مسلمانانو د ورتګ مخه ونيسي، څلويښت تنه سپاره د دې هدف له پاره ورواستول شول، خو هغوی د مسلمانانو له خو اونيول شول او خلع سلاح شول، خو د حضرت محمد[ص] په امر بېرته وسلې هم ورکړی شوې او بې له فديې خوشې کړای شول، "بې فديې خوشې کونه

په عربستان کې يو نوی او بې سابقې کار وو. "
خو محمد ص وويل چې موږ زايران يو ، نه جنګيالان " قريشو نور لښکر مخې ته ولېږه، دغه وخت محمد ص وويل؛ افسوس پر قريشو جګړو هغوی پوفنا کړل قسم دی چې زه تر هغه د خدای ج د دين په لاره کې جهاد کوم چې يا خدای خپل دين غالب کړي او يا له ژوندانه نه ستر ګې پټې کړم. "
ورپسې په چرت کې لاړ، ځکه د جنګ په تکل نه وو راوتلي او لازمي وسلې هم ورسره نه وې، يوه تن مسلمانان له سختو لارو نه بوتلل، تر دې چې مکې ته نږدې "حديبيه" نومي سيمې ته ورسېدل، د حضرت پيغمبر ص او ښ همدلته چوشو ،وپوهېده چې د خدای ج اراده بل ډول ده، نو وې ويل؛خدای ج دې مکې ته له ننوتلو ونيوه. "
"که قريشيان سوله غواړي زه يې منم " قريشيانو عروه ثقفي پيغمبر ته ولېږه، هغه ورغی ورسره ورږغېده او له نږدې يې هرڅه ولېدل، بېرته لاړ او قريشو ته يې وويل؛ يه قريشو ! ما لوی باچاهان ليدلي دي، خو هيڅوک مې په خپلو خلکو کې د محمد ص په اندازه محترم نه دی ليدلی، کله چې اودس کوي خلک يې د اوداسه اوبه "مستعملې اوبه" له ځانونو سره وړي او که ويښته ورنه ولوېږي، نو پورته کوي يې، دوی په هيڅ ډول محمد ص چاته نه پرېږدي، نور نو ستاسو خوښه خپل تصميم ونيسئ، قريشو سهيل ابن عمرو د خپل نماينده په توګه واستاوه، چې هلته د تړون خبرې وکړي، سوله په لاندې ډول وشوه. "
لس کاله به د دوی ترمنځ سوله وي، که څوک قريشو نه محمد ص ته وتښتي، نو بېرته به يې ورګوي، او که څوک له محمد ص نه قريشو ته وتښتي، قريش يې بېرته نه ورکوي، له عربو نه هرڅوک چې وغواړي چې له محمد ص سره تړون وکړي ورته اجازه ده، او که له قريشو سره پيمان وتړي هم ورته اجازه ده محمد ص او ملګري به يې سږ کال بېرته ګرځي او په راتلونکي کال کې به مکې ته راشي، هلته ورته د درې ورځو اجازه ده. "

خو پرته له تورو به بله وسله ځانونو سره نه راوړي، هغه هم په تیکو کې "داتړون که څه هم په ظاهره کې د قریشو په ګټه وو ،خو خدای ج په قرآن کریم کې "فتح مبین" بللی او لکه چې وروستیو واقعاتو وښودله، سراسر د مسلمانانو په ګټه تمام شو ، د کعبې په زیارت کې د مسلمانانو حق په رسمیت وپېژندل شو ، مسلمانان لس کاله د قریشو د دښمنۍ نه بې غمه شول، او نورو قبایلو ته یې لاسونه آزاد شول. "

د خیبر غزا او نورو باچا هانو ته د لیکونو استول، د خیبر ښار د مدینې په شمال کې پروت وو ، اوسیدونکي یې یهود وو ، خیبریانو د حضرت محمد ص پر ضد خپله د دښمنۍ رویه وانه ړوله، په شمال کې یې د مدینه والو جوپوته خنډونه پېښول، شپاړس سوه مسلمانان، خیبر ته وخوځېدل په داسې حال کې چې خیبریان د شلو زرو په خوا او شا کې اټکل کېدل، خیبر کلا بند شو او په پای کې ټولې کلاګانې یوه په بله پسې مسلمانانو فتح کړې. "

خیبریان سولې ته اړ شول او د دوی او حضرت پیغمبر ص تر منځ سوله وشوه، د بلن لیکونو استول، حضرت محمد ص خپلو ملګرو ته وویل؛ زه خدای ټولو نړۍ والو ته استازې رالېږلی یم. "

"تاسې د عیسی ع د شاګردانو په څېر چې له ده سره مخالفت وکړله، ماسره یې مخالفت مه کوی. "

هغوی یې د دعوت رسولو له پاره مامور کړل، هغه چې نېژدې ځایونو ته مامور شوي وو ، خوښ شول، او څوک چې لرې ځایونو ته ټاکل شوي وو خپه شول او د امر پر ځای کولو کې یې لټې وکړه. "

یارانو په خورا پراخه ټنډه خبره ومنله، دده له پاره د سپینو زرو ګوته جوړه شوه په ګوته کې محمد رسول الله نقش شوی وو ، د ایران باچا کسری دروم امپراتور "هرقل" د مصر باچا مقوقنس، د حیري باچا حارث غساني، د یمن واکمن حارث حمیري او د جشي واکمن نجاشي ته له بلن لیکونو سره استازي ولېږل شول، د هرقل په نامه لیک د

نمونې په ډول راوړو. "
د ښښوونکي مهربان خدای په نامه ! د خدای بنده محمدﷺ له خوا دروم مشر ته ! په هغه چا سلام چې د حق پر خوا دی، له دې ورسته زه تا اسلام ته غواړم، اسلام راوړه چې په امن پاتې شې، که دی مخ واړاوه نو ستا د پیروانوو بال هم ستا په غاړه دی. "
آیه؛ یه اهل د کتابونو ! راشئ یوې خبرې ته چې زموږ او ستاسو ترمنځ مساوي ده؛ باید ورباندې متحد شو "او هغه دا چې پرته له خدایه د بل چا عبادت به نه کوو، او له ده سره به شریک نه نیسو، او زموږ ځینې دې ځینې نور بې له خدایه په خدایې نه نیسي، نو که دوی مخ واړاوه نو ووایه چې شاهدي ورکړئ موږ مسلمانان یو. "
له روم سره جګړه " د موته غزا " د حضرت پیغمبر استازی هر یو خپل، خپل ماموریت ته لاړ، خو د حضرت محمدﷺ یواستازی حارث ابن عمیر د بصري د واکمن د مامور انو له خوا ونیول شو او ووژل شو، "سره له دې چې د استازي وژنه په هیڅ مذهب او هیڅ ځای کې روانه ده. "
حضرت پیغمبرﷺ د هجرت په اتم کال درې زره تنه لښکر برابر کړل. قوماندانې یې د زید ابن حارثه په غاړه واچوله، د لښکر د استولو په وخت کې له مدینې نه دباندې ورسره راووت، لښکر ته یې وویل؛ که زید ابن حارثه ته کوم زیان ورسېد نو ځای دې یې جعفر ابن ابي طالب ډک کړي او که هغه ته هم ضرور ورسېده، نو عبد الله ابن رواحه دې د اسلامي لښکر مشر وي. "
د اسلامي درې زره کسیز لښکر لاړ او موته نومي سیمې ته ورسېد ه رومیانو د فارس د مقابلې له پاره سل زره کسیز لښکر تیار کړی وو، خو چې دا پیښه مخې ته راغله، نو هماغه لوی لښکر یې د موتې میدان ته استولی وو، جګړه ونښتله د حضرت محمدﷺ پیش ګویي رښتیا شوه، د اسلام کوچني لښکر درې واړه قوماندانان یو په بل پسې

شهیدان شول. "
او ورپسې قوماندانې خالد ابن ولید په غاړه واخیسته، خالد د هجومي یرغل امر وکړ، مسلمانان په ګڼ رومي لښکر ورننوتل، د رومي لښکرو د قوماندان په ګډون یې ډېر ورته ووژل، دماښام تیاره غونې شوه، خالد ابن ولید له تیارې نه استفاده وکړه او له پاتو یو زر عسکرو سره په شا کښنا ستنه وکړه. "
او مدینې ته ورسېده په دې جګړه کې که څه هم مسلمانانو دوه زره تنه له لاسه ورکړل خو دومره ځان ځارونه یې رومیانو ته وښودله چې دهغوی په زړونو کې ډار ننویسته، او همدغه جګړه په راتلونکو جګړو کې پر رومیانو باندې د مسلمانانو د غلبې له پاره مقدمه شوه. "
د مکې فتحه؛ د مسلمانانو او قریشو ترمنځ په یو بل د نه تېرې کولو لس کلن تړون موجود وو، خو د قریشو له خوا تړون مات شو، نو ځکه حضرت پیغمبر ص وپتېیله چې مکه فتح کړي، د دې کار له پاره لس زره کسیز لښکر تیار شو، او د مکې پر خوا وخوځېده، حضرت پیغمبر ص له خپلو لښکرو سره د اتم هجري کال د رمضان په لسمه مکې ته ورسېده، اسلامي لښکر په څلورو غونډو وویشل شو او له څلورو خوړو نه پر مکه راتوی شول. "
په دغه ډول پرته له جګړې او وینې تویولو فتح شو،یوازې د خالد ابن ولید له تولګي سره جګړه وشوه چې یو څو تنه په کې مړه شول، خو خالد په خپلو مقابلانو ژر غالب شو، د حضرت پیغمبر ص په امر د کعبې له دیوالونو څخه ټول تصویرونه وتوږل شول او د کعبې په چاپېریال کې پراته بتان هم ټول ټوټې شول، په دغه ډول حضرت محمد ص خپل هغه هدف ته ورسېده چې پوره شل کاله یې د هغه په خاطر بې شمېره کړاوونه پر ځان تېر کړل. "
د حنین غزا: حضرت محمد ص هرې خوا ته خپل ځینې اصحاب ولېږل چې بتان مات کړي، خالد ابن ولید نخلې ته په تګ مامور شو، څو د هغه

ځای مشهور بت "عزا " له مینځه یوسي خو د هوازن قبایلو شل زره عسکر تیار کړل، تر څو د حضرت پیغمبر ص د لښکرو مخه ونیسي، دواړه لښکرې د حنین په دره کې سره مخامخ شوې، دلته هم نهایي بری د مسلمانانو په برخه شو او د هوازن قبایلو ماتې وخوړه. "
د تبوک غزا: کله چې حضرت پیغمبر ص دعربستان په اوضاعو کې مصروف وو، همدغه مهال خبر راورسېده چې رومیان غواړي د عربستان په شمال یرغل وکړي. "
حضرت پیغمبر ص له ګڼ لښکر سره تبوک نومي سیمې ته ورسېده، خو رومیان پخوا له دې چې اسلامي لښکر هلته ورسېږي، بېرته د شام خواته وتښتېدل، او په دغه ډول حضرت محمد ص بېرته مدینې ته راوګرځېده، تبوک د حضرت پیغمبر ص وروستی جګړه ده. "
حجة الوداع: د هجري لسم کال د ذولقعدې په "۲۵ " حضرت پیغمبر ص له خپلو ټولو بیبیانو او "۱۲۰ " زرو مسلمانانو سره د حج په نیت مکې ته وخوځېدل او د ذولحجې په څلورمه مکې ته ورسېدل. "
د حج مراسم ادا شول، حضرت پیغمبر ص د عرفات په ورځ په داسې حال کې چې په زرګونه مسلمانان ورنه کړی کړی راتاو وو، د عرفات پر غوندۍ پر خپله او ښه سپور شو او لاندنۍ خطبه یې چې د یوې کړنلارې ښه لري خلکو ته ایراده کړه. "
یه خلکو: زما خبرې واورئ، ځکه نه پوهېږم چې بیا به دلته تاسې ووینم او که نه؟
یه خلکو؛ ستاسې وینې او مالونه د دغې ورځې او دې میاشتې په څېر ستاسو پر یو بل حرام دي. "
له خدای سره به وګورئ، او ستاسو اعمال به وپوښتي، چاسره چې امانت وي خپل خاوند ته دې وسپاري، د سود ټول ډولونه یې له مینځه ولاړل، ظلم مه کوئ، او ظالم ته هم ځان مه ورکوئ، خدای سود ناروا کړی او د عباس ابن عبد المطلب سود ټول له منځه ولاړ، دجاهلیت

وینه "د وینو ګټنه" لغوه شوه، لومړی وینه چې لغوه ده، د ابن ربیعه ابن حارث ابن عبد المطلب وینه ده."

یه خلکو: شیطان نور له دې خبرې نا امیده شو چې ستاسو په خاوره کې به یې بندګي وشي، خو په وړو کارونو کې چې تاسو یې کوچني ګڼئ او دده ومنئ، هم دی خوښېږي، له شیطان په خپل دین وډار ېږي."

یه خلکوه! تاسو په خپلو ښځو حقوق لرئ او هغوی هم پر تاسو حقوق لري، هغوی له تاسو سره د خدای امانت دی، او د خدای په کلمو "نکاح درته حلالې شوي دي" له هغوی سره ښه رویه وکړي، ما تاسو ته یو څه پرېښودل که منګولې پرې کلکې کړي، هیڅکله به بې لارې نه شئ او هغه کتاب الله او د پیغمبر سنت دی، مسلمانان سره ورونه دي، پرته د هغه له رضانه د مسلمان هیڅ شی په بل مسلمان حلال نه دي."

همدغه ورځ لاندینې آیت نازل شو: "اَلْيَوْمَ اَ كْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ."

نن مې ستاسو دین درته بشپړ کړ او خپل نعمت مې پای ته ورساوه او اسلام مې د دین په صفت تاسو ته غوره کړه."

ابوبکر ددې ایت په اورېدلو ډېر وژړل، ځکه وپوهېده چې د حضرت ص وظیفه سرته ورسېده، او ګوندې له نړۍ نه رحلت وکړي."

د حضرت محمد ص ناروغي او رحلت؛ کله چې حضرت پیغمبر بېرته مدینې ته راغی نو یو میاشت وروسته ناروغ شول، دوی به د نورو په مرسته مسجد ته راوتل، خو د جماعت لمونځ یې نه پرېښوده، په پای کې د نړۍ دغه له لویو نه لوی انسان "۶۳" کلونو په عمر له نړۍ نه رحلت وکړو او خپل خواږه ملګري اصحاب یې د ژړاګانو په سلګیو کې پرېښودل."

د حضرت محمد ص شمائل: محمد ص د ښکلي قیافي او منځنۍ ونې خاوند سړی نسبتاً لوی او مرتب تور ویښتان یې درلودل، ټنډه یې پراخه وروځې یې ګوری، نونډوله او سره نښتې وې."

سترګې يې تورې وې، د سترګو سپينو يې لږ سور والی غوندې درلود، بانه تور او لوړ وو، پزه يې هواره او نرۍ وه، غاښونه سره بېرته او د ږيرې ويښتان يې ګڼ وو، ورمېږ يې اوږد او ښايسته، سينه يې پراخه ګونه يې رڼه ځلېدونکې او لاس او پښې يې کلک وو، د تګ په وخت کې يې وجود مخې خواته مائل وو، قيافه يې تل فکوره برېښېدله، کتلو يې نفوذ درلود، او خلک يې ژر ځان ته جزبول صلی الله عليه وسلم په پورته کرښو کې مو هغه څه ولوستل چې د پشتو اريانا په دائرت المعارف کې ليکل شوي وو؛ "

دګرانو لوستونکيو د لا ډېرو پاملرنو په پار غواړم يو څو کرښې لا نورې هم ورزياتې کړم. "

لکه څنګه چې د انسانيت په لمنه کې د ورورولۍ د مينې اتلانو د بحث په سر کې وليکل شول،انساني ژوند په هر پړاو کې دوه متضادې برخې لري؛ لکه د تيارو سره د رڼا، د غم سره د ښادي، د خنداسره د ژړا، د ژوند سره د مړينې او داسې نور نور سياله پړاوونه شته دی، چې يو يې هم د سوله من ژوند سره د ځځوالې سيالي، يعنې؛ تشدد او عدم تشدد دی چې موږ ورته سوله، روغه، جوړه او خواخوږي سره د تاو تريخوالي او بد خوی د سيالۍ تور پړاو ګڼو او دغه پړاو د ژوند د پيل نه تر مړينې پورې د انسان سره ملګرتيا لري. "

کله چې يو څوک لکه د حضرت محمد ص غوندې يو انسان د زمانې د ځځوالو نه ډکو څپېړو په خوړولو بې پلاره او بې موره شي، يتيم شي او بيا د نيکه او ترونو په يوه لويه او دګنې ګونې ډکې کورنۍ د حسرتونو د اور په لمبو کې د سوي او ستي ژوند خاوند شي، هغه به څرنګه وکولی شي د ژوند پر سوله ايز اړخ چې عدم تشدد دی، پوهه ولري او بيا دغه د ژوند د پيل نه تر مړينې پورې د ځان، د فاميل، د قبيلې د ټول ولس او بيا د ټولې انساني نړۍ د پاره د تګ د لارې په توګه وټاکي؟. "

حضرت محمد ص د ماشومتوب څخه را په دېخوا د ځځوالې د خوی سره د غبرګون ښودلو مبارزه پیل کړه هغه په خپلې دغې مبارزې کې د همزولو او د سیالانو په منځ کې غښتلې او د قبیلې لا باوري او امین وګرځېد ، دغه پړاو چې له ټولو بدو سترګو څخه پټ پاتې شو ، حضرت محمد ص ته د الهي وحې د ورتیا جامه ورواغوندله، او هغه یې د ستر خالق آستازی وګرځاوه، څنګه چې د هغوی په راوړي کتاب قرآن کریم کې څرګنده شوي دي، د لوی خدای له لوري انساني نړۍ ته د پیغمبرانو سره سره هادیان او مصلحین هم استول شوي دي، چې هر یو یې د خپلې زمانې د شرایطو سره سم د انساني ټولنې د جوړولو په چوپړ کې د ډېرو غورو سمونونو او لارښوونو وړتیا موندلې ده دا چې څوک نبي او مرسل دی؟. "

او څوک هادي او مصلح؟ په دې هکله ځانله څېړنیز پړاو غواړي چې باید پرانیستل شي، مګر زموږ لیکنه دلته د حضرت محمد ص په هکله ده، اوهغوی د یو ستر نبي او مرسل په څېر پېژندل شوي شخصیت دی. "

نو له دې لامله خپلې خبرې یو اځې پر استازیتوب باندې غوټه کومه او وایم چې؛ لکه څنګه چې نورو الهي استازیو د حضرت محمد ص نه پخوا راغلي او د انسانیت په لمنه کې یې د انسان د پاره انساني لوړ دریځ ته هغه څه پرېښي چې راتلونکي استازیو هم څه نا څه په ډېر لږ توپیر سره هماغه څه کړي دي او دغه انساني دریځ یې لا پسې غښتلی کړی دی، لکه د مثال په توګه حضرت "زردشت" سپین تومان "علیه السلام انساني نړۍ ته وایي؛ انسان به هغه مهال د انسانیت لوړ دریځ یعنې د لوی خدای په وړاندې کرامت ومومي چې؛ غوره اندنه، غوره ویېنه او غوره کړنه ولري. " دغه درې بنسټیزې تګ لارې دې چې الهي استازیو لا هم الهي هادیانو او مصلحینو پرې تګ کړی او هغه یې لا پسې هم د تګ لارې د ډیوې په څېر ګڼلې او روښانه کړې دي، وګورئ حضرت محمد ص هم څه نه څه همدا درې بنسټیزې لارښوونې یې خپلو لارویانو

ته یعنې اسلامي "امت" او هم انساني نړۍ ته ورپه ګوته کوي او ښيي چې لوی خدای د حضر ت محمد صلی الله په کتاب قرآن کريم کې وايي؛ "ولقد کرمنا بني ادم." په تحقيق چې د ادم ځوځاتو ته کرامت ورکړشوی دی، دا چې کرامت څنګه ورکړ شوی، د قرآن کريم په بل آيت کې وايې."

اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ اَتْقٰكُمْ." د لوی خدای په وړاندې کرامت په تقوی کې ده. "په دې توګه موږ ګورو چې انساني کرامت يواځې او يواځې په تقوی کې نغښتي او بس، دا چې تقوی څه ته وايي؟ اوهغه څنګه تر لاسه کېدلی شي."

بايد ووايو چې زموږ پخوانيو او لا هم اوسنيو پوهانو د "تقوی" کليمه په پرهيزګارۍ ژباړلې ده، چې سم نه دی، دا ځکه چې پرهيزګاری ددې، وسه نه لري چې انسان ته د لوی خدای په وړاندې کرامت وبښي."

د تقوی کليمه د لوی خدای له لوري په قرآن کې په ډېره څرګنده توګه ژباړل شوی او هلته موږ د تقوی درې بنسټيزه رکنونه وينو چې څه نا څه کټ مټ د حضرت "زردشت" سپین تومان" درې بنسټيزې لارښوونو سره ورته والی لري، لوی خدای د قرآن کريم په دوهم سورت کې له لومړی سر نه تر څلورمه آيته پورې داسې فرمائي: " الٓمّٓ ﴿۱﴾ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۲﴾ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۳﴾ "

په پورتنيو آيتونو کې لوی خدای د تقوی خاوندان يعنې؛ متقين هغه کسان ګڼلي دي چې؛ پر غيب ايمان ولري، لمونځ ادا کړي، او انفاق وکړي."

که يو څوک دغه درې واړه رکنونه رعايت کړي، هغه د لوی خدای په وړاندې د کرامت خاوند ګرځېدلی شي او که رعايت نه کړي نوانسان به وي خود کرامت خاوند به نه وي، د تقوی په دې درې اصولو کې ګورو چې پر غيب ايمان لرل هماغه د زردشت غوره اندنه، لمونځ کول غوره وينه او انفاق لرل غوره کړنه ده چې ددې درې اصلونو وروستنۍ

اصل چې انفاق نومېږي په ټولنه او نړۍ کې دېر ستر او مهم رول لوبوي، دا ځکه چې د لومړی او دويم اصل تړاو په خپله شخص پورې، خو د ريم اصل هغه اصل دی چې وګړي د ټولنې او ټولنه د وګړو سره د انسانيت په ښوو خوږو او وريښمينو تارونوچې هغه ته خواخوږي، مرسته او ورورولي وايي تړلی شي، په تقوی کې د انفاق اهميت په دې کې دی چې هغه يو اځينی لامل دی چې په ټولنه کې برابري او نياومني رامنځته کوي، اړتيا له مينځه وړي او د انسانيت په لمنه کې سوله، روغه او ډاډمني راولي او د ورورولي مزي ټينګوي، انفاق هغه بنسټ دی چې په اضطراري حالاتو کې دولتونو او حکومتونو ته واک ورکوي ځو په خپل ولس کې د ولس دڅغورنې په نيا مت د ټولنې ټولی شتمني دولتي کړي، او دولت هغه چاته هر هغه څه چې د دوی د واک په سيمه کې ژوند کوي کار او د کار په مقابل کې د ژوندانه د اړتياوو پر مخ برابره باړه يا اجوره ورکړي. "

او د داسې نورو انساني اړتيا وو پر مخ چې په نړۍ کې راپېښېږي، انفاق اجازه ورکوي چې؛ دولتونه اوحکومتونه د ټول ولس د ښېګڼې لپاره هرڅه په خپل واک کې واخلي او د ټولنې هر وګړي ته د برابرۍ او نياومنۍ په تله مرسته هغه هم د کار په مقابل کې چې وسه يې ولري ورسوي، لکه چې همدغاسې د حضرت يوسف عليه السلام په اقتصادي سيستم کې چې په مصر کې پلي کړي وو عملي شوی هم دی؛ يعنې حضرت يوسف عليه السلام څنګه چې په قرآن کريم کې هم راغلی دی، په اوه وونښيرازه کلونو دا وه وو راتلونکو وچکاليو له پاره داسې تدابير ونيول چې وکولای شي غله او دانه په خپلو وړيو کې زيرمه کړي چې دا کار يې وکړ، او کله چې راتلونکي اوه کلنه وچکالي راتلله، نود حضرت يوسف عليه السلام په لارښوونو د دولت او حکومت له خوا دومره غله او دانه زېرمه شوې وه چې په اوه وو وچکاليو کلونو کې يې هم مصري وګړيو ته خوراکي مواد ورسول، اوهم يې ګاونډيو

هيوادونو د اړتيا و ځواب ووايه؛ دلته کوم ټکی چې د پام وړ دی هغه دا دی؛ د ښېرازۍ په کلونو کې د يوسف عليه السلام مخالفانو لکه د معابدوواکمنانو په څېر او هغوی چې د ځمکې مالکان وو. "

په خپله يې خپلې کرنيزه يېبرې زېرمه کړې چې د هغوی زېرمه شوي غلې دانې د ناوړه تدابيرو له امله د وچکالۍ په لومړي کال کې ټولی ګنده او خوسا شوې او د کاره ووتلی چې ددې لامل له مخې د دولت نه بهر څومره کسانو چې خپلې کرنيزې يېبرې زېرمه کړې وي. "

هغوی مجبور شول چې دولت نه د مرستې غوښتنه وکړي، دولت هم د مرستې په مقابل کې د هغوی شتمني لکه سره زر او سپين زر اوهمدارنګه هر رنګه لوکس زيورات سره د کرنيزو ځمکو او باغونو په خپل واک کې واخيستل او هر چاته يې د کار په مقابل کې د ضرورت په اندازه باړه ورکړله، دغه چال چلند په مصر کې داسې ټولنيز نظام رامينځته کړ چې هر چا په خپله خوښه او رضايت په کې خپل ژوند ته دوام ورکاوه، دداسې نظام په جوړېدو کې زور، زر اوجبر او انقلابې غورځنګ هيڅ شته والی ونه ښوده، هرڅه چې وو، دورځينو اړتياوو له مخې وو، دولت خپل کندوان ډک کړي وو. "

خو د شتمنو ځمکوالو کندوان درخې او کينې له امله چې يې لرل خالي پاتې وو، کله چې وچکالي راغله نو شتمن او ځمکوالو ته د هغوی شته او ځمکې هېڅ په کار رانه غلل او دې ته اړ شول چې لومړی خپل شته او ځمکې وپلورې. "

هغوی دا کار وکړ او چې کله بيا د شتو او ځمکو په مقابل کې پېرودل شوي، غلې دانې پای ته ورسېدې، نو بيا اړ شول چې دولت نه د کار په مقابل کې باړه وغواړي، چې دغې غوښتنې ته د ځواب لپاره د يوسف عليه السلام اقتصادي نظام تيار او اماده ولاړ وو. "

دا وه په دولتي نظام کې د انفاق يوه غوره نمونه چې د مثال په توګه ترې نه يادونه وشوه،دا رنګه کېدلی شي په هريوه نظام کې د ولس د ښېګنو

او بسیاینې په لحاظ د ولس د ژوندانه په هره برخه کې دولت لاس په کار شي او واک واخلي، ښایي داسې واک اخیستنې په اضطراري حالاتو کې وي او اضطراري حالات هغه حالات دي چې ولس ته په سیده توګه د هلاکېدو او تباه کېدو ښپه وردمخه وي، لکه چې د مصر پر ولس اوه کلنه وچکالي را روانه وه، په داسې حالاتو کې د پام وړ خبره داده چې دولت خپل ټول پروګرامونه د ولس د ښېګڼو، ژغورنې او بسیاینې لپاره پلي کړي نه دا چې د یوه خاص ګروپ د سیاسي ګټو په چوکاټ کې د ډېرکي ولس د ګټو په دښمنۍ هلې ځلې او هاند او هڅې ولري، ښایي پوښتنه وشي چې انفاق خو یو وګړنیز عمل دی نه ټولنیز، په دې هکله ځواب دادی چې؛ په رښتیا سره انفاق یووګړنیز عمل دی، خو خبره دا ده چې دا وګړي دي چې ترینه ټولنه جوړېږي او دا ټولنې دي چې د وګړو څخه راجوړېږي هر وګړنیز عمل په خپل ذات کې ټولنیز اغیز لري او هر ټولنیز عمل په خپل اصل کې وګړنیز اغیز ګڼل کېږي. "

له بلې خوا نه هیڅ وګړی د ټولنې نه پرته ژوند نه شي کولی او همدارنګه هیڅ یوه ټولنه هم نه شي نېکمرغه کېدلی، څو وګړي یې خپل ټولنیز مسئولیتونه د انساني خوا خوږۍ او ورورولۍ په چوکاټ کې تر سره نه کړي، همدغاه لامل دی چې تولو ادیانو په خپلو شریعتونو او ټولو دولتونو او حکومتونو په خپلو قوانینو کې د ولس د ښېګڼو او بسیاینې تله درنه ساتلې او هغه یې تر هرڅه د مخه د پلي کېدو وړ ګڼلی دی. "

انفاق د تقوی یو مهم رکن دی، په خپل ذات کې ټولنیز خاصیت لري، یعنې؛ د ټولنې دوګړو په منځ کې د ورورولۍ د خواخوږۍ د ژوندي ساتلو او همدارنګه انساني ژوند ته د یو ستر ساتونکي په توګه سوله منه رغوونکي او مرستندویه ملاتړ کېږي. کوم چې د حضرت محمد ص او بیا د هغوی د راشیدینو خلفاوو په منځ کې چې په ډېر غوره توګه

رعایت کېده د هغوی ځخه وروسته پړاوونو کې هېر شوی او د یو اصلی رکن په توګه نه دی کارول شوی. "
د څوکۍ او مقام د مینې د ځواک له لامله د سیاسي واکمنانو په منځ کې د لوړ پوړیزه ژوند د غوره کولو په هڅه کې هغه د اسلامي شریعت اصولي رکن چې انفاق نومېده او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ژوندانه کې د تل لپاره لکه د لمر په څېر ځلېده، داسې هېر شو؛ لکه چې هیڅکله هم چا د انفاق نوم نه وو اورېدلی. "
یا هیڅکله هم د پیغمبر^ص^ په کړنو کې انفاق نه وو کارول شوی، هغوی چې ځانونه د پیغمبر د سنت لارویان ګڼي هم دغه سنت ته چې یو فرضي رکن دی هیڅ پام وانه ړاوه. "
داسې ترینه په ډېر لږي واټن لاړل او بیګانه شول چې اوس د انفاق ټکی لا د چا په فکر او ذهن کې هم د یو اساسي رکن په توګه نه راځي اسلامي شریعت چې د تقوی په نامه هرې وینځې او مریې ته د آزادي سره یو ځای انساني کرامت هم ښښلی وو، او هڅه یې لرله چې لا آزاده او خپلواکه انساني ټولنه جوړه کړي، هسې آزاده ټولنه چې هیڅوک په کې نه وینځه وي او نه مریې خو په خواشینۍ سره مو ولیدل چې د اسلامي نظام د خلافت د وروستني خلیفه د لرې کېدو سره جوخت او د معاویه د واکمنۍ له پیله داسې نظام رامینځته شو چې په کې هم وینځې راوپېنځېدلې، او هم مریان، یعنې؛ هم یې بادار ولاره او هم یې مریې. "
هغه نظام چې په کې نه بادار ځای لرلو او نه مریې داسې رنګ شو چې ته به وایې لا هیڅکله چا نه وولیدلي او هیڅکله هم په مدینه کې عمري عدالت نه ورامینځته شوی. "
د امویانو د واکمنۍ د پیل نه راوروسته د اسلام د بڼرغ لاندې داسې دربارونه جوړ شول چې د جلال او جبروت ننبې ننبانې لا اوس هم د تاریخونو د سترګو څخه نه دي پټ شوي. "

استبدادي دربارونو د دربار د جلال او جبروت د لا ځلولو په موخه د سیمې او نړۍ دولتونو ټول هغه شتمنۍ چې که مادي وو او که معنوي، د خپل ځان کړل او خپلو دربارونو ته یې ولېږدول. "
او په دې توګه د خپلو دربارونو څخه د وینځو او د مریانو نه ډکې قیصې او افسانې پرېښودلې، د تقوی، "د درې" ګونو رکنونو څخه دوه رکنه چې ایمان پر غیب اولمونځ وو، پاتې شو خو دریم رکن چې انفاق نومېږي او دغه رکن د حضرت پیغمبر ص او دهغوی د راشیدینو خلفاوو په کړنو کې ډېر ستر رول لوباوه د تل لپاره هیر شو. "
دې ته چا ونه کتل چې تقوی هغه مهال بشپړ کېدلی شي چې درې واړه رکنه وکارول شي. "
هغوی چې عرفانیان دي د هغوی د عرفان نه هم دغه رکن لاندې پرېوتي او هېر شوی دی. "
څوک چې ځانونه روحانیون ګڼې، هغوی هم ددې رکن څه پروا نه ده ساتلې او دغه دواړه ډلې کوم چې عرفاني او روحاني پېژندل کېږي. "
د خپلو لارونه ځانونه د لوی خدای په وړاندې د کرامت خاوندان ګڼي په پخپله ښیي چې دوی هم له څېلمې نه په ختا وتلي او بې لارې تللی دی چې لاځي هم دا ځکه چې اسلامي شریعت هر وګړی هڅوي چې کار وکړي، وګټي او پر بې وزلو وویشي، خو ددغو عرفانیانو او روحانیانو په چال چلند کې د دوی په تکیه خانو او خانقاوو کې انسانانو نه یوه عاطله، بې کار، بې ګټې او د نورو مرستو ته سترګه په لاره ټولنه جوړېږي چې هیڅکله هم د اسلامي دین د اصولي موخو غوښتنه نه وه او نه ده. "
هرڅوک چې د دغو لارو سروال ګڼل کېږي، ښایي هغه به په خپله د دین د "درې" ګونو اصولي رکنونو څخه بې خبره پر لارو روان شوي وي. "
او کنه د حضرت محمد ص د ژوند سنت پخپله د دې خبرې د ثبوت ښنه ده چې پیغمبر اود هغوی د لارې رښتیني لارویانو هیڅکله هم د الهي

ذکر په نامه ټولنيزه هيا هو نه ده جوړه کړې. "
او انساني ټولنه يې د کار او زيار څخه نه ده لرې ببولې، هر چاته يې د هغوی د دنيايې چارو او مسئووليتونو د ورښودلو سره جوخت د اخر وي چارو په سر ته رسولو هم لارښوونې کړي دي، او د اسلامي امت نه يې يوه فعاله، کسبګره او پرمختللې ټولنه جوړه کړې وه. "
خو موږ اوس اوس د اسلامي ټولنه په داسې حال کې وينو چې کار او کسب ته په سپکه سترګه ګوري، ګټه او وټه د کفارو غوښتنه ګني اوخپلو ځانونو ته يواځې او يواځې د الهي ذکر د اسلام او اسلاميت دعالي نښې په توګه پېژني اوبس. "
کوم چې په صدر اسلام کې د الکاسب حبيب الله په نامه کارګر او کسبګر ته به يې د پيغمبرانو په مرتبه درناوی کاوه ، چې په رښتيا هم کسبګر د لوی خدای دوست دی. "
دا ځکه چې دتقوی د دريم رکن په مخ د لاس په تنها کوګټې او پر بې وزلو يې ويشي. "
کسبګر نه يواځې چې ګټه او وټه لري چې انساني نړۍ ته د ودانۍ او ښېرازۍ پنځوونکی هم دی. "
ښه به وي هغوی نه چې په تکيه خانو او خانقاوو او نورو ځايونو کې د الهي ذکر په نامه د بېکارو او بې ګټو لښکر جوړېږي، د ټولنې د بسياينې او ښېرازۍ لپاره پر کار او کسب وګمارل شي، څو په دې توګه هم د ځان او هم د ټولنې لپاره ګټوره وګرځي او په اخيرت کې هم نيکمرغه او سرلوړي ووسي. "
مسجد د لوی خدای د لمانځنې کور دی، مسجد د اسلامي امت د ژوند د ښېګڼو لپاره د لارښوونو او بالاخره مسجد د اسلامي امت د ټولو هلو ځلو او هاند او هڅو د پرمخ بېولو د قوماندې ځای دی، خو خپل حيثيت اودريځ يې بايللی دی. "
دا ځکه چې اسلامي امت چېرته چې ګوري پر قبرونو راټول دي او له

قبرونو څخه مرستې او لارښوونې غواړي، نور هغه پرونی ژوندی اسلامي امت نه شته، هره خوا چې ګوري یو مړ او ځان نه بې خبره امت په سترګو کېږي چې هرڅه یې پر انساني، مزارونو بندلي او لابندي یې."

دا حالات د هغه دین د لارویانو په کړو وړو کې ځای نیولی چې لارښودئې تر ټولو انبیاوو او مرسلینو نه وروسته خو د ټولو پخوانیو لارښوونکو او الهي استازیو د ښېګڼو او سمونونو لرونکی دی. یعنې؛د نوح علیه السلام نه چې کومې لارښوونې دچینائي ولس په "تائو " تعلیماتو کې نغښتې وې."

او هغه د "لائوتسه" د انصاف، عدالت او نیاومنی پېغام وو، او که د "کونفوسیوس"د ټولنیز اخلاقي سمونونو قوانین، او همدارنګه د اریائي ولس هندویزم په "ویدایي" او اوستایي تعلیماتو کې د حضرت زردشت، سپن تومن" ټولنیزه سیاسي " اقتصادي او د میني سمونونو قوانین وو، او که د حضرت بودا " پر ژوند یو د زړه سوای، ژغورونکي او هم ژوند ببنونونکي رڼا وه، او په همدې توګه د "سامي" ټولنې د ابراهیمي دیني تعلیماتو په لړ کې د یوسف علیه السلام دینې، اقتصادي او سیاسي سمونونو عملي پروګرام، د موسی علیه السلام د حق په پلوی اوُوروونکي مبارزه، او که د عیسی علیه السلام د ورورګلوی، مینې او خواخوږی پیغامونه،دا ټول د حضرت محمدص په دیني کتاب قرآن کریم کې رانغښتې دي، د اسلامي دین په دې کتاب کې د ټولو پخوانیو ادیانو د کتابونو لب اللباب په ښه اوغوره توګه راغلي او دا کتاب د وروستني الهي کتاب په څېر د هغه د ټولو تعلیماتو د څارنې او ساتنې په هکله د لوی خدای له لوري هم ډادنیزه تضمین شوی دی."

دا کتاب چې د غوره مجموع الکمالاتو ښه لري په حقه سره د انسانیت په لمنه کې دحضرت محمدص د خواخوږی، مینې او ورورولۍ یوه

ستره معجزه ده چې د تل لپاره به د تشدد ، استبداد استکبار او د ځځوالي سره د مبارزې د ستر سنګر په توګه خپل شته والی وساتي. "
هغوی چې ځانونه روحانیون او هغوی چې ځانونه د عرفان پلویان ګڼي، هغوی دی باید دې ټکي ته پام راواړوي چې؛ روحانیون یعنې څه؟
روح خو په قرآن کریم کې د لوی خدای د امر په توګه پېژندل شوې، آیادغه روحانیون چې خپل ژوند یې د خپلو مریدانو په وینو پړسولی دی، د لوی خدای د امر په توګه وګڼل شي او که څنګه؟ که دوی ځانونه دلوی خدای امر ګڼي. "
نو امر خو هغه دی چې د قرآن کریم په سر کې د انساني کرامت لپاره د درې ګونو رکنونو په نامه راغلي دي، همدارنګه څوک چې ځانونه د عرفان پلویان ګڼي هغوی دې هم باید ووایي چې عرقان یعنې څه؟ "
آیا دوی لومړی خپل ځان او بیا خپله ټولنه او نړۍ او بیا خپل پنځوونکي "خالق" پېژندلی دی که نه؟ که پېژندلی وي، نو په هغه صورت کې د ژوند د چارو نه لري تلل او ټول فرصتونه یوازې د لوی خدای په یاد مصرفول چې د خدای له لوري نه دی روا ګڼل شوې، نو دوی په کوم دلیل ځانته رواګڼلی دی؟ ایا د دوی دغه عمل د افراط بڼۀ نه لري؟ چې لري یې کله چې دوی داخرت په نامه د لوی خدای په یاد کې د افراط په لوري تګ غوره کوي. "
آیا د دوی دغه کړنه دهغومذهبي افراطیونو د کړنو سره چې ځان وژونکي هنګامې یې ټوله نړۍ په لړزو راوستی کټ مت ورته والی نه لري؟ چې لري یې،هیله ده د تقوی د درې ګونو رکنونو نه د لمونځ رکن چې د خدای د یادونې او لمانځنې فرصت نه ډک دی د لوی خدای د یاد او دهغه د لمانځلو په لاره کې مناسب او کافي فرصت وګڼي او بس. "
دا ځکه چې د تقوی دریم رکن چې انفاق نومېږي، لکه څنګه چې پورته ترې نه یادونه وشوه د انسانیت په لمنه کې د وګړنیز اړخ سره ګډ یو غوره تولنیزه، مرستندویه او اغیز منه رکن دی، چې باید هیڅکله هم

له پامه ونه غورځول شي. "
د دې رکن يوه ستره ګټه داده چې په ټولنه کې عدالت او انصاف، مينه او خواخوږي ژوندی ساتي، کله چې په ټولنه کې دغه توکي ژوندي پاتې شي. "
نو ټولنه هم ورسره ارومرو د تل لپاره ژوندۍ، نېکمرغه، بسيا او برياليۍ پاتې کېږي. "
که نه نو د اوس په څېر به اسلامي امت لا پسې مړ ژواندۍ ژوند ولري. "
د پورتنيو کرښو په رڼا کې داسې ويلی شو ، چې حضرت محمد صلی الله عليه وسلم هغه کارونه، چې حضرت يوسف عليه السلام، حضرت زردشت او حضرت کنفوسيوس د بل چا تر بيرغ لاندې کړي وو پخپله او د خپل بيرغ لاندې پلي کړي دي، چې دغه دريځ د نورو په پرتله دده غوره والی په ډاګه کوي. يعنې: د روغې جوړې او عدم تشدد له لياري دا يوازې حضرت محمد صلی الله عليه وسلم دی، چې خپل اصلاحي پروګرامونه يې په يوازې ځان او په خپلواکه توګه پلي کړي دي. له دې کبله تر ټولو پخوانيو مصلحينو غوره مصلح او د منلو وړ لارښود دی.

# دولسمه برخه

## بابا نانک

په دولسمه برخه کې به د هغه جا په هکله خپلې خبرې اورېدي کړو چې په پنځلسمه او شپاړسمه عیسوي میلادي پېړۍ کې د هند په نیمه وچه کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې او د خپلې د ځوانۍ ډېره موده یې د هند د لودي پښتنو د واکمنۍ په اداري او حکومتي چارو کې د باورې او امانت لرونکي سړي توب په توګه تېره کړې.
او د ښو کارونو دنده په غاړه لرلی او د ښه امین انسان په څېر پېژندل شوی وو.
هغه چې د انسانیت په لمنه کې دروغې جوړې او د ورورولۍ د مینې یو ځانله غونډې اتل ګڼل کېږي د پښتو اریانا دائرت المعارف د څلورم ټوک په ۲۹۸ مخ کې داسې راپېژني:
با با نانک: د هند د پراخې ځمکې د مختلفو طایفو او ټولنو په منځ کې د سکانو یو جمعیت او ټولنه ژوندون لري چې تعداد یې په دې ورځو کې تقریبا شپږ میلیونو ته رسېږي او د هند په پنجاب کې استوګنه لري.
د سک لغوي معنی مرید دی او د سانسکریت د شیشای Shishya له لغت څخه نیول شوی دی.
دا ملت چې نن ورځ په ټول هند ک په مېړانې او زړه ورتوب مشهور دی او د هندي عسکرو یو زیات شمېر دوی تشکیل کړی دی.
د شخصي تبلیغاتو په اثر یې موجودیت اختیار کړی دی او په تاریخ کې د ګرو نانک په نامه یادېږي، او پښتانه هغه بابا نانک بولي، د بابا نانک ژوند د هند د پنځلسمې او شپاړسمې میلادي پېړیو خورا په زړه پورې پېښې او حادثې تشکیلوي.

نوموړی د عالي اخلاقو او شرافت مندانه روئي خاوند وو، او د خپل عمر په موده کې دی د دې سبب وګرځېد چې د هند د خلکو ټولې طبقې او ټولنې ده ته د زړه له کومې احترام ولري، حتی د ده د ژوندانه طرز او صوفیا نه طریقه او اخلاق د ده له مرګه ډېره موده وروسته د هند مسلمانانو دې یو صالح او صوفي مسلمان باله او سکانو دې د یوه نوي مذهب او طریقې چې دوی یې پیرو دي موسس باله که چېرې د ده د ژوندانه په تصوفي طرز کې انسان ښه ځېر شي دا په ثابته کړي چې بابا نانک یو موحد او خدای پېژوند کې سړی یو لوی فقیر مشر به او د یوه پراخ نظر خاوند وو، دی د شرک، بت پرستۍ او د اور د لمانځنې سره مخالف و او بېله واحد خدای څخه بل هیڅ شی د لوی خدای پر ځای د پرستش وړنه باله او دا هم څرګنده ده چې بابا نانک د اسلام د مبین دین تر تاثیر لاندې ډېر زیات راغلی وو.

بابا نانک بشري مساواتو ته هم قایل وو، په هغه وخت کې چې د افغاني له شهریارانو څخه یو تن بهلول دی چې په هندوستان کې په مهمو چارو بوخت وو.

سیوارام نومې سړی جې د کشتري په کورنۍ پورې یې اړه درلوده د ګجرانواله د سیمي په تاللواندي نومي کلي کې د لاهور په څلویښت میلی کې "ژوند کاوه" دې سړي دوه ځامن درلودل یو یې مهته کالو چند او بل یې لالو مهته کالو چند نومېده چې د کلي د محاسبو څخه وو.

او خلکو ده د ښه دیانت او امانت دلرنې له کبله ده ته د احترام په سترګه کتل په همدې وختونو کې ده کره یو ځوی پیدا شو او ده پلار نوموړی ماشوم یوه روحاني سړی ته چې په هغه کلي کې او سېده وروړ او ځینې وایې غوښتل چې له معموله رسم او رواجه سره سم په دغه ماشوم نوم کېږدي.

نوموړی سړی د دې ماشوم نوم نانک کېښود، چې د ماشوم پلار په ډېره

خوشالی سره ومانه د نانک د زېږېدنې په باب د مورخینو تر منځ اختلاف موجود دی ځینې مورخین دده د زېږېدو نېټه (۱۴۶۹) میلادي کال د نومبر میاشت بولي مګر ځینې نور یې د نومړي کال د اپریل د میاشتې پنځلسمه نېټه بولي.
نانک په تالواندي نومي ځای کې زېږېدلی دی چې اوس هلته یو زیارت هم د "ننکانه صاحب Nankana sahib) په نامه یادېږي موجود دی او د لاهور په جنوب غرب کې د څلویښتو میلو په اندازه لرې والی لري.
هغه وخت چې ګرو نانک اووه کلن ماشوم شو، نو هغه یې د تحصیل او زده کړې لپاره یوه برهمنې ته چې ګوپال بندا "نومېده" وروسپاره نومړي له هغه څخه ریاضي او محاسبه او د یوانګري ژبې لیکل او لوستل زده کړل مګر نانک د زده کړې او تحصیل طرفدار دومره ډېر نه وو، او همېشه به یې له خپل ښوونکي څخه درسي سوالونه کول چې دینې او تصوفي اړخونه به یې درلودل او معلم به یې د دغو سوالونو د ځواب ورکولو څخه عاجز او دده د ډېرې پوهې او زکاوت له مخې چې په ده کې یې لیدله د ده پلار ته یې توصیه وکړه چې د بابا نانک په روزنه کې ډېره زیاته پاملرنه او توجه وکړي. دوه کاله وروسته له دې یعنې کله چې بابا نانک اته کلن شو نو پلار یې دی د سانسکریت د ژبې یوه لوی عالم ته چې پنډت برج ناټ نومېده وروسته او له هغه څخه یې وغوښتل چې ده ته د سانسکریت ژبه ورزده کړي د نانک ښوونکی په لږ وخت کې دا خبره درک کړه چې نانک تر نورو زده کوونکو یو خاص توپیر لري او د ښه ذکاوت خاوند دی، لږه موده وروسته ئې نانک یو مسلمان ملا او عالم ته چې سید حسن نومېده وسپاره چې ده ته فارسي او اسلامي علوم ورزده کړي نومړي څه موده دلته تېره کړه او په خپلو همځولو کې یې زیات شهرت پیدا کړ مګر سره ددومره کاره نانک د کار او زیار طاقت او حوصله یې نه درلوده، او همېشه به له زده کړې او تعلیم څخه تښتېده، او غوښتل به یې چې خپل زیات وخت په ځنګل

کې د صوفیانو او جوګیانو سره تېر کړي پلار يې غوښتل چې له عمومي دود او دستور سره سم دی، د برهمني طریقې پیر او پابند وګرځوي.
مګر د پلار دغه اقدام پرده تاثیر ونکړ. پلار يې غوښتل چې دی شپون شي او شپني وکړي او په دې کار يې هم ډېره موده تېره نه کړه دهقاني ته يې ولېږه مګر نانک و نه منله په اخېر کې يې پلار غوښتل چې دی په سوداګرۍ او تجارت مشغول کړي مګر ده ونه منله او پلار ته يې داسې ځواب ورکړ ګرانه پلاره ډېره موده کېږي چې ما دوکان پرانیستی دی او کوم د خرڅلاو شی چې په کې موجود دی هغه د نفس اداره او د حقیقت څخه پېروي دي.
نو ځکه همېشه هغه څوک چې له ماسره په دغه معامله بوخت او یا زه ورسره لګیا یم، یقین لرم چې موږ به په دغه تجارت او سودا ګري کې ډېره زیاته ګټه وکړو پلار يې څو نور ښه او مناسب کارونه ده ته پېشنیهاد کړل. مګر ټولې يې رد کړل او ويې نه منل.
په اخېر کې يې پلار ډېر په تنګ شو او ورته وې وېل ددې له جهته چې دی د بېکارۍ او دده افکار د لېونتوب او مالیخولیا د مرض له ساحې څخه لرې وساتي نو بهتره دا ده چې دی لاړ شي او چېرې کوم خدمت کې ځان شامل کړي او خپل راتلونکی ژوند له دې لارې څخه تامین کړي.
مګر ده پلار ته داسې ځواب ورکړ؛ زه يو مزدور سړی یم او تر یوه مزدور زیات نه یم. زه همېشه زیار باسم چې خپلې وظیفې د خپل حقیقي بادار په حضور په ښه توګه سرته ورسوم د ګرو نانک دغه اعمال او کردار دوه ډوله متضادې نتېجې ورکړې.
له یوه خوا يې دده شهرت د خدای پېژندلو او لوی متصوفانه افکارو د لرلو له کبله خورا ډېر کړ. او له بلې خوا يې لرې لرې د خلکو بدبیني هم دده د دغه طرز تفکر له کبل ځانته پیدا کړه.
دده کورنۍ هم دده له دغه پیش آمد څخه ډېره خپه وه او د نوموړي دغه

کارونه او حرکات يې د لېونتوب او جنون نښه بلله او دی يې د دې نقيصې د لرې کولو د پاره يوه حاذق طبيب ته چې په هغه سيمه کې ډېر مشهور وو ،وروسته کله چې نانک د طبيب سره وکتل نو ورته وې ويل: يه طبيبه! خپله لاره وهه او له ما څخه لاس دروا خله؛ زما ټول ځان نالش لري، ځکه چې زما روح بېقراره دی.

زه يقين لرم چې ستا دارو او درمل او علاج د خاکي جسم سره سروکار لري او هغه ته متوجه دی، مګر زما مرض بلا شی دی چې د روح مرض دی. زه د عشق له درده ناروغ يم او هغه عشق هم د الهي عشق دی هغه خالق چې ماته دا درد او ناروغتيا راکړېده کولای شي چې دارو او درمل يې هم راکړي او معالجه مې وکړي.

ستا دارو په دې ساحه کې زما په درد نه خوري، نو کله چې حکيم پوه شو چې دی ناروغه نه دی او وپوهېده چې دده عارفانه افکار په ماوراء الطبيعه په ګرځېدو او روان کې دی نو يې پرېښود ، وروسته له هغه نه پلار يې نانک ته يو څه پيسې وروبښلې او داسې يې ورته وويل چې د جوهورکانه ښار ته دې لاړشي او هلته دې دغه پيسې په يوه ښه او ګټوره لاره کې په کار واچوي او په دې ترتيب سره دې ځانته يو کار او وظيفه پيدا کړي.

نانک پيسې واخيستې او له کوره بهر شو او مخ په بېديا روان شو ، وروسته له يوې فاصلې يوه کورته راغی ګوري چې ټول اوسېدونکي يې په نېستی او ناداری او فقر کې ژوند کوي، ځينو کسانو يې يوا ځې ډوډی نه درلوده ، او ځينې کسان يې بيخې بربنډ او لوڅ وو.

د نانک حساس او با درده زړه دومره ددې او ضاع په ليدلو سره غمجن شو چې ټول ورسره پيسې د دوی ترمنځ وويشلې او تش لاس بېرته د پلار کورته راغی.

او کله چې خلکو ددې خبرې علت ځينې وپوښت، نو ځواب يې ورکړ؛ ما د پلار د هدايت سره سم خپلې پيسې په داسې لاره کې په کار

واچولې چې هیڅکله ضرر او زیان نه لري او هغه ځای چې ده د بې وزلو سره مرسته کړېده.
تر اوسه پورې ښکاره او معلوم دی او د "سوچه سودا" یعنې صحیح تجارت په نامه یادېږي ګرو نانک یوه خور درلوده چې "بي بي نانکی" نومېده او په ۱۴۶۴ میلادي کال کې زېږېدلې وه او په یولس کلنۍ یعنې ۱۴۷۵ میلادي کال کې د یوه سړي سره چې "رجي" نومېده او د نواب دولت خان منشي وو واده شوه.
نوموړې نواب د لودي "لودین" سلطان بهلول د خپلوانو څخه وو او د نوموړي پادشاه له خوا د سلطان پور شاوخوا وې چې کپور تلي ته نېږدې واقع دی د "سویتول" چاګیر په نامه ورکړی شوی وو.
ګرو نانک د خپلې دې خور سره زیاته مینه او محبت درلود او پر خور هم دی ډېر ګران و، نو دلته پلار یې پوه شو چې دی نه شي کولای د نانک افکارو ته تغیر ورکړي، نو مجبور شوچې دی د څو وختونو دپاره د خپلې لور کره چې خپله هغې هم دغه غوښتل سلطان پورته ولېږي.
د میلادي کال په ۱۴۸۵ نېټه کې جي رام دده د خور مېړه نانک د نواب دولت خان حضور ته وروسته او معرفي یې کړ.
نوموړي نواب نانک د نغدو پیسو د ذخیرې دتحویلدار په صفت مقرر کړ او تر ۱۴۹۹ میلادي کاله پورې یې دغه وظیفه په غاړه درلوده.
نواب هم دده امانت دارۍ او ښې وظیفې اجرا کولو څخه ډاډه او هر وخت په یې مرسته ورسره کوله. نانک په اتلس کلنۍ کې یوه پېغله چې خلکو بي بي سوله کهنی بلله وکړه.
نوموړې نجلۍ د ګردا سپور د سیمې د تباله د علاقې د یوه محترم سړي لور وه، ددې ښځې له نسه بابا نانک ته خدای دوه ځامن ورکړل چې یو یې سری جند او دوهم یې لکهمي داس نومېده.
لومړی ځوی یې له نړۍ سره بیخي خپله علاقه وشلوله او صوفیانه

رویه یې اختیار کړه. دواړو ورونو خپل د سر وېښتان هېڅکله نه خریل او هغه بۀ یې لکه پګړۍ تر سره تاوول. او اوس د سکانو ملت په دې عمل کې د هغوی پېروي کوي.
او د خپل سر او مخ او نورو ځایونو وېښتان بیخي نه خرېي، نانک له نواب سره د خپلې تحویلدارۍ د وظیفې د اجرا کولو په وخت یو وار درې ورځې بیخې ورک وو.
دده د پیروانو په عقیده دی د "بین" Baeen " درودو خواته د لمبلو لپاره تللی وو.
او هلته د درې ورځو دپاره بې سره شوی او له حاله تللی وو، کله چې په سد شو، حالت یې بیخي بدل شوي او تغیر یې موندلی وو، له یوې خوا یې د نواب وظیفه پرېښوده او له بلې خوا یې له هماغه ورځې نه راهیسې په تبلیغ شروع وکړه ۱۴۹۲ میلادي کال او په دې وخت کې یې له اوه ویشتو کالونه عمر زیات نه وو.
په ابتدا کې چې دی په تبلیغ بوخت وو، د هندوانو روحانیونو له ده سره فوق العاده مخالفت کاوه، او ده ته د هر راز زحمت ورکولو او ضرر رسولو ځانونه نه ژغورل، او ډول ډول زیانونه به یې ور رسول.
په اخیر کې مجبور شو چې سلطان پور پرېږدي او د فتح اباد له لارې امر تسر ته راشي، دده د قرارګاه او استوګنځۍ ځای هغه منطقه ده چې اوس د حوض خاص یادر بار صاحب په نامه یادېږي.
او د هندوستان د لیدلو وړ ځایونو څخه دی، نانک له دې ځایه څخه لاهور ته لاړ په دې وخت کې سید احمد متقي چې د اعلیحضرت اسکندر لودي د مرشد او لوړ ښوونکي په حیث ئې معرفت درلود، له ګرو نانک سره د لاهور په علاقه کې وکتل، سید احمد یو متقي او پرهیزګاره سړی وو چې په اسلامي معقولو او منقولو علومو کې یې پوره معلومات درلوده.
او دی په دې کتنه کې له نانک سره په هرې موضوع او هرې خبرې کې

وغړېد.
کله چې نانک ځینې لاړ، خلکو ورڅخه پوښتنه وکړه: نانک دې څنګه تر پامه راغی؟ وې ویل: داسې فقیر دی چې موحد او د درد خاوند په دې وخت کې نانک د فقیرۍ او خدای پرستۍ له کبله په خلکو لړ لړ شهرت پیدا کړ او خلکو د مینې په سترګه ورته کتل.
د پښتنو د مشرانو څخه یو تن چې نوم یې په تاریخ کې نه دی ذکر شوی او د ایمل اباد په سیمه کې اوسېده یو ځوی درلوده.
چې په یوه مزمنه ناروغۍ اخته شو او ټول ډاکټران یې د دارو درمل څخه عاجز شول.
یوه سړي خان ته وویل چې؛ په دې باب کې له نانک څخه مرسته وغواړي، خان هم دا خبره ومنله او له نانک څخه یې مرسته وغوښتله، خلک وایې چې نانک د هغه ناروغ په حق کې د خیر دعا وکړه او نوموړي ناروغ شفا وموندله او جوړ شو، اودې پېښې د نانک روحاني مقام د پښتنو د اداري رئیسانو او مشرانو ته په ټول هندوستان کې پوره وټاکه.
نانک یو لوی ګرځندوی وو، او خورا اوږده اولرې سفرونه یې کړي دي.
او کولای شو چې دی د اسیا له لویو سیاحینو او ګرځندویو څخه وبولو، دده د سفر اوږدوالی او همدارنګه د سفر ساحه او ځمکه یې د زوارچیني چون سونګ ین او هیوان سانګ څخه ډېره او اوږده وو، که چېر ې نانک هم خپل د سفر خاطرات او ورځنې پېښې چې د آسیا په مختلفو ځایونو کې ورته پېښې شویدي لیکلی وای نو اوس به دده نوم هم بې له شکه او شبهې د نړۍ د لویو جهان پېژندونکو په ردیف کې داخل وو.
مګر دی یو صوفي سړی وو، چې بې‌له تبلیغ بل کار یې نه دی کړی او ددې مقصد په‌لاره کې یې هر راز ربړونه پر ځان منلی دی، ویل شویدي چې نانک د اسلام د مقدسو ځایونو د زیارت لپاره مکې معظمې او

مدینې منورې ته هم تللی وو، کومه ورځ نانک چا لیدلی وو چې د حضرت رسول اکرم د مرقد په مخ ولاړ دی او اوښکې یې له سترګو بهېږي.
پوښتنه یې ځینې وکړه څه دې ولیدل چې دومره ژاړې؟ وویل: د هغه عشق د اور لمبې چې له دې مقامه څخه ژبه باسي د ډېرو پېړیو د پاره به دعشاقو د زړونو کوټې تودې او سوځوونکې وساتي.
دده د دومره مسافرتونو په موده کې یوه سړی د مردانه Bhai Mandand په نامه چې د ځینو روایاتو له مخې د کندهار د خلکو څخه دی او د ګرو نانک خورا مخلص وو، له ده سره ملګری وو.
څرنګه چې نانک د ساز داورېدو ډېر شوقي وو، نو ده به رباب ورته واهه، د نانک سیاحت افغانستان ته دده له وروستیو او اخیرینو مسافرتونو څخه شمېرل کېږي.
ده د خپل اوږده او طولاني ژوندانه په دوره کې د خپل مقصد اوغایې دپاره هر راز زیار او ربړونه پر ځان منلي دي او د راز راز مصیبتونو او خواریو په مقابل کې یې خپل ځان له لاسه نه دی ورکړی، او د اسیا په ډېرو برخو کې د درویشي او سوالګرۍ په حال کې ګرځېدلی دی په اخر کې د نهو شپېتو کالو او لسو میاشتو او لسو ورځو په عمر په **۱۵۳۹** میلادي کال کې د کرتارپور په کلي کې مړ شو وائې کله چې نانک مړ شو د هندوانو او مسلمانونانو تر منځه دده د مړي په مسئلې باندې مجادلې شروع شوې هندوانو غوښتل چې له خپل مذهب او دود او دستور سره سم یې مړی وسوځوي، مګر مسلمانانو غوښتل چې خښ یې کړي، وایې څرنګه چې دده په جسد پسې ورغلل هغه یې پیدا نه کړ او دهغه پر ځای د ګلونو یوه ګېډۍ پرته وه چې نیمائې هندوانو واخیسته او ویې سوځوله او نیمایي ګېډۍ مسلمانانو خښه کړه.
د نانک له مرګه وروسته دده لسو تنو پېروانو پرله پسې دده د جانشینانو په حیث د سک مذهب په یوه داسې صورت سره چلاوه چې

له اصل سره يې ډېر توپير درلود، اوهمدارنګه انزو او تنهايي يې پرېښې او د سياست په ډګر کې ګډ شول.
نو له دې ګبله د دوی او دهغه وخت د حکمرانو ترمنځ ډېر اخ او ډب وشو، او نفاق او دښمني پيدا شوې سکان د هند د نورو ډلو څخه د ګڼو رېبرو او د سر ويښتانو د اوږدوالي په واسطه پېژندل کېږي.
د دوی په نزد پېروي له پنځه "کاف" څخه د سک د يانت د لومړيو شرايطو څخه شمېرل کېږي اوهغه دا دي: کنګي "ږمنځ" کېس" د سر ويښتان کره کچ يو ډول کوچنی نېکردی" او کريان" چاړه" په افغانستان کې دا طبقه په دېر زيات شمېر کې استوګنه لري او اکثره يې په سوداګرۍ او تجارت بوخت دي چې په ښارونو او کليو کې اوسېږي.
داوه د بابا نانک پوره پېژندګلوي، له دې پېژندګلوۍ څخه داسې پوهېدای شو چې نوموړی د زېږېدو څخه تر مړينې پورې ټوله موده کې د روغولو، مينې، خواخوږۍ او د ورورګلوۍ په لمنه کې سر ته رسولې او دايې ثابته کړې چې کېدای شي د دوه وو متضادو ټولنو په منځ کې يوه دريمه لياره چې پر هغه باندې د زړه په ډاډ تګ او راتګ خوندي وګڼل شي رامنځته او ګټې اخيستلو ته وړاندې شي، د نانک د ژوند کيسه ټوله په دې ټکې راڅرخي چې ژوند د انسانيت په لمنه کې يوازې د سولې، روغې او د ورورولۍ په خورا غوره چال چلند سره کېدلی شي، خو چا چې د رغونې پر ضد د ځځوالي خوی او رشه غوره کړې هغه هېڅکله هم د ورورولۍ د مينې د خوند څخه نه دی څکلی او د ژوند ښېګڼو څخه هم د تل لپاره بې برخې پاتې شوی دی.
مينه، ښېګڼه، خواخوږۍ او ورورګلوۍ هغه توکي دي چې په هر دين او آين کې پرې ټينګار شوی، نو دغه لامل و چې د هند په نيمه وچه کې نانک ته د هندو او مسلمان په منځ کې د بابا مرتبه ورېښلې او هغه يې د ستا ينې وړ سرې توب په توګه د لمانځنې دريځ ته رسولی دی، زما په

اند په هند کې د لودي پښتنو د سیاسي واکمنۍ څخه راپاتې یوې غوره ژغورونکې لارې په توګه د بابا نانک د باباتوب دریځ ته په درناوي د سکهانو پښتنې زړورتیا او سرښندونکي هلې ځلې به د انسانیت په لمنه کې د ورورګلوۍ د مینې ګلان لاپسې غوړېدلي و ساتلي شي.
دا خبره هم د هېرولو نه ده چې وو وایو: د بابا نانک لارښوونې د اریائي ټولنې د ویدایې. او اوستائي دینې تعلیماتو اوهمدارنګه د سامې ټولنې د اسلامي شریعت د دینې تعلیماتو په رڼا کې یوه ټولګه ده چې په سیمه کې د ولسي منښت له امله دا څو پېړۍ کېږي چې شته والی موندلی او د هغه د پیروانو په شمېر کې لا پسې زیات والی راغلی دی.
چې ښایې اوس اوس د سر د شمېرله مخې شل د پرشو میلیونو ته ورسېږي چې به لاډېر وي نه لږ...

# د یارلسمه برخه

## بایزید روښان رحمة الله علیه

په دې برخه کې د هغه چانه یادونه کوم چې، د پښتنو د سیاسي خپلواکۍ د تر لاسه کولو په لاره کې د روغې، جوړې او وروروليۍ د مینې پر بنسټ د مبارزې هوډ ځلولۍ وو.

نوموړی بایزید روښان نومېده چې د هغه په هکله لوی پوهاند علامه "حبیبي " د پښتو ادبیاتو تاریخ د کتاب په ۷۷۴مخ کې د مغلو سره د عدم موالات او اجتناب تر عنوان لاندې داسې لیکي.

داوسني عصر د سیاست په میدان کې هم له دې کاره ډېره استفاده کېږي او که یوه ټولنه وغواړي د نورو له ظلمه او د اسار ته ځانونه وژغوري نو دی له هغو سره خپل همکارۍ او معاونت او موالاتو رابط قطع کوي،او دی ته په سیاسي اصطلاح "NONCOOPRATION " وايي د هندوستان د آزادی خواهانو یوه وسیله د انګریز په مقابل کې هم دغه ده عجیبه داده چې تر ګاندهي د مخه پیر روښان د پښتونخوا په غرونو کې د مغلو پر خلاف هم له دغې وسلې څخه کار اخیست او خپل مسلکي پیروان یې له مغلو سره په عدم موالات او نه همکارۍ امر کول لوی استاد د پیر روښان سیاسي جهاد او مبارزې په دري ټکیو ولاړو ښودل.

۱- له ظالمانو او له ظلمه نفرت ۲- له مغلو سره عدم موالات او اجتناب ۳- سر بازي او عدم تسلیم.

د پوهاند حبیبي صاحب پورتنۍ یادونې د بشپړې روښانتیا په موخه ښه به وي د پیرروښان په هکله لاپسې څرګندونې وشي د پښتو اریانا دائرة المعارف د "۴ " ټوک"په "۸۲۵ "مخ کې د پیر روښان په هکله داسې پېژندنه وړاندې شوې ده. "

پیر روښان: "بایزید " پلار یې عبد الله نومېده: اصلاً د کندهار او په کام

او ورمړ وو.
او د متجاوزینو پر ضد د مجاهدت په وخت کې د پښتونستان د کانیګرم په علاقه کې اوسېده، پیر روښان چې مخالفینو ورته تیاره پیر وېل. دهماغې زمانې متد اول علوم له ملا سلېمان "کالنجري" او ملا "پاینده" څخه زده کړل، او د فلسفې د تحصیل او د تصوفي معلوماتو د بشپړ تیا او تکمیل لپاره یې هند او ماور النهر ته سفر وکړ.
دی خپل هېواد ته په هغه وخت کې راستون شو چې د پښتنو سیمې په یوه برخه باندې متجاوزینو یرغل او حمله کړې وه.
پیر روښان، چې یو حساس عالم او ویښ وطندوست سړی وو.
په خپله خاوره باندې د بېګانه ګانو تجاوز یې ونه شو زغملی او ښکاره یې د متجاوزینو په مقابل کې د مخالفت اعلان وکړ.
او څرنګه چې په روحاني نفوذ سره د تدبیر او سیاست خاوند هم وو، نو ډېر پیروان او آزادي غوښتونکي یې په خپل ځان باندې چاپېره راغونډ کړل.
او په تلقین او تبلیغ سره یې د تجاوز کوونکو پر ضد د عوامو اذهان او احساسات راوپارولی شول د حیات افغاني مولف لیکي:
بایزید خپلو پیروانو ته څرګندوه ویلي چې مغلان ظالمان دي او پر موږ ډېر تیری کوي لازم دی چې پښتانه د پردیو د اطاعت حلقه له خپلې غاړې هیسته وغورځوي او خپله آزادي وساتي.
په دې ترتیب سره پیر روښان به هر زوړ، زلمی، ښځه او نارینه پښتون کې له استعمارچیانو څخه د نفرت روح تقویه کړ.
او د هغې سیمې پښتانه یې د متجاوزینو پر ضد ولمسول، لکه چې اخوند درویزه لیکي چې؛ پیر روښان ویل: هندوستان نیسم، د اکبر باچا ټولې خزانې زما دي راشئ له خپلو آسونو سره پر ما راغونډ شی. "
پیر روښان د خپلو ملي آرزوګانو او مقاصدو د تامین لپاره ځان ته یوه خزانه هم درلودله، او هغه څه چې دده پیروانو جمع کولو پنځمه برخه یې همدغې خزانې ته چې د "بیت المال" په نوم یادېدله، تحویل او پیر

روښان د ضرورت په وخت کې هغه مستحقینو ته ویشل. "
پېر روښان نه یوازې په خپله د متجاوزینو پر ضد د مقابلې او ټینګار لپاره تبلیغ کاوه.
بلکې خپله پېر وان او همکاران یې هم ددې کار لپاره د پښتونخوا هرې خوا ته لېږل چې له هغې جملې څخه مشهور عالم ملا پاینده خان، امته خان اکوزی د پښتو نامتو شاعر ارزاني د ارزاني دوه ورونه، ملا علي محمد مخلص، ملا عمر، ملا دولت مومندزی او نور د پیر روښان جدي او فعال ملګري او همکاران وو. "
پیر روښان په ابتدا کې پېښور او اشنغر ته لاړ او هلته یې د ملا دولت مومندزي په مرسته چې زیات نفوذ یې درلود، په "کله ډېر" کې د کابل د مغلي صوبه دار پر ضد په اتشینو تبلیغاتو باندې پیل وکړ او په دې ترڅ کې یې څو غوښتنې لیکونه کابل ته واستول او پښتانه یې د مغلي صوبه دار په مقابل کې وپارول. "
تر څو چې مغلي صوبه دار مجبور شو او د یوه ستر لښکر په ذریعه سره یې د جلال آباد له لارې اشنغر باندې حمله وکړه او له څو نښتو او جګړو څخه وروسته پیر روښان د متجاوزینو په لاس کې ولوېد او هغه یې کابل ته بندي بوته، مګر د ډېر ژر آزادي غوښتونکو پښتنو دی له زندان څخه راوایست، او دی بیا د متجاوزینو پر ضد د جدو جهد لپاره د تیرا غرنۍ علاقې ته لاړ او هغه پښتانه یې چې د پردیو متجاوزینو په القابو او بډو باندې غولېدلي وو سخت وینښ او تنبیه کړه. "
لکه چې د مرصع تاریخ په وینا یو زر او درې سوه تنو خپل لاسونه شا ته وتړل او ځانونه یې لاس تړلي پیر روښان ته وسپارل وروسته پیر روښان د ملي تحریکاتو مرکز تیرا وټاکه او له هغه ځایه یې د متجاوزینو سره په مقابله شروع وکړه، او د څو زرو سورو سره یې د ننګرهار پلو د متجاوزینو پر قوا وو حمله وروړله او د "بړوه" علاقه یې ونیوله او آزاد یې کړله.

لیکن څرنګه چې د متجاوزینو لښکر د شا له خوا تقویه کېدل او له بلې خوا په خپله مغلي صوبه دار محسن خان د خپل ټول قوت سره د پیر روښان مقابلې ته راووت. "

نو د دواړو خواوو له منځه سخته جګړه د شینوارو په تور راغه کې ونښته، د متجاوزینو لښکرو ته نوي ملاتړ راورسېدل او پیر روښان چې ټول قوت یې پای ته رسېدلی وو.

د کالاپایې په حصه کې جل وواهه او له تندی څخه مړ شو، او په اشنغر کې خښ شو.

دده وفات د ۹۹۰ هجري او ۹۹۴ هجري کلونو له منځه اټکل شویدی.

پیر روښان مړ شو، خو دده د آزادۍ مقدس تحریک دهغه له مرګه وروسته هم غلی نه شو او پیر روښان د ۱۴ کلن ځوی جلال الدین په ذریعه تعقیب او تقویه شو، د هند د هماغې زمانې مورخینو په تیره بیا ابوالفضل خافي خان "بدواني" او نورو دی د "جلاله" په نوم یاد کړی دی او وایې چې جلاله الدین اکبر هم دی په همدې نوم باله فاني کشمیري دی یې داسې ستایلي دي. "

د بایزید روشان وروسته جلال الدین لاپسې لوړ او زیات خپلواک او مستقل شو، دی یو عادل او انظباط وال شخص وو، د پیر روښان ځوی جلال الدین هم د متجاوزینو پر ضد د همت ملاوتړله او د تیرا او نورو غرنیو علاقو یې شل زره، پیاده او پېنځه زره سواره راجمعه کړل چې ټول یې اپریدی، یوسفزي، مومند او غوریه خېل وو. "

په ابتدا کې سید حامد بخاري د متجاوزینو په یتولدار باندې په پېښور کې حمله وروړله او هغه یې وواژه او د هغې نه وروسته په مقابله اود پښتنې خاورې نه د متجاوزینو او پردیو قواوو په ایستلو بوخت شو.

تر څو چې په ۹۹۴-هـ کال کې اکبر یو ډېر قوي لښکر د "کنورمان سنګ" په قوماندانۍ او د خواجه شمس الدین په همکارۍ د پشتنو

مقابلې ته ولېږه که څه هم د متجاوزینو قوه ډېره زیاته وه خو سره له دې هم پښتانه د خیبر په دره کې له هغوی سره سخت وجنګېدل، او د متجاوزینو زیاته برخه لښکر یې له منځه یوړ. "
که څه هم زیاتره او تازه تره ملا تړ هغوی ته راورسېدل خو پښتنو پوره یو کال له خپلې خاورې او آزادۍ څخه په مېړانه دفاع وکړله، او متجاوزینو جلال الدین مغلوب نه شوای کړی.
په ۹۹۵-هـ کال کې اکبر بیا د بنګښ له لارې او هم د بګرام له لورې د ډېر زیات قوت سره په پښتنې خاورې باندې تجاوز وکړ، مګر دلته هم جلال الدین د یو زرو سورو او پنځلس زرو پلیو سره د مجاوزینو په مقابل کې قیام وکړاو سره له دې چې یو نیم زر زلمیان یې له لاسه ورکړل.
خو بیا هم متجاوزینو ونه شوای کړلی چې پښتانه انقیاد ته مجبور وګرځوي. "
بلکې د دوی احساسات زیاتره وپارېدل، ددې نه وروروتسه جلال الدین هم د خپل پلار غوندې د تحریکاتو مرکز تیر او تاکله او له هغه ځایه یې په متجاوزینو باندې یرغلونه کول. "
لکه چې په ۹۹۴-هـ کال کې یې د سوات او باجوړ په حدودو کې د متجاوزینو سره سخته جګړه وکړه، او ورسته له هغې چې د متجاوزینو قوه یې تیت او پرکه کړله، جلال الدین تېرا ته بېرته راستون شو. "
په دې ترتیب سره تر "۱۰۰۰" هـ کال پورې د جلال الدین روښان مدافعوي قواوو او د جلال الدین اکبر متجاوزو قواوو له منځه خونړۍ جګړې او مقابلې پېښې شولې په "۱۰۰۰"هـ کال کې اکبر بیا نورې مجهزې قواوې د جعفر بیک او آصف خان او قاسم خان په قوماندانۍ او مشرۍ د جلال الدین مقابلې ته راولېږلې، اما هغوی هم ونه شوای کړلی چې خپل استعماري مطلب د مټ په زور پر مخ بوزي. "
نو د هغوی په پلمه اوغولونه او بډو ورکولو او نفاق اچولو پښتانه په خپل منځ کې سره اخته شول، او مجاهد جلال الدین چې د متجاوزینو

سترو قواوو ده ته ماته نه وه ورکړې. "
د پردیو په لمسولو او د خپلو پښتنو په لاس له پښو وغورځول شو او دده ورونه یې شیخ عمر او خیرالدین د دلازاک دکام له خوا ووژل شول. "
او د هغه بل ورور نورالدین د متجاوزینو په تحریک مومندو وواژه او په خپله جلال الدین بېرته تیرا ته راستون شو.
ځرنګه چې ددغه ملي مجاهد په نزد د پردیو تجاوز په مقابل کې کرار کېناستل یوه لویه ګناه وه. "
نو په "۱۰۰۰" هـ کال کې یې د غزني ښار د تورې په زور د پردیو د لاس څخه آزاد کړلی شو، او تر دوه ووکالو پورې د غزني خپلواک او مستقل حکمران وو. "
تر څو چې په "۱۰۰۹" هـ کال کې اکبر له یو زیات قوت سره پرده باندې حمله وکړه او اوه ورځې سخته جګړه وشوه او په پای کې جلال الدین د "شادمان" نومي له لاسه ټپي شو او مجبور وګرځېده چې له غزني څخه درباط غره ته لاړ شي او هلته د مراد بېک نومي په لاس شهید شو او سر یې د اکبر دربار ته ولېږل شو. "
د جلال الدین په شهادت سره هم د پیر روښان د کورنۍ د آزادۍ غوښتلو ډیوه مړه نه شوله او دده نه وروسته دا ډیوه د شیخ عمر ځوی او د پیر روښان "لمسی" احداد " چې په عین زمان کې د جلال الدین وراره او ځوی هم وو. "
په لاس کې ونیوله او د متجاوزینو په مقابل کې ودرید.
فاني کشمیري دده په باره کې داسې لیکي: "احداد یو عادل او ضابط سړی او د خپلو لوړ مرتبه ونیکونو په مسلک باندې ټینګ وو. "
او د خلکو حق یې خلکو ته رساوه کوم مالونه چې په جهاد کې لاسته ورتلل پنځمه برخه به یې بیت المال کې اچوله، او هغه به یې هم پر غازیانو باندې ویشله، هغه وخت چې احداد د متجاوزینو په مقابل کې

قیام وکړ، د اکبر اخره او د جهانګیر او له دوره وه. "
احداد په ۱۰۲۰ هـ کې ځان کابل ته ورسولی شو او له متجاوزینو قواوو سره وجنګېد. "
جهانګیر د هغوی جګړو په باره کې چې د لوګر د څرخ په حصه کې له احداد سره شوي دي په تزک جهانګیر کې داسې وایې:
پښتون احداد له ډېری مودې راهیسې د کابل په غرنیو سیمو کې په سر کشۍ او فتنه انګیزۍ بوخت او ډېر سرحدي پښتانه ورباندې راجمع شوي دي، او زما د بزرګوار پلار اکبر له زمانې څخه تر اوسه پورې چې زما د جلوس لسم کال دی، پوځونه تل دده پر ضد مقرر او لګیا دي. "
د احداد او د جهانګیر د متجاوزینو قواوو په یوه جنګ کې تقریباً درې زره پښتانه د خپلې آزادۍ او خاورې د ساتلو په لاره کې شهیدان شول. "
د احداد حملو دمتجاوزینو پر قواوو باندې تر "**۱۰۳۵**"هـ کاله پورې دوام درلود. "
تر څو چې په همدغه کال کې په یوه جګړه کې چې د "نواغر" یا " اورغر" له علاقې سره نېژدې پېښه شوې وه،د متجاوزینو له خوا شهید او سر یې غوخ او جهانګیر ته واستول شو. "
وایې چې د احداد له مرګه وروسته د متجاوزینو سپایان دده کلا ته ننوتل او هلته یې ولیدل چې پرته له یوې پښتنې پېغلې څخه نور هیڅوک د مدافعینو نه ژوندي نه وو پاتې او دغې پېغلې هم، کوم وخت چې پردي سپایان ولیدل ځان یې د کلا له برج څخه وغورځاوه، او په دې ترتیب سره یې د عفت او شرافت مرګ د پردیو متجاوزینو په لاس کې له بندي توبه څخه غوره وګاڼه او هم یې ثابته کړه چې په پښتنې خاوره کې که یوه پېغله هم باقي پاتې شي اسارت ته به تن ورنه کړي. "

د منتخب الباب د لیکنې سره سم هغه وخت چې د احداد سر یې د جهانګیر دربارته وروړ، جهانګیر یو مجلس جشن جوړ کړ او خپل سپایانو او لښکرو ته یې مبارکي ورکړه. "
د احداد نه وروسته د هغه ځوی عبدالقادر د آزادۍ غوښتلو توغ په اوږه کېښود، او په "۱۰۳۷"هـ کال کې یې د متجاوزینو په صوبه دار ظفرخان باندې د تیرا د خرماني په دره کې حمله ورووړه او یو ډېر شمیر متجاوزین ووژل شول او مالونه یې د غنیمت په توګه د پښتنو لاسته ورغلل، یوازې کهول او عایلي او کوچنیانو ته یې نجات ورکړ شو. "
د عبدالقادر د حملو او مقابلو په "۱۰۴۴هـ کال کې دوام درلود، دهغې نه وروسته په یوه جګړه کې د متجاوزینو د صوبه دار سیدخان په لاس کې په کابل کې ونیول شو او دی یې دشاه جهان دربار ته ولېږه او شاهجهان دی تبعید او نفي البلد کړ. "
تر څو چې په "۱۰۴۲ " هـ کال کې په پېښور کې وفات شو، دده له مړینې څخه وروسته دجلال الدین ځوی او د پیر روښان لمسي الله داد دخپلو اسلافو د آزادۍ غوښتلو او د متجاوزینو پر ضد لاره ونیوله او قیام یې وکړ، لکه چې صمصام الدوله په ماثر لامرا کې لیکي: "
الله داد یو زړور، مېړه، نیک فکره، سم او اخلاقو په تهذیب کې بې ساری سړی وو، او هیڅ یو صوبه دار بې دده له سلا څخه کار نه کاوه. "
او ټول خلک دهغه فدایان وو، په اخر کې شاه جهان په دکن کې دده له نفوذه څخه وویرېده او د وفات نه وروسته دنان دیر په شمس آباد کې په خپل بڼ کې خښ شو. "
دده ځوی او ورور د جهانګیر په زمانه کې "۱۰۲۸" هـ کې د متجاوزینو په زندان کې د ګوالید په کلا کې بندیان وو، تر څو چې په پای کې الله داد هم د متجاوزینو لاسته ورغی او جهانګیر دی فرار او تبعید کړ او د شاهجهان په زمانه کې په دکن کې اوسېده، او په "۱۰۵۸" کال کې مړ شو. "

د جلال الدین بل ځوی کریم داد هم له متجاوزینو سره مقابلې وکړې او په اخر کې متجاوزینو د ډېرو پیسو او بډو په لګښت دی هم ونیولی شو او د "۱۰۴۷"هـ کال د روژې په میاشت کې د شاهجهان په امر په پېښور کې ووژل شو. "
په دې ترتیب د پیر روښان او دده د کورنۍ ژوند ټول د پردیو له تجاوز او استعمار سره په مجاهده او مبارزه کې پای ته رسېږي، چې د پښتنو په تاریخ کې په ډېر ویاړ او افتخار سره د هغوی نوم ذکر کېدلی شي. "
دا وه د پیر روښان او د هغه د کورنۍ په هکله چې څه کم یوه پېړۍ په جهاد او مبارزه کې بوخت وو. "
جهاد او مبارزه هغه هم د پښتون ولس د آزادۍ او خپلواکۍ په لاره کې څه وړه خبره نه ده او څه ټوکې هم نه ګڼل کېږي. "
هر هغه هڅه او جدوجهد چې د ولس د جوړونې، روزنې او پالنې اولاد آزادۍ او خپلواکۍ په لاره کې وي، یوه الهي وجیبه ده، چې د زمانې د مصلحینو او لارښوونکو له خوا په ولس کې پلې کېږي، او په سیمه او نړۍ کې خپل اغیز ښندي، پیر روښان هم د پښتون ولس لپاره د زمانې د یوه غښتلي مصلح او لارښود په څېر خپله دنده چې د ولس "جوړونه" روزنه او پالنه وه په ښه ډول سرته ورسوله. "
که د آزادۍ او خپلواکۍ په تر لاسه کولو کې دده ولس بریالی نه شو، نو لږ تر لږه یو څه واټن خوېې لنډ کړ، د تاریخ په ګواهی داسې ډېر مصلحین لارښوونکي او ((پیغمبران موږ پېژنو چې موخې ته د رسېدو په لاره کې نیمه خواه پاتې شوي او ماتې یې خوړلې ده، لکه د مثال په توګه کولای شو حضرت موسی علیه السلام چې یو ستر مبارز پیغمبر وو، یاد کړو حضرت موسی علیه السلام د قرآن کریم د څرګندونو له مخې ددې وسه ونه موندله چې خپل قوم یعنې بني اسرایلو ته د ځمکې پر مخ کور، کلی، وطن او په خپل وطن کې خپلواکه ژوند وبښي. "
سره ددې چې حضرت موسی علیه السلام د الهي وحي په ملاتړ ډېر

زیات معجزه ایزه کارونه سرته ورسول، خپل قوم یې د فرعونیانو له مرئي توبه وژغوره خو په پای کې د قوم له خوادده امر د نه منلو له امله دده ټولې هلې ځلې نیمګړې پاتې شوې. "
څو چې دهغه ځای نیوونکې وکولای شول خپل قوم یو موټی او متحد او بیا یې په فلسطین کې د اریحا یا اریشو ښار ونیوه، او په دې توګه یې د ځمکې پر مخ په لومړی ځل بني اسرایلو ته د کور، کلي، وطن او په وطن کې د خپلواکه ژوند امکانات په لاس ورکړل. "
د پیر روښان او د حضرت موسی علیه السلام ترمنځ یوائې توپیر دادی چې هغه پیغمبر وو. "
او دی پیغمبر نه وو ، هغه او د هغه قوم وطن نه لاره خو دی او دده قوم د خپل وطن خاوند وو ، "
په کوم ټکي کې چې دوی دواړه شریک ګڼل کېږي، هغه آزادي او خپلواکي ده چې د مبارزې او جهاد په مهال کې نه پښتنو لرله او نه هم بني اسرایلو لکه څنګه چې بني اسرایلوته د موسی علیه السلام څخه وروسته د هغوی ځای ناستي ځانله هیواد او په هیواد کې خپلواکي وګټله. "
د پیر روښان قوم ته هم د پیر روښان او دهغه د ځوځاتو د اتلانو څخه وروسته په کندهار کې د حضرت میرویس نیکه او حضرت احمد شاه بابا له خوا آزادی او خپلواکۍ تر لاسه شوه. "
د انسانیت په لمنه کې د وروروليۍ د مینې د اتلولۍ ددریغ امتیاز ځکه حضرت پیر روښان ته ورکولی شو. "
چې هغه لکه د پیغمبرانو په څېر له لومړي سر نه خپله مبارزه او جهاد د عدم تشدد په دې درې ټکیو پیل کړی وه. "
۱- له ظالمانو او له ظلمه نفرت.
۲- د مغلو سره عدم موالات او اجتناب.
۳- سربازي او عدم تسلیم.
دغه درې بنسټیزې موخې د تشدد د لارې څخه نه چې په عدم تشدد

پېيل شوې. "

خو چې مقابل لوري ځځواله کارولې او تشدد نه يې کار اخيستى، نو د پير روښان ډله هم مجبوره شوې، چې د دښمن په وړاندې دفاعې دريځ ونيسي دا ځکه چې پير روشان په خپل وطن پښتونخوا کې اوسېده. "

هغه او د هغې ډلې پر ډهلي چې د مغلو پلازمينه وه دښمنانه حمله نه وه کړې، بلکې دا مغلي لښکرې وې چې پر پير روښان او د پير روښان پر هېواد بلوسېدلي وو. "

څوک چې په خپل کور کې د خپل د کور، کهول د ساتنې او څارنې سره جوخت د خپل د کور دواک او اختيار د لرلو حق هم په خپل لاس کې لرل غواړي، هغه ته هيڅوک، هيڅکله او په هيڅ ځای کيې د تشدد پلوي او متجاوز نه شي ويلی. "

همدارنګه څوک چې د ظالمانو د ظلم څخه کرکه او نفرت ونيي، د ظالمانو سره د دوستی او رفاقت نه ځان وژغوري او د ظلم او ناروا وو پر ضد د مبارزې په مهال ظالم ته ځان ونه سپاري داسې کسان د انسانيت په لمنه کې د ورورګلوی د مينې رښتينی لارويان او رښتنيي انسانان ګڼل کېږي. "

چې بايد ولمانځل شي او د لمانځلو لړی يې پايښت ومومي ،په دې دليل پښتانه په دې اړ دي چې د تل لپاره پير روښان د خپل ملي لارښود په څېر وګڼي، دهغه او دهغه د کورنی څه کم يوه پېړی جهادي سرښندنو ته د ټولو پشتنو د ملي وياړونو او افتخاراتو په لړ کې د تاريخ د يوه ځلاندې برخې په توګه تل تر تله په يادونو کې لمانځلی وساتي. "

# څوارلسمه برخه

## باچا خان

په دې څپرکي کې د هغه چا په درناوي سر ټیټوو چې د خپل پوره اته نوي کاله عمر څخه یې سم نیمائي د انګرېزانو او بیا د پاکستان په نامه د مستبدو جابرو او ظالمو واکمنانو په جېل او په پند کې تېرې کړې دي. "
دا هغه څوک دی چې پښتانه ورته باچاخان وایې، باچا خان چې اصلي نوم یې عبدالغفار خان دی، دی د اسیاپه وچه او بیادهند په ټاپو وزمه کې د پښتنو د ټبر څخه لومړنی سړی دی چې د پښتنو په تاریخ کې په لومړي ځل د ژوند تر پایه پورې لکه د نوح علیه السلام غونډې د عدم تشدد او د خواخوږۍ د سیاست مزي یې ټینګ وساتلی شول. "
د نومورې په هکله د پښتو اریانا دائرت المعارف د "۲" توک په "۵۵۴" مخ کې داسې لیکي:
عبد الغفار خان: خان عبد الغفار خان د محکوم او مرکزي پښتونستان یو نامتو مشر د بهرام خان ځوی "۱۸۹۰" م کال په شاوخوا کې د اتمانزو په کلي کې زېږېدلی، ابتدایي علوم یې له کلیواله ښوونځیو کې لوستلي دي، دلوړو تحصیلاتو دپاره "علي ګړ" ته لاړ او د امتحان په دوره کې بریالی رااووت. "
په "۱۹۱۲" م کال د ملي سپاهي او قومي خادم په حیث د پښتونستان په ازادۍ پسې د سیاسیاتو میدان ته داخل شو. "
د قومي ذهن او ملي شعور د بیدارۍ دپاره د معلم او استاد په صفت کلي په کلي وګرځېد ، په قام کې د علم او ملي تربیې په هڅه احساسات راوپارول او نه هېرېدونکي او نه غلې کېدونکې تاریخي نهضت یې راولاړ کړ. "
چې د پښتونستان عملي مبارزه د همدغه وخت نه شروع وه، په

"۱۹۱۹ " م کال د خان عبدالغفار خان پلار د یو شمېر مشرانو سره د پرنګي له خوا ونیول شو او د څه مودې بند تېرولو نه وروسته خوشې شو، خان عبدالغفار خان په اتمانزو کې لویه تاریخي جلسه د زیاتو خلکو په شمول وکړه. "

په دغه جلسه کې د ملي مشر او لاربنود په څېر ومنل شو، په "۱۹۲۰ " م کال کې خان عبدالغفار خان افغانستان ته راغی او چې واپس لاړ په محکوم مرکزي پښتونستان کې د اصلاح الافاغنه په نوم یې انجمن جوړ کړ. "

په "۱۹۲۰ "م کال کې خان عبدالغفار خان د پښتونستان د آزادۍ د ملي او سیاسي تحریک په اثر د پښتونستان رهبر په حیث د پرنګي له خوا ونیول شو. "

د درې کاله سیاسي بند نه وروسته په "۱۹۲۴ "م کال کې خوشې شو، د پښتونستان د خلکو له خوا یې تاریخي هرکلی اود فخر افغان په نوم وستایل شو. "

خان عبدالغفار خان په "۱۹۲۴ "م کال کې اسلامي ملکونو ته لاړ او په هغه جرګه کې یې د پخواني هندوستان "نماینده "په حیث ګډون وکړ، چې د ابن سعود له خوا په مکه کې جوړه شوې وه. "

خان عبدالغفار خان د حج د فریضې د ادا کولو نه وروسته عراق، لبنان، مصر، سوریه، فلسطین او نور عربي ملکونه ولیدل. "

ددغې دورې نه چې واپس راغی په پښتونستان کې د ذهني انقلاب دپارولو په مقصد یې د ازاد پښتون په نوم مجله جاري کړه او د خدائي خدمتګار د نماینده ګانو په ملګرتیا په لاهور کې د کانګریس په کلنۍ جلسه کې ګډون وکړ. "

په "۱۹۳۰ "م کال کې د خدائي خدمتګارو سر خپو شو خلافتیانو او ځلمو جرګې اوسیاسي تحریک اوذهني انقلاب په ډېر زور شور کې روان شو. "

ځو د صوبه سرحد په مشهور انقلاب باندې د پرنګي حکومت قیصه خوانۍ په وینو سره او عام قتل جوړ کړ. "
او خان یې وینو د "پښتونستان" د سیاسي قیدي په حیث یې د ګجرات جېل ته ولېږه په "۱۹۳۱" م کال کې چې بیا پښتنې ولولې انقلابي شولې، خان عبدلغفارخان د پرنګي حکومت له خوا ګرفتار او په زرګونه شاه زلمي ورسره ونیول شول. "
په "۱۹۳۴" م کال کې د تقریر او سیاسي فعالیتونو له کبله بندي شو،
په "۱۹۴۷" م کال چې د پاکستان د جوړېدو غږ وشو او د پښتونستان خلکو ته وویل شو؛ پاکستان غواړي که هندوستان نو پښتونستانو ددغې پوښتنې په ځواب کې وویل؛ د یوې غلامۍ نه بلې غلامۍ ته تګ مرګ؛ موږ نه پاکستان غواړو نه هندوستان، بلکې زموږ د غوښتنې او کوښښ نوم پښتونستان دی. "
په "۱۹۴۷" م کال خان د یو هیئت په مشرۍ ډهلي ته لاړ او پرنګي وایسرای ته یې خپله مطالبه وړاندې کړه چې موږ خپل اساسي او بنیادي آزادي غواړو، زموږ کوښښونه او قربانۍ د خپل وطن د آزادۍ دپاره دي. "
دهند انګریزي وائسرا چې د خان عبدالغفار خان د قوم د آرزوګانو په غوښتنه دال انډیاد کانګریس پارټۍ عامل مجلس راوغوښتل شو. مجلس ته د خان له خوا د ۱۹۳۱ ع کال د هغې معاهدې په اساس چې د خدائي خدمتګارو او د کانګرس تر منځ شوي وه، پیشنهاد وړاندی شو. په دغه پیشنهاد کې خان د قام د ارزوګانو په ترجماني لیکلي وو، چې موږ دخپل ثقافت اوملیت په بنیاد یو ځانله مملکت جوړول غواړو؛ چې نوم به یې پښتونستان وي په دغه مرحله کې ځو ورځې د پښتونستان هیواد د پټهانستان په نوم یاد شو. "
دکانګریس عامل مجلس دغه پیشنهاد منظور کړ او د خان عبدالغفارخان د خپل قوم دارزوګانوپه ترجمانۍ یو ځل بیا د هند وایسرا ته پیشنهاد

وړاندې کړ چې پښتانه آزاد پښتونستان جوړول غواړي. "
خو پرنګي او پاکستان په سخت سیاسي مخالفت لاس پورې کړ. "
په "۱۹۴۸" م کال خان د پاکستان په پارلمان کې دراجه غضنفر علي خان او لیاقت علي خان سره د پښتونستان په موضوع کلکې او ترخې خبرې وکړې. "
خان په مختلفو جیلونو کې زحمتونه وګالل او د سیاسي قیام او سیاسي نظر بندي په نوم "۷" اوه کاله د پښتونستان څخه دباندې په پاکستان کې د جیلونو او بندیزونو لاندې عمر تېر کړ او په "۱۹۵۵" م کال خلاص شو. "
دجولای په اولسمه نېټه پښتونستان ته راغی او د اټک دغاړې نه اتمانزو پورې په لکونو لویو او وړو یې هرکلی وکړ، او د پښتونستان تحریک یو ځل بیا جدي شو، په "۱۳۳۷" هجري شمسي کال کې خان عبدالغفار خان دافغانستان په بلنه د پښتونستان د ورځې هرکلی په مظاهرو کې د ګډون نه وروسته د قندهار په لار جنوبي پښتونستان ته روان شو. "
څنګه چې خان عبدالغفار خان د جنوبي پښتونستان کوېټې ته ورسېد د پاکستان د حکومت له خوا ګرفتار او جېل ته ولېږل شو. "
دا ځل یوازې بندي نه، بلکې د جېل فشارونو داسې ناروغه کړ چې باید شفاخانې ته لېږل شوی وای. "
مګر د خان ناروغتیا به چې زیاته شوه، نو د پاکستان حکومت به د یوې جېلخانې نه بلې ته بدل کړ. "
وروسته چې خوشې شو په "۱۳۴۳" هـ شمسي کال د سنبلې په میاشت کې د علاج دپاره اروپا ته لاړ، د څه مودې تېرولو نه وروسته داروپانه قاهرې ته لاړ او د قاهرې نه د علاج دپاره "۱۳۴۳" هـ ش کال د قوس په "۲۱" ورځ په الوتکه کې کابل ته راغی، په اکبر خان روغتون کې د علاج او تداوي لاندې ونیول شو. "

خان عبدالغفار خان چې روغ شو نو د څو کلونو د پاره په کابل کې پاتې شو. "

ده د افغانستان په ټولو ولایتونو کې هر کال بېلې بېلې دورې وکړې او هم یې کال په کال د پښتونستان د ورځې د جشن په مراسمو کې چې په کابل کې جوړېده، په غازي سټېډیوم کې د پښتونستان او بلوچستان د خلکو د ملي مطالباتو په باره کې جذابې او مفصلې ویناوې کولې، او هم یې په دې مناسبت په جوړو شویو مظاهرو کې ګډون کاوه. "

چې دده د ویناو تفصیل د همغو وختونو په ورځپاڼو کې خپور شوي دي. "

داو د پښتو اریانا دائرت المعارف څخه د باچا خان پېژند ګلوي، اوس به د باچا خان "داسلام بې تشدده سرتېري" د کتاب" د "**۵۲۴**" او "**۵۲۵**" مخونه هم ولولو، په هغه کې داسې لیکل شوي دي:

Elwin انګریز ژورنالیست باچا خان په هکله ویلي؛ د انګریز له مامور څخه یې واورېدل چې باچا خان یو پخوانی رذیل انسان دی. "

یو پښتون ورته وویل چې؛ باچا خان په درد نه خوري ټوپک نه شي چلولی. "

یوه انګریزي مېرمنې چې د باچا خان د کورنۍ سره او سیدلې وه؛ باچا خان ئې د عیسی علیه السلام سره پرتله کړ، هغه معنوي مقام چې په شلمه پېړۍ کې مهاتما ګاندي "۱۸۶۹" "۱۹۲۸" په هندیت هندویزم کې او په امریکې کې د تور پوټکو مشر ډاکتر مارتین لوترکینګ "۱۹۲۹" "۱۹۶۸" په عیسویت کې ګټلی دی "د یوویشتمې "پېړۍ" په درشل کې بې له سیاله په اسلامي نړۍ کې باچا خان "۱۸۹۰" "۱۹۸۹" لپاره خوندي ښکاري. "

داسې برېښي چې په یوویشتمه پېړۍ کې به د اټومي کاووبایانو پر ضد د سولې پر څنګ زور واخلي. "

په دغسې نړۍ وال اړتیا کې به ناشوني نه وي چې باچا خان د موسسي

په حيث بيا راژوندي شي؛ د اسلام بې تشدده عسکر شي، د تر هيدلو او مظلومو انسانانو د زړونو امپراتورو ګرځي او په دې ډول د پښتنو فخر افغان په واپسۍ پېړيو کې په فخر افغان ونازول شي او خدايي خدمتګار ته يې د "خيرالبشر" درناوی وشي. "

باچا خان نړيوالو ته وښودل چې؛

١- عدم تشدد په اسلام کې خوندي دی.

٢- عدم تشدد د کلک سيستم په مقابل کې هم بريالی کېدلی شي.

٣- عدم تشدديو اځې په پښتنو "ملايمو" ټولنو کې نه ،بلکې د پښتنو. په زېږه ټولنه کې هم چې اينرجي يې د "بدل" اخيستلو په جګړو کې خوړل کېږي اغېزناک رول لوبولی شي. "

د باچا خان ستر لښکر "په زرګونه خدائي خدمتګاران" ددغې ادعا لپاره غښتلی ثبوت دی. "

کولمن ميکارتي "په "واشنګټن پوستکې کاږي چې باچا خان کېدلی شي جهاني قدرت شي هغه ډول چې هيڅ پوځ او يا اړتون "زندان" يې نه شي تم کولی "جين شارپ" د هارورډ پوهنتون د بې تشدده مجازاتو د پروګرامونو مشر ليکي چې؛ دخان عبدالغفار خان عمل او دهغه د مشرۍ لاندې "د پښتنو کلک اسلامي بې تشدده پر ځنګ" هر چېرې خلکو ته نوي امکانات او غټې هيلې راوړي، زه پر هر چا کلک ټينګار کوم چې ددې نږدې شوي کړکيښ "تاريخ" په هکله زياته زده کړه وکړي. "

"مبار او داد" په ايرو شيلم کې د عدم تشدد د مطالعې د فلسطيني مرکز مشر وايي چې؛ دا کتاب، باچا خان د اسلام بې تشدد سرتيری "د هر مسلمان لپاره حتمي دی، دخان عبدالغفار خان ژوند په منځني ختيز کې په ډېرو لوستونکو کې بدلون راوستلی شي او ډېرو ته به بلنه وکړي. "

دا وې يو څو ټکي د باچا خان د اسلام بې تشدده سرتيري د کتاب څخه،

اوس به وګورو چې په دې نژدې کلونو کې د باچا خان په هکله په نړیوال ذهینت کې څرنګه قضاوت شته والی لري؟ باچا خان د نه تشدد الهام له قرآن څخه اخیستی وو. "

داوینا د هندوستان د خپلواکۍ د ځلانده اتل مهاتما ګاندهي لمسي او نامتو څېړونکي پروفیسور "راجموهن ګاندهي" د میلادي کال "۲۰۰۸" د اپریل میاشتې په "۱۲" په هغه غونډه کې د خپلې وینا په ترځ کې وکړه چې د خان عبد الغفار خان یا باچاخان د سولې او روغې د لومړۍ څېړن غونډې په نامه په نیویارک کې د خیبر ټولنې او د پاکستان د عوامي ملي ګوند له خوا جوړه شوې وه. "

ښاغلی "راجموهن "وویل چې ګڼ شمېر کسان خوداسې فکر کوي چې یعنې د باچا خان دنه تشدد ، د فلسفې الهام د مهاتما ګاندهي له لارې څخه وو. "

خو ماته باچا خان داهم وویل چې په هیڅ یوه کلام کې د صبر پر توري دومره ټینګارنه دی راغلی، لکه په قرآن شریف کې چې شوي دي. "

نو ځکه یې ډېر اغیز پرې کړای وو، "راجموهن" پاچا خان تر ټولو ټینګ مسلمان او د پښتنو له پاره دمینې اواخلاص تر ټولو لویه سر چینه وبلله، ښاغلی راجموهن چې په دې وروستیو کلونو کې د باچا خان د نه تشدد غورځنګ په باب یو اثر هم لیکلی او چاپ کړی دی، دنه تشدد د فلسفې ته هغه د ژمنتیا دوه علتونه ګڼي، چې یو یې په پښتنې تولنه کې د کسات یا بدل اخیستنې دود له منځه وړل وو. "

او دوهم یې د انګریزانو دامپراتورۍ له سخت غبرګون څخه د خپل پښتون ولس ساتل وو. "

"راجموهن" داخبره هم په ډاګه وکړه چې د القاعدې په نامه چې کومه اداره د تر هګرۍ په نامه یادېږي او وایې چې په پښتنې سیمو کې اغېز لري، هیڅکله یې د خدایې خدمتګارانو دغورځنګ په کچه پر پښتنو اغیزه نه ده ښندلې. "

دې غونډې ته په لسګونو روڼ اندي، لیکوال، څېړونکي، د پوهنتون زده کوونکی د امریکا له بېلو بېلو ایالتونو څخه هندوستانیان، پاکستانیان او افغانان هم راغلي ول. "
غونډې ته د پاکستان د عوامي ملي ګوند مشرانو؛ اسپندیار ولي خان او افرا سیاب خټک له پاکستان څخه تیلفوني ویناوې وکړې. "
دوی په خپلو ویناوو کې دا خبره په ټینګار وکړه چې د دوی دګوند سیاست د باچا خان د نه تشدد سیاست پر مخ بیایي او همدا رنګه یې د پښتنو په باب داتور هم بېځایه وباله چې د ترهګرو او افراطیانو په نامه یې نړۍ ته ورپېژني، دوی زیاته کړه چې د پښتنو ډېری ترهګري نه مني. "
د پښتو ژبې نامتو لیکوال او څېړونکي ډاکتر راج ولي شاه خټک د باچا خان د نه تشدد دسیاست یو څو بېلګې وړاندې کړې او همدارنګه د لویدیځوالو له پاره د پښتنو پېژندنې په باب معلوماتي خبرې وکړې. "
ده وویل چې پښتون په خپله خوښه دوزخ ته ځي خو په زور جنت ته هم نه ځي، دوی خپلې خبرې په دې پښتو لنډۍ پای ته ورسولې چې وائې:
اشـــنا دې بد پر ما ثبوت کړي
بې بدو زړه له مانه ځله بدوینه
غونډې ته همدارنګه د پښتو نامتو شاعر عبدالباري جهاني په پښتو ژبه د باچاخان په باب لنډې خبرې وکړې او خپل یو اوږد شعر یې چې دپښتنو اوسنۍ ستونزې د یو نابللي مېلمه انځور په کې وو، وړاندې کړ. "
ددې څېړن غونډې یوازینی پښتو وینا کوونکی افغان ژورنالیست او څېړونکی عبدالواحد "مشوانۍ"وو. "
چې نه یوازې یې باچا خان خپله لیدلی وو، همدارنګه یې دخدایي خدمتګارانو په ټولنیزو خدمتونو کې ډېر او ګټور معلومات وړاندې کړل، دا څېړن غونډه نیمه شپه د پښتو ژبې نامتو سندرغاړي "خیال

محمد او ماه جبینې "په سندرو پای ته ورسېده."
په پورته توګه مودخان عبدالغفار خان "باچا خان" په هکله او دا چې هغه د قرآني ارشاداتو له مخې په خپلې ورځني ژوندانه کې دعدم تشدد خوی، خصلت اورشي دریځ غوره کړی، ښائي ډېره به پر ځای خبره وي."
دا ځکه چې نه یواځې د اسلام دین پر عدم تشدد پیل شوې اودعدم تشدد په لورې تګ لري، چې نورو ادیانو هم د بنسټ څخه پر عدم تشدد رامنځته شوي او بیا مخته تللي دي."
چې دا د ژوندانه لومړنی اصل دی چې باید رعایت شي یعنې ژوند پر عدم تشدد مینې او سولې روغې پیل شوې، خو د کرکې دتشدد له لامله ژوبل شوې رټل شوې او نابود شوي دي."
ښه به وي په دې ځای کې د باچا خان وینا هم واورو هغه په خپل جدو او جهد کتاب په "۲۵"مخ کې وایې: حقیقت دادی چې دا ټول اسماني مذهبونه دخدای مذهبونهدی او دنیا ته د اتفاق، مینې او محبت او د خدای د مخلوق د آرام او خدمت دپاره راغلي دي، د هر یوه مذهب د پیروکارو دافرض دی چې د خدای د مخلوق له منځ نه کرکه او نفرت لري کړي او مینه اومحبت په کې پیدا کړي او یو د بل سره امداد وکړي خو مونږ ددې حقیقت نه چا خبر کړي نه یو"...
همدارنګه د جدو جهد کتاب په "۲۲۳"مخ کې وایي:
زه د قرآن په خوبیو ښه پوه شوم د اسلام د تعلیم نه خبردار شوم.
او د مذهب په حقیقت ورسېدم. "باچا خان" د خپل کتاب په "۲۷۲" مخ کې وایي په دین کې زور نه شته، ځکه چې ددې تعلق زړه سره دی د خپل دین هر مذهب والا ته د احق حاصل دی چې د تبلیغ په ذریعه فائدې او خوبي ښکاره کړي، لېکن یو مذهب هم دانه وایې چې تاسو په زور او زیاتي او لالچ خلک په خپل مذهب کې داخل کړي، ځکه چې د مذهب معامله خو د زړه او دماغ سره ده چې زړه اودماغ اوعقیدې

کوم مذهب نه دی قبول کړی په هغه عمل کولی نه شي، او چې عمل پرې ونه کړي، نو هیڅ فائده ترې حاصلوي نه شي "باچا خان په خپل کتاب زما ژوند او جدو جهد " ۳۶۱ " مخ کې وائي په اصل کې عدم تشدد یو طاقت دی، څرنګه چې تشدد طاقت دی، د عدم تشدد هم دغه شان فوج دی لکه څنګه چې د تشدد دی خو د عدم تشددوسله تبلیغ دی او د تشدد وسله ټوپک دی. "
عدم تشدد په خلکو کې محبت پیدا کوي همت پیدا کوي او جرآت پیدا کوي، اوتشدد په خلکو کې نفرت پیدا کوي او وېره پیدا کوي او بزدلي پیدا کوي، ځینې خلک وایي چې د دفاع لپاره خو تشدد په کار دی، دوی دې ته فکر نه کوي، چې تشدد دې وکړو نو د عدم تشدد لاره دې پرېښوده. "
حالانکه عدم تشدد کې خپله دفاع شته، عدم تشدد کې شکست نه شته او په تشدد کې شکست شته، څنګه چې د تشدد یو نظام دی، دغه شان د عدم تشدد هم مکمل نظام دی تشدد اسان دی او په دې لاره تلل هم اسان دی، خو د څپېړې زغمل ګران کار دی. "
باچا خان د خدایي خدمتګارو د سرو جامو په هکله په خپل کتاب زما ژوند او جدوجهد په "۳۶۴ " مخ کې داسې وایي؛ په نوښار کې چې ډېر خدایي خدمتګار او ممبران جوړ شول، نو دلته موږ جرګه وکړه او د خدایي خدمتګارو جرنیل سرورشاه مقرر شو، ما خو د وړاندې ددې خبرې ذکر کړی دی، چې د خدایي خدمتګارو وردي د سپینې خامتا وه. "
خدایي خدمتګارو ماته شکایت وکړو چې دا سپینه وردي په دوره کې زرخیرنه شي اود وینځلو هم څه انتظام نه وی، نو ښه په دا وي چې موږ څه رنګ ورکړو، نو ماورته ووي چې ورکړئ، نو هغوی اتفاقاً سور رنګ ورکړو، خدایي خدمتګارو ځان له سرې وردۍ جوړ کړې. "
هر خدایي خدمتګار به ځانله په خپله وردي جوړوله دی رنګ د خلکو

په زړونو کې ډېر زیات اثر وکړو، ځکه چې ښکلي وردی وې، او زلمي به په کې ښکلي ښکارېدل او د ټولو خدایي خدمتګارو یو شان رنګ ورکړو دغه د سرو جامو وجه وه چې پیرنګیانو بیا زموږ پرخلاف پراپګنډه شروع کړه چې دا د بالشویک تحریک دی، موږ خو هغه وخت ددې نه خبر هم نه وو چې د با الشویک هم سره وردی ده. "
داخو یوه اتفاقي خبره وه، ماتر دغه وخته پورې نه د مارکس نه د لینن او نه د ګاندهي چې کوم کتاب لوستی و،او نه ترې خبروم. "
داو د باچا خان د زما ژوند او جدو جهد کتاب څخه دهغوی څولنډې ګنډې د کړنلارو بنستیزو ویناوې. "
د پوهي خاوندان او حق او حقیقت پلو یان هغوی چې د سیاست په ناوړه ککړ شوې نه دي او کولی شي سره له ناسره، ښه له بدو او تور له سپینه جدا کړي وبه وایي چې په رښتیا سره باچا خان هم په خپل مهال کې د خپلې سیمې او د خپل ولس لپاره د حق د لارې یو رښتینی مشر او لارښود وو. "
او موږ هم کولی شو ووایو: لکه څنګه چې په پورته کرښو کې مو د مختلفو کسانو اندونه او انګېرنې ولوستلې او څنګه چې مو د باچاخان د ژوند اود هغوی د کړو وړو انځور د دوست او دښمن په هنداره کې ولیدله، په څرګنده او زغرده توګه ویلی شو چې باچا خان د خپل مهال یو ستر شخصیت وو، چې دانسانیت په لمنه کې یې د وروولۍ د مینې اتلولی په پوره توګه ځلولی او د دې وړتیا یې تر لاسه کړې چې دده د موخو او اهدافو د تحقق په لاره کې د دوی د انسانیت د مینې، محبت او ورورولۍ د ستر دریځ نه د تل لپاره درناوی او لمانځنه وشي. "
دا ځکه چې باچا خان چې کومه لاره غوره کړې ده هغه د ولس جوړونه، د ولس روزنه او د ولس پالنه وه، کوم چې دغه درې واړه موخې د تل لپاره د الهي استازیو په دنده کې خپله څهره ځلولې او د غه درې واړو

موخو د تحقق په لاره کې زښت ډېرو پیغمبرانو خپل ژوند له لاسه ورکړی او شهیدان شوي دي. "
زما په اند باچا خان د انسانیت په لمنه کې د تاریخ هغه غبرګون دی چې لومړی د محبت د دین لارویانو، د استبدادي، استکباري او استعماري نظام پر ضد راپاڅېدلي او خپل ولس ته د انساني حقوقو سره جوخت د خپلواکۍ چیغه هم پورته کړې او په دې لاره کې یې ډېرې زیاتې ناخوالې اوربړونه وګالل او بیا باچا خان د سیمې د دیموکراسي د مدعیانو نه وروسته په پاکستان کې د اسلامي نظام د مدعیانو داستبداد، ظلم او ناروا او په جیلونو او زندانونو کې یې سم نیمایي عمر تېر کړ. "
یعنې؛ نه یوائې د عیسی علیه السلام د لارویانو په کړو وړوکې د عیسی علیه السلام د شریعت عدم تشدد شته والی نه لاره چې د حضرت محمد ص په مسلمانانو کې هم لکه څنګه چې د باچا خان د ژوندانه تاریخ نه راڅرګندېږي د اسلامي دین اصولي کړنلارې نه دی رعایت شوي او باچا خان د دغو دواړو ادیانو د مدعیانو د ناوړو کړو وړو، او انسان دښمنه چال چلند یو روښانه تاریخي غبرګون په څېر ځلانده ننبه ګڼلی شو. "
ددې روښانه دلیل د ثبوت له مخې دا خبره د لمر غوندې څرګنده ښکاري چې د مسیحي او اسلامي ادیانو په پیروانو کې څنګه چې په تیوري کې لوستل کېږي هغسې په عمل کې څه نه شته او ځوک یې نه پلي کوي، وګوري د هغو جهادي مشرانو د ژوندانه په بیوګرافي کې چې د شوروي اتحاد د یرغل په وړاندې یې د جهاد او غزا د ستر امر په لارښوونه کې یې تاریخ ته په یادګار پرېښوولي یعنې هغو څه وویل او بیا یې څه وکړل؟...... "

# پينځلسمه برخه

## مهاتما ګاندهي

په دې برخه کې دهغه چا په درناوي دغه کرښې تور وو چې هغوی د ایشیا او با الخاصه دهند په ټاپو وزمه کې د شلمې پېړۍ يو پياوړی، مينه ناک او په خپلواکۍ مينه انسان وو، چې د انسانيت په لمنه کې يې د وروروليۍ د مينې اتلولۍ ته رسېدلی او د درنښت د دريځ سرته ختلی ستوری دی. "

ښه به وي لومړی تر هرڅه ګاندهي جي وپېژنو، د پښتو اریانان دائرت المعارف اوم ټوک په "۸۸۴" مخ کې داسې ليکل شوي دي. "

ګاندهي: Gandhi " د هندوانو پيشوا، او د هند مشهور فيلسوف، مصلح او سياستمدار کرم چند ګاندهي د "۱۸۶۹" ع ميلادي کال د اکتوبر په دوهمه ورځ د پور بندر په ښار کې وزېږېد، خپلې لومړنۍ زده کړې په همغه ښار کې پيل کړې او بيا د خپلې کورنۍ سره د راجکوټ ښار ته ولاړ، خپلې زده کړې ته يې ادامه ورکړه لا ديارلس کلن وو. "

او په ښوونځي کې يې درس وايه چې د پلار په غوښتنه يې د "کاستوربالي " Casturbai " نومې نجلۍ سره واده وکړ، دی په "۱۸۸۸" ع م کال د انګلستان خواته وخوځېد اوپه لومړي سر کې يې دده په اخلاقو او روحيه زيات بدلون او تغير راووست، چې د ويلون او نڅا زده کولو او د وينا کولو په طرز پوهېدلو يې شروع وکړه، خو د ونبو خوړلو د طرفدارانو سره د تماس په اثر کې ساده رويه غوره کړه او زياريې وويست، چې هر څومره وکولای شي خپل ژوند زياتره ساده او ارزان تېر کړي. "

ګاندهي په لندن کې د اوسېدو پر وخت خپل ديني لوی اثار په انګريزي ژبه ولوستل او بيا د نورو اديانو په تېره بيا د اسلام او مسجبت په

" Edwin A :د وین ارتول ۱: کتاب د آسیا نور، د آسیا نور، مطالعه بوخت شو
تالیف په تېره بیا د اسلام د پیغمبر فصل پرده ژوره اغېزه وکړه او همدا
چې د انجیل لوستل یې پای ته ورسول په ده کې اخلاقي لوی تحولات
شروع شو، او په "۱۸۹۱" ع،م کال کې بېرته خپل وطن ته راغی دی لنډه
موده په بمبيي کې د وکالت په کار بوخت شو. "
خو بیا د هندي یوې کمپنۍ په پیشنهاد جنوبي افریقا ته ولاړ چې د
هغه ځای چارې مطالعه کړي، او په محکمه کې ځینې دفاع وکړي. "
دا مسافرت چې په کال "۱۸۹۲" کې وو، په حقیقت کې دده د سیاسي
او اجتماعي مبارزو مقدمه ګڼله کېدله، په جنوبي افریقا کې د
اوسېدونکو هندیانو له حقوقو څخه ددفاع په خاطر دده مبارزو
انګریزان مجبور کړل چې یو انګریزي هیئت جنوبي افریقا ته ولېږي، او
یوه برخه ظالمانه مقررات یې لغوه کړی. "
ګاندهي تر هغه سیاسي موفقیت وروسته هند ته راوګرځېد اوهلته یې
په سختته او لویه مبارزه لاس پورې کړ، په دې وخت کې نو هره ورځ دده
د هوا خواهاهو شمېر زیاتېده او دې کار دده هغه تصمیم، چې نیولی
یې وو، لا ټینګاوه، څو په پای کې دده قدرت لمنه دومره اوږده شوه او
نفوذ یې داسې حد ته ورسېد چې په "۱۹۲۱" ع،م کال کې ملي کنګري
خپل ټول اختیارات ده ته ورکړل او ده خپل خاص ډول مبارزې له مخې
یعنې؛ پر عدم تشدد باندې اعتقاد او د منفي مقاومت د لارې په هند
کې داسې کش مکشونه منځ ته راوستل چې په "۱۹۲۲" کال کې دده د
بندیګرت سبب شول او د هند د انګریز حکومت پر ضد د توطیې په
جرم محاکمه شول. "
په دې محاکمه کې یې دې په شپږ کاله بند محکوم کړ، خو دده د بند
موده تر دوو کالو زیاته اوږده نه شوه او تر آزادۍ وروسته دهندوستان
د کنګرې په ریاست وټاکل شو، او پخوانه بنه په ټینګ عزم یې د
انګریزانو پر ضدم مبارزې ته ملا وتړله، انګریزانو بیادې زندان ته

واچاوه. "
خو دی هر وارې د خپل جهاني محبوبيت په علت د غذا نه خوړلو د اعتصاب په وجه له زندانه خلاصېده، څو نايب السلطنه د "۱۹۴۷" ع،م کال د مي په مياشت کې د ګاندهي سره د کتنې دپاره مخصوصه جلسه جوړه کړه، او د هند د خپلواکۍ او استقلال ترتيب يې ونيوه څو چې د هغې کتنې په نتيجه کې د "۱۹۴۷" کال د اګست په "۱۰" د هند آزادي اعلان شوه او په دې توګه هغه مبارزه چې له کلونو راهيسې پيل شوې وه او ګاندهي د هند په ټولو ايالاتو کې د هغې د تعميم سبب وو نتيجې ته ورسېدله. "
دی د "۱۹۴۸" کال د جنوري په دېرشمه د سهار په نهو بجو او دېرشو دقيقو کله چې له بېرله هاوس Birla House " نومې ځای څخه راووت د پونه د خلکو څخه يوه متعصب هندو چې "رامنيات "نومېده دده د زړه خواته د تومانچې درې ټکه وکړل او د هغه په اثر ګاندهي مړ شو. "
ګاندهي مختلف تاليفات او انتشارات درلودل چې شمېر يې يو دېرش ته رسېږي چې دلته د هغو شرح راوړل خبره اوږده وي. "
داوې د مهاتما ګاندهي جي په هکله څو لنډې کرښې چې له پښتو اريانا دائرة المعارف څخه راواخيستل شوې ګاندهي جي تر هغې ډېر ستر انسان دی چې د هند په ټوله ټاپووزمه کې د سولې، روغې او همدارنګه د هند په نيمه وچه کې بنايي ګاندهي جي لومړنۍ سړی وي چې په ژوندانه کې يې د خپلې مبارزې او هاند او هڅو ميوه تر لاسه کړې ده. "
يعنې په دې نژدې تاريخي پړاوونو کې ګاندهي جي او د هغه ډله يوائينۍ سياسي او آزادی غوښتونکې غورځنګ دی چې په خپل ژوند کې د ازادی او خپلواکۍ پر لوړ او اوچت غره باندې خپل بيرغ رپولی او هند ته يې يو ځل بيا پخوانی برم او عظمت وربښلی دی هغه هم د تشدد او ځځوالي په رټلو او د روغې ، جوړې او د وروګلوۍ د

مینې نه ماتېدونکې لښکر نه یوائې د ګاندهي چي او د هغه ملګرو هاند او هڅو بری ورپه برخه کړی چې دی لښکر د تاریخ په اوږدو کې ډېرو الهي استاز یوته هم رنګ په رنګه، بریالیتوبونه په لاس ورکړي دي. "
په دې توګه د باچا خان دا خبره د رښتیا والي ځای خپلوي چې وایي:
د تشدد لښکر ماتیدونکی دی خو د عدم تشدد لښکرو هیڅکله ماتې نه ده خوړلې. "
په رښتیا چې د ګاندهي جي دعدم تشدد لښکرو د انګریزانو د تشدد لښکرو ته ماتې ورکړه او په دې ډول ګاندهي جي او د هغه دغورځنګ د لومړي کتار ملګرو دانسانیت په لمنه کې د وروروليـ د مینې د اتلانو دریځ خپل کړ چې به یې تل لپاره د درناوي او لمانځنو دنده پر غاړه ولري. "
زما په اند د ګاندهي جي او د هغه د ملګرو غورځنګینه هلې ځلې هم په خپل ذات کې یو ستر تاریخي غبرګون دی چې په هند کې د انګریز د عیسوي لارویانو د سیاسي واکمنیـ د استبداد، ظلم او ناروا وو پر ضد د هند د ټولو پرګنو له خوا راولاړ شوي وو. "

# شپاړسمه برخه

## مارتين لوترکينګ

داکتر مارتين لوترکينګ دانسانيت په خورا درنه او پراخه لمنه کې د شلمې عيسوي پېړۍ د ورووليـ او خواخوږۍ د مينې داتل په څېر پېژندل شوی سړي توب دی، چې د هغه په هکله د پښتو اريانا دائرت المعارف اوم ټوک په "۹۵۱" مخ کې داسې ليکي:

مارتين لوترکينګ: د امريکې د متحده ايالاتو دتور پوټکو او د جنوبي مسيحيانو د جرګې مشر وو، په "۱۹۲۹" ع،م کال د جنوري د مياشتې په "۱۵" نېټه د امريکې په اتلانتا کې زېږېدلی دی. "

په څوارلس کلنۍ کې ورځپاڼه ليکونکی وو، په پنځلس کلنۍ کې کالج ته لاړ او په "۱۸" کلنۍ کې فارغ شو او په "۲۲" کلنۍ کې د الهياتو ډاکتر شو، "۱۹۵۳" کال د جون د مياشتې په ۸ نېټه کې له "کورتا " اسکوت " سره واده وکړ. "

د "۱۹۲۸" کال تر لومړيو ورځو پورې څو وارې پرې ناوړه قصد وشو او د "۱۹۶۸" کال د اپريل په څلورمه د امريکې د تينسي د ايالت په ممفيس کې ووژل شو. "

مارتين لوترکينګپه "۱۹۶۴" کال کې د سولې د نوبل جايزه هم ګټلې وه. دده د وژل کېدو په نسبت د "۱۹۶۸" کال د اپريل "۷" ورځ د ملي ماتم د ورځې په توګه وپېژندل شوه. "

په هغو نښتو کې چې دده د وژل کېدو نه وروسته د امريکې په بېلو بېلو ښارونو کې د تور پوټکو او سپين پوټکو ترمنځ وشوې "۲۵" تنه ووژل شول. "

دده د ښخولو په مراسمو کې د امريکې د هغه مهال جمهور رئيس ليندن جانسن ګډون کړی وو. "

او د هغه وخت د ملګرو ملتونو د موسسې سرمنشي "اوتانت"ویلي وو، چې د دکتور مارتین لوترکینګ وژلو د بشریت وجدان راوپاراوه." او په ټوله نړۍ کې به نژادي توپیر دله مینځه وړلو سبب شي، مارتین لوترکینګ په یوه کال کې تقریباً پنځه سوه زره کیلو متره سفر وکړ او "۲۵" نطقونه یې وکړل، دده قاتل "جمېز ارل ري" نومېده او په لندن کې ونیول شو او د محکمې له خوا په عمري بند محکوم شو."
په پورته توګه مو ډاکټر مارتین لوترکینګ وپېژانده، هغه په داسې ټولنه کې زېږېدلی او رالوی شوی وو، چې له څېلمې ځانونه د حضرت عیسی علیه السلام مسیح د عدم تشدد لارویان ګڼي، خو د لوتر کېنګ مبارزې وښودله چې د امریکې متحده ایالاتو په ټولنه کې تور پوټکي لکه د مصر د فراعنه و په ټولنه کې د بني اسرایلو په څېر د وینځې او مریې حیثیت لاره او هر یو تور پوټکی که نر وو او که ښځه د مصري ټولنې په منځ کې د بني اسرایلو غوندې د دمریې او وینځې په توګه کارېدل."
دغه لامل چې د امریکې د مسیحي ټولنې د تشدد نه ډک کلتور په مخه کې ږدي. ډاکتر لوتر کېنګ دې ته وهڅوه، چې د خپلو تور پوټکو خویندو او وروڼو د انساني حقوقو د غوښتنې آواز اوچت کړی دده دغه زړورتیا یې ګام چې ټوله په ټوله بې وسلې بې تشدد او بې ځانځنیزه خوی او خصلت څخه وو."
او لکه د حضرت موسی علیه السلام چې د فرعون په وړاندې یې د خپل قام د آزادۍ غوښتنه کړې وه یوه سوله ییزه او د ورورولۍ نه ډکه غوښتنه وه چې د ستاینې وړ ګڼل کېږي او انساني نړۍ ته دغه دنده ور په غاړه اچوي چې د ښاغلي ډاکتر مارتین لوترکینګ د درناوي او درنښت خیال تل وساتي، دا ځکه چې د نوموړي د مبارزې په نتیجه کې د امریکایي ټولنې په منځ کې هغو ټولو تورپوټکو ته داحق په لاس ورغی چې لکه د نورو سپین پوتکو په څېر دوی هم په امریکا یې ټولنه

کې آزاد ژوند ولري، زه دلته نو موږ ډاکټر لوترکېنګ د انسانیت په لمنه کې د وروروليـ د مینې د یو ستر اتل په څېر د درناوي ورڅنمه او ورته په خورا درنښت خپل سر ټیټوم هیله ده د هغه خپل قام هم تل دده درناوی او نمانځنه وکړي.

اتلولي په انسان وژنه کې نه ده نغښتې او څوک چې
د ډله ایزو انسانانو په وژلو غواړي ځان اتل وښیي هم
اتلوا له نه شي ګڼلی.
اتل هغه څوک دی، چې د مارتین لوترکینګ،
ګاندهی جي او نورو غوندې خپل ولس ته د
خپلواکه، سوله ایزه او د مینې ډک ژوند وسه
وبخښي.
مبارز ((ځاپی))